# سیګار

د افغانستان د بیا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

د جنوری دریشمه
۲۰۱۱ کال









د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور

سیګار | د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور | ۲۰۱۱ کال د جنوری ۳۰مه

1


سیګار
ځانګړی عمومي پلټونکی
د افغانستان د بیارغوني لپاره

400 د بحری ځواک درایو
Arlington, VA 22202-4704

**د سرپاڼې انځورونه (د بره چپ نه ښي لور ته):**

**کوماندو راډیو- د ښځو لپاره د کابل لومړنۍ** اوچته صفحې اوردیدونکو ته د افغانستان د مورهیډ د کمپ څخه د خپلو راډیویی خپرونو له لارې خبری کولی. دا راډیو چی د امریکا متحده ایالاتو لخوا تمویلړی د کوماندو په اړه معلومات ورکوی. دا راډیو د هغه افغانانو لخوا چی د امریکا د روزنیز پروګرام څخه فارغ شوی دی پر مخ وړل کیږی. (د امریکایی ځواک انځور، مارکس کوارټرمن)

**د کابل د کیفیت د تضمین د څانګې استازو د امریکا** د پوځ د انجینرانو د روزنې د برخې هیئت په لړ کښي په کابل کښی د لویی زرعاتی پروژي د رغونو د چارو څخه کتنه وکړه. د ۲۰۱۰ کال تر جولای میاشتې پوری د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د اوبو د برخې د بیارغونې سره ۲۵۰ میلیون ډالره مرسته کړی ده. ( د امریکا د هوای پوځ انځور، سټاسی هاګا)

**د هلمند د نادعلی ولسوالی** د ښونځۍ د لیک لوست د حال څخه یوه برخه په کال ۲۰۱۰ کښی د امریکا متحده ایالاتو ۲۱،۵ میلیون درسی کتابونه د هیواد په کچه مرسته کړی ده. د ۲۰۱۱ کال تر اخره، د امریکا متحده ایالات په پام کښي لری تر څو یواځی ابتدایی ښونځیو ته ۲۵ میلیون جلده درسی کتابونه وویشی. (د ار ای اف انځور، نیل چاپمن)

**په جلال اباد** کښي یو وودونکۍ د چارپایی په اودلو سره خپل دود او کلتور ژوندی ساتی، د چارپایی دا ډول په افغانستان، پاکستان او هند کښی یو زوړ او پخوانۍ دود او فرهنګ دی. د امریکا متحده ایالاتو د بیا رغونې د پروګرام یوه مهمه برخه د محلی صنعتو توشیق او پراختیا ده. ( د ایمل عظیم انځور)



ځوان سندرغاړی د افغان ملی موسیقی انستیټوټ لخوا د ژمی د لومړی موسیقی په اکاډمۍ کښی سندری وایی. یاد شوی انستیټوټ د افغانستان د موسیقی د بیا راژوندی کولو په موخه را منځ ته شوی دی. د طالبانو د حکمت په دوران کښی موسیقی ممنوع او بنده وه. دا انستیټوټ د امریکا او نړیوالی ټولنی لخوا تمویل او مرسته ورسره کیږی. ( په کابل کښی د امریکا متحده ایالاتو د سفارت انځور)

## د(P.L. 110-181) د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره د ملي دفاع د واک قانون د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی (SIGAR) تاسیس کړ.

د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی د نظارت ، لکه چې د قانون په جوړولو کې تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول دي

- د هغو پلټنو او معاینو ترسره کول او نظارت چې د هغو پروګرامونو او عملیاتو سره تړلي وي چې د پیسو بودیجې ورته د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس ورکړل شوې وي.
- په هغو تګلارو کې رهبري او انسجام، او سپارښتني پرې، چې د پروګرامونو او عملیاتو په اداره کې اقتصاد، استعداد، او اغېزمنتیا ته د ودې ورکولو لپاره جوړې شوې وي؛ او په داسې پروګرامونو او عملیاتو کې د ضیاع، دوکې او ناسمه کارونه مخنیوی وکړي او معلوم یې کړي.
- د داسې پروګرامونو او عملیاتو د ادارې سره تړلیو ستونځو او بې کفایتیو په اړه او د پرمختګ او اصلاحي اقدام د ضرورت لپاره د بهرنیو چارو د سکرتر او د دفاع د سکرتر د بشپړ او تازه معلوماتو څخه د خبر ساتلو ذریعې.

د افغانستان په بیا رغونه کې هر هغه ستر قرارداد، مبلغ، تړون، او یا د بودیجې هر هغه میکانزم شامل دی چې د متحده ایالاتو د حکومت د کوم داسې ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوی وي چې د هغو پیسو په استعمال کې ګډون لري چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس کې ورکړل شوې وي؛ د افغانستان سیاسي یا ټولنیزې ادارې تاسیس او یا یې بیا رغوي؛ او د افغانستان خلکو ته تولیدات یا خدمتونه برابروي.

سرچینه: پی. ایل. ۱۱۰ -۱۸۱، "د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو قانون،" ۲۰۰۸|۲۸|۱.

# د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی په نیټه برابرې پایلې

## مالي پلټنه

- ۳۶ بشپړ شوي مالي پلټنو راپوټونه،په رغوني باندې د ۱۶ بیلیونو ډالرو څخه د زیاتو پیسو مصرف راښیي
- د ۱۹۰ میلیونو ډالرو په کچه د متحده ایالاتو د بیارغوني مالي منابعې د ښه کاروني ته وړاندي شوي
- درې قانونی مالي پلټنې اوس مهال د ۳۷ بیلیون ډالرو څخه زیات د بیارغونې د قرارداد معلومات او اسناد تحلیلوي

## پلټنې

- ۱۰۵ رواني پلټنې، د تدارکاتو/قرارداد ټګي ۶۲ ادعاګانې
- ۴ محکومیتونه او د د متحده ایالاتو ته د ۶ میلیون ډالرو څخه زیات د بیاورکړې پیسي
- د ټیلفون په لیګه ۴۶۴ شکایتونه ترلاسه شوي اومربوطه مراجعو ته استول شوي دي

## عملیاتونه

- د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه په ۲۲ کې ترسره شوي کار



د افغانستان د بیا رغوني لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

د جنوري ۳۰ ـ ۱۱

زه خوښ یم چې د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونې هڅې په هکله خپل لسم درې میاشتنی راپور کانګرس ته وړاندي کړ. دا راپور د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی د نظارتې کړنو او په افغانستان کې د بیارغونې پروګرامونه وضعیت دې راپور ورکونې د دوري ترختمه پوری،د جنوري۳۰ ،۲۰۱۱ ، احتوا کوي.

په دې درې میاشتې، د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی د مالي پلټنې دوه راپورونه خپاره کړي دي، پنځه نوي مالي پلټنې یې پیل کړي دي، او خپل د قرار ملي پلټنې تصویب شوي پلان یې بشپړ کړي دي. مونږ زده کړل چې زمونږ د ۲۰۰۹ کال مالي پلټنې د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) د ځوابدهې په هلکه، چې د متحده ایالاتو زواک ـ افغانستان (USFOR-A) دې پریکړې په اساس وو ترڅو د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) د ۲۰۰۹ مالي کال د بودیجې ۱۹۰ میلیونه ډالره پوځ ته د ښه کارونې په موخو ورکړلئ شي. د افغانې پلټنوکو په همکاری سره، د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی په مذاکرې که برخه واخیسته چې په نتیجه کې یې دو کمپنی به ۲۲ میلیونه ډالره به د اجورو په توګه ۴۰۰۰ افغانانو ته او ۱۱ میلیونه ډالره به د ټکس په توګه افغان حکومت ته ورکوي. نورو ګډو پلټنو په نتیجه کې ۵۰۰۰۰۰ ډالره د لګښت د کمیدو عاید، د۵۳۲۰۰۰ ډالرو په ارزښت د متحده ایالاتو د غلاشویو وسایلو د موندنه، د رشوت په تور د یو قراردادي نیول، او دو کمپنیو د مخنیوی واړاندیز. د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی ۳۵ نوي پلټنې پرانستلې، چې د روانو پلټنو شمیر یې ۱۰۵ ته ورسوله، چې د هغوي ۸۰ سلنه د قرارداد/ تدارکاتو د ټګي او فساد په هکله دي.

په تیرو دوه کلو کې د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی په تدریجي ډول رشد وکړ. مونږ اوس مهال په شپږو موقعیتو کې ۱۲۲ د پوره وخت مسلکي کارکوونکي لرو: یو په متحده ایالاتو کې او پنځه په افغانستان کې. زمونږ پلټونکي او څیړونکې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه په ۲۲ کې د نظارت کړنې ترسره کړي دي. مونږ د مالي پلټنې ۳۶ راپورونه رائه کړل او د ۱۰۰ څخه زیات سپارښتنې مو وړاندې کړي، چې زیاتو یې د بیارغونې په هڅو باندي لویه اغیزه درلوده. زمونږ یوه مالي پلټنې د خپل سپیځیلتوب او د فساد سره د مبارزي په کار کې د موثریت پخاطر د عمومي پلټنکو د شورا لخوا انعام هم تر لاسه کړ.

په راتلونکي فبریوری کې زه د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی اداره پریږدمه، او په دې پوهیږمه چې دا اداره به په راتلونکي کې هم موثرنظارت او څارنه وړاندي کوي، کوم چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ۵۶ بیلیونو ډالرو څخه د زیاتو پیسو پانګه اچونې د ضایع کیدو، ټګې او ناوړه کارونې څخه د ستلو لپاره اړینه ده. دا یو وړیا وو چې د متحده ایالاتو دوه ولسمشرانو ته خدمت وکړي. دا ماته د امتیاز خبره وه چې د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی د ټکره کارکونکو، د عمومي پلټنې په ټولنه کې خپل همکارانو ، او کڼ شمیر افغانانو سره کمو چې د خپل هیواد د بیارغونې لپاره ځانونه وقف کړي وو کار وکړ.

ډیر محترم،

ارنلډ فیلډز
د افغانستان د بیا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

# اجرايي لنډيز

## د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی کړنې، د ۲۰۱۱ کال لمړی درې مياشتې

د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنو په دې درې مياشتو کې ومندلې چې د بيارغونې اړين پروګرامونه دې ضعيف پلان، ناکافي نظارت،او د دوي په ساتنه کې د افغان چاراواکو ناتواني ، له وجې په خطر کې دي. دغو مالي پلټنود لغمان په ولايت کې د دفاع رياست(DoD) لخوا افغان ملي امنيتي زواکونو ته د تجهيزاتو جوړول او ساتنې پلانونه او دکومندان د چټک غبرګون پروګرام لخوا تمويل شويو ۶۹ پروژې، وارزولې.

د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی د افغان شفافيت پلټنې اداري(ASIU) په ګډون د قانون د تنفيذ افغاني ادارو سره روانه همکاري د پايلو د ارائه کولو په حال کې ده. د افغان شفافيت پلټنې اداري(ASIU) د غوښتې په اساس، د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی دو کمپينو سره خبرواترو کې برخه واخيسته، کوم چې موافقه وکړه ترڅو ۲۲ مېليونه ډالره په ارزښت د ۴۰۰۰ افغاني کاروونکو ناورکړ شويو اجورې لپاره ورکړي او ۱۱ ميليونه ډالره د نا تحويل شويو تېکسونو لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت(GIRoA) ته ورکړي. د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی په ګډو پلټنو کې برخه واخيسته د کوم په نتيجه کې ۵۰۰۰۰۰ ډالره د لګښت د کميدو عايد، د۵۳۲۰۰۰ ډالرو په ارزښت د متحده ايالاتو د غلاشويو وسايلو د موندنه، د رشوت په تور د يو قراردادي نيول، او دې دو کسانو او دو کمپنيو د مخنيوي وړانديز، ترسره شول.

د دو مالي پلټنو څربيره، د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی پنځه نوي مالي پلټنې پيل کړي، چې د دې سره د روانو مالي پلټنو ټول ټال شميره ۱۶ ته ورسيده. د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی غواړي ترڅو د افغانستان دبيارغونې لپاره د دريو کارول شويو مالي منابعو مربوط د ۳۷.۶۵ بيليونو ډالرو معملاتو معلومات او اسنادو، قانوني بياکتنه ترسره کړي: د افغانستان د امنيتي زواکونو مالي منبع، د اقتصادي مرستو مالي منبع، او د نړيوال کنټرول او د قانون د تنفيذ مالي منبع.

د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی همدارنګه د يو هراړخيز پلان بشپړ کړ ترڅو د افغانستان د بيارغونې قراردادونو، فرعي قراردادونو، د کار سپارښتنه، او د سپارښتنو د تسلمول په هکله مالي پلټنې ترسره کړي. د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکي د ۲۰۱۱ مالي پلټنې پلان خپل د قرارداد د پلټنې کار د توجه نقطو ته پراختيا ورکوي او ټينګار کوي چې د بيارغونې مالي منابعو د ښه کاروني فرصتونه دي مشخص شي.

### د مالي منابعو ښه کاروني ته برابرول

دې درې مياشتو کې، د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی زده کړ چې د ده د سپټمبر ۲۰۰۹ کال مالي پلټنه د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) د همکاري په اړه د متحده ايالاتو زواک ـ افغانستان (USFOR-A) د فيصلي سره د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) د مالي منابعو ۱۹۰ ميليونه ډالره دې پوځ ته بيرته ورکړې شي. د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنې ومندله چې د دفاع رياست(DoD) د د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) د مالي منابعو د تطبيق او څارنې لپاره کافي منکانيزم نه دې جوړکړې. د متحده ايالاتو زواک ـ افغانستان (USFOR-A) د چاراواکو په اساس، د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی راپور او نورو راپورونو د متحده ايالاتو زواک ـ افغانستان (USFOR-A) وهڅوله ترڅو په افغانستان کې د د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) کړنې ته بياکتنه وکړي او مالي منابې بياځلې تخصيص کړي.

### د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه

د دې مالي رپور ورکولو دورئي به جريان کې، د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی دو پلټنې تاسيس کړې:

- د افغان ملي امنيتي زواک د تجهيزاتو لپاره ناسمه پلان جوړول د ۱۱.۴ بيليونو ډالرو پروګرام خطر زيات کړ (د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی ۱۱-۶ پلټنه)
- د لغمان په ولايت کې د د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) يوڅه ګټه وړاندې کړې، مګر د نظارت ضعيفتيا او د ساتنو انديښنو د پښتنوور لاسته راړنو او احتمالي ضايعې سره مخ کړ (د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی ۱۱-۷ پلټنه)

### د افغان ملي امنيتي زواک لپاره د پلان نشتون

د افغان ملي امنيتي زواک د تجهيزاتو لپاره د متحده ايالاتود پلان په هکله د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنې ومندله چې د امنيت د انتقال ګډ کمنده (CSTC-A) قصد درلود ترڅو په ټول افغانستان کې د افغان ملي امنيتي زواک د پياوړی کولو لپاره په ۲۰۱۲ مالي کال که د ۱۱.۴ بيليون ډالرو په ارزښت تقريبا ۹۰۰ تجهيزاتو ورغوی. د ۲۰۱۰ کال په اخر کې، د افغان ملي امنيتي زواک به د ۲۶۵۰۰۰پرسنول په درلودو سره تقويه شي. نړيواله ټولنه او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت(GIRoA) پلان لرې ترڅو په ۲۰۱۱ مالي کال کې داغه شميره ۳۰۵۶۰۰ پورته کړي.

د ملاحظه وړ دغې مالي منبع او غټې شميرې تجهيزاتو د خبرې

# اجرايي لنډيز

باوجود، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ومندله چې د امنيت د انتقال ګډ کمنده (CSTC-A) اوږدی مودي بيارغوني پلان ندی جوړ کړی. د داسي پلان نشتون به د تجهيزاتو پروګرام د افغان ملي امنيتي زواک د ستراتيژی او عملياتی ضروریاتو د نه برابريدو له ګواښ سره مخ کړيږ.

د مالي پلټني په اساس د افغان ملي امنيتي زواک د اډو، قرارګاوو، د پوليسو مرکزونو، او د روزنيزو مرکزونو د جوړولو سربيره، د امنيت د انتقال ګډ کمنده (CSTC-A) به ۸۰۰ میلیونه ډالره په راتلونکو پنځه کلونو کي د دغو تجهيزاتو د ساتني او کاروني په لپاره برابروي. د امنيت د انتقال ګډ کمنده (CSTC-A) د اوږدي مودي د ساتني پلان نلري چي دا د بيارغوني اوږدې مودې پلان سره تړاو ورکوي.

## د لغمان په ولايت کي دکومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) پروژې په خطر کې دي

د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ومندله چې د لغمان په ولايت کي د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) د ۶۹ پروژو څخه ۲۷ يي په خطر کي دي او يا لاسته راړني يي د پښتنو لاندې دي. په خطر کي پروژو ۲۷ يي تقريبا ۴۹ ميليونه ډالره حساب شوي،يا ۹۲ سلنه د ۵۳ ميليونو ورکړشويو ډالرو کوم چې د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی نظارت کړی وو. د لغمان په ولايت کي د د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) اکثر پانګه اچونه په ختو پروژو لکه د پاخه سرګونو او نويو تجهيزاتو جوړولو باندې لګول شوي ده. تقريبا د ۴۴.۶ ميليونو ډالرو په ارزښت دا دي پاخه سرک پروژه په خطر کي ده، څکه د ولايت افغاني چارواکي د هغو د کاروني او ساتني منابعي نلري.

برڅيره پردي، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ومندله چي د متحده ايالاتو زواک ـ افغانستان (USFOR-A) د انسجام او په پايلو ولاړ روش د کمښت سره مخ دی، ترڅو جوته کړي چي آيا د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) پروژو خپل موخي ترلاسه کړي دي، د هوډ سره سم کارول کيږی، او د هغو څخه ستانه کيږی که يا. د پوره نظارت او د پايلو د ارزوني نه پرته، افغانان ممکن د پروژه تکل شوي ګټي ترلاسه نکړي، او دمتحده ايالاتو پانګه اچونه به د ضايع کيدو د ګواښ سره مخ ده.

## د مالي پلټني پلانونه

په ۲۰۱۱ مالي کال کي، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی به دريو د لمړيتوب وړ ساحو ته د خپل پلټنو تمرکز ته دوام ورکړي: د قرارداد مديريت او نظارت، د افغان ملي امنيتي زواک د جوړولو هڅي، او د اداري فساد سره د مبارزې پروګرامونه. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی به همدارنګه د پراختيايي مرستو او د افغان حکومتداری د ظرفيت د جوړو پروګرامونو په هکله مالي پلټنو ته دوام ورکړي.

لکه څنګه چې د کانګرس لخوا منل شوی ده. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی خپل ترسره شويو مالي پلټنو يو څانته پلان تسليم کړ. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د سږ کال مالي پلټنو دريمه برخه به د قراردادیانو اجرأت او د افغان ملي امنيتي زواک د رغولو،د افغاني اقتصاد پراختيا، او د افغاني حکومتداري ظرفيت د لوړولو قراردادي خدماتي ادارو نظارت خپله موخه وګرځوي. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی همدارنګه د بيارغونو پروژو د امنيت تامينولو شخصي امنيتي قراردادیانو مالي پلټني په ترسره کوي.

## نوې پلټني

د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی کانګرس ته د اخري راپور د ورکړې نه راپه ديخوا، پنځه نوي مالي پلټني پيل کړي دی:

- په يو منتخب ولايت کې د نړيوال پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو اداره (USAID) او د متحده ايالاتو د دولت اداره(DoS) د څلورو پروګرامونه مالي پلټنه
- د نړيوال پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو اداره (USAID) د ځايي حکومتداري او تولينزو پراختيايي پروژو د قراردادنو مالي پلټنه
- د کابل نظامي روزنيز مرکز کي د بيستيزو پروژو لپاره د انجينرۍ او چاپيريال لپاره د متحده ايالاتو دهوائي زواک مرکز (AFCEE) د قراردادونو مالي پلټنه
- د افغان دفاع پوهنتون کي د بيارغوني پروژو مربوطه کارونو په هکله د د انجينرۍ او چاپيريال لپاره د متحده ايالاتو دهوائي زواک مرکز (AFCEE) د قراردادونو مالي پلټنه
- د افغانستان دبيارغوني د سپارل شويو پانګو ته د متحده ايالاتو او نور ډنرانو ورکول شويو پانګو د کاروني او جوابدهي مالي پلټنه

## د سيګار تحقيقات

کانګرس ته د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی اخيري دری مياشتي راپور نه را په ديخوا، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی محقيقينو ۳۵ نوي قضيې پرانيستلي، چي د روانو قضيو شميره يې ۱۰۵ ته ورسوله. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی تقريبا ۸۶ سلنه قضيي د قرارداد/ تدارکاتو ټګي او اداري فساد باندې تمرکز لری، او ۱۴ سلنه په جرمي ادګانو، لکه غلا باندی تمرکز لري. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی تليفوني شميره ۱۳۱ شکايتونه ترلاسه کړی چي د تير دري مياشتو څخه زيات دي.

## وړاندې کتنه

په دي کال کي، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی اداري پلټونکي او محقيقين به د متحده ايالاتو دبيارغوني د پيسو د ضايعي، تقلب، او ناوړه کارونه د مخنوي او کمښت په هکله خپل توجو او تمرکز ته دوام ورکوي. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د هغو رټبو ارزونه به وکړی کوم چي د متحده ايالاتو د ټکس ورکونکو پيسي يي د متداوم پرګرامو حمايت کوي، ترڅو متحده ايالاتو ته د خپل بيارغوني اهدافو د لاسته راړو لپاره مرسته وکړي.

# د نیولیک جدول



## لومړی برخه
### د سیګار نظارت


٣ د کومندان چټک غبرګون پروګرام (CERP) د مالي منابعو ١٩٠ میلیونه ډالره ښه کاروني ته وړاندې شوه
٤ د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه
١٩ د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی تحقیقات او پلټني
٢٢ د سیګار بودیجه
٢٣ د سیګار کارکوونکي




## دویمه برخه
### د افغانستان عمومي کتنه


٢٧ د ناټو چاروکي په لیسبون کې
٢٨ د متحد ایالاتو پالیسي دتغیره پرته لاندي بیاکتني
٣٠ د ٢٠١١ مالی کال د ملي دفاع واک قانون
٣٢ د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی په تمه ده




## دریمه برخه
### د بیا رغوني تازه حال


٣٧ عمومي کتنه
٤١ د بودیجو حالت
٥٣ امنیت
٦٧ حکومتداري
٨٧ اقتصادي او ټولنیز پرمختګ
١٠١ د مخدره موادو پرضد مبارزه
١٠٧ د اداری فساد سره مبارزه

# د نیولیک جدول



## څلورمه برخه

### د نورو ادارو نظارت


۱۱۳ د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

۱۱۸ د نظارت روان فعالیتونه

۱۲۹ د نورو ادارو څېرنې


## ضمیمې او پایلیکونه


۱۳۲ د الف ضمیمه: قانوني شرایطو سره د راپور د حوالو کتنه

۱۳۶ ضمیمه ب: د متحده ایالاتو د دولت اختصاص شوي بودیجې

۱۳۸ د ضمیمه ت: د سیګار پلټنې

۱۴۰ د ث ضمیمه: د سیګار څېړنې او د تیفوني اړیکې شمېره

۱۴۱ د ج ضمیمه: مخففات او لنډیزونه

۱۴۴ پایلیکونه

**د ملکي هوای چلند د بنسټ روغونه**

یو ختګر به دا تضمین کړي چې د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په میاشتې کې د مزار شریف د هوائي ډګر د دیوال د جوړولو په وخت کې خښتې په سمه توګه کارول شوي دې. اوس مهال په افغانستان کې پنځه نړیوال هوائي ډګرونه د رغونې په حال کې دي، چې د متحده ایالاتو حکومت او د هغوی نړیوال ملګرو لخوا تمویل کیږي.
(د متحده ایالاتود پوځ تصویر، SGT میکل رانچ، د IJC عامه چاري)

# 1 د سیګار نظارت



“د خپل بیاکتنې او څېړنیزې دندې په مهال په دې اتلس اخرو میاشتو کې، دافغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی دا په ډاګه کړه چې شپږ غټې مسلې د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو پانګه اچونه د ضایع کیدو یا ټګې او ناوړې استفادې د ګواښ سره مخ کوي. ناوړه قرارداد او د پروګرام نامناسب مدیریت، دې ته اړتیا لري چې په لازیات ګډون سره د دې هیواد د خلکو سره کار وشي. مونږ هڅه کو ترڅو یې ببا ورغوو سره له دې چې د اندازې وړ تولیدات له توقع کم دي،د اداري فساد د مخنیوي په وړاندې ناتواني شتون لري، د پروژې د مدیریت او دوام لپاره ځایي پانګه کافي نده او امینت هم شتون نلري."

—(متقاعد) برید جنرال ارنلډ فیلډز
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

سرچینه: دافغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی، “ د کورنې امنیت او حکومتي چارو، او د نظارت قراردادي کمیټه په هکله او د فرعي کمیټه په وړاندې شاهدي، " ۲۰۱۰/۱۱/۱۸.
11–10.

# سیګار نظارت

دې دري میاشتو کې، دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د مالي پلټنې ۲ راپورونه خپاره کړل او ۵ نوي مالي پلټنې یې اعلان کړي چې دې سره د روانو مالی پلټنو ټول ټال شمیر ۱۶ ته ورسید. دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان د بیارغوني لپاره د۳۷.۶۵ بیلیون ډالروپه اندازه کارول شویو دري مالي منابعو معلومات، قانوني بیاکتنو بهیر ته دوام ورکوي: د افغانستان امنیتي ځواک مالي منابع (ASFF)، اقتصادي مرستو مالي منابع (ESF)، او د نړیوال څار او د قانون د تنفیذ مالي منابع (INCLE). همدارنګه، دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی یو پراخ پلان بشپړ کړی دی ترڅو د افغانستان د بیارغوني په اړه قراردادونو، دوهم لاس قراردادونو، بیارغوني کارونه او د مواد تسلیمولو د حسابونو تصفیه د قانون سره سم په لاره واچول شی.

کله نه چې دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی اخیري دري میاشتني رپوټ کانګرس ته وړاندې شوی دی، د دوی پلټونکو ۳۵ نویو قضیوسیرل پیل کړي دي. دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی اوس مهال ۱۰۵ رواني پلټنې په لاره اچولي دي. په دې دري میاشتو کې دافغانستان د بیارغونی ځانګړی عمومي پلټونکی ټیلفوني اړیکي ۱۳۱ شکایتونه ترلاسه کړي دچې په تیرو دري میاشتو کښی یی لړ شاندې زیاتوالی موندلی. دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی همدارنګه په هغه ګده پلټنه که هم برخه اخیستي ده، چې د ۲۲ ملیونه ډالرو په اندازه د افغان کارکونکو ناتادیه معاشونو پیسي ، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ۱۱ میلیون ډالرو په اندازه ناتادیه شویو ټکسونه ، ۵۰۰۰۰۰ ډالرو په اندازه سپما بیه، د غلا شویو وسایلو بیا لاس ته راوړل، د بدې په تور د یو قراردادي کس نیول، او د دو کسانو او دوه کمپنیو د ممانعت وړاندیز، په هلکه په لاره اچول شوي دی.

## د ۱۹۰ ملیون ډالرو په اندازه د CERP مالي منابع ښه کاروني ته وړاندې شو

په دري میاشتو کې،دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی زده کړل چې د ۲۰۰۹ د سپټمبر مالي پلټنه د DoD وړتیا چې د آمر د چټک ځواب پروګرام (CERP) مالي لګښت د ورکړې فصیله په افغانستان کې د متحدو ایالاتو د ځواک لخوا وشوه ترڅو دوي ته چې پروګرام اداره کوی د CERPمالي منابع ۱۹۰ میلیونه ډالرپه ۲۰۰۹ کال کې بیرته ورکړی شي. د دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه،" افغانستان کې د امر د چټک غبرګون پروګرام ته لازمه څرګندتیا، بررسي او پلان ته زیاتوالی وبښو،" جوته کړه چې د دفاع ریاست د CERP د مالي لګښت د بررسي او اداري لپاره لازم میکانیزم نه دی جوړ کړی. نورې

چوکاټ نمبر1.1

| د دسمبر په ۳۱ کال ۲۰۱۰ کې د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی بشپړ شوي مالي پلټنې | | |
|---|---|---|
| راپور شمېره | د راپور سرلیک | د خپریدلو نیټه |
| سیګار-پلټنه -۷-۱۱ | د لغمان په ولایت کې د کومندان د چټک خبرګون پرګرام یوڅه ګټی درلودلی، لاکن د نظارت کمزوریتا او د ساتني اندیښنو لاسته راوړني تر پوښتنو لاندې یوړی او د ممکنی ضایعي ښودنه یې کوله | 1/2011 |
| سیګار-پلټنه -۶-۱۱ | د افغان ملی امنیتی زواک تجهیزاتو لپاره ناکافی پلان د ۱۱.۴ بیلیون ډالرو پروګرام ته خطرونه ډیر کړل | 1/2011 |

نظارتي ایجنسي ګاني، د متحده ایالاتو د پوځ مالي پلټنه ایجنسي په ګډون، د CERP د مالي لګښتونو د کاروني په هکله هم تشویشونه را څرګند کړي دي. په افغانستان کې د USFOR-A د مقاماتو په اساس، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی رپوټ سره د نورو رپوټونه، USFOR-A دې ته وهڅوله ترسو د CERP کارونه په افغانستان کې له سره وګوري.چې د دې بیاکتنې په نتیجه کې دا تصمیم ونیول شو ترڅو دا ملي منابع له سره تخصیص شي.

## د سیګار پلټنې

په دې دري میاشتو کې دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی دوه مالي پلټنې بشپړ کړی او همدارنګه یې " د قراردادونو او نورو مالي میکانیزمونو د پلټنه د اجرا کولو پلان ترڅو چې د P.L. 110-181, Section 3) (a) 842) شرایط پوره کړي " کانګرس ته وارندې کړ. دا پلان د درې میاشتو مهمو ټکو په ډول په دې برخه کې تشریح شوي دي. د ۱.۱ جدول مالي پلټنو لست کړی دی.

په دا درې میاشتو کې، دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی پنځه نوي مالي پلټنې په لاره واچولی:

- په یو منتخب ولایت کې د متحده ایالاتو نړیوال پرمختګ اداري (USAID) او د متحده ایالاتو د دولت ځانګي د خلور پروګرامونو بیا کتنی
- د ځایي حکومتداري او د ټولني د پرمختایي پروژو د ملاتړ لپاره د USAID د قراردادونو، مالي پلټنه
- د انجینري او چاپریال لپاره د متحد ایالاتو هوائي ځواک مرکز(AFCEE) مالي پلټنه،د کابل نظامي روزني مرکز کې د بنسټیزو پروژو دقراردادونو په هکله
- د AFCEE د قراردادونو مالي پلټنه د رغوني پروژو اود هغې مربوطه کارونو په افغان حربی پوهنتون کې
- د افغانستان د بیاروغوني امانتي مالي منابع (ARTF) ته د متحده ایالاتو او نورو تمویل اوونکو لخوا مرسته شویو مالي منابعو د کاروني او حسابدهي په هکله مالي پلټنه

د دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د نویو مالي پلټنو د تفصلیات لپاره "په دې دري میاشتو کې اعلان شوي نویو مالي پلټنې "د دې برخه په ورستیو حصو کې وګورئ.

د دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱ مالي کال مالي پلټنه پلان خپل د قراردادونو د مالي پلټنی کارته پراختیا ورکړه او د بیا روغوني مالي منابعو د سم کاروني لپاره یې د فرصتونو پیداکولو باندې تاکید کوي. څرنګه چې د دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی روان قانوني بیاکتنې د معاملو نواقص بربنډکړ، نو د دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د مالي پلټنې او څیړنو ریاستونه به زیار باسي

ترڅود تقلب، ضایع کیدو او غلطو کټه اخیستنو په هکله خاص اندیښنه را وښئ.

دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی به خپل روان مالي پلټني کار ته په درې ډیرو مهمو ساحو کې تمرکز ورکوي: د قرارداد مدیریت او نظارت، د افغان ملي امنیتي ځواک جوړولو هڅې (ANSF)، او د اداري فساد په وړاندې د مبارزې پروګرامونه. برسیره پردې، دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی به د پرختیایي مرستو او د افغانستان د حکومتداري ظرفیتونو د جوړولو پروګرامونو مالي پلټني ترسره کولو ته دوام ورکړي.

د دندو د لومړیتوب د ټاکلو لپاره د خطر نه ډک روش په کاروني سره، دافغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ۷ اساسي معیارونه جوړکړل ترڅو مالي پلټني لپاره پروژې او پروګرامونه په کوته کړي:

- د خطري چاپریال د پژندلو لپاره د متحده ایالاتو د پانګې اچوني مقدار او غټوالی
- د مشخصو خطرونو او اسیب پذیریو ، په ځانګړې توګه د غټو قراردادونو، تدارکات او پروګرامونو مربوط نښې نښاني
- د متحده ایالاتو د ټکس ورکونکو د مالي ګټو د موندننو فرصتونه، د توقع وړ نتایج او د سپارلو وړ
- د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د نظارتي کمیټي، د متحده ایالاتو ایجنسي ګاني، په کابل کی د متحد ایالاتو سفارت او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت(GIRoA) لخوا برابر شوي معلومات
- په افغانستان کې د متحد ایالاتو ستراتیژي او اهدافو سر مربوط
- امنیتي مسائیل د دندي ترسره کولو امکان متاثر کوي
- د نورو نظارتي ایجنسي ګانو کړني

د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د مالي پلټني دوه رپوټونه په دې دري میاشتو کې خپاره کړل- چې یو یې د افغان ملي امینتي ځواک د روغوني تجهیزاتو پلانولو او تمویلو باندي توجه کوي او بل یې د CERP لخوا تمویل شوي پروژو وضعیت او په دغو پروژو باندې د متحد ایالاتو د نظارت موثریت باندې توجه کوی.

### ۶-۱۱ پلټنه: امنیت/ د افغان ملي امنیتي ځواک د تجهیزاتو پلان جوړول

**د افغان ملي امنیتي ځواک د تجهیزاتو لپاره ناسم پلان جوړول به د ۱۱.۴ بیلیون ډالرو په اندازه پروګرام خطر زیاتوي**

د ۲۰۰۵ نه تر ۲۰۱۰ مالي کال پوري، کانګرس ۲۸ بیلیون ډالره د افغان ملي امنیتي ځواک لپاره تخصیص کړی دی. د USFOR-A تر قوماندې لاندې، په افغانستان کې د امنیت د انتقال مشترکه قومندانی(CSTC-A) د افغان ملي امنیتي ځواک د تجهیزولو، روزنې او تداوم لپاره داخه مالي منابع کارول کیږي. افغان ملي پوځ(ANA) او افغان ملي پولیس(ANP) په افغان ملي امنیتي ځواک ANSF کې شامل دي. د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کې د ANSF پرسنول ۲۴۳۰۰۰ کسانو ته د رسیدو په حال کې وو؛ ډیر ورستنی پلان دا وړاندیز کوي چې د ۲۰۱۳کال د اکتوبر پوری دا شمیره دی ۴۰۰۰۰۰ ته زیات شی. په نتیجه کې نورو زیاتو تجهیزاتو او بنسټونو ته اړتیا شي.

په کندز، کمبیري او فراه کې د افغان ملي اردو لپاره د چاونیو جوړولو د قراردادونو په مخکیني مالي پلټنو کې، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومی پلټونکی هڅه وکړه ترڅو جوته کړی چې څرنګه د قرارداد شرطونه ته پرختیا ورکړی. سره له دې چېCSTC-A ونتوانیدله ترڅو د افغان ملي پوځ د شمیر، ډول اود چاونیو د اندازه، موقعیت او کاروني په کبون تجهیزاتو په هکله معلومات د متحده ایالاتو پلانونه او توجیه څخه ترلاسه کړی. څرنګه چې د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومی پلټونکی په ګوته کړ، د پلاننولو دا شان اسناد CSTC-A لپاره ډیر اړین دی ترڅو د ضروریات د بدلون سره ، پلان ته هم د اړتیا وړ تغیر ورکړی شي، د ستراتیژیک موخو د تر لاسه کولو لپاره منابعو ته لمړیتوب ورکړی شی او وکارولی شي او احتمالی ضایعات کچه هم را ټیته شي.

# د ژمن شوي قرارداد د پلټنې پلان

د ملي دفاع د تجويز قانون (NDAA) د كال (. P.L.110-181) اړتيا لرى ترڅو د افغانستان د بيارغوني ځانګړى عمومي پلټونكى په افغانستان كې د بيارغوني كارنونه او د امنيت د تامين مربوط د قراردادونو، دوهم لاس قراردادونو، د دندو سپارښتنو، د سپارښتنو تسليمولو ى د بهير د مالي پلټنې لپاره هراړخيز پلان ترتيب كړي. د راپور وركوني د دغې دورې په جريان كې ، افغانستان د بيارغوني ځانګړى عمومي پلټونكى " د P.L 110-181, (3) Section 842 (a) د شرايطو سره د مطابقت لپاره د قراردادونو او نورو مالي ميكانيزمو د مالي پلټنې د اجرا كولو لپاره خپل پلان"كانګرس ته وسپارو . 110-181 ,3) Section 842 (a)".

سږ كال د افغانستان د بيارغوني ځانګړى عمومي پلټونكى د مالي پلټنې دريمه برخه به د قراردادیانو د اجرأتو او د قراردادى چوپړ نظارت خپل موخه وګرځوي. ترڅو د متحده ايالاتو د ټيكسوركونكو مالي ګټو را خرګند كړي. همدارنګه د افغانستان د بيارغوني ځانګړى عمومي پلټونكى به د هغو شخصي امنيتي قراردياانو مالي پلټنې په لاره واچوي كوم چې د بيارغوني پروژو امنيت يې نيول وو.

هر مالي پلټنه به د پي. ايل. په (ايچ) ۸۴۲ برخي كې د اووه موضوعګانو څخه يو يا د يو نه زيات موضوع په هلكه به وي . 110-181:

- كرنلاره كوم چې د قرارداد شرطونه پرى ترتيب شوي دي او قرارداد يا كار او د سپارښتني تسليمول پرى تعين شوي دي
- كرنلاره كوم چې فيدرال اداري يې د قراردادونو د اجرأتو د كنټرولولو لپاره عملي كوي
- توسعه كوم چې عملياتي ساحي آمرينو ته دا وړتيا وركوي ترڅو په رزمي عملياتي ساحه كې د قراردادونو اجرأت اداره او يا هم منسجم كړي
- هغه درجه كوم چې د دندو د سرته رسولو لپاره قراردادي كاركوونكي به په سمه توګه ساتل كيږى، انتخابيږى، روزنه وركول كيږى او په وسايلو باندي سمبال كيږى
- د قراردادي كاركوونكو لخوا خلافكاري يا د قانون خلاف كړني حد او دول
- د قراردادي كاركوونكو لخوا د كومي كړني ډول او حد كوم چې د عملياتي ساحي د آمرينو د اهداف سره تناقض درلود
- هغه حد يا اندازه كوم چې د خلاف كاري يا د قانون خلاف كړني په كې ذكر، ثبت، پلټل او (چيرته چې لازمه برښي) په قانوني توګه څيړل شوي وي

دافغانستان د بيارغوني لپاره متخص شوى ۵۶ميليون ډالرو ډير برخه د متحد ايالاتو په پنځه غټو مالى منابع باندي ويشل شوي دي. چې د دغو څخه د دريو مالي منابع اداره كول د دفاع رياست لخوا ترسره كيږي—د افغان امنيتي زواك مالي منبع، د كوماندان چټك غبرګون پروګرام، او د دفاع رياست د مخدره توكو او دمخدره توكو په زد فعاليتونو مالي منابعي. د نړيوال پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو اداره (USAID) د اقتصادي مرستو تمويلول اداره كوي، او د متحد ايالاتو د خارجه وزارت (DoS) د مخدره توكو په وړاندي نړيوال مبارزه او د قانون د تنفيذيول اداره كوي. (د لا زيات معلوماتو لپاره ، په دريم برخه كي د " د مالي منابعو وضعيت" وګوري.

## د قرارداد وركړه/ د مديريت ماهيت

د متحده ايالاتو تطبيقي اداري د قراردادونو د مديريت او وركړي لپاره د متعددو سازمانونه څخه كار اخلي. د دفاع رياست څلور سازمانونه د افغان ملي امنيتي زواك ANSF د روزني، تجهيز،ځايپځاي او ساتني لپاره د بيارغوني قراردادونه اداره كوي: د متحده ايالاتو د كومندى مركز (CENTCOM) د عملياتي صحنه كې مرسته د كومندى دقرارداد (C-JTSCC)، د انجينرانو لپاره د متحده ايالاتو پوځى اداره (USACE) – د افغانستان د انجينري بخش (AED)، د چاپريال او انجينري لپاره د هوائى زواك ۲۳ مركزونه (AFCEE)، او د متحده ايالاتو د فضا او ميزايلو د دفاع كومنداني (SMDC).

(C-JTSCC) په افغانستان كي د متحده ايالاتو د زواكونو كومندي، د كډ امنيت د انتقال كومنده افغانستان (CSTC-A) په ګډون قراردادونه اداره كوي. د كډ امنيت د انتقال كومنده افغانستان (CSTC-A) د افغان ملي امنيتي زواك ANSF د پراختيا د كمک په موخه د متحده ايالاتو لخوا وركړ شوي مالي منابعي ويشي او اداره كوي. دانجينرانو لپاره د متحده ايالاتو پوځى اداره (USACE) او د چاپريال او انجيري لپاره د هوائى زواك مركزونه (AFCEE) د د افغان ملي امنيتي زواك ANSF د بنستيزو پروژو CSTC-A لپاره د رغوني پروژي اداره كوي. د SMDC د مخدره توكو او تروريزم په وړاندي د دفاع رياست د تيكنالوژى اداره كوي. د افغانستان د مخدره توكو په وړاندى د مبارزي اداري ته د هوائى مرستو د برابرولو سره سره ، په افغان سرحدو كي د مخدره توكو د تراسپورت د مخنيوي په موخو د تجهيزاتو د جوړولو لپاره د SMDC قراردادونه كارول كيږى.

د كابل په دروازو كي كنټرول او قراردادونو، د مرستو موافقت نامي، د اقتصادي پرمختيا همكارى او د ښه حكومتداري پرمختيا د (USAID) ماموريت. د (USAID) افغانستان پاكستان اجرايى قوت په واشنګټن دى. سي، د قراردادونو په هكله د معلواتو رپوتونه، د همكارى موافقتنامي. همدارنګه په كابل كي د (USAID) ماموريت ته اداري مرستي برابروي.

د متحده ايالاتو د خارجه وزارت د مخكي وركړي او مديريت دفتر د خارجه وزارت په نمائندګي قراردادونو كي مداخله كوي او د قراردادونو د نظارت مسوليت په غاړه لري. برخيره پردي، د متحده ايالاتو د خارجه وزارت دو دفترونه په نړيواله كچه د مخدره توكو سره د مبارزي او د قانون د تنفيذ دفتر، او د نفوس ، كډوالو، او مهاجرتونو دفتر-- د بيارغوني قراردادونه اداره كوي.

د افغانستان د بيارغوني ځانګړى عمومي پلټونكى په وسيله د ،(USAID) DoD او (DoS) لخوا تمويل شوي پروژى مالي پلټنه به د قراردادونو د

ورکړې پروسه وارزوي؛ چي آيا دا پروژې په قراردادونو د مقرارتو سره سم بشپړ شوي دي ؛ او د تقلب ، ناوړې ګټه اخيستنې او ضايع کيدو د مخنيوي لپاره موثره څارنه کيږي که يا.

## د ۲۰۱۱ کال د قراردادونو نظارت

په ورستي درې مياشتو کې د د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی لخوا خپره شوي مالي پلټني ومندوله چې د DoD, DoS او USAID تقريبا ۱۷.۷ بيليون ډالره وو ۷۰۰۰ قراردادیانو او نورو مشترکینو ته د ۲۰۰۷ تر ۲۰۰۹ مالي کاله پوري ورکړی وو. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د خپل کار د اولويت لپاره دا مالي پلټنه کاروي.

د ۱.۲ جدول د ۲۰۰۷ تر ۲۰۰۹ مالي کال پوري د بيارغوني مالي منابعي ترټولو غټ تخصيص ۲۰ اخيستونکي راشي، او همدارنګه د د قرارداد د ادراه کولو مسوليت لپاره قراردادي اداري معرفي کوي.

د راپوردهي د دورې په دې جريان کې، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی په لست کې موجود کمپنيو ته د قراردادونو د ورکړې په هکله درې نوي مالي پلټني اعلان کړي. د چاپريال او انجينري لپاره د هوائی زواک مرکزونه د ۷۰.۵ ميليون ډالرو په اندازه د کار سپارښتنه د AMEC د څمکي او چاپيريال اداري ته د کابل پوځي روزنيز مرکز د رغوني لپاره ورکړ. همدارنګه د چاپريال او انجينري لپاره د هوائی زواک مرکزونه د دريم فاز ۷۵ ميليونه ډالرو د کارسپارښتنه د کابل پوځي روزنيز مرکز د رغوني لپاره ECC نړيوال او LLC ته ورکړ. د چاپريال او انجينري لپاره د هوائی زواک مرکزونه يو د قيمت جمع – تعين شوي – فيس کاری سپارښتنه ، چې اوس مهال ۸۳ ميليونه ډالره ارزښت لري، د افغان دفاع پوهنتون د رغوني لپاره د مشخص کيفيت او مشخص تسليمول د قرارداد په اساس د AMEC څمکي او چاپيريال اداري ته ورکړه. USAID د ځايي حکومتداري او د ټولني د پراختيا لپاره د بيدل د پراختيا په موخه د ۲۳۲ ميليون ډالرو قرارداد ورکړ.

د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی اوس مهال د DoD, او USAID د روغنيزو قراردادونو روان مالي پلټنه په لاس کې لري. چې يو يې د بيستيزو پروژو لپاره د چاپريال او انجينري لپاره د هوائی زواک مرکزونه ته سپارل شوي کاری سپارښتنو ارزونه ده:

- په مزارشريف کښي د ۲۳.۲ ميليونو ډالروپه ارزښت د CH2M Hill ساختماني شرکت پروژه.
- په هرات کښي د ۱۹.۰ ميليونه ډالرو په ارزښت د AMEC د څمکي او چاپيريال شرکت پروژه.

او نور مالي پلټني د ۶۰ميليونو ډالرو په ارزښت د کير انټرنشنل سره د USAID د همکاری موافقت نامي ارزوي

په کانګرس او افغانستان کې دشخصي امنيتي قراردادیانو(PSCs) د بی سابقي کار په هکله زیاتیدونکي اندیښنو په غبرګون کي ، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی يو غټ پلان چمتو کړی ترڅو په افغانستان کې د PSCs داجرأتو د مديريت او نظارت ارزونه وکړی. چې قرارداد مالي پلټنه او د سيستم ممکنه مشکلاتو د پيدا کولو په موخه تحقيقات په دې پلان کې شامل دي. په يو روان مالي پلټنه کې، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ګلوبل ستراتيژيک ګروپ کمپنی او USACE ترمنځ د امنيتي خدماتو د حمايت لپاره د ۹۳ ميليونو ډالرو په ارزښت قرارداد ، اجرأت او نظارت ارزوي.

چوکاټ 1.2

**د بيارغوني قراردادونو خلاف د متحده ايالاتو تخصيص، ۲۰ لوړ تسليمدونکي. ۲۰۰۷ ـ ۲۰۰۹**

| رتبه بندي | تسليمدونکي | د ورکړی ماهيت | ارزښت ( په ميليونو ډالره) |
|---|---|---|---|
| 1 | ډين کارپ انټرنشنل | دانجينرانو لپاره د متحده ايالاتو پوځي اداره، اي ان ايل | 1,988 |
| 2 | لويس بيرجير انټرنشنل کمپنی | USAID | 736 |
| 3 | د کابل جان ساختمانی کمپنی | د عملياتي صحنه کډ مرسته د کومندی قرارداد | 691 |
| 4 | د سور بحر ساختماني کمپنی | د عملياتي صحنه کډ مرسته د کومندی قرارداد | 478 |
| 5 | د کي بي واي او بوذيمير ګډ پانګه اچونه | د عملياتي صحنه کډ مرسته د کومندی قرارداد | 452 |
| 6 | نړيواله مرسته او پرمختګ | USAID | 392 |
| 7 | کانتړک انټرنشنل کمپنی | USACE | 366 |
| 8 | د پي اي اي حکومتي سيستم | اي ان ايل | 349 |
| 9 | د بديل پرمختګ شرکت | USAID | 331 |
| 10 | نړيوال بانک | USAID | 322 |
| 11 | د اف سي اي سي متحد بيستيز پروژې جي وبي | USACE | 321 |
| 12 | د لاکهيډ مارټين مختلط سيستم کمپنی | د متحده ايالاتو د فضا او ميزايلو د دفاع کومنداني | 320 |
| 13 | ټکنالوژيست | USACE | 303 |
| 14 | ملګري ملتونه | USAID | 255 |
| 15 | د کيمونيکس نړيوال شرکت | USAID | 230 |
| 16 | د متحده ايالاتو روزنيز مرکز | د متحده ايالاتو د فضا او ميزايلو د دفاع کومنداني | 218 |
| 17 | اي سي سي نړيوال، ال ال سي | USACE | 204 |
| 18 | اي ار اي سي اي کمپنی | د متحده ايالاتو د فضا او ميزايلو د دفاع کومنداني | 169 |
| 19 | د اي ام اي سي د څمکي او چاپيريال شرکت | د چاپريال او انجينري لپاره د هوائی زواک مرکزونه | 166 |
| 20 | نړيوال ريکون | د عملياتي صحنه کډ مرسته د کومندی قرارداد | 159 |

الف .په محاسبو کې د شميرو متاثر کيدل دا ارزښت د ټولو هغه تخصيص شويو پيسو کوم چې د مربوطه مراجعو څخه د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ته د قراردادونو، د مرستو موفقتنامو په اړه د ۲۰۰۷ مالي کال نه تر ۲۰۰۹ کاله پوري، معلومات ورکړ شوی، اندازه را ښيي.
ب. د عملياتي صحنه کډو مرسته د کومندی قرارداد چې د JCC-I/A لخوا برابر شوي دي، کوم چې په هغه وخت کې د عملياتي صحنه کډ مرسته د کومندی قرارداد د مارموريت مسوليت يې په غاړه درلوده. لکه څنګه چې د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی په رپوټ کې هم ذکر شوي دي، د JCC-I/A معلومات د املائي غلطيو او د يوتعداد مشابې نومونو ذکر کوم چې ممکن د يو قراردادی کس نوم وي په کډون يو شمير اشتباهات درلودل. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی اقدام وکړ ترڅو چيرته چې لازمه وي معلومات يا ديټا منظمه او اصلاح کړی؛ سربيره پرهغې له کله نه چې د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کې رپورټونه خپاره شول، د د عملياتي صحنه کډو مرستو د کومندی قرارداد مربوطه معلوماتي راپوټ کې د تخصيص د ارزښت اچې د قرارداد د اصلي ارزښت څخه يې تجاوز کوو په ګډون نور اشتباهات هم شتون درلود. د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د مشکلاتو د اندازو د تعينول باندي کار کوي او د ادراې په هکله هر نظر به بيان کړي شي.

سرچينه: د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی، مالي پلټني – ۱۱-۴، "DoD, ، حکومت، او د نړيوال پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو اداره USAID د ۱۷.۷ بيليون ډالرو څخه زيات تقريبا ۷۰۰۰ قراردادیانو او نور مشترکينو د افغانستان د بيارغوني لپاره د ۲۰۰۷ نه تر ۲۰۰۹مالي کاله پوري تتخصيص کړی وو.

# د سیګار نظارت

**اهداف**

دې پلټنې لاندې اهداف درلودل:

- د افغان ملی امنیتی ځواک د تجهیزاتو د رغونې لپاره د متحد ایالاتو لخوا پلان شوی او یا ورکړل شوی مالي منابع مشخص کوي.
- د افغان ملي امنیتي ځواک ANSF د تجهیزاتو د روغوني او ساتني لپاره د CSTC-A عمومی پلان څیری.

**موندنې**

1. د ANSF د۹۰۰ تجهیزاتو د رغونې لپاره CSTC-A په پام کې لري ترڅو ټوټال ۱۱.۴ بیلیونه ډالر د ۲۰۱۲ مالي کال په بهیر کې ورکړی، په شمول دی ۸ بیلیون ډالر د ۲۰۱۰ مالی کال څخه. برخیره پردی په راتلونکو پنځه کالو کی ۸۰۰ میلیون ډالره به د عملیاتو او ساتنو لپاره ورکړی.
2. سره له دی چې د حساب وړ بودجه او ډیر شمیر تجهیزاتو خبره ده ، خو بیا هم CSTC-A د بیا رغونی اوږد مهال پلان نه دی برابر کړی، او د تجهیزاتو پروګرام یی دی خطر سره مخ کړی چې دا پلان د ANSF د ستراتیژی او عملیاتی اړتیاو سره برابر ندی. په کال ۱۹۹۸ کې د جامد لوازمو د پلان د عملی کولو په لاربنود کی، د متحدو ایالاتو د حکومت د حساب دهی اداره د بودجه او مدیریت د اداره په مرسته د جامدو لوازمو د رغونې د پلان په هکله ترټولو ښه کارول په ګوته کړه. دا لاربنود بیانوی چې د رغونې اوږد مهاله پلان اړین دي ترڅو دا تضمین کړی چې، څرنګه شرایط تغیر وموميې نو پلان هم د ضرورت مطابق تغیر شي، او اوشي کیدئ چې منابع لمړیتوب تعین شي او د ممکنه ستراتیژی موخو د لاسته راوړلو لپاره وکارولئ شي.
3. CSTC-A د MACTEC د انجینیري او مشاورتي کمپنی سره د نور شیانو په ګډون د تجهیزاتو د پراختیا په خاطر د ANSF یو پراخه پلان تیار کړی. د افغانستان د بیارغونې څانګړی. عمومي پلټونکی دا ومندله چې د پلان یو قسمت تاریخ تیر شوی دی او د ANSF د تجهیزاتو زیاتر پلانونه لا تکمیل شوی ندی؛ سره له دی د CSTC-A لخوا وړاندی شوی دی پلان کی د ANSF تجهیزات پوره او په تحلیلي ډول ذکر شوي دي. دا پلان یو شمیر د خوښی وړ عناصر د سرمایي د اوږد مهال پلان لپاره وړاندي کوي، لاکن نور عناصر لکه دا چې اوس مهال د ANSF تجهیزاتو د افغان امنیتی اهداف سره څومره مطابقت لري، د اوسني تجهیزاتو نیمګړتیاوي او ارزونه چې د تجهیزاتو کوم ډول پلان کولئ شي دا نیمګړتیاوي پوره کړی، نه را ښی.
4. CSTC-A همدارنګه په ګوته کړه چې د ANSF ساتنه او اوږد مهاله عملیات ته اړتیا شته. د ANSF د ۲۰۰۸ کال د کمپاین پلان په اساس، د ساتنې مصرف شاید تر کال ۲۰۲۵ پوری داوم وممي. سره له دې چې CSTC-A د اوږد مهالي ساتني او اږود مهالي رغوني پلان نلري. دا ډوله پلان به CSTC-A سره مرسته وکړی ترڅو د د تجهیزاتو په لړی کی د ANSF د ساتني اړتیاوی تعین او وپیژنی. ترسو د مالي منابعو د موثر او مثمر کاروني او ساتني تضمین وشی.

**سپاربښتنې**

د یو داسي تجهیزاتي پلان د درلودلو نه پرته چې موجوده غوښتنې انعکاس کړی شی، CSTC-A د ANSF د تجهیزاتو لپاره خپل د ۱۱.۴ بیلیون ډالرو په اندازه رغنیز پروګرام په خطر کې اچولئ دي، په شمول دي تجهیزات جوړول کوم چې د ANSF د پرسونل د تعین شوي شمیرې لپاره نا بسیا دي او یا هم د ANSF د ستراتیژیک او

عملیاتي اړتیاو سره مطابقت نه لري. د دې د تضمینولو لپاره چې CSTC-A د ANSF د ستراتیژیک موخو او اهداف لپاره خپل مالی منابع او هغو تجهیزاتو څخه په اعظمی توګه کار اخلی، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی لاندني کړني وړاندیز کړي دي:

- د داسي پلان اسنادو ته دي وده ورکړئ شي چی د ANSF د تجهیزاتو نویو غوښتني هم په ځان کي شامل کړي؛ د ANSF د ټولو تجهیزاتو موقعیتونه تعینات په کي مشخص شوي وي؛ مشخص کړئ چي څرنګه د امنیت لپاره د ستراتیژیکو اهداف سره مطابقت لری؛ او همدارنګه باید د تجهیزات د توزیع، پراختیا، یا روغونه په هکله چي څرنګه کولئ شي تر ۲۰۱۳ کاله پوری د ۴۰۰۰۰۰ پرسنول لپاره بشپړ شي، وضاحت ور کړي. دا پلان باید د فدرال حکومت د اصولو سر سم وي او باید د پانګه په هکله د تصمیم نیولو ترټولو ښه اجراات ولري.

برڅیره پردي، د دی لپاره چي دا تضمین کړي چی د دي تجهیزاتو څخه په هماغه شکل چي هوډ شوي وو کار اخیستل کیږي، نو د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د لاندي کړنو سپارښتنه کوي:

- د ANSF د ټولو تجهیزاتولپاره د ساتني او عملیاتو یو اوږد مهاله پلان جوړ کړی شي.

**د ایجنسي تبصرې**

د مالي پلټني د ریپوټ په یو طرحه کي په خپل یادونو کي، CSTC-A وویل چي په جنګي ساحه کي د رغوني اوږد مهاله پلان جوړول مشکل کار دی، لاکن یوڅه ګامونه دوی په پام کي ونیول ترڅو د CSTC-A غوښتنی پوره کړی. برڅیره پردي، CSTC-A په دي سلا شو چی د ANSF د ټولو تجهیزاتو لپاره د ساتني او عملیاتو یو پراخه پلان ته اړتیا شته. CSTC-A وویل چي دوی به د نورو منابعو غوښته وکړي ترڅو دا نمګړیتاوي مرفوع کړي.

### مالي پلټنه ۷-۱۱: د قرارداد سرته رسول او نظارت/CERP

**د لغمان په ولایت کي د کومندان د چټک خبرګون پرګرام یوڅه ګټی درلودلی، لاکن د نظارت کمزوریتا او د ساتني اندیښنو لاسته راوړني تر پوښتنو لاندې یوری او د ممکنی ضایعي ښودنه یي کوله**

د ۲۰۰۴ کال را په دی خوا، کانګرس تقریبا ۲.۶۴ بیلیون ډالر په افغانستان کي د CERP لپاره تخصیص کړي وو. CERP آمرینو ته دا وړتیا وروبښله ترڅو د ځایي خلکو سره د چټکو مرستو په موخه بشردوستانه مرستي او د بیارغوني پروژیي تمویل کړی. په اخرو کلونو کي، کانګرس په افغانستان کي د CERP د تمویل وولو د چټک رشد، په غټو پراختیایي پروژو کي د CERP د مالي منابعو کاروول، او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له خوا د CERP تمویل شویو اکثر پروژو د جذبولو د ظرفیت په اړه خپل نګرانی وښودله.

د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی خپل مالي پلټني ته په لاره وچولي ترڅو د لغمان په ولایت کي د ۶۹ CERP انتخاب شوي پروژي چی ۲۰۰۸ نه تر ۲۰۱۰ مالي کال کي منظور شوي وي، نظارت کړي او دي هغوی مالي منابع او لاسته راوړني وازمایي.چی په ۶۹ انتخاب شویو پروژو کي ۲۴ فعاله، ۴۲ بشپړ شويي، او ۳ لغوه شوي پروژي شامل دی چي په هغه وخت کي د لغمان په ولایت کي د CERP پروژو ته د ۵۸.۵ میلیون ډالر ورکړی شوی پیسو ۹۱ سلنه جوړه وي. د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د مالي پلټني ډله ۳۶ پروژی وپلټلی، کوم چي ۳۹.۸ میلیونه ډالره (تقریبا ۷۵ سلنه) د هغو پیسو چي ټولو ۶۹ پروژو ته ورکړی شوي وي، جوړوي.

**اهداف**

دا مالي پلټني دو موخي درلودي:

- د پروژې د حالت ارزونه، د تخصیص شوی او مصرف شوي مالی منابعو په کډون ، او دا چې ایا پروژې هوډ شویو لاسته روړنو سره مطابقت لری، او ایا دې دغو پروژو ساتنه کیږی.
- د دې په ډاگه کول چې آیا د متحده ایالات د اداري لخوا د پروژې څارنه د لاربښونو سره سم دی.

**موندنې**

- د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی ومندل چې د ۶۹ څخه ۲۷ ازمویل شوي پروژې په خطر کې دي او یا هم خراب لاسته راوړنې لري. دغو پروژو تقربیا ۴۹.۲ میلیون ډالر (۹۲ سلنه) د ټولو پیسو چې د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی وڅارل، تشکیل وی. تقربیا ۲ میلیون ډالره (۴ سلنه د انتخاب شویو پروژو) د هغو ۱۹ پروژو لپاره چې په عمومي توګه یې بریالي نتایج درلودل،تخصیص شوی وو.
- د لغمان په ولایت کې د CERP زیاتر پانګه اچونه د غټو پروژو، په ځانګړي توګه د پاخه سرکونو او نورو نویو تجهیزاتو د جوړولو لپاره کارول شوي دي. د پاخه سرګونوو د جوړولو ټولې پروژې ( چې تقربیا ۴۴.۶ میلیون ډالره د تخصیص جوړولي) په خطر کې دي ځکه چې د ساتنې پلانونه نلري. دا ټولې پروژې او د بنسټیزو پروژو مربوطه ګروپونه ټول پرته له کافي تضمین څخه چې د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د دوی د ساتنې منابع لري، تصویب شوي دي.
- زیاتر د ۳ میلیون ډالره د تخصیص د نویو تجهیزاتو د پروژو په خطر که ده، ځکه چې دا ودانې بشپړ شوی وی خو د هوډ سره سم نه وي کارول شوي، او یا ځکه چې د رغونې کار جریان دلرلود خو د افغانستان اسلامي جمهوری دولت په دی موافق نه وو ترڅو د بشپړیدو ورسته د دغو تجهیزاتو ساتنه وکړي.
- د CERPد پروژو نظارت د لازمه شرایط سره سمون نه درلود، چې د CERP مالي منابع یې د نامطلوبه لاسته راړنو او احتمالي ضایعه سره مخ کوی. دی مثال په توګه، د زیاترو پروژو دوسیو کافی اندازه اسناد نه درلودل ترڅو د د پیسو تادیه ثابته کړی او د پروژی د بررسي کیدل لپاره لږترلږ شواهد ولری.
- دو ډله دې مربوطه پروژو- یو اقتصادی پرختیایي هڅه او مربوطه کرنیزو زیرمو پروژې- غټی هڅې دي چې د ساتنې او داوم اندیښنې یې راپورته کړي. دا شان پروژی د CERP په غټه اندازه نظارت او څارنې ته اړتیا لري، لاکن د CERP د نظارتي اداري په متواتره توګه دوران کوي او روزل شوي دي ترڅو وړې پروژې عملي کړي. دغی پروژې ته چټک اړتیا نه وه یا چټک ګټی یې نشو وړاندی کولي او د ساتنې نه پورته کولي.
- USFOR-A یو هماهنګ او په نتایجو باندی ولاړ شیوه نه درلوده ترڅو معلومه کړی چې آیا د CERP پروژې خپل موخې ترلاسه کړی دی، د هود سره سم کارول کیږي، او ساتنه تر کیږی. د پوره نظارت او د پایلو د ارزونې نه پرته ، د متحده ایالاتو پانګه اچونه د ضایع کیدو د خطر سره مخ ده، او افغانان به ممکن د پروژو هوډ شوی ګټې ترلاسه نکړی.

**سپارښتنې**

د دې لپاره چې د CERP نظارت وده وکړی شي او په لغمان کې د CERP د پروژو ساتنې تقویه شي، د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی سپارښتنه کړی ده ترڅو USFOR-A لاندنې کړنې ترسره کړي:

- تګ لارو ته دې وده ورکړي ترڅو د CERP د فعاله پروژو لپاره د رغونی کیفیت او د ساتنې پلانونه بهتر شي، او یا هم د CERPفعالې پروژی د بندی شی او بل د بنه کارونی لپاره دې مالي منابع بیا تخصیص

شي، البته که دا کار د حکومت ګټو لپاره ښه وی نو دا کار دې ترسره شي.

- د قراردادیانو څخه دې غوښته وشي ترڅو د هغو بشپړ شویو پروژوچې تراوسه تضمین لاندی دي، ناقص کارونه ترمیم کړي.
- د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د چاړواکو سره دې کار وشي ترڅو د CERP د هغو پروژو چې بشپړ شوي دي خو ساتنه تری نه کیږی، د ساتني او دوام پلان جوړ کړل شي. مخکې له دې چې د CERP د نورو پروژو په هکله ژمنه وشي، USFOR-A دې هغو لازمو ګامونه په هکله فکر وکړی چې څرنګه د لغمان ولایت چاروکي د هغو پروژو د ساتني مسولیت په غاړه وخلي کوم چې و دوی ته سپارل کیږي.

د CERP لخوا تمویل شوي غټو پرختیایي هڅو د لاښه څرګندیدو لپاره او د ساتني پلانونو د تضمین لپاره، د افغانستان د بیارغوني څانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان د بیارغوني څانګړی عمومي پلټونکی سپارښتنه کوی ترڅو د USFOR-A آمرین دي لاندیني کړني ترسره کړي:

- د CERP معیاري عملیاتي کړنلاره دی نوی کړي شي ترڅو هغه معیارونه دی ورشامل کړی شي کوم چې ساحوی امرینو سره مرسته وکړی چې کله د CERP د پروژو ډلي باید په مربوطه پروژیی پلان او تصویبی وړاندیزونو باندی توجه وکړی.

د دې خبرې په مشخصولو کې دي مرسته لپاره چې آیا د CERP پروژی د دوی دې موخو او د هوډ شویو لاسته راوړنو سره مطابقت لری، د افغانستان د بیارغوني څانګړی عمومي پلټونکی سپارښتنه کوي ترڅو CSTC-A دې لاندې کړنې ترسره کړي:

- یو هماهنګ او په نتایجو باندې ولاړ روش دې جوړ کړي ترڅو د CERP د پروژو موثریت دې پرې وارزوی. دا ډول روش باید موخه او د سنجش او اندازی وړ اهداف په څان کې ولري؛ د اندازه ګیرو متوازن اجراأت دی ترسره شي ترڅو د اهداف په لوري پرمختګ په ګوتي کړي؛ د CERP د بریالي لاسته راوړنو د پیژندونو لپاره معیارونه؛ او کړنلاره چی د د پروژی د کار په جریان او د تکمیلدو نه ورسته د کړنو معلومات ټول، تحلیل کړی او راپور یی چمتو کړي.

**د ایجنسي تبصرې**

د مالي پلټني د راپوټ په یو طرحه کي په تبصرو کې، USFOR-A په عمومي توګه د افغانستان د بیارغوني څانګړی عمومي پلټونکی د مندنو او سپارښتنو سره موافقت وکړ. USFOR-A وویل چې د افغانستان د بیارغوني څانګړی عمومي پلټونکی سپارښتني به د CERP پروګرامونه د لا زیاتی بریو تضمین کړی او همدارنګه به د متحدو ایالات د تکس ورکونکو ډالر وساتي. همدارنګه نور کړنی یې هم په پام کې نیول دي ترڅو سپارښتني که ذکر شي، لاکن USFOR-A ذکر کړ چې دوی به دې څایي قراردادیانو د محدود ظرفیتونو او د پروژو د ساتني او داوم په هکله د افغانستان د دولت لږ مالی مرستي په اساس ، یو اندازه چنیلجونه سره به مخ شي.

په دېرې میاشتو کې، د افغانستان د بیارغوني څانګړی عمومي پلټونکی پنځه نوي مالي پلټني اعلان کړي: د دریو قراردادونو مالي پلټني، او دې دو پرګرامونو مالي پلټني. دا مالي پلټني په افغانستان کې د متحدو ایالاتو د بیارغونو هڅو کلیدی برخې ارزوي.

## د قرارداد پلټنه: د USAID څایي حکومتداري او ټولنیز پرختیاتي پروژې

دا مالي پلټنه به د USAID څایي حکومتداري او ټولنیز پرختیاتي پروژو اجراأت، لګښتونه، او لاسته راوړنې وارزویې. دا پلټنه لاندني موخې لري:

- د هغه توسع مشخص کول کوم چي USAID د ۲۰۰۹ کال د مې د میاشتي د مالي منابع ریوټ چي د دوي د پلټني عمومي اداري لخوا خپور شوي دي، په مقابل کې اصلاحي ګړني ترسره کړي.
- د قرارداد د پلان او اړتیاو د تعریف د کفایت وارزوي، همدارازد قرارداد د ژبی مناسب بنودنه (د خوبنی وړ لاسته راوړنو تعریفولو په ګډون) ترڅو د متحدو ایالاتو موخي او پراختیا او حکومتداری لپاره د افغانستان اسلامي جمهوری دولت پالیسي د حاصلو په خاطر مرسته وکړي.
- وارزوی چي ایا قراردادونه د قرارداد د معیارونو، په ګډون د رغوني پلانونه او مشخصات، لګښتونه، مهال ویش او لاسته راوړني سره سم بشپړ شوي دي.
- په قرارداد کې مصرف شوی توکي، په شمول د مستقیم لګښته، نور مستقیم لګښتونه او پیشکی.
- قراردادي کارونو نظارت او داخلی کنټرول و ارزوي.
- که چیري د پرسونل او سایټ د امنیت د تامین لپاره په دندو ګمارل شوي وي نو شخصی امنیتي کمپنی او د هغوی مقررات چی ایا د افغانستان اسلامي جمهوری دولت لخوا منظورشوی دی او که یا،او په راتلونکي کار باندی د قراردادی امنیتی کمپنیو سره د د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د پالیسی تاثیر مشخص کړي.

### د قرارداد پلټنه: د کابل نظامي روزنیز مرکز کي بنستیزي پروژې

دا مالي پلټني به په کابل نظامي روزنیز مرکز کي بیستیزو پروژو لپاره د AFCEE’s مدیریت به وارزوي. د ۲۰۰۷ مالي کال څخه تر ۲۰۱۰ پوری، په دي مرکز کي د پنځو سپارښتنو لپاره د دریو مشخص-تحویلول/ مشخص – کیفیت (IDIQ) قراردادونو لپاره AFCEE تقریبا ۱۶۱میلیون ډالره تخصیص کړي وي. د دغه قراردادونو لاندي، AFCEE د لګښت-جمع – تعین شوی – فیس، شرکت- تعین شوي – قیمت، او د وخت او توکو د دندو سپارښتنه. دپلان جوړونه ، رغوني او نظارتي دندو په ګدون د دغو کاري سپرښتنو په اساس، کار د بشپړیدو مختلفو نیتو ته اړتیا لری. دا مالي پلټنه پنځه موخي لري:

- د قرارداد د مناسبی ژبي پراختیا لپاره د پلان د بشپړتیا او د شرایطو تعریفونه، وارزوي.
- و ارزوی چي ایا پروژه د قرارداد د شرایطو او د رغوني د پلان ،مشخصات، لګښت، مهال ویش او لاسته راوړنو سره سم ترسره شوي دي.
- وارزوي چي د AFCEE’s تسلیمی د قرارداد د اداری شرایطو، او د AFCEE پالیسي او قوانین، د قرارداد قوانین، او د فدرال اکتسابی شرایطو په ګډون نظارتي مقرارات سره سم دي.
- که چیري داسي وي چي افغان ملی پوځ د تجهیزاتو، ساتنیز اجراأتواو د ساتني د لګښتونو بیه ورکړه مسولیت په غاړه وخلي نو بیا پلان مشخص کړي.
- خصوصی امنیتی کمپنی په ګوته کړی، تر څو معلومه شی چي یادې شوی کمپنی شخصی یا د سیمي امنیتی چاری پر مخ وړی، د هغوی مقرارت او رول او وکتل چي د افغانستان د اسلامی جمهوریت په تایید خپل دندې پرمخ وړی او که څنګه.

### د قرارداد پلټنه: د افغانستان د حربی پوهنتون رغونه

دا ځیرنه په افغان حربی پوهنتون کښی د تر سره کیدونکو د رغونو او نورو اړوندو کارونو لپاره په لاره اچول شوی ده AFCEE د یو ځانګړی IDIQ قرارداد په ترڅ کښي د دی پوهنتون چاری د AMEC ته د مځکنی او چاپیریال د شرطو په پام کښي نیولو سره یادی شوی کمپنی ته سپارلی دی. د قرارداد په وخت کښی د یادی شوو موخو او اهدافو لپاره د ۷۰ میلیون ډالرو لګښت سنجول شوی وو، او یاده شوی پروژه باید د ۲۰۱۰ کال د جون په میاشت کښی بشپړه شوی وای، AFCEE د هغه وخت څخه وروسته تر اوسه پوری د سمون په موخه ۵ تعدیلات

قراردادی کمپنۍ ته ورانډی کړی دی چی په هغه کښی د ضروریاتو کمول او زیاتوالی، د موکلف شوی لګښت د ۸۳ میلیون ډالرو په ارزښت لوړول او د یادی پروژې لپاره د ټاکل شوی نیټې د ۲۰۱۱ کال د جون تر میاشتې پوری غزول شامل دی . دا څیرنه یا پلټنه د څلور مهمو موخو د تر لاسه کولو لپاره په لاره اچول شوی ده:

- د دی امر د معلومولو په موخه چی ایا یاده شوی پروژه د قرارداد د موادو سره سم چی په هغه کښی د دی پروژی لګښت، تقسیم اوقات او د دی پروژې پایلې او نتجې شاملې دی په سمه توګه تر سره شوی دی او که څنګه.
- ترڅو د AFCEE سره مرسته وشی چی په اداری او د څارنې د اصولو او غوښتنو سر سم چی په هغه کښی خپله د AFCEE مقررات، د قراداد غوښتنې او شرایط او د فدرال د لاسته راوړنو مقرارت شامل دی په سمه توګه چارې په مخ بوړل شی.
- د افغان ملی اردو لپاره د پلانونو مشخص کول تر څو وکولای شی د امکاناتو د مالکیت، د اړونده دندو سمه پر مخ بیونه، او د اوږد مهالی پاینښت په اړه ټول لازم ګامونه اوچت او د هغه پر مخ وړلو جوګه شی.
- هغه خصوصی امنیتی کمپنۍ په ګوته کړی، تر څو معلومه شی چی یادې شوی کمپنۍ شخصی یا د سیمې امنیتی چارې پر مخ وړی، د هغوی مقرارت او رول او وکتل چی د افغانستان د اسلامی جمهوریت په تایید خپل دندې پرمخ وړی او که څنګه.

## د پروګرام څیرنه: د افغانستان په یو ټاکل شوی ولایت کښی د USAID او امریکا د بهرنیو چارو لخوا د تمویل شوو څلورو پروژه څخه کتنه

سیګار یا د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی به په هغه ولایت کښی د USAID او د بهرنیو چارو د وزارت لخوا تمویل شوی پروژو څخه لیدنه وکړی چی تر اوسه نه وو انتخاب شوی:

- د سیمیز ثبات لپاره ځانګړی شوی مرستې (USAID)
- د کړواو د ترسره شوو کارونه پر اساس د والیانو لخوا ورکړل شوی مرستې (USAID)
- د اضطراری حالاتو لپاره مرستې (DoS)
- د ملکی دیپلوماسی لپاره مرستې (DoS)

دا پروګرامونه په محلی کچه باندی د غوره حکمت کولو د ظرفیت د لوړولو او په ولایتی او د ولسوالیو په کچه د پرمختیا د رامنځ ته کولو په موخه په لاره اچول شوی دی. د ولایت ټاکل به په جدا توګه په پروګرام کښی د مصرف شوو مرستو پر اساس غوره او انتخاب کړل شی.

دا څیرنه او پلټنه درې موخې لری:

- په ۲۰۰۹ FY او FY 2010 کښی د لګول شوو پیسو معلومول.
- د امریکا د متحده ایالاتو د حکومت سره په دی نیت مرسته او کمک تر څو معلومه شی چی د یادو شوو پروګرامون لپاره ځانګړی کړل شوی مرستې په سمه توګه کارول شوی او د او د اصلی موخو ته د رسیدلو لپاره په سمه لاره روانی دی.
- د امریکا د متحده ایالاتو او د افغان دولت سره په امر کښی مرسته او کمک چی معلومه کړی، تر څو دا مرستې د خپلو اصلی موخو یعنی د غوره حکمت کولو، پراختیای رامنځ ته کول او د مخالفینو سره مبارزې په لاره کښی تر کومه حده توانیدلی دی چی دا هدفونه تر لاسه کړی.

## د پروګرام څیرنه او پلټنه: د افغانستان د بیا رغونې په موخه د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو کارونه او حساب ورکونه

دا څیرنه به د ARTF وارزوی، چی د امریکا د متحده ایالاتو او د نور کمک ورکوونکو هیوادو لخوا تمویل او د

نړیوال بانګ لخوا اداره کیږی. د ARTF مرستي د افغانستان د ملی بودجه په پام کبنی نیولو سره ترسره کیږی او په همدی معنی هم دی پداسی حال کبنی امریکا او نور کمک کوونکی هیوادونو پرمختیایی مرستی په مستقیم ډول د افغانستان د اسلامی جمهوریت سره ترسره کیږی. د ۲۰۱۰ کال د سپتمر د میاشتي په شان، د امریکا د متحده ایالاتو ۹۷۲ میلیون ډالر مرسته تر سره کړی – چی تقریبا یو په څلورمه حصه د ټولو وعده شوو مرستو (۴ میلیارډه د ۳۲ هیوادو او سازمانو څخه ) جوړوی. د څیړنه د هغو تحقیقاتو یوه برخه ده چی د افغانستان سره د هغو هڅو چی د امریکا د متحده ایالاتو او نورو کمک کوو نکو هیوادونو لخوا تر سره شوو مرستو په اړه تر سره کیږی. دا څیړنه دوه موخي او هدفونه لری:

- د ARTF د تکیلاتو څیړنه، د افغانستان د عمومی بودجه سره د هغه رابطه، قصد کړل شوی کارونه او مصرف او د کمک کوونکو مرستي او سهم.
- د هغو میکانیزمونه په ګوته کول چی د امریکا د متحده ایالاتو، د نړیوال بانک او د افغنستان اسلامی جمهوریت لخوا پدی موخه را منځ ته شوی دی تر څو د امریکا لخوا ARTF سره ترسره شوی مرستي وڅیړی.

د دی راپور تر وخته، د سیګار یا د افغانستان دبیا رغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی لخوا د دوو زیربنایی پروژه د رغوني، څارني او د اوږد مهالی بقا او پایینت په اړه تر سره کیږی؛ د USAID او د CARE یا پاملرني د نړیوالی موسسي سره د همکاری پریکړه لیک؛ او خصوصی امنیتی کمپنی په اړه تحقیقات شامل دی.

### په هرات او مزار شریف کبني د امریکا د متحده ایالاتو د انجینری د مرکز او د یو محیطی زیربنایی پروژې څیړنه او بیا کتنه

سیګار د AFCEE لخوا تر سره کیدونکی دوی زیربنایی پروژو په اړه پلټنه تر سره کوی. دا بیا کتنه دري موخي لری:

- د هغو وړاندیزونو او تعدیلاتو ارزونه چی د قراردادی لخوا د لومړنی روغوني چاری په مزار شریف او هرات کبنی د مقرراتو او غوښتنو سره سم پر مخ وړل کیږی.
- د کیفیت د کنترول د قراردادی او د AFCEE سره د پروژې د نوعیت او د ړونتیا او سلامتیا په اړه مرسته او همکاری.
- د هڅو ارزونه د امکاناتو د بقا او د پایینت په موخه.

### د USAID لخوا د پاملرني د نړیوالی موسسي او په کابل کبنی د کلیو د پراختیا د پروګرام په اړه د پریکړه لیکو او مرستو ارزونه او څیړنه

سیګار د پاملرنه د نړیوالي موسسي- او په کابل کبنی د کلیو د پراختیا او د USAID تر منځ د همکاری په اړه د ۶۰ میلیون ډالرو په ارزښت سره مرسته وکړی – چی یو د هغو څلورو پروګرامو د ډلي دی چی په د افغانستان په ښاری سیمو کبنی د غذایی نا خوندیتوب په اړه دی. د یو کلن پروګرام د بشپړیدو نیټه په حقیقت کبني د ۲۰۱۰ کال د مارچ میاشت وه؛ خو بیا هم، دا پروګرام د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر تر میاشتي وغزول شو. د دی څیړنه څلور موخي لری:

- د هغو تک لارو ارزونه چی USAID د دی قرارداد په ورکولو کبنی ورڅخه ګټه اخستي ده.
- او مشخصه کړی چی قرارداد په ټاکل شوو مصارفو، تقسیم اوقات او ټاکل شوو پایلو سره سم تر سره شوی دی.
- د نقدو پیسو د ویش په ګډون د USAID او د پاملرنه د نړیوالي موسسي د نظارت او د کنترول پراګرامونه وارزوی.

- دپروګرامو د اصلی اهدافو او موخو ته د رسیدو د کچې ارزونه.

### د نړیوال ستراتیژیک ګروپ لخوا د بیارغونې د امنیتی مرستو ارزونه او نظارت.

دا څیړنه به معلومه کړی چی USACE ته په مناسب وخت او لګښت باندی امنیتی خدمات او مرستې ورکړل شوی دی. د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی بیا کتنې د موخو او اهدافو د سپیناوی په اړه ترسره کیږی. د بیا کتنې دا څیړنه دوې مهمې موخې لری:

- د هغو خدمتونو چې د نړیوال ستراتیژیک ګروپ لخوا ترسره شوی څیړنه او د دی معلومول چې دا خدمتونه د قرارداد په معین وخت، لګښت او نورو وړاندیزونو او تعدیلاتو په نظر کښی نیولو سره تر سره شوی دی که څنګه.
- دا جوته کړی چی USACE، د نړیوال قرارداد څیړنو او نظارت د فدرال د زده کړو د مقرراتو، د USACE د قاوانینو او په قرارداد کښی ذکر شوو مقرراتو سره سمه ترسره کړی دی.

سیګار د امریکا د متحده ایالاتو لخوا د افغان ملی امنیت د ځواکونو د رغونې او د روزلو په اړه اته رواني څیړنې تر سره کوی.

### د افغانستان د ملی یووالی پروګرام

دا څیړنه د هغو تحقیقاتو د لړی یو برخه ده چې د امریکا او د نور مرستو کوونکو د کمک چې د افغانستان د اسلامی جمهوریت د فساد پر ضد د مبارزې د ظرفیت د لوړولو په موخه تر سره کیږی. دا څیړنه د هغو مرستو یو برخه ده چې د افغان ملکی ادارو سره د هغو داخلی لارو چارو په ګډون کمک وکړی تر څو دا مرستې د فساد، ضایع او د ناوړې ګټې په وړاندی خوندی کړی.

په کال ۲۰۰۳ کښی، د افغانستان د کلیو د بیارغونې وزارت د ملی یووالی پروګرام تاسیس کړ ترڅو د هغه اړې ټولنې وپیژنی، د هغوی سره د مرستې لپاره پلان جوړ، اداره او د هغو د پرمختیایی پروژو څخه څارنه وکړی. لکه د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په شان، د نړیوالی ټولنې د NSP سره ټول ټال ۱،۴ میلیارډه ډالر مرسته کړی ده. د امریکا متحده ایالاتو ۵۲۸ میلیون ډالره مرسته کړی، چې د NSP سره په یواځې ډول تر ټولو ستر مرسته کوونکی دی. دا څیرنه څلور موخې لری:

- د امریکا د متحده ایالاتو او نورو مرسته کوونکو لخوا د NSP سره ترسره شوی مرستې وڅاری چې د کومو موخو لپاره کارول شوی دی.
- د مرسته شوو د نظارت او داخلی څارنې سره مرسته او کمک کول.
- معلومه کړی چی NSP خپلوټاکلو موخو ته رسیږی.
- NSP ته په دریمه مرحله کښې چی اخری مرحله ده ورپښی ستونزې په ګوته کړی.

### د افغان ملی پولیسو د کارکوونکو د اداری پروسه او سیستمونه

سیګار دا پلټنه د دی لپاره ترسره کوې چې د هغه حد جاج واخلې تر کومه چې افغان ملی امنیت ځواک د پرسونل د حساب لپاره دقیق سیسټمونه جوړ کړې دي. دا څایرنه په ځانګړی توګه په افغان ملی اردو او ملی پولیسو باندی تمرکز کوی، اما د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی یوازی په افغان ملی پولیسو باندی تمرکز کوی، تر څو وکولای اړینو غوښتنو او د ملی پولیسو سره علاقې ته ځواب ووایی او همدا ډول د امرایکا د حکومت د حساب ورکونې د اداره کار او دنده په تکراری ډول د تر سره کیده څخه یی هم مخ نیوی کړی وی.

د دی پلټنې څلور مهمې موخې دی:

- د افغان ملی پولیسو د کارکوونکو د اداري په اړه تګ لارې او سیستمونه:
- د هغو ګامونو چې د افغانستان جمهوریت او کمک کوونکو لخوا د افغان ملی پولیسو د کارکوونکو د کړنو او سیستمونو په اړه اخیستل شوی دی.
- د هغو ستونزو په ګوته کول چې د افغان ملی پولیسو د کارکوونکو په پروسه او سیستمونو اغیزه لری.
- د هغو هڅو د کچې او اغیزې د معلومول چې د فساد، ضیاع و ناوړه ګټې د مخنیوی په اړه اخیستل شوی دی.

### افغان ملی امنیتی پوځ ته د ورکړل شوو موټرو په اړه د حساب ورکولو لړۍ

د امریکا متحده ایالاتو افغان ملی امنیتی پوځ ته لسګونه زره موټر ورکړی او هوډ لری چې د زرګونه نور، لیږ تر لیږه د ۲۰۱۲کال تر اخره د دی ځواک ته ورکړی د دی موټر ډیرۍ برخه پیرودنه د بهرنی نظامی پیرودنې سیستم سره سم ترسره شوی دی، چې د دفاع د امنیتی هم غږیی د اجینسی له لوری تر سره شوی دی. دا څیړنه د افغان ملی امنیت د ځواکونه په اړه د حساب ورکوني، تعقیب او د توکو د ساتلو په اړه د هغوی د عمومی وړتیا په اړه هم معلومات وړاندی کوی. دا څیړنه درې موخې لری:

- د افغان ملی امنیتی پوځ د موټرو اړتیاوی او دا چی تر کومه حده دا اړتیاوی پوره شوی دی.
- معلومه کړی چی CSTC-A او افغان ملی امنیتی ځواک کولای شی د امریکا په مرستو باندی د اخیستل شوو موټرو، د هغوی د شمیر په اړه او د هغوی د کار د توان په اړه ټول معلومات ورکړی او که څنګه.
- دا معلومه کړی ،څرنګه چی CSTC-A د افغان ملی امنیتی پوځّ له لوری په امریکایی مساعدتو باندی د اخیستل شوو موټرو په اړه تضمین ورکړی چی دا پوځ کولای شی د دی موټرو ستانه وکړی، د هغوی څخه سمه ګټه واخلی او هغه وساتی تر کومه حده ریښتیا ده.

### د امریکا د متحده ایالاتو هڅې، تر څو دافغانستان د جرمونه په وړاندی ځواک څه ډول پر مخ ځی.

دا څیړنه د امریکا د متحده ایالاتو د هغو هڅو سره چی غواړی د افغانستان د جرمونو په وړاندی د ځواک ظرفیت لوړ شی مرسته کوی. دا څیړنه د هغو تحقیقاتو یوه برخه ده چی د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د افغانستان د اسلامی جمهوریت سره د فساد پر ضد د مبارزې لپاره ورکړل شوی دی.

دا څیړنه او پلټنه درې موخې لری:

- د امریکا د هغو هڅو او مرستو په ګوته کول چی غواړی MCTF تقویه کړی.
- معلومه کړی چی د امریکا د متحده ایالاتو مرستې د مربوطه قوانینو او مقرراتو په نظر کښي نیولو سره ډیزاین او عملی شوی دی او که څنګه.
- معلومه کړی چی د امریکا مرستې ټاکل شوی موخې تر لاسه کوی.

### د امریکا او نړیوالو مرستې د افغانستان د بانکی سیستم او د پولی کنترول او پرمختیا په اړه

د امریکا کانګرس د افغانستان د بانکی سیستم او په فاحشه توګه د نقدو پیسو د کابل د هوایی ډګر د لارې د انتقال په اړه خپل تشویش وړاندی کړی دی. دکانګرس څیړنو ته د ځواب په موخه، دافغانستان دبیار غونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د امریکا د هغو مرسته په اړه چی د افغانستان د بانکی سیستم او د پولی واحد او په لویه کچه د نقدی پیسو د انتقال په اړه د مقرراتو څیړنه په لاره اچولی ده. دا څیړنه څلور موخې لری:

- د بانکی او پولی واحد د کنترول په اړه د سیستم په کډون،د افغانستان د ملی سیکتور د حالت او پرمختیا ارزونه.

- د پولی واحد په اړه د کنترول سیستمونه، پالیسیګانی او د افغانستان د اسلامی جمهوریت فعالیت او کړنې،او د هیواد څخه په لویه کچه د نقدو پیسو انتقال په اړه مقررات.
- د امریکا د متحده ایالاتو هغه پروګرامونه او فعالیتونه چی د افغانستان د بانکی سیکتور او د پولی واحد د کنترول د لارو چارو مندل او په کوته کول.
- د دی پروګرامو د موثریت د ګچې معلومول او دا چی تر کومه حده د ټاکل شوو موخو ته د رسیدو په لاره کښی منظمی او هم غڅې کړل شوی دی.

### د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د کرهنې د سیکتور سره مرستی

د امریکا د ستراتیژی یو لوموړیتوب د افغانستان د کرهنې د سیکتور بیارغونه ده. دا څیرنه څلور موخې لری:

- د FY2011 په دویمې ربع کښی امریکا او د نړیوالی ټولنی هغه مرستې چی د افغانستان د کرهنې د سیکتور سره ترسره شوی په کوته کول.
- د هغو ستراتیژیو او موخو په کوته کول چی کولای شی د امریکا مرستې د افغانستان د کرهنې سکتور د پراختیا لپاره ګټوری وی.
- وارزوی چی د امریکا مرستې تر کومه حده توانیدلی دی چی د کرهنې په سکتور کښی خپلو اصلی او ټاکل شوو موخو او اهدافو ته رسیږی.
- د امریکا د کرهنیزو مرستو د ضایعه کیدو سره د مخامخ کیدو د کچې په کوته کول.

### په افغانستان کښی د لومړنی دفاعی لایحې د تضمین د پروګرام پلی کول

په افغانستان کښی د لومړنی دفاعی لایحې (DBA) د تضمین پروګرام چی د امریکا د کارکرانو د څانګې لخوا پر مخ وړل کیږی، د دی لایحې په اساس چې وایی، ټول فدرال دولتی قراردادیان او دویم لاس قراردادیان باید خپلو هغه کارکوونکو ته چی د امریکا څخه د بهر دنده تر سره کوی باید د اوښتی زیان لپاره تاوان ورکړی. DoS،DoD او USAID هغه دری اساسی امریکایی اداری دی چی په افغانستان کښی د بیارغونې هڅې پر مخ وړی. DoS،DoD او USACE د یو ډول بیمې یا د تضمین د څخه ګټه اخلی، په دفاع وزارت یا (DoD) پوری نوری اداری خپل قراردادیانو ته اجازه ورکوی تر څو خپل د بیمې تګ لاره غوره کړی. د څیړنې په دی لړ کښی، سیګار د پروګرامو سیستمونه، لګښتونه، د پروګرامو اداره او تسلیمدونکو ته د ورکړل شوو پیسو په اړه څیرنې تر سره کوی.

دا څیرنه څلور موخې لری:

- دا څیرنه څلور موخې لری
- د قضیو د معلوماتو په کمک، معلومه کړی چی څومره د دغو مصارفو په بیمه باندی لګول شوی دی او معلومه کړی چی مرستې په سمه توګه لګول شوی دی او د حساب ورکړی سستم په سمه توګه شتون لری که څنګه.
- د قضیو د معلوماتو په کمک، معلومه کړی چی څومره د دغو مصارفو په بیمه باندی لګول شوی دی او معلومه کړی چی مرستې په سمه توګه لګول شوی دی او د حساب ورکړی سستم په سمه توګه شتون لری که څنګه.
- معلومه کړی چی مناسبې تګ لاری چی کارکوونکو ته هغه امتیازات چی هغوی یی مستحق دی ورکول کیږی او که څننګه.

## په افغانستان کښی د امریکا د ملکی وګړو د سطحی لوړول( دDos د عمومی څیړونکی سره په ګډه څیړنه او پلټنه تر سره کول)

په افغانستان کښي د امریکا د ستراتیژی یوه برخه په هغو ملکی هڅو پوری تړلی ده چی کولای شی د غوره حکمت جوړ او په هیواد کښی اقتصادی پرمختیا را منځ ته کړی. په افغانستان کښی د امریکایی ملکی کار کوونکو شمیره په څرګند ډول د ۳۲۰ تنو څخه ۱۱۶۷ تنو ته د ۲۰۰۹ کال نه تر د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر میاشتي پوری لوړه شوی ده. د DoS د عمومی پلټونکی سره په ګډه به هغه هڅي وڅیړی چی په ملکی برخه کښی د ظرفیت د لوړوالی په موخه ترسره شوی او همدا ډول په افغانستان کښي د لا نورو ملکی کاروکونکو ځای په ځای کول دی. دا څیړنه دوی موخی لری:

- په FY2009 او FY2010 کښی په ملکی پرمختیا او پراختیا باندی د لګول شوو مرستو لګښت او همدارنګه د امریکایی اجنسیانو سره د ارزوني په چارو کښی مرسته او کمک.
- په FY2011 او FY2012 کښی د امریکایی اجینسیانو سره د ملکی پراختیا لپاره د اټکل شوو لګښتونو په ګوته کول او د هغوی د هغو هڅو سره کمک کول چی غواړی د دی لګښتو د پایښت په اړه لاری چاری وارزوی.

سیګار د هغه صلاحیت له مخی چی په P.L. 110-181 کښی د را منځ ته شوو تعدیلاتو سره سم ورکړل شوی دی د دریو بیارغونو پروژو عدلی څیړني ترسره کوی. دا قانون دافغانستان دبیا رغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی څخه غواړی چی د ناسمو ورکړو – لکه د دوه واری پیسو ورکول او ناقانونه قراردادیانو ته د پیسو ورکړه – او د هغو چمتو شوو مرستو چی د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړی شوی عدلی راپور چمتو کړی. دا څیړني د دفاع وزات، DoS او د USAID په اړه هغه پلټني چی د بیا رغونو اړوند د معالوماتو د انتقال په اړه شاملی دی.

## د DoD د عدلی څیړنو په ترڅ کښی د افغانستان د بیارغونو په اړه د معالوماتو انتقال او لیږدونه

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کښی، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د DoDمناسبوالی، موکلفوالی او د ASFF د ۲۰۰۹ کال له لاری د ۲۰۰۵ مالی کال کښی د مصارفو په اړه د معلوماتو انتقال چی ټول ټال ۲۵،۲۳ میلیارډ ډالره کیږی. د مقایسوی عدلی څیړنو لپاره د معلوماتو تر لاسه کول یو ستونزمن او ګران کار وو، ځکه چی د افغانستان د بیا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی په ښکاره د انتقال په اړه دی معلوماتو ته لاس رسی نه درلود. د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په یوویشتمه، د دفاع، مالیی او محاسبه د خدمات (DFAS) – د بهرنی نظامی پیرودني لپاره امنیتی مرستی( FMS) - سیګار منی او دا تایید وی چی د ASFF لپاره منظور شوی مرستی سمدستی FMS ته انتقال شوی چی تر څو په موکلف شوو دندو باندی وګلول شی. دا د هغو ستونزو ښکارندوی کوی چی د عدلی بیا کتنی لپاره د معلوماتو په تر لاسه کولو کښی ورسره مخامخ شوی وو. سیګار په پرله پسی ډول زیار باسی تر څو اړونده معلومات تر لاسه کړی او خپل فعالیتو ته د FY2010 د انتقال په موخه پراختیا ورکوی.

سیګار د DFAS د ډیری غړو د FMSد مسولینو په ګډون ګډ کار کوی، تر څو د معلوماتو درلودونکی او د منبعو سیستمونه په ګوته کړی. کله چی انتقالی معلومات تر لاسه شول، دا معلومات به د خطراتو د ثبتولو او د مهمومعلوماتو د ځانګړو لارو چارو څخه به ګټه وکارول شی، تر څو فساد، ضایع او د ناوړه ګټي اخیستنه په ګوته کړی. دا پایلي کولی شی چی د سیګار سره مرسته وکړی یا هم دا اداره تحقیقاتو او څیړنو کولو ته چمتو کړی.

انځور 1.1

د افغانستان د بيارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی څيرنه: د پرانيستو تحقيقاتو وضعيت او حالت د 2010 کال د اوکتوبر پودريشمه




سرچينه: د SIGAR د تحقيقاتو رياست 12/1/2011

## په افغانستان پورې اړوندو د انتقالي معلوماتو عدلی څيرنه او بيا کتنه

سيګار په FY2002 څخه بيا د ۲۰۱۰ کال د جولای مياشتی د USAID د دندو د مناسبوالی، موکلفيت او د لګښتو په اړه انتقالي معلومات چې په ابتدايي ډول په ESF پورې ارتباط لری په اړه څيرني ترسره کوی. د افغانستان دبيارغوني لپاره ځانګړی عمومي څيرونکی د ۷۳۲۷۲ انتقالاتو او د ۱۲۱۱ پلورونکو په اړه خپلی لومړنی څيرني پای ته رسولی. عدلی څيرونکو د ۱۹ عدلی څيرونو يوه لړی ترسره کړه تر څو غير عادی چاری په ګوته کړی، د دی څيرونو پايلی د ګڼ شمير غير عادی کارونو او مصارفو شکارندوی کوی.

د سيګار عدلی ټيم دغه غير عادی چاری ارزوی او په ممکنه استثنااتو په اړه کار کوی. د سيګار پلټونکی اضافی الکترونکی ازموينې تر سره کوی او د سيګار د محقيقينو سره کار کوی تر څو د قراردادو پورې اړوند اسناد، بيجګ او د پيسو د ورکړو په اړه څيرنې تر سره کوی. برسيره پر دی، سيګار د دی پايلو په اړه خطر د درجه بندی د ميترولوژی څخه ګټه اخلی او د دی پايلو څخه به په راتلونکی، او په ګډ تحقيقاتی ابتکاراتو کښې ګټه واخلی. سيګار د نويو ورکړل شوو مرستو په اړه هر کله چې مهمه وی خپلو څيرنو ته به دوام ورکړی. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی به د هيلو لا سپيناووی په موخه د قراردادیانو د مسولينو، خرځوونکی مدير او نورو اړوندو کارکوونکو سره خپلو پوښتنو ګروينتو ته دوام ورکړی. د افغانستان د بيا رغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د پايلو څخه د روانو تحقيقاتو او څيرنو لپاره هر کله چې اړينه وی کار او ګټه اخيستل کيدای شی.

## دDoS هغه انتقالی معلومات چې د افغانستان د بيا رغوني په اړه دی، د افغانستان د بيا رغوني لپاره د ځاکړی عمومی پلټونکی هوډ لری تر څو د DoS لخوا د هغو مرستو

چې د هغو انتقالی معلوماتو د څرنګوالی، موکلفيت او د لګښت په اړه چې د INCLE سره يې په FY2002 څخه بيا تر اوسه پورې چې ټول ټال ۲،۶۸ ميليارډ ډالر ارزښت لری څيرنه او بيا کتنه تر سره کړی د سيګار مسولينو DoS ته مخکی له مخه خبر ورکړی چې مونږ به دا څيرنه د ۲۰۱۰ کال د جون په څلوريشتمه تر سره کوی, او د DoS سره به د ۲۰۱۰ کال د اګست د مياشتي په ۱۹ مه يو سريزه غونډه نيسی، که څه هم DoS وعده کړه وه او دا يی منلی وه چې دوی به هغه مسولين په ګوته کوی چې کولای شی اړونده معلومات برابر او چمتو کړی خو تر اوسه يی دا معلومات سيګار ته نه دی سپارلی. د ۲۰۱۰ کال د ډيسمبر په ۲۸ مه دافغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د DoS اداری ته يو استعلام واستوی او پوښتنه يی تری وکړه چې کله به دا معلومات ورکړل شی. تر هغه وخته چې دا راپور د چاپ لپاره استول کيدو، سيګار ته دغه غوښتل شوی معلومات نه وو سپارل شوی.

انځور 1.2

د افغانستان د بيا رغوني لپاره ځانګړی عموی پلټونکی يا سيګار تحقيقات: نوی تحقيقات، د 2010 د اوکتوبر د لومړی نيټي څخه بيا د ديسمبر تر يودرشيمي




سرچينه: د سيګار د تحقيقاتو او څيرنو رياست 18/1/2011

## د سيګار تحقيقات او څيرني

تر هغه وخته چې دا راپور د چاپولو په موخه استول کيدی، سيګار ۳۵ نوی قضيې پرانيستی او په هغو ګډو تحقيقاتو کښی يی ګډون کړی چې د ۲۲ ميليون ډالرو په ارزښت هغه مورد وو چې په هغه کښی افغان کارکوونکو ته حق الزمه نه وه ورکړل شوی، ۱۱ ميليون ډالره د افغانستان اسلامی جمهوريت ته د ماليه نه وو ورکړل شوی، ۵۰۰۰۰۰ ډالر د مصرفو څخه ګرزول شوی، د غلا شوو توکو بيا مندنه ، د يوه قراردادی د رشوت او بډي په تور نيونه او دوو کمپنيو دوه کارکونکی د کار څخه د منع کولو په اړه وی. سيګار يا دافغانستان د بيا رغوني لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د افغانستان د لوی څارنوالی سره به دی موخه نژدی همکاری لری تر څو وکولای شی د ګډو څيرنو او تحقيقاتو په موخه قضيی په ګوته او بيا يوځای کار پری وکړی.

سيګار د ۱۰۵ هغو جرمی او حقوقی پيښو پلټنه او د هغو په اړه تحقيقات کوی چې په هغه کښی د امريکا د

# د سیګار نظارت

هغو مرستو څخه چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوی اوس د ضایع کیدو، فساد او ناوړه ګټه اخیستو تور لګیدلی دی. د ۲۰۱۰ کال د دسمبر ۳۱ مې پورې ، سیګار د ۲ پیشو د ارزونې، ۵۲ لومړنی تحقیقات او د ۵۱ پیشو په اړه بشپړ تحقیقات تر سره کړی. سیګار د دی ربع په ترڅ کښی ۷ قضیې وترلی.

د سیګار د روانو څیړنو ۵۴ فیصده هغه قیضې دی چې په پیردونو یا خریداری کښی د د فساد تور پری لیګدلی دی، , ۲۶ فیصده یی د بډو او رشوت په اړه ، , او پاتی ۲۰ فیصدو کښی لکه د غلا او نور قضیې شاملی دی. ۱،۱ انځور د روانو قضیو حالت شایی. ۱.۲ نوی قضیې د نوعیت په اساس بیانوی.

سیګار د FY2011 لومړی ربع پداسی حال کښې پای ته ورسول چې د تحقیقاتو څانګې ته یی ۳۲ کارکوونکی په دندو و ګمارل. د دی ډلې څخه، ۱۶ کارکوونکی د افغانستان لپاره ځانګړی شوی دی او اته نور یی د سیګار په مرکزی دفتر کشی دنده تر سره کوی.

د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۰ کال د ماموریت د ځواک سره د نژدی کار کوی، تر څو هغه قراردادیان او دویم لاس قراردادیان په ګوته کړی چې کیدای شی مخالیفینو او یا هم نورو جرمی کړیو ته مرستی انتقال وی. د افغانستان د بیارغونې لپاره عمومی ځانګړی پلټونکی د افغانستان د شفافیت د اداری سره هم د نژدی کار کوی، د امریکا او د افغان محقیقینو ګډ ټیم تر ډیر د هغو افغانانو چې په فساد کښی ښکیل دی په اړه تحقیق، د هغوی بندی کول او محاکمه کولو لپاره کار کوی. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د امریکا د متحده ایالاتو د فدرال اجنسیانو له ډلې ده چې د افغانستان د لوی څارنولی سره د نژدی کار کوی تر څو هغه قضیې په ګوته او درجبندی کړی تر څو ورسته د ګډو څیړنو په ترڅ کښی وڅیړل شی.

د دی ربع یا درو میاشتو په ترڅ کښی، ASIU د سیګار څلور تګ لاری خپلی کړی تر څو د هغو افغانانو په اړه ورڅخه په څیړنو کښی ګټه واخیستل شی چې د بیا رغونو په پروژو کښی ترسره شوی. د ASIU لخوا په روانو څیړنو کښی، چې په هغه کښی د FZE د لویو تیلو تجارت کوونکی او د لوجیستکی چوپړو وړاندی کوونکی، ۴۰۰۰ افغانانو ته د هغوی د کار اجوری نه ورکولو له امله ۲۲ میلیون ډالره، او افغان دولت ته د مالیې نه ورکولو له امله ۱۱ میلیون ډالر شامل دی. د سیګار څیرونکو د کمپنو لخوا د پریکړو کولو په ډیرو غوندو کښی ګډون کړی دی. سیګار او امریکا د متحده ایالاتو نور قانون پلی کوونکی څانګی به د ASIU لخوا د هغه کمک او مرستو لپاره چې د پریکړه او فیصلو کولو په ترڅ کښی یی تر سره کړی، تقدیرنامې او ستاینلیکونه تر لاسه کړی.

د سیګار، د USAID د عمومیلټونکی دفتر، د تحقیقاتو فدرال اداره، نړیوال قرارداد‌و په اړه د همکاری ځواک او د پیرودنې د فساد ملی ځواک د ګډو تحقیقاتو په نتجه کښی په افغانستان کښی د بیارغونې د یو ستر مدیر په نیولو تمامه شوه. دا قراردادی چې د استرالیا د هیواد وګړی دی د ۲۰۱۰کال د اکتوبر په ۱۲ د هندوستان په دهلی هوای ډګر کښی ونیول شو او امریکا ته د تحقیق لپاره لیږلو ته انتظار باسی.

د قراردادی په ضد د امریکا د کولمبیا د ولسوالی په محکمه کښی د ۲۰۱۰ کال د اوګست په ۱۹ مه اقامه صورت وموند، صورت دعوا چې په حقیقت کښی د تړلو دروازو تر شا تر سره کیدله د ۲۰۱۰ د اکتوبر په ۱۲ مه علنی شوه، دا صورت دعوا نوموړی قراردادی د دویم لاس قراردادی څخه د بډو په اخیستو تورن کوی، یاده شوی پروژه د USAID لخوا تمویل کیدله. د بډو اخیستو لپاره اعظمی یا لویه سزا ۱۰ کاله زندان او ۲۵۰۰۰۰ ډالره جریمه ګڼل کیږی.

د افغانستان د بیارغونی لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د خپلو معینو لارو له طریقه ډیر شمیر شکایتونو تر لاسه کړل، دا شکایتونه د هغو دوو کمپنیانو( K5 ګلوبل او بینټ فاووچ ال ال سی) په اړه وو چې د امریکای وګړو له لوری رهبری او پر مخ بیول کیدلی، او ویل شوی وو چې دی کمپنیانو مخکی له دی چې دویم لاس افغانی قراردادیانو ته د هغوی پیسې ورکړی د افغانستان پریښی وو.

سیګار دا شکایتونه په افغانستان کښی د ICCTF کښی د خپلو ملګرو سره شریک کړل او دا شکایتونه یی اړوند جرمی تحقیقاتو سره یو ځای کړی. د سیګار د څیړونګو د معلومات په اساس چی د کره کتنې و تجزیې او تحلیل وروسته د امریکا د پیرودنې کښی د فساد په وړاندی ځانګې ته به وسپارل شی، د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په اوویشتمه د دی دوو کمپنیانو د هغو دو امریکایی کارکوونکو چی د مدیریت په بست کښی یی دنده ترسره کوله د جلب او د نیولو لپاره د مکتوبونو د جوړولو وړاندیز وکړ. په وړاندیز شوو د جلب او ګرفتاری په لیکونو کښی راغلی چی دا کمپنیانې و نه توانیدلی چی۲،۵۵ میلیون ډالرو په ارزښت کارکوونکو ته د هغوی اجوره او حق الزمه نده ورکړی.

د روانو تحقیقاتو په ترڅ کښی، سیګار داسی معلومات تر لاسه کړل چی په کنړ ولایت کښی د ګوریک پل چی د امریکا د مرستو څخه تمویل شوی وو د بی کفایته او نا سم ډول د رغونې له امله ړنګ او چپه شو. په افغانستان کښی د بیا رغونې ځانګړی عمومی پلټونکی ته معلومه شوه چی یاد شوی پل د CERP په مرسته د یو افغان قراردادی لخوا رغول شوی وو.

د یاد شوی ولایت د بیارغونې ولایتی ټیم چی د دی پل قرارداد یی ترسره کړی تر هغه د پله له نسکوریده خبر نه وو چی سیګار د دی پله په اړه انځورونه او عکسونه ورته وړاندی کړل. د پله د نسکورید د تایید څخه وروسته، پی ار ټی یا ولایتی بیارغونې ټیم سیګار ته مشوره ورکړه چی تا پل نو نور ورانتی نلری او ندی تضمین شوی او د بیا جوړولو غوښتنه به یی وشی. پداسی حال کښی چی، د سیګار او د محقیقینو لخوا د اسنادو کتنه او پلټنه په ډاګه کوی چی دا پل لا تر اوسه ورانتی یا تضمین لری. د سیګار لخوا وړاندی کړل شوو اسناد د کتنې او لیدو وروسته په کونړ کښی ولایتی بیا رغونې ټیم په دی سلا شو چی افغان قراردادی سره د یاد شو پل په اړه پخوانی ورانتی یا تضمین ته ادامه ورکړی او هغه تعقیب کړی.

په لومړی ګام کښی د پله د جوړولو لپاره ۱،۶۸ میلیون ډالره ورکړل شوی وو، سیګار ته معلومه شوه چی د پل د بیا رغونې لپاره به ۵۰۰۰۰۰ ډالر لګول شوی وای.

دا تحقیقات په دی موخه غزول شوی دی چی په همدی سیمه کښی یو بل پل چی د بی کیفیته او په غیر مسلکی اصولو رغول شوی او اوس د نړیدو او ورانیدو د خطر سره مخامخ دی.

د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د هغو ادعاوو په اړه چی ویل کیږ د یو منظمی، لویې او په سیستماتیک ډول د یوی حلقې لخوا امریکایی توکی غلا شوی او په کابل، کندهار او د بګرام په هوایی ډګر کښی د ګدام د توکی غلا شوی دی. په بګرام او ټول پروان ولایت کښی د سیګار څیړونکی د نظامی قوواو د چاروکو سره چی د په بګرام کښی د نظامی عملیاتو د امنیت مسولین دی د نژدی کار کوی. دا ځواک د شمیر د قانون پلی کوونکی مسلکی غړی لری چی افغان ملی پولیسو ارزونه کوی.

په دی ربع یا درو میاشتو کښی، د افغان ملی پولیسو چی په ګډه د عملیاتی ځواک سره داسی کانتینرونه ترلاسه کړ چی د ۵۳۲۰۰۰ ډالرو په ارزښت امریکایی رغونیز توکی او یو شمیر موټر وو. افغان ملی پولیسو یاد شوی توکی هله تر لاسه کړل چی دوه یو افغان او بل پاکستانی وګړی ونیول. د سیګار څیړونکو د عملیاتی ځواک د قانون د پلی کوونکو مسلکی کارکوونکو او د امریکا د پوځ د تحقیقاتو د قومندانی معلومه کړه چی دا توکی د امریکا د ملکیت او مالونو څخه غلا شوی وو. د سیګار څیړونکی د مشکوکو دا ګروپ تر پلټونو او څیړنو لاندی نیولی چی ګمان کیږی د هغه کانټینرونو په غلا کښی لاس لری چی ډیر شمیر امریکایی تعمیراتی توکی پکښی وو.

د دی راپور ورکونې په ترڅ کښی، سیګار و توانید چی د خپلو څیړونکو او تحقیقاتی تحلیګرو په مرسته د فساد په وړاندی په پروان، ننګرهار، خوست، پنجشیر او کاپیسا ولایت کښی د عامه پوهاوی پروګرامونه او خبرتیاووی په

1.3 انځور

د سیګار یا د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د مهمو شکایتونو وضعیت او حالت د 2010 کال د اوکتوبر د لومړی نیټي څخه د 2010 کال د دیسمبر د یو دریشمه پوری




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو او څېړنو ریاست 12/1/2011

1.4 انځور

د سیګار یا د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د مهمو شکایتونو وضعیت او حالت د 2010 کال د اوکتوبر د لومړی نیټي څخه د 2010 کال د دیسمبر د یو دریشمه پوری




الف. قضیه مرور شوی ده، او سیګار د لا زیاتو معلوماتو لپاره انتظار باسی.
سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو او څېړنو ریاست
12/1/2011

لاره واچولی. دا پروګرامونه د سیګار د فساد په وړاندی د عامه پوهاوی د لړی یو برخه جوړوی. د دی پیژندنو او پروګرامو په نتیجه کښی، یو جرمی تحقیق تازه وپیژندل او یو بل تر لاسه شوی تحقیق د سیګار د موجودو تحقیقاتو سره یوځای تمام کړل شو، او هغه معلومات چې د امنیتی مسلو په اړه وو هغه یې مربوطه امرکایی اجینسیانو ته راجع کړل.

په دی ربع یا درو میاشتو کښی د افغانستان د بیا غورني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د شکایتونو اداری (HCMS) ۱۳۱ شکایتونه چې د تیرو درو میاشتو څخه ۶ ډیر دی تر لاسه کړل. دا شمیره په پرله پسی ډول په هرو درو میاشتو کښی ډیروالی مومی. د ۲۰۰۹ کال د جنوری په میاشت کښی د کار د پیل څخه HCMS د افغانستان د بیا رغوني په اړه د فساد، ضایعه کیدو او ناوړه ګټه اخیستني په تور ۴۶۴ شکایتونو تر لاسه کړی دی. د شکایتونو منبع او د ویشني په اړه معالومات په ۱.۳ او ۱.۴شماره انځورونو کښی ښودل شوی دی.

## د سیګار بودیجه

په کال ۲۰۰۸ کښي د سیګار د جوړښت نه را په دی خوا کانګرس ددی سازمان د عملیاتی لګښتونو د پوره کولو لپاره ۵۵،۸ میلیون ډالره اختصاص کړی. پدی موده کښی، کانګرس د افغانستان د بیا رغوني لپاره خپلی مرستي تقریبآ دوه چنده کړی دی. د امریکا کانګرس د افغانستان دبیا رغوني په موخه د دی هیواد سره د ۲۰۰۲ څخه بیا تر ۲۰۰۸ کال پوری ۲۹،۲۳ میلیارډ ډالره، او د ۲۰۰۸ را پدیخوا کانګرس افغانستان ته ۲۶،۴۷ میلیارډ ډالر نوری اختصاص کړی دی. ولسمشر بارک اوباما د FY2011 په ترڅ کښی د افغانستان دبیا رغوني لپاره د ۱۶،۲ میلیارډ ډالرو نورو غوښتني کړی ده. په دی سره به د افغانستان د بیارغوني لپاره د امریکا ټولی مرستي ۷۲ میلیارډ ډالرو ته ورسیږی.

د بیا رغوني د هڅو د پراخیدو سر سم سیګار هم د خپلو کارکوونکو شمیره اوچته کړی ده. د FY2011 په ترڅ کښی د کانګرس څخه د ۳۵،۶ میلیون ډالرو په غوښتلو سره به سیګار وتوانیږی چې په مرستو شوو پیسو کښی د فساد، ضایعي او ناوړی ګټي اخیستني باندی نظارت وکړی. ۱.۳ شماره جدول کښی تاسو په FY2010 کښي د سیګار د مرستو په اړه معلومات ښکارندوی کوی.

چوکاټ نمبر1.3

**د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د تمویل کړیو پیسه خلاصه ( په میلیونو ډالر)**

| تخصیص | عمومي قانون | اختصاص شوي | ورکړل شوي | له وخته تیرې | شمیره |
|---|---|---|---|---|---|
| د H.R. 2642 د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره ضمیموي تخصیصونه | پې. ایل 110-252 | 6/30/2008 | 6/30/2008 | 6/30/2008 | 2.0 |
| د H.R. 2642 د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره ضمیموي تخصیصونه | پې. ایل 110-252 | 6/30/2008 | 10/1/2008 | 9/30/2009 | 5.0 |
| قوي امنیت، د ناخوالو مرستندوی، د جاری تخصیصاتو قانون، ۲۰۰۹ | پې. ایل 110-329 | 9/30/2008 | 9/30/2008 | 9/30/2010 | 9.0 |
| د H.R. 2346 د ۲۰۰۹ مالي کال لپاره ضمیموي تخصیصونه | پې. ایل 111-32 | 6/24/2009 | 6/24/2009 | 9/30/2010 | 7.2 |
| د H.R. 2346 د ۲۰۰۹ مالي کال لپاره ضمیموي تخصیصونه | پې. ایل 111-32 | 6/24/2009 | 6/24/2009 | 9/30/2010 | (7.2)[اې] |
| د پیاوړي اختصاصونو قانون، 2009، H.R. 3288 | پې. ایل 111-117 | 12/16/2009 | 10/1/2009 | 9/30/2010 | 23.0 |
| د H.R. 4899، د ۲۰۱۰ مالي کال د ضمیموي ناخوالو د خلاصون او د اوړی دندیې | پې. ایل 111-212 | 7/29/2010 | 10/1/2010 | 9/30/2011 | 7.2 |
| د H.R. 3081, جاري تخصیصونو قانون ، کال ۲۰۱۱ | پې. ایل. ۱۱۱-۲۴۲ | 9/30/2010 | 10/1/2010 | 9/30/2011 | 4.0 |
| | پې. ایل 111-290 | 12/4/2010 | 12/4/2010 | 9/30/2011 | 0.9 |
| | پې. ایل 111-317 | 12/18/2010 | 12/19/2010 | 9/30/2011 | 0.2 |
| د H.R. 3082, د څلورم جاري تخصیصونو قانون، کال ۲۰۱۱ | پې. ایل 111-322 | 12/22/2010 | 12/22/2010 | 9/30/2011 | 4.5 |
| **ټول** | | | | | **55.8** |

الف. کانګرس ۷.۲ میلیونه ډالره د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۰۹ کال د مالی منابع څخه فسخ کړل .. 32-111) (Title XI in P.L.111-32) او ورسته یې بیا ورته تحویل کړ– په کال ۲۰۱۱ د سپټمبر په دریشمه په 212 in .. -P.L.111 .2010

## د سیګار کارکوونکي

په دې دری میاشتو کې، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی کارکونکي له ۱۱۷ څخه ۱۲۲ تنو ته زیات شول. د بیارغوني مالي منابعو د لازیاتولو لپاره د رییس جمهور د غوښتې ته په کتو سره ، افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی په پام که لري ترڅو په راتلونکي کال کې تجربه لرونکي پلټونکي او محققین په دندو وګماري. خپل مالی منابعو ته په کتو سره، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی موخه داده چی په ۲۰۱۱ مالي کال کې ۱۸۰ تنه د پوره وخت کارکوونکي ولري.

په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او د USFOR-A سره د توافق په اساس، افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی کولئ شي چې په افغانسان کې ۴۵ پستونه ولری. ۳۳ پوسته په سفارت کې او ۱۲ نور په ساحو کې د نظامي اډو دننه. د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی کارکوونکي اوس مهال په پنځه موقعیتونو کې د افغانستان دننه کار کوي. کله چې دا رپوټ رسنیو ته ورسید، هغه مهال د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ۳۱دایمي پوستونه په افغانستان کې لرل. د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی همدارنګه د خدماتو لپاره دوه د خارجي تابعت لرونکي هم خپل د کابل په دفتر کې په دنده ګمارلي دي. برڅیره پر دې، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی په افغانستان کې د لنډ مهاله کارکونکوو په ګمارلو سره هم خپلو کارونو تقویه کوي. په عادی توګه د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی هر وخت د ۴ نه تر ۱۰ کارکوونکی په افغانستان کې په لنډ مهاله دندو ګمارلي دي.

**د امنیت په اړه لاربښونه او روزنه**

د پشت رود ولسوالی د شواری ریئس د فراه ولایت د امینه قومندان، د مسو افغان محلی قومندان، د امریکا د متحده ایالاتو د عملیاتی قومندان سره یو ځای د افغان نوی پولیسو د جلب او جذب په غونډه کښې چې د ۲۰۱۱ د جنوری په لومړی نیټه جوړه شوی وو د امنیت په اړه بحث او خبری وکړی. دی روزنیز پروګرام شپږ اونۍ دوام وکړ، او په هغه کښی ۱۳۰ روزل شوی پوځیان وتوانیدل چې د یادی شوی ولسوالی د مختلفو کلیو د ساتلو جوګه شی. (د ISAF انځور، براین ډی سمیت)

# 2

# د افغانستان عمومي کتنه



”په افغانستان کښی“ مونږ په خپلو ستراتیژیو کښی
دریو مهمو ټکو ته ډیره پاملرنه کوو: زمونږ نظامی
هڅې چې وکولای شو د طالبانو ځواک د منځه یوسو
او افغان پوځیان وروزو تر څو وکولای شی مخکښ
رول ولوبوی ؛ زمونږ هڅې په ملکی برخو کښی تر
څو سالمه اداره را منځ ته شی؛ ساحوی همکاری،
په ځانګړې توګه د پاکستان سره، ځکه چې زمونږ
ستراتیژی باید د سرحد دواړو خواوو ته بریالی وی“.

— د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما

سرچینه: ولسمشر باراک اوباما ” د افغانستان او پاکستان په اړه پخپله کلنۍ ۱۶/۱۲/۲۰۱۰ بیا کتنې او تبصرې په ترخ کښی“.

# د افغانستان عمومي کتنه

په کال ۲۰۱۱ کښې به د امریکا د متحده ایالاتو د بیا رغوني د هڅو لاس ته راوړني په دریو پیښو پورې تړاو ولري:

- په ناټو(NATO) کښې د۲۰۱۰کال د نومبر په میاشت کښې ترسره شوی هوکړه لیک
- د امریکا د متحدو ایالاتو د اداری لخوا د پاکستان او افغانستان په اړه د کلنی ستراتیژی بیا کتنه، چی په ۲۰۱۰ کال په دیسمبر کښې بشپړه شوه
- د ملی دفاع(P.L. 111-383), د صلاحیت د قانوی لایحي پلی کول، چی ولسمشر اوباما د جنوری په اومه کال ۲۰۰۷ کښې تصویب کړی

یاد شوی تدابیر په ګډه د بیا رغوني موخي جوړوی، او د افغانستان اسلامی جمهورت لپاره د ټولو امنیتی مؤلسیتو د سپارول په موخه یو تقسیم اوقات وړاندی کوی، د امریکا د متحدو ایالاتو د روانو د بیا رغونو موخو د څرکندولو لپاره د قوانینو تصویبول. په راتلونکی کال کښې به تر ډیره حده ټنګار پر دی وی چی افغانانو ورتیاوی لوړه شی تر څو داډه شی چی د بیا رغوني پروژې د دوام او د پایښت وړ دی.

څرنګه چی په لومړی برخه کښې بیان شوی دی، د افغانستان د بیا رغوني لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د FY 2011 په پلان کښې چی، د پیسو د ضیاع، فساد او مالیی د ورکړل شوو ډالرو څخه د ناوړو ګټو اخیستلو باندی ټینګار کوی تر څو وګوری چی هغه پروژې چی د امریکا متحده ایالات یی مالی سرچینه جوړوی کولای شی خپلو تعین شوی اهداف تر لاسه او موخو ته ورسیږی او که نه.

## د لیزبون په ناسته کښې ناټو(NATO) د واک د انتقال لپاره تقسیم اوقات جوړ کړ

د دی راپور د جوړولو په وخت کښې، د امریکا متحده ایالاتو، د هغوی نړیوال ملګری او د افغانستان اسلامی جمهوریت په ګډه افغان دولت ته په کال ۲۰۱۴ کښې د امنیتی واک په سپارلو سلا شول. د دی انتقال د عملی کولو په موخه د امریکا متحده ایالات او نور نړیوال ملګری هیوادونه به خپل اکثر توښې او منابعي د افغان ملی امنیتی پوځیانو په تقویه ، د افغان دولت د وړتیاوو په لوړولو او د یوي دوامداری اقتصادی پرمختیا لپاره د یوه بنسټ په جوړولو ولګوی.

په نومبر میاشت کښې د ناټو (NATO) په ناسته کښې،هغو اته څلویښت هیوادونو چی په افغانستان کښي د ناټو تر مشری لاندی د امنیت چاري په مخ وړی د افغان دولت سره یوځای پریکړه وکړه چی د امنیت د انتقال یاده شوی پروسه به روان کال په ځینو کلیو او ولسوالیو کښې پیل، او دا پروسه به په کال ۲۰۱۴ کښې بشپړه شی. هغوی همدا ډول هوډ څرګند کړ چی د انتقال څخه وروسته به هم د افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړی. د امریکا متحده ایالات په افغانستان کښې ۱۰۲۰۰۰عسکر لری ، چی د ISAF په چوکاټ کښې د ټولو ۱۳۲۰۰۰عسکرو له ډلي د ۸۲۰۰۰ عسکرو په درلودلو سره مخکښ دی.[۱]

د ۲۰۱۰ کال د نومبر په شلمه، د غونډې په پای کښې په اعلان شوی اعلامیه کښې راغلی، ناټو د خپل ماموریت په ترڅ کښې یو نوی پړاو ته داخله شوی او" او د افغان، ناټو د ګډو ارزونو وروسته دی پایلې ته رسیدلی چې افغان ځواکونو ته د بشپړ واک د لیږدولو په لړ کښې به یاده شوی لړی په ځینو کلیو او ولسوالیو کښې په کال ۲۰۱۱ کښې پیل کړی."[۲] په اعلامیه کښې همدا ډول راغلی چې" د امنیت د انتقال دا لړی به شرایطو ته په کتو ترسره کیږی او په کومه ځانګړی نیټه پوری نده تړلی ، او د ISAF د وتلو معادل نه ګڼل کیږی ."[۳]

که څه هم ناټو په خپلې اعلامیې کښې د افغان ځواکونو د وړتیاوو په لوړولو او د هغه د اهمیت په اړه ټینګار وکړ، همدارنګه په ملکی برخه کښې د مرستو او هڅو ، د ولایتی بیا رغونې ټیمونو(PRT) په ګډون د افغان دولت د وړتیاو لوړول او د اوږد مهالو مرستو په اړه هم تاکید او ټینګار وشو. اداری فساد افغان دولت ته د یو مهم خطر په توګه یاد شو، په اعلامیه کښې راغلی چې د"غوره حکمت کولو، د قانون د رول قوی کولو او اقتصادی پر مختیا لپاره باید پرله پسی هڅو اوګامونه اوچت کړل شی[۴]

د غونډې د ګډونوالو په وینا، که چیری افغانستان اوږد مهال ثبات او ټیکاو غواړی، باید د مخالیفینو د پخلاینو لپاره لاری چاری ولټوی. د غونډې ګډونوالو همدا ډول د خپله افغانانو په مشری د سولې د هری هڅې ستاینه وکړه او د افغانستان د سولې مشورتی جرګې، د سولې عالی شورای د جوړښت څخه او د افغانستان د سولې او بیا پیوستون د پراګرامو څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. دوی زیاته کړه" چې دوی د افغانانو په مشری د هر هغه ګام ملاتړ کوی چې په هغه کښې د هغو مخالیفینو سره چې د تاوتریخوالی څخه لاس واخلی، د تروریستی کړیو سره خپلې اړیکې وشلوی، او د افغانستان اساسی قانون ومنی د هغوی سره د دی پخلاینې او بیا پیستون خبری او هڅې تر سره شی." [۵] اعلامیې بیا هم د بشری حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو د حقوقو څخه د نړیوالې ټولنې په تعهد او ملاتړ ټینګار وکړ.

د ناټو په غونډه کښې هوکړه لیک د امریکا د متحده ایالاتو دافغانستان او پاکستان په اړه په کلنی بیا کتنې او ستراتیژی کښې شامله ده.

## د افغانستان او پاکستان په اړه د امریکا د ستراتیژی د بیاکتنه وروسته هم د امریکا د متحده ایالاتو په پالیسی کښې کوم بدلون ندی را منځ ته شوی.

د ۲۰۱۰ کال په دیسمبر کښې، دی اداری د پاکستان او افغانستان په اړه خپله کلنی بیا کتنه بشپړه کړه، چې په سیمه کښې یی د امریکا د پالیسی ټول اړخونه ته په پام سره وڅیړل. بیا کتنه د امریکا د متحده ایالاتو خپلو اصلی موخو یعنی په افغانستان او پاکستان کښې د القاعده په ماتولو او د هغه د منځ وړلو او د طالبانو په وسیله د افغانستان د اسلامی جمهوریت دولت د نسکوریدو مخ نیوی په مهمو لاس ته راوړنو پای ته ورسید. په بیا کتنه کښې د امریکا د متحده ایالاتو او د نړیوالې ټولنې په نظامی او ملکي برخو کښې د د مرستو پرختګ ته چې د ۲۰۰۹ کال د جولای په میاشت کښې پیل شوی هم اشاره شوی ده. او ویل شوی چې په ۲۰۰۹ کښې جوړه شوی ستراتیژی خپلو اصلی موخو ته چې " په ۲۰۱۱ په جولای میاشت کښې د امریکایی ځواکونو د مناسبه کمولی لپاره شرایط برابر کړی ورسیږی."[۶] د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازی ریچارډ هولبورک د دی ستراتیژی یو د اصلی کسانو څخه وو او د بیا کتنې په دی لړی کښې یی وړنده درلوده. ولسمشر باراک اوباما وویل چې بیا کتنه " د ښاغلی ریچارډ هولبورک د ټینګ عظم او ارادې ښکارندوی کوی او موږ د هغه د هڅه ستاینه کوو او هغه ته به دوام ورکړو."[۷]

د بیا کتنې په اړه په خپله وینا کښې ښاغلی اوباما وویل چې " د خپلو موخو ته رسیدو او د هغوی د اوږدې مودې لپاره د خوندیتوب په وړاندی لا ډیر خنډونه شته".[۸] د امریکا د متحده ایالاتو مرستې به په څلورو حساسو

برخو کښې د پام وړ وی.

- په نظامي ځانګو کښی هڅې او مرستې د طالبانو د ماتولو او د افغان امنیتی ځواکونو د روزنې په موخه، تر ځو وکولای شی د امنیت په خوندی کولو کښی مخکښ رول ولوبوی
- ملکی مرستې د ښه حکومت کولو او د اقتصادی پرمختیا په موخه
- سیمیزې همکاری، په ځانګړی توګه د پاکستان سره
- د ستونزو لپاره غوره او مناسب سیاسی حل ومندنه

د افغان امنیتی ځواکونو په پراختیا او غورتیا باندی به لا هم دوام ولری تر څو د افغانستان ملی اردو او ملی پولیس د دی جوګه شی چی په کال ۲۰۱۴ کښی د امنیت د چارو مسؤلیت په غاړه واخلی. که څه هم، ولسمشر اوباما وویل چی د " دوامدارو او تل پاتو امنیتی پرمختګو لپاره په افغانستان کښی یو عاجل سیاسی او اقتصادی پروسې ته اړتیا ده".[۹] په همدی دلیل به امریکا متحده ایالات به خپلو مرستو ته په ملی او محلی کچه د ښه حکمت کولو، د فساد را کمولو، ستونزو ته د سیاسی لارو چارو د پیدا کولو په موخه دوام ورکړی. د امریکا متحده ایالات به خپلو مرستو ته د یو قوی او پرمخ تللی بنسټ په جوړولو کښی هم ته دوام ورکړی.[۱۰]

د ناټو لخوا د قدرت د انتقال په اړه د اعلان شوی پلان او د امریکا د متحده ایالاتو د موخو د ستراتیژی په اساس، په افغانستان کښی د امریکا د ملکی او نظامی چاراوکو د ۲۰۱۱ کال لپاره یو ګډ نظامی او ملکی پلان جوړ کړی دی. په کابل کښی د امریکا د سفارت په وینا یاد شوی پلان د ښاغلی ایکن بیری او جنرال پیټریوس د امضاء په موخه چمتو او تیار دی.

د ۲۰۱۱ FYملی دفاع د صلاحیت قانونی لایحه د امریکا د متحده ایالاتو د بیا رغونې ستراتیژی سره د مرستې په موخه او د قراردادیانو د څارنې په اړه ډیر احکام لری.



د دیسمبر په دریمه **ولسمشر بارک اوباما** په بګرام هوایی ډګر کښی عامه او ملکی کارکوونکو سیمه ته یو نابیره سفر وکړ. په دی ربع او یا دریو میاشتو کښی دی اداری وکولای شوی تر څو د افغانستان د پالیسی بیا کتنه بشپړه کړی، چی د امریکا د موخو په تر لاسه کولو کښی یی عمده رول درلود. ولسمشر اوباما وویل چی د دی لاس ته راوړنو په" ساتلو او خوندی کولو" کښی به د ډیر ستونزو او ناخوالو سره مخامخ کیدای شو. (د امریکایی پوځ انځور، لوری جیول)

## د ۲۰۱۱ FYملي دفاع د صلاحيت قانونی لايحه د بيا رغونې په اړه موضوعاتو ته اشاره کوی

د جنوری په اومه، کال ۲۰۱۱ کښی، ولسمشر بارک اوباما FY ۲۰۱۱ NDAA (P.L. 111-383) لاس ليک کړ. د افغان ملی امنيتی ځواکونو د پرمختيا او تقويې په اړه د ۱۱،۶ ميليارډو ډالرو د منظوری برسيره، NDAA د يو نوی او ځانګړی اساسی پروګرام د جوړولو منظوری هم ورکړه، تر څو د امريکا د متحده ایالاتو سره د مخالیفینو د ځپلو په لاره کښي مرسته وکړی. همدا ډول هغه DoD ته د بيا پخلاينې د پروګرام سره د مرستې اجازه او صلاحيت هم ورکړی دی. د قانون جوړونې د قراردادیانو د کارونو د ارزونی او څارنې په موخه نوی شرايط په نظر کښي نيول دی. د پايښت او بقا په اړه د تويشونو ته په کتو سره، د قومندانی د عاجل غبرګون د پروګرام (CERP) او د نوی بنسټيز پروګرام لپاره اړينه ده چی پلی کوونکی اجينسی یا څانګه بايد د هغو وړانديز شوو پروژو د پايښت او بقا لاری چاری بيان او ښکاره کړی.

## د قانون جوړونه د(CERP) لپاره مرستې متحدودې او نوی بنسټيز پروګرامونه جوړوی

NDAA د قومندانی د عاجل غرګون پروګرام (CERP) د یوه کال لپاره وغزاوه، او د ۲۰۱۱ کال لپاره يی په افغانستان کښی د (CERP) ته ۴۰۰ ميليون ډالره ورکړی او د (CERP) د انفرادی پروژو لګښت يی ۲۰ ميليون ډالرو ته را ټيټ کړی دی. همدا ډول د دفاع وزير بايد کانګرس ته لږ تر لږه ۱۵ ورځی مخکښی په هغو ټولو حالاتو کښی چی په افغانستان کښی (CERP) ته د ۵ ميليونو يا ډيرو ډالرو مرسته ورکول کيږی خبر ورکړی.

دا خبر او ابلاغيه بايد لاندی ټيکي په پام کښي ونيسی:[۱۱]

- موقعيت، وضعيت او بڼه، او د پروژې موخه، او د دی په ګډون چی څرنګه دا پروژه کولای شی د افغانستان د نظامی کمپاين په پرمختيا کښي رول ولوبوی
- بودجه او د پروژې د بشپړولو لپاره تعين شوی موده او تقسيم اوقات
- د پروژې د بقا او پايښت لپاره پلان او لاری چاری

قانون د کانګرس د هغو اندېښنو ښکارندوی کوی چی ويل يی DoD د دی پر ځای چی اصلی موخو يعنی د ټيټه کچې پروژی په دی موخه پلی کول تر څو نظامی قومندانان وتوانيږی هغه اړونده بشری مرستې چی د دوی په مربوطه سيمو کښي ور ته اړتيا ليدل کيږی ترسره کړی خو د دی پر ځای د (CERP) د لويو پروژه چی د مخاليفينو سره د مبارزې په اړه وی ترسره کولی.

د ۲۰۰۹ کال په اوکتوبر کښي د افغانستان د بيا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی په (CERP) باندی د DoD د داخلی کنټرول په ترڅ کښی ومندل چی (CERP) په پرلپسې ډول د هغو لويو بنسټيزو پروژو لپاره چی ۵۰۰۰۰۰ يا تر دی يی ډير ارزښت درلود کارول شوی وو. اوس مهال، د افغانستان د بيا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د CERP يوازی دری په سلو کښي پروژو ته چی په حقيقت د CERP د ۶۷ په سلو کښی د مرستو د استلاک سبب ګرځی په ګوته کړی دی. د افغانستان د بيا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی وليدل چی لوی پروژی په دريو دليلو CERP د لويو ننګونو سره مخامخ کوی:[۱۲]

- دا ډول پروژې د بشپړو لپاره عموماً کلونو ته اړتيا لری.
- د CERP د پروګرام مسؤلين د وړو پروژو چی په لږ وخت کښی پلی کيدای شی روزل شوی دی، نه د لويو او د ډير وخت نيونونکو پروژه لپاره.
- په افغانستان کښي د لنډ نظامی نوبت يا چورليدنې ته په کتو سره، د ډيرو پيچلو او لويو پروژو دوامداره اداره او څارنه يو ستونزمن کار دی.

USFOR-A هله خپل مخالفت څرګند کړ چې ویل کیدل که چیری CERP د لویو پروژو د پلی کولو په موخه ګټه واخیستل شی نو یاد شوی پروګرام به د خطر سره مخامخ شی، هله ویل کیدل چې د لویو پروژو لګه د سرک جوړونه د نورو په پرتله اسانه دی.[۱۳] که څه د افغانستان د بیا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د ۶۹ CERP پروژې څلورمه برخه چې په لغمان ولایت کښي د ۵۳ میلیونو ډالرو په ارزښت پلی شوی وه وڅارلی، او دی نتیجه ته ورسید چې د هغو لویو پروژو چې ډیرې پیچلتیاوی او ډیر لګښت لری د هغوی په پلی کولو کښی د وړاندیز شوو موخو ته رسیدل هغومره ګران او سخت کار دی.[۱۴] د دی څیړني په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره لومړی برخي ته ستانه شی.

FY 2011 NDAA د یو نوی مرستي ورکونکي بنسټ جوړولو اجازه هم ورکړه - چې د افغانستان د زیربنا د مرستي (AIF) په نامه یادیږی- چې په افغانستان کښي د لویو پرمختیایی او بیارغونیزو پروژو کښی به د DoD د مرستو لپاره په لومړی ګام جوړوی.[۱۵] دا قانون DoD ته اجازه ورکوی چې د FY 2011 څخه تر ۴۰۰ میلیونو ډالرو پوری د افغانستان د زیربنا د مرستي د عملیاتو د پرمخ وړلو لپاره ورکړی، چې په ګډه به د DoD/Dos د زیربنایی پروګرام سره مرسته کوی.[۱۶]

## د افغانستان د زیربنا پروګرام

FY 2011 NDAA د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو ته صلاحیت ورکوی چې وکولای شی په ګډه په افغانستان کښي د ملکی او نظامی ځانګو کښي د مهمو او لویو زیربنایی پروژې جوړې او پلی کړی. د افغانستان د زیربنا پروګرام به د DoD د زیربنایی مرستو او د Dos/USAID د بهرنیو مرستو د منابعو لخوا د نویو ۴۰۰ میلیونو ډالرو مرسته وشی. باید دواړه DoD او Dos باید په ټولو زیربنایی پروژو بشپړ توافق ولری. د امریکای عسکرو نظامی قطعه او USAID به د دی پروژو د پلی کولو چاری په مخ وړی. په قانون کښي راغلی چې دا پروژې د اوبو، برښنا او ترانسپورټ په اړه کیدای شی او د هر هغه بلې پروژې په اړه چې د امریکا دمتحده ایالاتو د مخالیفینو د منځه وړولو د ستراتیژی سره مرسته کولای شی.[۱۷]

د دی قانون په رڼا کښی د دفاع وزیر مکلف دی چې دیرش ورځي مخکي تر هغه چې DoS ته مرستي انتقال او یا ورکړل شی باید د هغه په اړه کانګرس ته بشپړ معلومات ورکړی. د ابلاغیه او یا هم خبرتیا باید د پروژې په اړه بشپړ توضیحات، د پاینبت او اوږدمهال تاثیر په اړه کره پلان اود وړاندیز شوی پروژه اغیزه په افغانستان کښي د مخالیفینو پرضد د مبارزې سره ، د دی ټولو په اړه باید بشپړ معلومات ورکړی.[۱۸]

## په افغانستان کښی د پخلاینې د پروسې لپاره مرستې او مساعدتونه

د نوی قانون پر بنسټ، د دفاع وزیر کولای شی د DoD د عملیاتی او اداری بودجه څخه د افغان مخالیفینو چې لاندینی شرطونه پوره کړی، تر ۵۰ میلیونو ډالرو پوری ولګوی:

- په افغانستان کښی د هر ډول تاوتریخوالی د ملاتړ څخه لاس واخلی
- د افغانستان د اساسی قانون په رڼا کښی خپل ژوند ته دوام ورکړی
- د افغان دولت او د هغه د نړیوالو همکارانو پر وړاندی د هر ډول تاوتریخوای څخه لاس په سر شی
- او دا چې هغوی باید د القاعده او تروریستی سازمانونو سره اړیکی ونلری

د قانون په اساس د دفاع وزیر باید DoD ته د پخلاینې د مرستو د ځای په ځای کولو لپاره اړیني لارښوني ورکړی. په دی لارښونو کښی باید د افغانستان د اسلامی دولت او د نور امریکایی حکومتی سازمانونو سره د هماهنګی میکانیزمونه او د پخلاینې د پروسې سره د یو ځای کیدونکو د ملیت پیژندنې په موخه لاری چاری شاملې وی.[۱۹]

## د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی به د هغه قراردادیانو د کارونو په اړه چی په افغانستان کښی تر سره کوی ټولې لازمي سلا مشورې ورکوی

FY 2011 NDAA د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړی پلټونکی د DoD, DoS او د USAID د پلټونکو سره یو ځای د دوی د کار د پیل(د ۲۰۱۰ کال د اپریل اومه) په لومړیو ۹۰ ورځو کښی باید لاندی دندې تر سره کړی:

- په افغانستان کښی د بوختو قراردادیانو د کارونو څخه د غوره څارنې په اړه سلا مشورې ورکول.
- DoD، USAID او DoS ته د قراردادیانو د کارونو د څارنې په موخه د ورکړل شو سلا مشورو د پلی کیدو په اړه راپور ورکول.
- د عامو افغانو په مرګ ژوبلو کښی د نظامی او امنیتی قراردادیانود ښکیلتیا د کچې په اړه راپور ورکول.

کانګرس په ځانګړی ډول د امریکا د متحده ایالاتو په هغو قراردادیانو باندی د اتکا په اړه د سلا مشورو غوښتونکی دی چی د ملکی او عامو افغانانو په وژولو کښي ښکیل دی او همدا ډول یی د ملیشو او د هر هغه نظامی ګروپ او ډلې په اړه د وړاندیزونو غوښتنه کړی چی د افغان ملی امنیتی ځواک په چوکاټ کښی دنده نه ترسره کوی.[۲۰] د قانون د نورو مادو پر بنسټ چی د ټولو قرارداد کوونکو څخه غواړی تر څو د ټولو خصوصی امنیتی کمپنیو د دندو څخه په سمه توګه څارنه وکړی او ډاډه شی چی ټول هغه شرایط چی په مقرارتو کښی بیان شوی په سمه توګه پلی او مراعات کیږی.[۲۱]

د خپل قانونی مسؤلیت په لړ کښی، د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د پلټنو یوه لړۍ پیل کړی تر څو وکولای په افغانستان کښی د خصوصی امنیتی کمپنیو د دندو د څرنګوالی په اړه سلا مشوری ورکړی. د پلټنو دا لړی پیل به د USACE د قراردادی څخه پیل او هیله ده چی په راتلونکی دریو میاشتو کښی بشپړه شی. د خصوصی امنیتی کمپنیو په اړه د زیاتو اندیښنو او د ولسمشر حامد کرزی د فرمان چی د خصوصی امنیتی کمپنیو د رول د کمولو اړه دی، د یادو شوو په نظر کښی نیولو سره، د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی په نظر کښی لری تر څو د هغو ټولو خصوصی امنیتی کمپنیو په اړه چی د امریکا د بیا رغونې د مرستو په لړۍ کښی د امنیت چارې پر مخ وړی د امریکا او د افغان د قانونی غوښتونو او مقرراتو سره د تطابق په اړه د پلټنی تر سره کړی.

## د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی هیله مند دی تر څو په کال ۲۰۱۰ کښی

د افغان دولت او نړیوالې ټولنې تر منځ د جنوری په اخره په لندن کښی، په جولای په میاشت کښی د کابل په کانفرانس کښی او د ناټو په غونډه کښی چی په لیزبون کښي تر سره شوه وتوانیګی تر څو د افغانستان اسلامی جمهوریت ته امنیتی او اقتصادی چارې وسپارل شی. د ناټو د غونډې او د امریکا د متحده ایالاتو د اداری د ستراتیژیکی بیا کتنې په ترڅ کښی وټیل شوه چی د امنیتی چارو سپارل به په روان کال کښی پیل او په ۲۰۱۴ کښی بشپړ شی.

د واک دا انتقال به په هر ډګر کښی د افغانان د ظرفیت په لوړوالی پوری تړلی وی، په ځانګړي توګه په امنیتی برخه کښی. د هغو ۵۶ میلیارډو ډالرو له جملې څخه چی کانګرس د ۲۰۰۲ کال را پدیخوا د افغانستان لپاره منظوری کړی، تقریبآ ۲۹ ملیارډه (تر ۵۲ فیصدو ډیری) د افغان ملی امنیت په پوځ باندی مصرف شوی دی. د هغو ۱۸،۸ میلیارډو ډالرو چی ولسمشر یی په FY 2011 د کانګرس څخه د منظوری غوښتنه کړې ۱۱،۶ چی ( تقریبا ۶۲ فیصده جوړوی) به افغان ملی امنیتی پوځ په روزنه، سمبالولو او امکاناتو په جوړولو ولګول شی.

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د FY2011 لپاره د څارنې او پلټنې پلان جوړ کړی

دی تر څو ډاډه شی چی د هغو ټولو بیارغونو د پراګرامونه څخه چی د امریکا متحده ایالات یې ډیری سرچینې برابری او چی په افغانستان کښي د خپلو ستراتیژیکو موخو ته د رسیدو په لړ کښی ډیری اړینې دی په سمه توګه ترسره کیږی. په همدی ترڅ کښی، د سیګار یا د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د روانو پلټنو څخه ۱۶ هغه موارد دی چی په هغه کښي د امریکا متحده ایالات د افغان ملی امنیتی پوځ د روغولو رول تر سره کوی. پدی پلټنو کښي د لوړ ارزښت لرونکی پروژې لکه، د ۱۶۱ میلیونو ډالرو په ارزښت په کابل کښي د نظامی روزنې مرکز رغونه او ۸۳ میلیونو ډالرو په ارزښت د افغان دفاعی پوهنتون جوړونه، همدارنګه د افغان ملی پولیسو د پرسونل اداره او تنظیم او د افغان ملی امنیتی پوځ ته د سپارل شوو موټرو په اړه د حساب ورکول شامل دی.

د مرستو پاتی برخه به د ښه حکومت کولو او اقتصادی پرمختیا په برخو کښی ولګول شی. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی ستر پلټونکی د مختلفو قراردادنو او پروګرامونو د پلټنو یو لړ پیلوی تر څو وکولای شی د بیا رغونې چارې و ارزول شی. په دی لړ کښی د USAID د محلی حکومت د ظرفیت د لوړولو په اړه قرارداد او امریکا د متحدو ایالاتو هغه مرستی چی د کرهنې او بانګداری په برخو کښی یې ترسره کړی ځارنه شامله ده. د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی ستر پلټونکی د روانو پلټنو په اړه د لنډو معلوماتو لپاره لومړی برخې ته ستانه شی.

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی د ستر پلټونکی ځارونکی به د نورو فیدرالو اجینسیو او د افغان قانون پلی کوونکو ادارو سره خپلو دنده ته دوام ورکړی او د هغو ټولو تورنو د سپیناوی په اړه په تحقیق وکړی چی امریکا لخوا د بیا رغونې د پروګرامونو لپاره ځانګړی شوی وو. دا ګډی هڅې او همکاری د ښو پایلو د تر لاسه کولو په موخه تر سره کیږی. په دی دریو میاشتو کښی، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی ستر پلټونکی د افغان شفافیت تحقیقاتی اداری په بلنه په هغه خبرو کښی چی د دی اداري لخوا د دو امنیتی کمپنیو سره چی د ۴۰۰۰ کارکوونکو ته د اجورې نه ورکولو له امله د ۲۲ میلیونو ډالرو او بلې کمپنی سره د افغان دولت ته ۱۱ میلیونو ډالرو د مالیې ته نه ورکولو په اړه په جوړ شوی غونډه کښی ګډون وکړ.

د روان کال په ترڅ کښی ، د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی ځارنوالان او محقیقین د هغو ضایعه شوو ډالرو، د فساد او ناوړي ګټی په اړه څیړنو او پلټونو باندی تر ډیره حده توجه او پاملرنه وکړی. د افغانستان لپاره د بیا رغونې ځانګړی عمومی څیړونکي به د امریکا لخوا د مرستو شو مرستو د هغې برخې اړه هم مرسته او څیړنه وکړی چی د مالیی په ډول ورکول کیږی او د یادو شوو پیسو رول به امریکا د متحدو ایالاتو په بیا رغونیز ستراتیژی کښی وارزوی.

**کیندل شوي ځمکه**

د دسمبر په میاشتې کې د کابل په ولایت کښې د یو نوي بیوګیس( د سوند ګاز) ځای باندې کیندنه پیل شوه، چې د افغان د نویو انرژیو د اداري د غړو او قراردادیانو لخوا وڅارل شوه. چې د دې ځای څخه په هیواد کې د راتلونکي وخت د ځاینو او فابریکو د روزني او ازمویني د وسیلي په توګه کار واخیستلئ شي. د نویوکړل شوو انرژیو د کاروني پراختیا د افغانستان د ثبات لپاره د متحده ایالاتو د ستراتیژي اصلي او کلیدي برخه جوړه وي. (د متحده ایالاتو هوائی ځواک تصویر، اس اس جي ټی جورډن جانز)

# 3 د بیا رغونې تازه حال



د پرمختګ لپاره، باید په دوامداره توګه د لمړنیو خدماتو
په وړاندې کولو، همدارنګه په ړونوالي او او د ترسره
شوو دندو په اړه د ځواب ورکولو  باندې پام او توجه
وشي. مونږ همدارنګه هغه افغاني سیاسی بهیر کوم چې
د پخلاینې سره همغږي وي ځخه په پوره توګه ملاتړ
کوو... او مونږ به په راتلونکي کال کښې د افغانستان
سره د شراکت یو نوي ستراتیژی جوړه کړو، او مونږ
به په ډاګه کړو چې متحده ایالات د افغانانو د اوږد
مهالې  پرمختیا او امنیت لپاره ژمن دی.

— د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما

سرچینه: سپینه ماڼۍ، ” د افغانستان او پاکستان د کلنۍ کتنې په هکله د ولسمشر بیانیه” ۲۰۱۰/۱۲/۱۶.

# عمومي کتنه

دریمه برخه د دغې راپورجوړولو مودې په جریان کې د افغانستان د بیارغونې هڅو په اړه عمومي کتنه، وړاندې کوي. د بشپړتیا، ربړونو او ځایي ادارو کوم چې د بیارغونې هڅوته د نظارت لپاره اړینه فضا چمتو کوي، په هکله تازه معلومات. د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکي د بشپړ شویو او روانو مالي پلټنو د پړندې د برخې فرعی ستون ــ دغو هڅو ته ځانګړې شوې دی؛ د روانو مالي پلټنو په هکله د زیاتو معلومات لپاره فهرست ( کراس ـ رفرینس) به لوستونکي لمړې برخې ته هدایت کړي.

دریمه برخه په شپږو وړوبرخو ویشل شوي ده: د مالي منابعو وضعیت، امنیت، حکومتداري، اقتصادي او ټولنیز پراختیا، د قاچاقي او مخدره توکو سره مبارزه،او د اداري فساد پرضد مبارزه. د امنیت، حکومتداري، اقتصادی او ټولنیز پراختیا فرعی برخې د لمړیتوب او تطبیق پلان کوم چې په کال ۲۰۱۰ کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لخوا اعلان کړی شوي دي، دری اساسي پایو منعکس کوي. او د افغانستان د ۲۰۰۸ کال ملي پراختیاي ستراتیژی کې ځاي لري. د قاچاقي او مخدره توکو پرضد مبارزه او د اداري فساد سره مبارزي فرعي برخې په دواړو اسنادو کې مشخص شویو کلیدي موضوګانو ته توجه کوي.

## موضوعات

دریمه برخه د شپږو غټو موضوعاتو په اړه بحث کوي: مخکیني او اوسني لاسته راوړل شوي معلومات، امنیتي وضعیت، حکومت کولو چاري، اقتصادي او ټولنیز پراختیائي پروګرامونه، د قاچاقي او مخدره توکو په وړاندې کړنې، او د اداري فساد په وړاندې هڅې.

د مالي منابعو د وضعیت فرعی برخه د افغانستان د بیارغونې لپاره د تخصیص شویو، وعده شویو او مصرف شویو پیسو هراړخیزه بحث له ځانه سره لري. دا برخه د متحده ایالاتو لخوا د اکثرو تمویل شوي پیسو او د نړیوالو اعانې په هکله مشخص معلومات لري.

د امنیت فرعي برخه د افغان ملی امنیتی پوځ د پیاوړي کولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو په هکله تفصیلات ورکوي او په هیواد کې امنیت د راوستلو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅو په هکله بحث کوي. دا فرعی برخه د روزنې، تجهیز او بنسټیز پرمختګ په ګډون د افغان ملي پوځ او افغان ملي پولیسو د پیاوړي کولو په موخه د پروګرامونو باندي توجه کوي.

حکومتی فرعی څانګه د افغانستان د هغو لاس ته راوړنو په اړه نوی معلومات ورکوی چی د افغانستان دولت په حکومتی پرمختایی ډګر کښی ترلاسه کړی دی. دا څانګه تر ډیره حده د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو، د بیا پخلاینې د پروګرام په حالت او د بشر د حقوقو په اړه تمرکز او کار کوی.

د اقتصادی او ټولنیز پرمختیایی فرعی څانګه په هغو بیا رغونیزو چارو باندی چی د کرهنې د سیکتور څخه بیا تر برښنا او په روغتیایی برخو کښي تر لاسه شوی تمرکز او کار کوی. او د اقتصادی حالت او په مالی مقرارتو کښي د پرمختیا، په هر مالی کال کښی د تر لاسه شوی پاینت او ثبات او د ضروری چوپړیزو خدماتو په واړندی کولو کښی د تر لاسه شوو پرمختیاو په اړه کار او ډیری تمرکز کوی.

د مخدرو او نشیی توکو په وړاندی د مبارزی فرعی څانګه د هغو ګڼو هڅو چی د امریکا متحده ایالات او د افغانستان دولت یی د مخدره توکو د قاچاق د مخ نیوی او د بدیل کښت او د کوکنارو د منځه وړلو په لارو چارو باندی

ترسره کوی،کار او ډیریږی پام او کار کوی. همدا شان د کوکنارو د منځه وړلو او د مخدره توکو د قاچاق په اړه اړین معلومات وړاندی کوی.

د فساد په وړاندی د مبارزی فرعی څانګه په هغو ګډو هڅو باندی چی د امریکا متحده ایالات او د افغانستان دولت یی د فساد په وړاندی د مبارزی لپاره تر سره کوی تمرکز کوی او همدا شان د هغو اجینسیو چی د کوکنارو او مخدره توکو د منځه وړلو په برخه کښی کار کوی معلومات او د هغوی د رول په اړه اړین معلومات وړاندی کوی.

## کړندود (میتودولوژي)

دریمه برخه د هغو معلوماتو په اساس چی د ازادو منابعو او د امریکایی اجنسیانو لخوا تر لاسه شوی وو چمتو شوی ده. د معلوماتو سره سم د هغه سازمان یا ټولني نوم او نور اړوند اړین معلومات بیان شوی دی ترڅو د هر ډول غلط فهمی څخه مخ نیوی شوی وی. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د تحقیقاتو او څیړنود معلوماتو څخه پرته چی په ماخذ کښی بیان شوی دی نور معلومات د سیګار لخوا نه دی تایید شوی او د افغانستان دبیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د نظریاتو ښکارندویی نه کوی. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی لخوا تر سره شویو ټولو څیړنو او تحقیقاتو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره لومړی برخې ته ستانه شی.

## د معلوماتو پوښتنه

د معلوماتو پوښتني د پوښتنو یوه لړی ده چي د متحده ایالاتو د ادارو څخه د بیا رغوني په پروګرامونو، او د افغانستان په چارو کي د هغوی د ګډون یا ورکړو په اړه تري شوې دي. د متحده ایالاتو په هغو ادارو کي چي د دې درې میاشتني راپور د معلوماتو په پوښتنو کي یې ګډون کړی دا لاندې شامل دي:

- د بهرنیو چارو وزارت
- د دفاع وزارت
- د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره
- د امریکا د مالیی (خزانې) وزارت

د دې راپور یوه لومړنی مسوده له خپرولو وړاندې دغو ادارو ته ورکړل شوې وه څو اړوندې اداري د دې برخې منځپانګه تایید او تصحیح کړي.

## د پرانستي-سرچینې تحقیق

د پرانستي-سرچینې تحقیق د اعتباري سرچینو څخه ترلاسه شوي ډېره تازه، او په عامه ډول ترلاسه کېدونکي معلوماتو اتکاء کوي. د هغو سرچینو چي په دې درې میاشتني راپور کي کارول شوي په یوه نمونوی لیست کي لاندې سرچینې شامل دي:

- د متحده ایالاتو هغه اداري چي د معلوماتو په پوښتنه کي استازیتوب ورکړل شوی
- د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف)
- ملګري ملتونه (او اړوندې څانګې)
- د پیسو نړیوال صندوق
- نړیوال بانک
- ایشیا فاونډیشن
- د افغان دولت وزارتونه او د افغان دولت نور سازمانونه

د پرانستي-سرچینې زیاتره تحقیق د دې راپور په ابتدایي مسوده کي شامل کړای شوی و کومه چي د معلوماتو د پوښتني ادارو ته د کتني لپاره له خپرېدو مخکي ورکړای شوی وه.

# په ګرافونو پوهېدنه

ټول انځورونه او چوکاټونه د دې درې مياشتنۍ لپاره د معلوماتو راپور ورکوي، په استثنا د هغو ځايونو چې په سرليکونو او يادونو کې يې پېژندل شوي.

## د ولايتونو نقشې

په نقشه کښې، ولايتونه د اټکل شوو معلوماتو پر اساس رنګ او نښاني کړل شوي دي. هر رنګ د معلوماتو د يو سيټ استازيتوب کوي، چې په تشريح کې ښودل شوي؛ توربخون رنګونه زياتې شمېرې ښيي، سپين بخن رنګونه کمې شمېرې ښيي.




## د پټې چارټونه

دا راپور د يو شمېر هغو بوديجو او پروژو څخه د ډالرو پر ارزښت بحث کوي چې د مليونونو څخه مليارډونو ته رسېږي. د دې شمېرو په ګرافونو کې د دقيق استازيتوب د وړاندې کولو لپاره، د ګرافونو ځينې پټې ماتې ښکاري (د يوې کږې ورې کرښې سره) چې د صفر او يوې جيګې شمېرې ترمنځ توپ ښيي.




د پټې چارټ په پيمانه
کې د يوې ماتېدنې سره




د پټې چارټ په پيمانه
کې له ماتېدنې پرته

## بوديجې ښودونکي

بوديجې ښودونکي هغه انفرادي بوديجې ښيي چې په متن کې پرې بحث شوي وي. هغه اجينسۍ چې د مرستو د اداره کولو چارې يې په غاړې درلودې د مرستو د نامه د لاندې په خړ بکس کښې ليست کړل شوي دي.




## د مليارډونو او مليونونو توپير کول

لدې امله چې دا راپور د بوديجو جزييات په مليارډونو او مليونونو ډالرو کې ښيي، دا د پيمانې د دواړو يونټونو د جلا کولو لپاره يوه کتنيزه اشاره کاروي. هغه ډالر چې په مليارډونو کښې بيان شوي په ابي رنګ او هغه ډالر چې په مليونونو کې راپور شوي په شنه رنګ کې انځورېږي.



پايي چوکاټ په مليونونو کې



پايي چوکاټ په مليونونو کې

# د مرستو وضعیت

د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی لپاره په قانون کښی د رامنځ ته شوو تعدیلاتو د پلی کولو په موخه، دا برخه د امریکا د ځانګړو شوو، تعهد شوو مرستو او د افغانستان د بیاروغونې د مرستو په اړه توضیح ورکوی. د دی سند د چاپ تر وخته، د ۲۰۱۱ مالی کال لپاره ټول تعهد شوو مرستو په اړه اړین معلومات نه ترلاسه شوو،ځکه چی په پرله پسی ډول اصلاحات د پلی کولو په موخه روان وو. ځینو اجنسیانو د تر لاسه شوو مرستو په اړه راپور د روانو اصلاحاتو په ترڅ کښی ورکړی، دا معلومات په ګرافیکو کښي د اړوندې مرسته سره یو ځای ښودل شوی دی. .د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر تر ۳۰ مه نیټه پوری د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د بیارغونې او رفاه لپاره تقریبآ ۵۶،۱۰ میلیارډه ډالر مرسته کړی ده. د مرستو دا مجموعی شمیره د اجنسیانو د راپور او د ۲۰۱۰ د مالی کال په اساس چمتو شوی. یادی شوی مرستې د لاندی برخو او څانګو لپاره ځانګړی شوی :

- تقریبآ ۲۹،۳۵ میلیارډ ډالر د امنیت لپاره
- تر ۱۶،۱۵ میلیارډ ډالرو څخه زیاتي د غوره حکمت کولو او پرمختیا لپاره
- ۴،۴۹ میلیارډ ډالر د مخدره توکو په وړاندی د مبارزی لپاره
- تقریبآ ۲،۰۸ میلیارډ ډالره د بشر دحقوقو د څانګې لپاره
- ۴،۰۳ میلیارډ ډالر د خارجي یا نظارت او د عملیاتو لپاره

۳.۱ شمیره انځور د امریکا هغه ستری مرستي چی په دی برخو کښی لګول شوی دی ښایی.

څرنګه چی د ب په ضمیمه کښی لیدل کیږی، د امریکا ولسمشر د ۲۰۱۱ مالی کال لپاره د افغانستان د بیارغونې لپاره د۱۸،۷۷ میلیارډ ډالرو غوښتنه کړی ده، او که چیری دا غوښتنه منظوره شی نو د ټولو مرستو اندازه به ۷۴،۸۸ میلیارډ ډالرو ته ورسیږی.

3.1 انځور

د امریکا د متحده ایالاتو هغه مرستی چی په افغانستان کښی د بیارغونو د هڅو ملاتړ کوی ( د میلیارډ ډالرو په اساس)




یادښت: د غونډي په وسیله اغیزمن شوی شمیره معلومات د 30/9/2010 سره یو شان دی

a. Multiple agencies include DoJ, DoS, USAID, Treasury, and USDA.

سرچینه: په 22/10/2010 نیټه باندی د DoD سیګار یا د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ځیرنه ته ځواب د DoD په 10/20/2010, 10/15/2010, 10/6/2010, 10/14/2009او 10/1/2009ته ځوابونه؛ FY 2010 ضمیمه د FY 2010 دفاعی توضیح په اړه بیانیه؛ د سیګار یا د افغانستان دبیارغونې د عمومی پلټونکی د 15/10/2010 او 12/10/2010 غوښتنو ته د DoS ځواب د سیګار د 12/10/2010 غوښتنې ته د خزانې له ځواب د سیګار د 19/10/2010 نیټه غوښتنې ته د OMBځواب او د سیګار یا د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ، 15/1/2011 او د 9/10/2009، 19/4/2010 باندی غوښتنو ته د USAID ځواب د سیګار یا دافغانستان د بیارغونې د ځانګړی عمومی پلټونکی د 7/7/2009 غوښتنې ته د DoJ ځواب او د سیګار د 4/2009 نیټه باندی د غوښتنې د USDA ځواب.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودجه
**CERP:** د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

**DoD CN:** د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوي او مخدره موادو سره د مبارزي فعالیتونه

**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودجه

**INCLE:** د نړیوالو مخدره توکو کنټرول او د قانون پلی کول

**نور:** نوري بودجي

## د افغانستان د بيارغوني لپاره د امريکا مرستې




**د امريکا د متحده ايالاتو لخوا د ۵ ورکړل شوو مرستو د ۲۰۰۲ مالی کال را پدی خوا د بيارغوني لپاره د ټولو کمکو نژدی ٪۸۲ (تر ۴۵،۹۸ ميلیارډ ډالرو ډيره جوړوی) او د يادو شوو مجموعي څخه نژدی ۸۴،۷ فیصده (چې تر ۳۸،۹۴ ميلیارډ ډالرو ډيری کيږی) موکلف ګرځول شوی او نژدی ۷۰،۳ فيصده (نژدی ۳۲،۳۱ ميلیارډ ډالره) مصرف شوی دی. راتلونکي پاڼې د دې بوديجو په اړه لا زيات معلومات ورکوي.**

د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر تر ۳۰ مه نيټه پورې د امريکا متحده ايالاتو د افغانستان د بيارغوني او رفاه لپاره تقريباً ۵۶،۱۰ ميليارډه ډالر مرسته کړې ده. د بيارغوني دا مرستې کولای شوو په پنځو برخو وويشو: امنيت، دولتداري او پرمختيا، د مخدره توکو په وړاندې مبارزه، بشري حقوق، او د نظارت او فعاليتونه برخه.

د امريکا لخوا د تخصيص شوو مرستو په اړه د بشپړو معلوماتو لپاره دويمه(ب) ضميمې ته ستانه شی. څرنګه چې په ۳،۲ انځور کښي ښکاری، په ۲۰۱۰ مالی کال کښی دا مرستې د ۲۰۰۹ مالی کال په نسبت ۴۱،۴ فيصده زياتي شوی او تقريباً ۵۶،۱۰ ميلیارډ ډالرو ته رسيږی. د ۲۰۰۲ مالی کال را پديخوا، تر ټولو ډير مرستې د امنيت لپاره ځانګړی شوی دی. د امنيت لپاره ځانګړی شوی مرستې (نږدې ۲۹،۳۵ مليارده ډالر) د متحده ايالاتو د بيا رغوني د مرستو تر ۵۲،۳ فيصدو څخه زياته برخه جوړوی. د ۲۰۰۹ مالی کال په پرتله، په ۲۰۱۰ مالی کال کښی تر ټولو ډير (تر ۴۵،۴ فيصدو) زياتي مرستې ځانګړی شوی او د هغه څخه وروسته د غوره حکمت کولو لپاره( نژدی ۳۸،۷ فيصده) او د نشيی توکو په وړاندی د مبارزی لپاره (تر ۲۷،۹ فيصدو ډيری) مرستې ځانګړی شوی دی.

۳.۳ شميره انځور په مقابله پاڼه کښي ، د کټګوری په حساب د ۲۰۰۲ مالی کال څخه بيا تر ۲۰۱۰ مالی کال پورې د تخصيص شوو مالی مرستو معلومات ښايي.

په انځور کښی ميله د تخصيص شوو مرستي په ډالرو او چارټ د تخصيص شوو مرستو تناسب ښکارندوی کوی. دا شميري هغه ارقام انځوروي چې د اړوندو ادارو لخوا راپور شوي او هغه ارقام چې په لاندې قانون جوړوني کې اختصاص شوي:

- د ۲۰۱۰ مالی کال لپاره د اضافی تخصيصاتو قانون (۲۰۱۰ مالی کال اضافی مرستې)
- د مالي کال ۲۰۱۰ د دفاع وزارت د تخصيصاتو قانون (مالي کال ۲۰۱۰ د دفاع وزارت د تخصيصاتو

3.2 انځور

د پر له پسی ډيريدو په اثر د يو شی د قيمت د ډيروالی يا د تراکم تخصيی دمرستی د کټګوری په اساس د 2010 د سپتمبر د 30 څخه پيل ( د ميلیارډ ډالرو په اساس)




يادښت: د غونډي په وسيله اغيزمن شوی شميره معلومات د 30/9/2010 سره يو شان دی

سرچينه: په 22/10/2010 نيټه باندی د DoD سيکار يا د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ځيرنه ته ځواب د DoD په 10/20/2010, 10/15/2010, 10/6/2010, 10/14/2009او 10/1/2009ته ځوابونه؛ FY 2010 ضميمه د FY 2010 دفاعی توضيح په اره بيانيه؛ د سيکار يا د افغانستان دبيارغوني د عمومی پلټونکی د 15/10/2010 او 12/10/2010 غوښتنو ته د DoS ځواب د سيکار د 12/10/2010 غوښتني ته د خزاني له ځواب د سيکار د 19/10/2010 نيټه غوښتني ته د OMBځواب او د سيکار يا د افغانستان د بيارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ، 15/1/2011 او د 9/10/2009، 19/4/2010 باندی غوښتنو ته د USAID ځواب د سيکار يا دافغانستان د بيارغوني د ځانګړی عمومی پلټونکی د 7/7/2009 غوښتنی ته د DoJ ځواب او د سيکار د 4/2009 نيټه باندی د غوښتني د USDA ځواب

قانون)

- د ۲۰۱۰ مالی کال لپاره د ترانسپورټ او تهیه او په ښاری پراختیا پوری د اړوندو اجینسیانو د تخصیصاتو قانون( ۲۰۱۰ مالی کال د تخصیصاتو د یووالی قانون

څرنګه چې په ۳.۳ شمیره انځور کښې لیدل کیږی، د ۲۰۱۰ مالی کال لپاره د ۱۶،۴۲ میلیارډ ډالرو په ارزښت تخصیص ورکړل شوی دی، چې د ۲۰۰۹ مالی کال په نسبت ۵۷ فیصده زیاتوالی ښایی. دا په یو واحد کال کې د بیا رغونې د هڅې لپاره تر ټولو لوړ تخصیص شوی مرستې دی.

په ۲۰۱۰ مالی کال کښې د امنیت په اړه مرستې د ۲۰۰۹ مالی کال په نسبت تقریباً ۶۳،۵ فیصده زیاتوالی ښایي، چې تقریباً ۹،۱۷ میلیارډ ډالرو ته رسیږی. د ۲۰۱۰ مالی کال د ټولو تخصیصاتو له ډلې چې په امنیتی ډګر کښې د ابتکارو لپاره ۵۵،۸ فیصده اټکل شوی او د هغه څخه وروسته د غوره حکمت او پراختیا برخه د ۲۷،۴ فیصدو سره. په ۲۰۱۰ مالی کال کښې د امنیت لپاره تخصیص شوی (تقریبا ۹،۱۷ میلیارډ ډالره) د ۲۰۰۲ کال را پدیخوا په یوه کال کښې تر ټولو ډیره مرسته ګڼل کیږی.

3.3 انځور

د مالی کال په اساس ځانګړی شوی مرستې، مقدار او فیصدی ( د میلیارډ ډالرو په اساس)




یادښت: د غونډي په وسیله اغیزمن شوی شمیره معلومات د 30/9/2010 سره یو شان دی

سرچینه: په 22/10/2010 نیټه باندی د DoD سیګار یا د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی څیړنه ته ځواب د DoD په 10/20/2010, 10/15/2010, 10/6/2010, 10/14/2009او 10/1/2009ته ځوابونه؛ FY 2010 ضمیمه د FY 2010 دفاعی توضیح په اړه بیانیه؛ د سیګار یا د افغانستان دبیارغوني د عمومی پلټونکی د 15/10/2010 او 12/10/2010 غوښتنو ته د DoS ځواب د سیګار د 12/10/2010 غوښتنې ته د خزانې له ځواب د سیګار د 19/10/2010 نیټه غوښتنې ته د OMBځواب او د سیګار یا د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ، 15/1/2011 او د 9/10/2009، 19/4/2010 باندی غوښتنو ته د USAID ځواب د سیګار یا دافغانستان د بیارغوني د ځانګړی عمومی پلټونکی د 7/7/2009 غوښتنې ته د DoJ ځواب او د سیګار د 4/2009 نیټه باندی د غوښتنې د USDA ځواب

## د افغانستان د امنيتي ځواکونو بودجه

کانګرس د افغانستان د امنیتی ځواک بودجه د افغان ملی امنیتی ځواک ته د توکو او تجهیزاتو، وسايلو، چوپړيز خدمتونو، لاربښونو او همدارنګه د وسايلو او توکود ترمیم، بیا جوړونه په موخه جوړ کړی ده.[24] په لومړی ګام کښی د افغان ملی امنیتی ځواک د جوړوني مسول د ناټو یا د شمالی اتلانتیک هوکړې سازمان د افغانستان لپاره د روزنې ښانګه- افغانستان / د ګډ امنیتی فرامان د انتقال-ښانګه ده.[25]

DoD یا د دفاع وزارت راپور ورکړی چی د ۲۰۱۰ مالی کال د روانو تخصیصاتو قانون افغان ملی امنیتی ځواک ته ۱،۵۷ میلیارډ ډالره ورکړی، او د دی ښانګړی عمومی مرستو کچه ۲۹.۴۰ میلیارډ دالرو ته رسیږی.[26] د دی ډلې ښخه، ۲۵،۴۳ میلیارډ ډالره تعهد او تضمین شوی، چی د دی جملې ۲۳،۰۸ میلیارډ ډالره لګول شوی دی.[27] په ۳.۴ انځور کښی د مالی کال په حساب افغان ملی امنیتی ځواک ته ورکړل شوو مرسته شکارندوی کوی.

وزارت دفاع همدا ډول راپور ورکړ چی د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د ۳۰ ښخه بیا د همدی کال د دیسمبر تر ۳۰ پوری په مجموعی مرستو کښی ۱،۸۲ میلیارډ ډالر زیاتوالی راغلی. د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د ۳۰ ښخه بیا د همدی کال د دیسمبر تر ۳۰ پوری په مجموعی مرستو کښې ۱،۶۷ میلیارډ ډالر زیاتوالی راغلی.[28] ۳.۵ شمیره انځور دافغان ملی امنیتی ځواک لپاره د تعهد شوو، د موکلف شوو یا تضمین شوو او مصرف شوو مرستو شمیرو ښکارندوی کوی.




**د ASFF د مرستو اصطلاحات**

د دفاع وزارت راپور ورکړی چی د ASFF سره د موکلف شوو، مرستو په اخیتار کښی شته دی.
په اخیتار کښی شته دی: د تعهد شوو مرستو په اختیار کښی شته پیسې
موکلفات: د پیسو د ورکړو په اړه تعهدات
لګښتونه : هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۱۳\۴.

## د ASFF د بوديجې فعاليتونه

د دفاع وزارت په ASFF پوری تړولو درو کاری ګروپو بودجو ته مرستې ورِاندې کوی:[29]

3.5 انځور

دFF AS مرستې، په پرلپسې ډول د زیاتولې مقایسه (په میلیارډ ډالرو)




یادښت: د غونډې ښخه د اغیزمن شوو شمیره. موجوده نیټه یی د 30/9/2010 . د FY2011 مرستې د یوه ډاډه حساب ورکونې تر چتر لاندی خپلی دندې په مخ وړی.

سرچینه: د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ته د DoD ځواب، 12/1/2011

3.4 انځور

په کلنی مالی ډول دASFF چمتو مرستې ( امریکایی میلیارډونه)




یادښت: د غونډې ښخه د اغیزمن شوو شمیره. د FY2011 مرستې د یوه ډاډه حساب ورکونې تر چتر لاندی خپلی دندې په مخ وړی. د خبرتیا تر وخته پوری د مرستو ټولې شمیرې نه وی چمتو شوی.

سرچینه: د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ته د DoD ځواب، 12/1/2011

- دفاعی ځواک (د افغانستان ملی اردو)
- کورنیو چارو ځواک ( د افغانستان ملی پولیس)
- اړوند فعالیتونه (د بندیانو لومړنی فعالیتونه)

هر کاری یا فعالیتي ګروپ ته ځانګړی شوی بودجه بیا په څلور فرعی فعالیتي کاری ګروپ باندی ویشل شوی دی: زیربناوی، تجهیزات او ترانسپورت، روزني او عملیات، او پایښت او بقا.[30]

د دفاع وزارت د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری په افغان ملی امنیتی ځواک باندی ۲۳،۸ میلیارډ ډالره لګولی دی. له دی ډلي ۱۴،۸ میلیارډ ډالره په افغان ملی اردو او ۸،۱۶ میلیارډ ډالره په افغان ملی پولیسو باندی لګولی؛ او پاتي ۰،۱۲ میلیارډ ډالره په اړوندو موخو او فعالیتو باندی لګول شوی دی.[31]

په افغان ملی پولیسو باندی د لګول شوو مرستو ډیری برخه چې ۲،۴۸ میلیارډ ډالره ده د اردو په شان د توکو به سمبالښت او ترانسپورټ باندی لګول شوی ده، دا تول په 3.7 شمیره انځور کښی ښودل شوی دی. [32]

**د بودجي د فعالیت ډلي:** د اختصاص یا بودجي د هر حساب دننه هغه درجي چي د هغو فعالیتونو اهداف، پروژې او ډولونه پیژني چي د اختصاص یا بودیجي لخوا یي مالي ملاتړ کیږي

**د فرعی فعالیتو ګروپ:** هغه حسابي ډلي چي د قوماندي لګښتونه په فعالیتي برخو کي ویشي.

سرچینې: د دفاع وزارت یا DoD Sources: DoD, "Manual 7110.1 7110.1-M،" د دفاعی بودجه څانګه د لاربښوني منول" چی د ۲۰۰۹ کال سپتمبر په ۹ ترلاسه شوی؛ د بحری قواوو څانکه ،" د طبی مرستو د اداری لاسی کتاب"، ۵ پانه، چی د ۲۰۰۹ کال د فبروری په ۱۰ تر لاسه شوی وو.

## د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

د قومندان د بیړنی ځواب پروګرام په افغانستان کښی امریکایی قومندانانو ته توان او موقع ورکوی تر څو په بیړنیو حلاتو کښی په بشری او بیارغونیزو برخو کښی د خپل ماموریت په سیمه کښي د محلی خلکو سره مرسته او کمک تر سره کړی. دا مرستي د هغو پروګرامو لپاره ځانګړی شوی دی چې لګښت یی تر ۵۰۰۰۰۰ ډالرو کم ارزول شوی وی.[33] او کولای شی هغه پروژې چې یو میلیون ډالر لګښت ولری هم پلی کړی خو د دی امر لپاره باید د مرکزی قومندې د قومندان هوکړه او تایید د ځان سره ولری؛ او د ۵ میلیون ډالرو څخه لوړ لګښت لرونکي پروژې د دفاع د وزیر تایید او منظوری ته اړتیا لری.[34]

### د بودجو حالت

د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری، د دفاع وزارت یا DoD راپور ورکړی چی د CERPپه پروګرام باندی

3.7 انځور

د ASFF لخوا په افغان ملی پولیسو باندی لګول شوی پیسي د ورو قراردادیانو او ګروپو لخوا ترسره شوی -FY 2005 د FY 2010 کال د دیسمبر 31 مه ( د میلیارډ ډالرو په اساس)




یادښت: د غونډې څخه اغیزمن شوی شمیره. شمیرې د 31/12/2010 سره یو شان دی

سرچینه: د سیګار د 12/1/2011 غوښتنې ته د وزارت دفاع ځواب

3.6 انځور

د ASFF مصرف د افغان ملی اردو د منځنی کړنو د ګروپ په وسیله -FY 2005 دیسمبر 31 کال 2010 ( په میلیارډ ډالرو)




: د غونډې څخه د اغیزمن شوو شمیره. شمیرې د 31/12/2010 سره یو شان دی.

سرچینه: د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ته د DoD ځواب، 12/1/2011

نژدی ۲،۶۴ میلیارډ ډالره مرسته شوی ده.[35] وزارت دفاع وویل چی د دی مرستو د له جملي ۱،۹۹ میلیارډ ډالره یی تعهد او موکلف ګرځول شوی وو چی ۱،۵۴ میلیارډ ډالره یی مصرف شوی دی.[36] په ۳.۸ انځور کښی د مالی کال په حساب د CREP لپاره ځانګړی شوی مرستي ليدلی شی.

د دفاع وزارت همدا ډول راپور ورکړی چی د ۲۰۱۰ کال د سپتمر ۳۰ څخه بیا د همدی کال د دسمبر تر ۳۱ میاشتی پوری په ټول ټال مرستو کښی ۶۴،۰۴ میلیون ډالره زاتوالی راغلی. او د ۲۰۱۰ کال د سپتمر ۳۰ څخه بیا د همدی کال د دیسمبر تر ۳۱پوری په مصرف شوو مرستو کښی د ۲۰۵،۹۷ میلیون ډالرو زیاتوالی راغلی.[37] په ۳.۹ شمیره انځور کښی د تخصیص شوو ، موکلف کړل شوو او د CERP لخوا د مصرف شوو مرستو کچه او معلومات ليدلی شی.

## د DOD د مخدره موادو د مخنيوي او مخدره توکو په وړاندی د مبارزي فعالیتونه

د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او د مخدره توکو په وړاندی د مبارزی سره د فعالیتونو بودجه (DoD CN) د هغو هڅو ملاتړ کوی چی غواړی د مخدره توکو سره د مبارزی له لاری افغانستان ته ثبات او ټیکاو راولی. یاده شوی بودجه د قاچاق کوونکی په وړاندی د نظامی عملیاتو؛ د مخدره توکو د مخنیوی په هڅو کښی د افغانانو د هڅو ملاتړ او پراختیا؛ او د افغانانو د قانون د پلی کولو وړتیا لوړول د سرحدی پولیسو په ځانګړو مهارتونو روزنه ، سمبالښت او امکاناتو په ګډون، غواړی له دی څانګه سره اړونده مرستي تر سره کړی [38]

د دفاع وزارت همدا ډول د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر ۳۱ څخه بیا د همدی کال د سپتمر تر ۳۰ پوری په مرستو کښی د هیڅ ډول زیاتوالی ښکارندوی نه کوی. د فاع د وزارت د مخدره توکو په وړاندی د مبارزی بودجه ټول ټال ۱،۵۱ میلیارډ ډالرو ته رسیږی.[39] چی د دی جملي تر ۱،۴۳ میلیارډ ډالرو ډیری تعهد او موکلف شوی او مصرف




**د CERP د بودیجو اصطلاحات**

د CERP لپاره د تخصیص شوو مرستو راپور OMB راپور ورکړی دی .
Aتخصیصات: د تعهداتو لپاره په اخیار کښی موجودي پیسي

د CERP لپاره د تخصیص شوو ، موکلف شووا و مصرف شوو مرستو راپور د دفاع وزارت ورکړی دی. .
تخصیصات: د تعهداتو لپاره په اختیار کښي موجودي پیسي
موکلفات: د پیسو د ورکړی لپاره تعهدات
لګښتونه :هغه پیسي چی لګول شوی دی

سرچيني: OMB، د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانکړی عمومی پلټونکی د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\٤؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱٤\٤.

3.9 انځور

د CREP مرستي، د پر له پسی ډیریدو په اثر د یو شی د قیمت د ډیروالی یا د تراکم په پام کښي نیولو سره ( د میلیارډ ډالرو په اساس)




یادښت: د غونډي څخه د اغیزمن شوو شمیره شمیري هغه شمیرو ته چی DoD او OMB وړاندی کړی ورته او یو شان دی. 2011 د دی خبری راپور د جوړ تر وخته د هغه مرستی نه وی چمتو شوی.

سرچینه:د DoD ځواب سیګار یا د افغانستان د بیارغوني لپاره، 18/1/2011 او 20/10/2010؛ OMB ځواب سیګار یا د افغانستان د بیارغونی لپاره خاکری عمومی پلټونکی 19/10/2010

3.8 انځور

د مالی کال په اساس د CERP چمتووالی
(د میلیون ډالرو په اساس)




یادښت: دا معلومات کیدای شی چی دهغه اجنسی چی غونډي څخه اغیزمني شوی وی د ننه د انتقال شوی وی. FY2011 د دی خبری راپور د جوړ تر وخته د هغه مرستی نه وی چمتو شوی.

سرچینه:د DoD ځواب سیګار یا د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړی عموی څیرونکی 18/1/2011؛ OMB،ځواب سیګار یا د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړی عمومی څیرونکی ته 19/10/2010

شوی دی[40] انځور ۳۱۰د DoD CN مالی کال په اساس تخصیصات شایي. او په ۳.۱۱ شمیره انځور کښي د دفاع د وزارت د مخدره توکو په وړاندی د مبارزی لپاره د ځانګړی شوی بودجه په اړه معلومات ښکاره کوی.

## د اقتصادي ملاتړ بویجه

د اقتصادی ملاتړ د مرستو پروګرام د امریکا هغه علاقه او لیوالتیا ښایی چی غواړی د اړه او نیاز لرونکی هیوادو سره په لنډ او اوږد مهاله سیاسی، اقتصادی او امنیتی اړتیاوی پوره کړی. د ESF پروګرامونه د تروریزم پر خلاف د جګړې ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه بهتروي؛ او د یو لا ښه شفاف او مسوول حکومت لپاره د اغیزمنو، د لاسرسي وړ، او خپلواکو حقوقي سیستمونو د پرمختیا لپاره مرسته کوي.[41]

د ۲۰۱۰ کال د دسمبر تر ۳۱ پوری، USAID یا د امریکا پرمختایی پروګرام راپور ورکړی چی د ESF باندی تول ټال ۱۱،۱۴ میلیارډ ډالره مرسته شوی.[42] چی د یادی شوی جملی څخه ۹،۵۷ میلیارډ ډالر تعهد یا موکلف ګرځول شوی او ۶،۷۴ میلیارډ ډالره یی مصرف شوی.[43] په ۳.۱۲ شمیره انځور کښي د ESF لپاره ځانګړی شوی مرستي د مالی کال په اساس کتلی او لیدلی شی.

د امریکا پرمختایی پروګرام یا د USAID د راپور په اساس د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د ۳۰ څخه نیولی بیا د همدی کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری په ټولو موکلف ګرځول شوو مرستو کښی ۱۶،۴۵ میلیون ډالره زیاتوالی راغلی. او پورته معین شوو نیټو کښي په مصرف شوو مرستو کښی د ۴۵۹،۸۳ میلیون ډالره زیاتوالی راغلی.[44] په ۳.۱۳ شمیره انځور کښی د ESF لپاره په موکلف شوو او تخصیص شوو مرستو په اړه مقایسوی تناسب او معلومات تر لاسه کولی شی.




**د دفاع وزارت د مخدره موادو سره د مبارزي د بودیجو اصطلاحات**

د دفاع وزارت د DoD CN بودیجي د اختصاص شوي، منل شوي، یا لګول شوي په توګه راپور ورکړي.

اختصاص شوي: دژمنو شوو لپاره شته پیسي

موکلفات :د پیسو د ورکولو ژمنتیاوي

لګښتونه :هغه پیسي چی لګول شوی دی

سرچینه: د افغانستان دبیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۱۳\۱۴..

3.11 انځور

د دفاع د وزارت یا DoD مرستي، د پر له پسی ډیریدو په اثر د یو شی د قیمت د ډیروالی یا د تراکم په پام کښي نیولو سره (د میلیارډ ډالرو په اساس)




یادښت: د غونډي څخه د اغیزمن شوو شمیره. هغه شمیرې چی د دفاع د وزارت له لوری ورکړل شوی وې د دفاع وزارت راپور ورکړ چی د په شمیرو کښی د 30/9/2010 تغیر نه دی راغلی د FY 2011 د مرستي د چاپ تر وخت پوری نه وی چمتو شوی.

سرچینه : د سیګار د 10/1/2011 او 6/10/2010 د غوښتنو ته د دفاغ د وزارت ځواب د 22/10/2010 نیټي غوښتني ته د دفاع د وزارت ځواب H.R4899 د تخصیص د ضمیمي لایحه او قانون،.29/7/2010

3.10 انځور

په هر مالی کال کښی د DOD CN تخصیص (د ملیون ډالرو په اساس)




یادښت: دا معلومات کیدای شی د هغو معلوماتو درلودونکی وی چی د اجنسی تر منځ لیږدول شوی وی. د غونډي څخه د اغیزمنو شوو شمیره. د دفاع د وزارت راپور چی د 30/9/2010 څخه را په دی خوا ندی تغیر شوی. د FY 2010 مرستی د دی راپور د چاپولو تر نیټي پوری نه وو چمتو شوی.

سرچینه: د سیګار یا د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د 10/1/2010 د غوښتني ته ځواب په 22/10/2010 نیټه باندی د سیګار په غوښتنې د دفاع د وزارت ځواب؛ H.R. 4899، د FY2010 د تخصیص شوو ضمیمي لایحه او قانون29/7/2010.

## د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

د امریکا د نړیوالو مخدره توکو او د قانون د نفاذ اداره (INL) د قانون د پلیتوب په اړه د پرمختیا او د مخدره توکو د تولید او قاچاق په وړاندې د مبارزې لپاره مرستې هم غږي کوي- د INCLE حساب .د INCLE بودجه د INL د کنو پروګرامو د پولیسو سره د مرستو، د مخدره توکو په وړاندې مبارزې ، د قانون حاکمیت او عدلیه ځانګو سره د مرستو په ګډون ملاتړ کوي.[45]

INLراپور ورکړ د ۲۰۱۱ د روانو تخیصصاتو قانون د INCLE لپاره ۴،۵۹ میلیون ډالره تخصیص کړی دی، په دی سره INCLE ته تخصیص شوی مرستی ۲،۸۶ میلیارډ ډالرو ته رسیږی.[46] د دی ډلي څخه تقریبا ۲،۴۷ میلیارډ ډالره تعهد یا موکلف ګرځول شوی او ۱،۷۵ میلیارډ ډالره تسویه شوی دی.[47] په ۳.۱۴ شمیره انځور کښی د INCLE لپاره د مالی کال په حساب ځانګړی شوی مرستې بنایی

INLراپور ورکړی چی د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د ۳۰ څخه بیا د همدی کال د دیسمبر ۳۱ پوری په موکلف کړل شوو مرستو کښی ۴۷،۳۳ میلیون ډالره زیاتوالی راغلی. د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د ۳۱ نیټی د نویو معلوماتو په اساس د همدی کال د سپتمبر په پرتله په تسویه کړل شوو مرستو کښی ۱۱۱،۰۳ میلیون ډالره کموالی راغلی.[48] په ۳.۱۵ انځور کښی د INCLE لپاره د ځانګړو شوو تعهد شوو او توسیه شوو مرستو معلومات تر لاسه کولای شی.




**د ESF د بودیجو اصطلاحات**

د دفاع وزارت د ESF بودیجې د اختصاص شوي، منل شوي، یا لګول شوي په توګه راپور ورکړي.
اختصاص شوي: دڅمنو شوو لپاره شته پیسي
موکلفات : د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
لګښتونه :هغه پیسې چې لګول شوی دی

سرچینې: دافغانستان دبیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د معلوماتو پوښتنې ته د OMB ځواب، ۲۰۱۰\۱۱۹\٤؛ دافغانستان دبیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی دمعلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۱۰\۱۱۵\٤.

3.13 انځور

**د ESF مرستې ، ، د پر له پسی ډیریدو په اثر د یو شی د قیمت د ډیروالی یا د تراکم په پام کښي نیولو سره ( د میلیارډ ډالرو په اساس)**




یادښت: معلومات شاید د اجنسی د ننه تبادله شوی معلومات هم د ځان سره ولری د غونډې په وسیله د اغیزمنو شمیره. شمیرې د USAID او FY لخوا د ورکړل شوو شمیرو په شان دی د FY مرستې د کال 2011 لپاره د دی خبری ساعت تر وخته چمتو شوی نه وی

سرچینه: USAID، سیګار یا د افغانستان دبیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ته ځواب، 20/1/2010؛ .R.4899، د FY ضمیموی اختصاص شوی شمیرو په اړه بیلونه 29/7/2010

3.12 انځور

**د ESF اختصاص شوی شمیری د مالی کال په اساس (په میلیارډ ډالرو)**




یادښت: معلومات شاید د اجنسی د ننه تبادله شوی معلومات هم د ځان سره ولری د غونډې په وسیله د اغیزمنو شمیره میرې د USAID او FYپه ضمیمې لخوا ورکړل شوی دی د FY مرستې د کال 2011 لپاره د دی خبری ساعت تر وخته چمتو شوی نه وی

سرچینه: USAID، سیګار یا د افغانستان دبیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ته ځواب، 20/1/2010؛ H.R. 4899، د FY ضمیموی اختصاص شوی شمیرو په اړه بیلونه 29/7/2010

## د افغانستان د بیارغوني لپاره نړیوالې مرستې

امریکا د متحده ایالاتو د مرسته سربیره، نړیواله ټولنه هم د افغانستان د بیا رغوني لپاره زیات شمیر مرستي او کمک کړی ترسره کړی دی، تر څو د افغانستان په بیا رغونه کښې خپل رول ولوبوی . د افغانستان اسلامی جمهوریت د دی مرستو د یوی برخه څخه د خپلو ماموریتو د معاشاتو د ورکولو لپاره ګټه اخلی.د ځیرنو په هغه راپور کښې چې تیر ربع یا درو میاشتو کښې خپور شوو، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی معلومه کړه چې نه د افغانستان دولت او نه هم نړیواله ټولنه د هغو افغان ماموړینو د شمیر او او نه هم د ورکړل شوو د پیسو د کچه په اړه معلومات ورکولی شی او نه یی هم په کوټه کولای شی.[49] د مالیې وزارت د معلوماتو په اساس چې وایی دا مرستې د امانتی یا قرضی د مرستو له طریقه چې د نړیوالو د مرستو د ورکړی غوره لاره او سیستم ګڼل کیږی نه دی ورکړل شوی.[50]

هغه مرستې چې د امنتی یا قرضی مرستو په چوکاټ کښې ورکول کیږی اول ترلاسه او بیا تقسیم کیږی. د دی ډول مرستو دوه مهم او عمده ډولونه دی چې یو یی د افغانستان د بیارغوني ترسټ فنډ(اعتباری مرسته) او بل هم د افغانستان د قانون او نظم د ترسټ فنډ مرسته ده.[51]




**د INL د مرستو اصطلاحات**

د INCLE او د INL لپاره د منل شوو، ځانګړو شوو او تسویه شوو مرسته په اړه INL راپور ورکړی دی..
ځانګړی شوی: دژمنو شوو لپاره شته پیسي
موکلفات :د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
تسویه شوی: هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د افغانستان دبیا رغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، ۲۰۰۹\۲\۱۰.

## د افغانستان د بیا رغوني د اعتباري بودجې سره مرسته

د ۲۰۱۰ کال د نومبر میاشتي تر ۲۱ پوری، نړیوال بانګ راپور ورکړی چې د افغانستان د بیارغوني د اعتباری

3.15 انځور

د INCLE مرستې،، د پر له پسی ډیریدو په اثر
د یو شی د قیمت د ډیروالی یا د تراکم په پام کښې نیولو سره
( د میلیارډ ډالرو په اساس)




یادښت: : معلومات شاید د اجنسی د ننه تبادله شوی معلومات هم د ځان سره ولری د غونډې په وسیله د اغیزمنو شمیره. شمیرې څرنګه چې DoS او FY 2010 په ضمیمه کښې ورکړی یو شان دی. نوی او تازه شوی معلومات په پرتله چې 30/9/2010 راپور ورکړل شوی وی په ټیټه کچه تصفیه او رسیدلی دی شمیرې د FY 2011 مرستی د یوه دوام لرونکی پریکړه لیک له مخې خپل عملیات ترسره کوی

سرچینه: : DoS، سیګار یا د افغانستان دبیارغوني لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ته ځواب، 10/1/2011؛ .R. 4899، د FY ضمیموی اختصاص شوی شمیرو په اړه بیلونه، 29/7/2010

3.14 انځور

د INCLE مجاز ورکړه د مالی کال په حساب
(په میلیون ډالرو باندی)




یادښت: : معلومات شاید د اجنسی د ننه تبادله شوی معلومات هم د ځان سره ولری د غونډې په وسیله د اغیزمنو شمیره. شمیرې د FY 2011 مرستی د یوه دوام لرونکی پریکړه لیک له مخې خپل عملیات ترسره کوی. د ټول کال لپاره مرستی د خبری راپور د چمتو کولو تر وخته نه وو برابر شوی.

سرچینه: : DoS، سیګار یا د افغانستان دبیارغوني لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی ته ځواب، 20/1/2010؛ H.R. 4899، د FY ضمیموی اختصاص شوی شمیرو په اړه بیلونه، 29/7/2010

### د سیګار پلټنې

په دی ربع یا درو میاشتو کښی، د افغانستان دبیا رغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د نویو تحقیقاتو په اړه اعلان وکړی، دا تحقیقات به د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځاګړی اعتباری فنډ څخه د ځارنې په موخه وکارول شی .لا زیاتو معلوماتو لپاره لومړی برخې ١٣ پاڼه ته ستانه شی.

بودجې څخه ۱۷ فعالې پروژېت تمویل کیږی چې ټول لګښت یی ۸۶۱ میلیون ډالره دی او د هغه جملې ۶۸۳،۲۷ میلیون ډالره مصرف شوی دی.[52] په ۳.۱۶ او ۳.۱۷ شمیرو انځورو کښی د مرستو حالت او مرسته کوونکو په اړه هغه معلومات ښکارندوی کوی چې د ۲۰۱۰ کال د اوکتوبر تر ۲۲ پورې تر سره شوی دی. همدا مرستې د اعتباری بودجه چې د افغانستان د اسلامی جمهوریت تر ټولو لوی عملیاتی لګښتونه او پرمختیایی پروګرامونه جوړوی ترسره کوی.[53]

مرستې په دوو ځانګو باندی ویشل شوی دی- بیرته راګرځیدونکی لګښتونه( RC) برخه او د سرمایه ګذاری برخه. د ۲۰۱۱ کال د جنوری د" د هیواد ددرو میاشتو نوی حالت" د RC کښی د ۲۰۱۰ کال د نومبر تر ۲۱ پورې ۲،۱۵ میلیارډ ډالره مصرف شوی دی .د RC کړکی یا برخه د افغانستان د اسلامی جمهوریت د عملیاتو لګښتونه پوره کوی ځکه چې محلی عایدات په پرله پسی ډول د خپلو اړوندو مصرفو د پوره کولو توان نه لری.[54] او د سرمایه ګذاری کړکی یا برخه د پرمختیایی پروګرامو لګښتونه پوره کوی. د نړیوال بانک د راپور په اساس د سرمایه ګذاری د برخه لګښتونه ډیر لوړ وو او د ۲۰۱۰ کال د نومبر تر ۲۱ پورې ۷۹ فیصدو ته رسیدلی وو.[55]

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم د پلی کولو د اعتباری فنډ سره مرستی

د افغانستان د د امنیت دد ګډی قوماندانی انتقال- د ۲۰۱۰ کال د اوکتوبر د میاشتی د راپور په اساس، امریکا د LOTFA سره نژدی ۵۴۵،۶ میلیون ډالره مرسته کړی.[56] د دی مرستو ډیر برخه د ۱۱۳۵۷۲ د ملی اردو د مسولینو د معاشاتو به ورکړه باندی لګول شوی دی چې د یادی بودجه لپاره یو اصلی ګام جوړوی.[57]

اوس مهال LOTFA د خپل کاری دوری په شپږمه مرحله کښی ده، چې د ۲۰۱۱ کال د جنوری د ۱ نیټه څخه فعال شوی او د ۲۰۱۳مارچ د میاشتی تر ۳۱ پوری غزیدلی.[58]

3.16 انځور

په SY مرسته کوونکو کبنی په کال 1389 د ARTF ونده، د 2010 کال د اکتوبر د 22مه ځخه شروع (د میلیون ډالرو په اساس)




یادښت: د غونډي ځخه د اغیزمن شوو شمیره. په 1389 هجری شمسی کبنی چی د 21/3/2010ځخه 20/3/2011

سرچینه: نړیوال بانک، " ARTF: د مالی چارو په اره د مسول راپور د 2010 د اکتوبر د 22 سره سم لومړی پانه

3.17 انځور

د ARTF ونده په کال 1389 کبني د 2010 کال د اوکتوبر د 22 ځخه شروع د تعهد شوو د ډلي ځخه د ورکړل شوو قصطونه ( د میلیون ډالرو په اساس)




یادښت: د غونډي ځخه د اغیزمن شوو شمیره. په 1389 هجری شمسی کبنی چی د 21/3/2010ځخه 20/3/2011.

سرچینه: نړیوال بانک، " ARTF: د مالی چارو په اره د مسول راپور د 2010 د اکتوبر د 22 سره سم لومړی پانه

# د متحده ایالاتو د دفاع اداري امنيت

پدې درې مياشتو کې، سپينه مانی په افغانستان او پاکستان کې دمتحده ايالاتو د ستراتيژۍ په خپل کلنۍ تبصره کښې خپره کړه. دا تبصره په دوو مهمو موخو تاکيد کوی: د القاعده د خوندي ځالي د منځه وړل، او د طالبانو دا قدرت چې وکولای شی د افغانستان اسلامی جمهوريت دولت را نسکور کړای شی. دا راپور ورکوي چې په بعضي ځايونو کې د القاعده مشرتوب کمزوري شوي دی او د طالبان د تحريک غړي نيول شوي دي؛ اګرڅه دا لاسته روانې "ماتيدونکي او له منځتلونکي بنودل شوي دي. "[59] اداري مسولينو دا په ډاګه کړه چې مونږ به افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) ته دا وړتيا ورکړو ترڅو د ۲۰۱۱ کال په لمړيو کې د امنيتي چارو مشري په غاړه وخلي او "د شرايطو مطابق د متحده ايالاتو د ځواکونو کمول په جولای د ۲۰۱۱ کې. "[60]

د ۲۰۱۰ کال په نومبر کې د شمالي اتلانتيک د تړون سازمان(NATO) د غړو هيوادو مشرانو په يوه اعلاميه کې هم د ۲۰۱۱ لمړيو ته اشاره شوي وه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) او د شمالي اتلانتيک د تړون سازمان(NATO) د يو ګډ ارزوني نه ورسته د افغانانو ته د امنيت د مشري او مسووليت د انتقال لپاره د پيل ټکی وو. د سپيني مانی د تبصري په څير ، د ليزبون اعلاميه هم تاکيد درلود چي دا انتقال به د " شرايط په اساس " وي " نه د جنتري په اساس. "د مشرانو په دې غونډه کې، د شمالي اتلانتيک د تړون سازمان(NATO) مشرانو په افغانستان کې د روان ماموريت په هلکه خپلې ژمنې اظهار کړې او ورانديزنه يې وکړه چې د ۲۰۱۴ کال تراخره پورې افغان ځواکونه به " په ټول افغانستان کې د امنيت پوره مسوليت "په غاړه واخلي..[61]

د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په ۳۱، متحده ايالاتو د امنيت لپاره تقربيا ۲۹.۶۱ بيليونه ډالره تخصيص کړي وو.[62] د دې مالي منابعې اکثر د افغانستان امنيتي ځواکونو مالي منابعو(ASFF) لپاره تخصيص شوي وي او د افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) د جوړولو، تجهيزولو، روزنې، او ساتنې لپاره د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) له لارې برابر شوي وه.[63]

## امنيتي موخې

دې درې مياشتو کې، د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) مطابق، د افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) ځواک ۲۶۵۱۳۷ وه. ۱۴۹۵۵۳ تنه په افغان ملي اردو(ANA) کې او ۱۱۵،۵۸۴ تنه په افغان ملي پوليسو(ANP) کې.[64] سره لدې چې د افغان ملي اردو(ANA) ګمارل شويپرسونلو شميره زياته شوي وه. د افغان ملي پوليسو(ANP) لپاره رد شوه څکه چې کميت په نوي ميتود د افغان ملي پوليسو (ANP) د ګمارل شويو ځواکونو شمير بيا ځلي محاسبه کيږي. مختلف فکتورونه د بيا ارزوني په ګډون چې څرنګه د روزنې لاندې پرسونل او چمتو پرسونل وشميرل شي د ټيټي شميرې موجب شو او د يو نوي ميتود د جوړولو لپاره يوه انګيزه وه.[65] په يوه روانه مالي پلټنه کې ، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د هغې کړنلارې د ارزونې په حال کې دي چې

د افغان ملي پوليسو(ANP) د خپل پرسونل د شميرنې لپاره يو دقيق سيستم جوړ کړي؛ د زياتو معلوماتو لپاره ، لمړې برخه ، پې.۱۵ وګورئ.

### د سيګار پلټنې

افغان ملي ځواکونو ته د تجهيزاتو د جوړولو او ساتنو لپاره د افغان امنيتي ځواکونو تجهيزاتو(ANSF) لخوا يو تمويل شوی پروګرام په خپل مالي پلټنه کې، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ومندله چې، د غټې مالي منابع (په ۲۰۱۲ مالي کال کې ۱۱.۴ بيليونه ډالره) او غټ شمير امکاناتو(تقريبا ۹۰۰برابرشوي يا پلان شوي) د شتون سربيره، د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) د بيارغوني اوږد مهاله پلان نه دي جوړ کړي، چې دا کار به پروګرام د افغان ملی امنيتي ځواکو ستراتيژيو سره د سمون نه غوړلو له ګواښ سره مخ کړی. زياتو معلومات لپاره، د لمړې برخې ۵ پاڼه وګورې.

"''د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) او افغان حکومت .... د شراکت يو قوي پلان منلی دی چې دا پلان به د افغان ځواکونو مشرتابه او واحدونو ته په تکتيکي کچه انکشاف ورکړي، سره له دې چې د انکشاف په وړاندی غټې ستونزې پاتې دي. "

—"د افغانستان او پاکستان کلنی کتنې باندې عمومې نظراچونه"

Sسرچينه: سپنه مانی، " د افغانستان او پاکستان کلنی کتنې باندي عمومي نظراچونه،" ۲۰۱۰/۱۲/۱۶،انلاين لاس رسئ ۱/۷/۲۰۱۱.

د انسجام او بررسی ګډ هئیت (JCMB): د افغانستان په هکله د ژمنو د تطبیق او څارني لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) او نړیوال ټولني ګډه هڅه، چي د ۲۰۰۶ کال د لندن د کانفرانس پایله وه.

۲۰۱۰ په جنوري کي، د انسجام او بررسی ګډ هئیت (JCMB) وویل چي افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د پرسونل شمیره به د ۲۰۱۱ د دسمبر تر ۳۱ پوري به ۳۰۵۶۰۰ تنو ته ورسیږي.[66] ۳.۱ جدول د تیر دري میاشتو نه تر اوسه د امنیتي اهداف په نسبت د افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) د قوتونو تغیر را په ګوته کوي.

## د امنیت مهم ټکي

د متحده ایالاتو د دفاع اداري(DoD) په اساس، په افغانستان کي پرمختیا نا موزونه ده. په کلیدي عملیاتي سا حو کي، لکه د کابل چارچاپیره ساحي او په هلمند کي چیرته چي د ۲۰۱۰ کال په دوهمه برخه کي د ایتلاف ځواکونو قوي حضور درلود، د متحده ایالاتو د دفاع اداري(DoD) د امنیت د تقویه کولو په هکله د متوسط پرمختک راپور ورکړ.[67] د ۲۰۱۰ کال په دسمبر کي د امنیت شورا ته په خپل دری میاشتني راپور کي، د ملل متحد منشي راپور ورکړ چي د حکومت صد عناصرو د هیواد شمالي برخو ته وغزیدل، چیرته چي ورته نړیوال نظامي ځواکونه حضور لري، او په لوړه کچه فعالیتونه لري.[68]

لکه څنګه چي په ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کي د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکي د دري میاشتي راپور کي هم ذکر شوي دي،د ۲۰۱۰ په اګست کي ولسمشر حامد کرزی امر وکړ چي په څلور میاشتو کي ټول ملي او نړیوال امنیتي شخصي قراردادیان(PSCs) به وتړل شي. د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په ۶ کي، دوه اونی مخکي له دي چي  پریکړي عملي کړل شي، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چي ملي او نړیوال شخصي امنیتي قراردادیان(PSCs) به خپل عملیاتونو ته دوام ورکړي، خو د یو تعداد محدودیتونو سره چي د سرکونو د بندولو او پلټنو او کومو کړني چي د افغاني قانون د تنفیذ سره مخالف وی د سرته رسولو څخه هغوی منع کوي.[69]

## امنیتي پیښې

په دسمبر د ۲۰۱۰ کال کي په خپل راپور کي، د ملل متحده منشي وویل چي د په دي دري میاشتو کي د امنیتي حادثو شمیر ۶۶ سلنه وه چي د ۲۰۰۹کال د ورته دوري نه ډیره ده. لاکن د اخیری ملي انتخاباتو څخه ورسته د حادثو شمیره کمه شوه. د حکومت د صد عناصرو لخوا د ښه انفجاري وسایلو کارونه، اختطاف، اود ملکي خلکود وژني په ګډون د نورو امنیتي حادثي. سربېره پردي، د ملل متحد منشي راپور ورکړ چي د موسساتو د کارکوونکو اختطافول او ځانمرګي بریدونه به داوام ولري. د دري میاشتو په جریان کي، د اوسط په توګه په هر دري میاشتو کي دری ځانمرګي بریدونه ترسره کیږي،په اصلي توګه نړیوال نظامي ځواکونه، پولیس او حکومتي چاړواکي هدف نیول کیږي؛ او مغلق ځانمرګري بریدونه هم دوام درلود، چي په اول قدم کي یي نړیوال نظامي اډه په نښه کولی.[70]

د 3.1 جدول

**د امنیت لپاره ستراتیژیک لمړیتوبونه**

| لمړیتوب | اوسني موخې | حالت |
|---|---|---|
| افغان ملي اردو | تر ۲۰۱۰/۱۰ پوري ۱۳۴۰۰۰ ځواکونه<br>تر ۲۰۱۱/۱۰ پوري ۱۷۱۶۰۰ ځواکونه | (تر ۲۱/۱۲/۲۰۱۰ پوري) ۱۴۹۵۵۳ ځواکونه |
| افغان ملي پولیس | تر ۲۰۱۰/۱۰ پوري ۱۰۹۰۰۰ ځواکونه<br>تر ۲۰۱۰/۱۰ پوري ۱۳۴۰۰۰ ځواکونه | ( تر ۲۱/۱۱/۲۰۱۰ پوري ) ۱۱۵۵۸۴ پرسونل |

یادداښت: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.

سرچینې: د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) د ګډې کومندي(IJC)،افغان ملي پولیس، پریسټاټ، ۲۰۱۰/۱۲/۳۰؛ د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A)، د افغانستان بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ډیټا کال ته ځواب ۲۰۱۱/۴/۱؛ د ناټو د روزنو ماموریت ـافغانستان(NTM-A)، د افغانستان بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ډیټا کال ته ځواب ۲۰۱۰/۶/۷.

## افغان ملي اردو

د ۲۰۱۰ کال د دسمبرپه ۲۱، د افغان ملي اروډو ۱۴۹۵۵۳ ځواک ۀ چې د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر ۲۲ نه را په ديخوا ۱۱۳۴۹ زياتوالۍ را غلی ، د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) مطابق. د افغان ملی اردو هدف دا دي چې د ۲۰۱۱ تر اکتوبره ۱۷۱۶۰۰ پرسونل ته او د ۲۰۱۳ تر اکتوبره ۲۰۱۱ پرسونل ته ورسيږي.[71]

د اوسني ټول ټال ۸۵۸۰۴ پرسونل د افغان ملي اردو په شپږو قطعاتو کې، د ځانګړو عملياتو ځواک(SOF) فرقه، د پلا زمېنې ۱۱۱ فرقه، کې ګمارل شوي دي، د ۲۰۱۰ کال د دسمبر ۳۰ د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د ګډي کومندي(IJC) لخوا د دفاع وزارت(MoD) د راپور په اساس.[72] د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر څخه را پديخواه دا يو کم زياتوالي (۴۴۵) دي.[73] د افغان ملي اردو شپږ قطعاتو، د ځانګړو عملياتو ځواک(SOF) فرقې، او د پلا زمېنې د ۱۱۱ قطعې د پرسونلو تازه تشکيل چې د دفاع ورزات څخه منظور شوي ده، ۹۶۶۰۴ تنه دي.[74]

خو بيا هم، د ګمارل شويو ځواکونو شمير د هغو ځواکونو دشمير سره چې په دندو کې حاضر دي مساوي نه دي. لکه چې په ۳.۱۸ شکل کې ښودل شوي دي. هغه ځواکونه کوم چې د رخصتي پرته ناسوب(AWOL) دي د ځواکونه چې په دنده لپاره موجود نه دي ډيره غټه سلنه جوړوي. لکه څرنګه چې د ۳.۱۹ په شکل کې ښودل شوي دي. د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د ګډي کومندي(IJC) مطابق، د افغان ملي اردو د حاضرى وړانديز کوي؛ د ۲۰۱۰ کال د نومبر مياشته کې، د فاع وزارت د افغان ملي اردو کومندانونو ته واک ورکړ ترڅو د منفي کړنو د مخنيوي او د حاضري د زياتولو لپاره ګامونه پروته کړي.[75]

د ۲۰۱۰کال د نومبر په مياشته کي، د افغان ملي اردو ۱۵۵ کنډکونه درلودل، چې د ۲۰۱۰ کال د مي د مياشتې په نسبت ۴۲ زيات شوي دي،د کمندانانو د ارزيابي وسايلو د اداري(CUAT) د تازه راپور په اساس چې د نړيوال

**تشکيل:** د کورنيو چارو وزارت او د دفاع وزارت لخوا کارول شوي د اړين تجهيزاتو او پرسونلو لستونه، کوم چې په دې حالت کې افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو ته د مسئولو کارکوونکو پوستونو او تجهيزاتي توکو تفصيلات ورکوي. (دا کلمه په درى کې د "تشکيل" په معني ده.)

سرچينه: جي اې اوو، جي اې اوو -۰۸ ۶۶۱،" د افغانستان امنيت،" ۶/۲۰۰۸، ۱۸ پاڼه.

3.19 انځور

د افغان ملی اردو د مسولينو حاظرتيا ټاکل شوی اجزا
د 2010 کال د ديسمبر په دريشمه (فيصدی)




يادښت: AWOL= د رسمی رخصتی پرته غيرحاضر PDY= په دنده کښی حاظر

سرچينه ISAF-IJC, ANA PERSTAT , 12/30/2010

3.18 انځور

د 2010 کال د ديسمبر په دريشمه د افغان ملی اردو ځانی پياوړتوب




يادښت: د ګمارل شوو خو غيرحاظر په ډله کښی صحی کارکوونکی، په روزنو کښی مصروف او هغه چی رسمی رخصتی يی اخيستی او هغه چی بی له کمی رسمی رخصتی خپل کار ته ندی حاظر شوی شامل دی

سرچينه: ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 12/30/2010.



د ۲۰۱۰ کال په نومبر کې د پکتيکا ولايت د کلارک کمپ د نويو عسکرو د روزنې په کمپ کې د افغان پوخ عسکر د وسلود کاروني روزنه ترلاسه کوي. په دې درې مياشتو کې، د ۲۸۵۰۰ څخه زيات د افغان ملي اردو پرسونل د يو هراړخيزه روزنيز پرګرام څخه فارغ شوي دي، چې د افغان امنيتي خواک د تجهيزات لخوا تمويل شوي وو. ( دايساف تصوير، اس اس جي رومين بيولينيتي، فرانسوی اردو)

امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د ګډي کومنډي(IJC) لخوا برابر شوی وو. د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر ، د کمندانانو د ارزيابي وسايلو د اداري(CUAT) د دوری نه را پدې خوا، دو کنډکونه يو د پلازمېنې د ۱۱۱ قطعي او بل هم د دوسوه پنځمي قطعي څخه د مستقلانه عملياتو ورتيا وښودله. سربيره پردي، ۳۵ قطعاتو د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر نه تر نومبر زياتيدونکي چمتولې وښود.[76]

د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د ګډي کومنډي(IJC) په اساس، د افغان ملي اردو په ۲۰۲ غټو عملياتونو او ۱۸۱۶۹ ګڅمو کې د ۲۰۱۰ کال د نومبر د ۱۵ څخه تر ۲۱ د دسمبر پوري ګډون کړي دي.[77]

## د افغان ملي اردو روزنې

په دې درې مياشتو کې، د افغان ملي اردو ۲۸۵۱۵ پرسونل د ASFF لخوا تمويل شوي د يو هراړخيزي روزنيزي پروګرام څخه فارغ شول ، د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس. د دغي شميري څخه ۳۵۱۴ تنه د ټيټو رتبو د افسرانو د کورس څخه، ۹۱۸ تنه د نويو افسرانو د روزنې او يا دپخوانې افسرانو د مهارتونو د پراختيا د کورس څخه فارغ شول. د دغې درې مياشتو د فارغينو د نيمائي څخه زياتو کسانو د ابتدائي محاربي روزنيز پروګرام بشپړ کړي دي، لکه چې په ۳.۲۰ شکل کي ښودلئ شي. د دغو پروګرامو بعضو لځانه سره د ليک او لوست روزنه هم لرلې. د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس، درې قراردادیانو افغان ملی پوليس او افغان ملي اردو ته د ليک او لوست روزنه ورکوله. دو يي افغانانو لخوا وو؛ دريم يي ، OT د مشکلاتو د حلولو روزنه وه، افغاني فرعي قراردادیانو به يي کارول. دا قراردادونه د پيل کال احتوا کړ ( د ۲۰۱۱ تر سپټمبر) او څلور يوکلن انتخاب يي درلود، د ۲۴۳ ميليون ډالرو په ارزښت وړاندوني شوي بودجې سره. د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) اظهار کړ چې د افغان ملي اردو موخه ده ترڅو د ۲۰۱۰ کال د دسمبر مياشتې پوري ۳۰۰۰۰ پرسونل ته روزنه ورکړي او د ۲۰۱۱ کال د جولای مياشتې پوري ۶۰۰۰۰ پرسونل وروزي.[78]

د ناټو د روزنو ماموريت ـافغانستان(NTM-A) په اساس ،په نومبر کې، د ۱۳۰۰ څخه زيات د افغان ملي اردو عسکر د ابتدائي حربي روزنو څخه په کندهار کې فارغ شول. دا فارغين به سوليرو ولايتونو ته لکه ارزګان،

3.20 انځور

د افغان د ملی اردو د پروګرامونه څخه فارغ شوی




يادښت: د 30/12/2010 فارغينHMMWV = د پراخو موخو لپاره د لور سرعت لرونکی موټر.

الف. د ساحوی غونډو په مرکز، د واحدونو بنه، تجهيز او اساسی جمعی روزنيزو پروګرامونو په لاره اچول.

ب: د مخاليفينو سره د مبارزې په روزنيز پروګرام کښې به هم د ايتلافی قواوو (ملکی او نظامی) او هم د افغان ملی اردو استازی ګډون ولری

سرچينه: سيګار يا د افغانستان د بيا رغوني لپاره ځانګړی عموی پلټونکی د 4/1/2010 غوښتني ته د NTM-A/CSTC-A ځواب

هلمند، کندهار،او زابل ته وستول شي. د ابتدائی محرابو روزنه یو ۸ اونیز تقویتي کورس دی په کوم کې چې زده کوونکي د نظامي تمرین، د وسلو سره اشنائي، تکتیکونه، فزیکي تمرینونه، او لیک او لوست په هکله درسونه ترلاسه کوي.[79]

د ناټو د روزنو ماموریت ــافغانستان(NTM-A) همدارنګه وویل چې د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۴، د ۴۵۶۰ په شمیر نارینه او ښځو د افغانستان د ملي نظامي اکادمی د ۲۰۱۵ کال د صنف لپاره خپلو کې سایلي وکړه. دا اکاډمي چې په کابل که موقعیت لري، د متحده ایالاتو د نظامي اکادمی نه ورسته مجهز او مډرنه جوړه شوه.[80]

د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) د ګډي کومندي(IJC) لخوا برابر کړي شوي د کمندانانو د ارزیابي وسایلو د اداري(CUAT) راپور په اساس، د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په اتمه ۲۹۰ قطعي یو د انجنیري پوهنتون د بلخ په ولایت کې پرانیست، ترڅو افغان ملي اردو انجنیرانو ته د چاودونکو توکو د مندي او خنثی کولو، او بنستون د تخریباتو د ترمیم په اړه روزنه ورکړي. برخیره پردي، د ناټو د روزنو ماموریت افغانستان(NTM-A) د استادانو لخوا دا اخري صنف وو. د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) د ګډي کومندي(IJC) بیان کړل، راتلونکي کورسونه به د افغانانو لخوا تدریس کیږي.[81]

## ښځې په افغان ملي اردو کې

د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) د راپور په اساس، د تیر دري میاشتو نه تر اوسه د هغو ښځو شمیر چې په افغان ملي اردو کې خدمت کوي ، تغیر نه دي موندلی. د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په ۳۱ کې ۲۹۹ ښځو ـــ۱۹۵ افسراني او ۱۰۴ د تیټورتبو افسراني شتون درلود. د ۱۶ ښځینه نومندانو د افسری روزني صنف د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په ۱۸ پیل شو. د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) د ګډي کومندي(IJC) په اساس، د افغان ملي اردو پالیسي داده ترڅو په پوره اندازه ښځینه پرسونل وګماري ترڅو د دوي دوي د پروژې په ختم کې د ځواکونو ۱۰ سلنه جوړه کړي.[82]

## د افغان ملي اردو اساسی بنستونه

د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس، په دا دري میاشتو کې، ۱۴ نویو بنسټیزو پروژو ته ( د ۱۳۰.۵ میلیون ډالرو په ارزښت ) تخصیص ورکړ شو، ۵۳ پروژو کار روان ده ( د ۱.۱ بیلیونو ډالرو په ارزښت )، ۲ تکمیل شوي دي ( د ۷.۱ میلیون ډالره)، ۶ نورو یې لغوه شوي (۹۷ میلیون ډالر). دا پروژو تجهیزات او ودانی برابرولي کوم چې د افغان ملي اردو د حمایت، بیارغوني او عملیاتو لپاره اړیني وي. نظامي اډې، قرارګاوې، د روزني وداني، ګدامونه او زیرمتونونه، او د ساتني تجهیزات په دغو پروژو کې شامل وو.[83]

په غتو پروژو کې په پکتیا کې د افغان ملي اردو لپاره د اډی جوړول، کوم چې ۸۸.۷ میلیونه ډالر لګښت لري او د مهال ویش له مخه باید د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر تر ۳۰ پوری بشپړ شي، او په کابل کې د افغان دفاع پوهنتون جوړول کوم چې ۸۲.۸ میلیونه ډالره لګښت لري او تعین شوي ده چې باید د ۲۰۱۱ کال د نومبر تر ۱۰ بشپړ شي.[84] په دي دري میاشتو کې د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی په کابل نظامي روزنیز مرکز کې د بنسټیزو پروژو او د افغان دفاع پوهنتون د جوړولو قراردادونه په هکله نوي مالي پلټني اعلان کړي. د لا زیاتو معلومات لپاره په لمړی برخه کې ۱۲ پانه وګوري.

د آی تي تي شرکت ورسته له هغې چې د ۲۰۱۰ کال په جولای کې د متحده ایالاتو د نظامي انجنیرانو د اداري(USACE) لخوا د کاروني د اداره کولو اوساتنو دو قراردادنو ورکړي شول، د ۲۰۱۰ کال د نومبر په اوله نیټه، په ۳۴ ولایتونو کې د افغان ملي اردو د ۱۱۰ تاسیساتو د کاروني او ساتني ټول مسوولیت په غاړه واخیست. دو قرار دادونه یو په شمالي زون کې د تاسیسات لپاره، او بل په سولي زون کې د تاسیسات لپاره چې پنځه کلن دوري کې تقریبا ۸۰۰ میلیونه ډالره ارزښت لري. دوی د افغان ملي پولیسو مرکزونه هم احتوا کوي. د قرار داد یو برخه دا هم وه چې د آی تي تي شرکت به افغاني کارکونکو ته د تاسیساتو د مدیریت، او دي نلدواني، نجاري او برقی کار په کډون د کسبونه روزنه ورکوي. د آی تي تي شرکت په پام کې لري ترڅو په پیل کې ۴۰۰۰ کارکونکي استخدام کړي، چې تقریبا ۸۰ سلنه د هغو به ځای ګمارشوي افغانان وي. د متحده ایالاتو د نظامي انجنیرانو

### د سیګار پلټني

د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره تقریبا ۹۰۰ تاسیساتو رغوني او ساتني د پروګرام په مالي پلټنه کې، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ومندله چې د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) د بیا رغوني یو اوږد مهاله پلان نه دي جوړ کړي کوم چې په ډاګه کړي چې د تاسیساتي پروژې څرنګه د افغان امنیت د اهدافو سره سمون خوری، د اوسني تاسیساتو د ورتیاو نواقص په ګوته کړي ترڅو د امنیت اهدافو سره سمون وخري، او وارزوي چې کوم دول پلان شوي تاسیسات به د دغو نواقص د منځه وړلو لپاره مرسته وکړي. د زیاتو معلومات لپاره د لمړي برخې ۵ پانه وګورئ.

اداريِ(USACE) په اساس، د افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) د تاسيساتو شمير تقريبا په مياشت کې د ۱۰ پر نسبت زياتوالي مومي. دنويو تاسيساتو د پرانيستو سره سم به د آی تي تي شرکت به هغوي د کاروني او ساتني مسوليت په غاړه واخلي.[85] د کاروني او ساتني د قرار دادونو نظارت د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱ مالي کال د پلټني د پلان يوه برخه ده؛ د زياتو معلوماتو لپاره دې لمړي برخې ۶ پانه، وګوري.

## د افغان ملي اردو تجهيزات

د ناټو د روزنو ماموريت ـافغانستان(NTM-A)/ ، د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس ،د ۲۰۱۱ کال د جنوری په ۵، د شمالي اتلانتيک تړون سازمان (NATO) او نړيواله ټولنه د افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) په ۴۵۰۰۰۰ وسلو او ۵۰ الوتکي سنبال کړ. د ائتلاف قوواو لاندي تجهيزات وپلورل او برابر کړل:[86]

- لکه ام ـ۱۶ ډوله ټوپک، ۹ ملي متر توپانچي، د ډول ډول اهداف لپاره د قوي ټيرونو لرونکي موټر(HMMWVs)، او څپک تکتيکي موټر
- الوتکي، لکه سي ـ۲۷ ګارګو طياري او آم اي ـ۱۷ چورلکي.
- اختصاصي تجهيزات، لکه د په شپه کي ليدونکي دوربينونه او راديوګاني

په يو روانه مالي پلټنه کي، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د متحده ايالاتو لخوا د افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) ته برابر شويو ترانسپورټي وسايلو د جوابدهي بيا کتنه کوي.

د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس ، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د ۱ نه د دسمبر تر ۳۱ پوري، افغان ملي اردو ۳۸۳۵ وسلي، ۳۹۲ ټرانسپورټي وسايل، او ۱۳۱۶ راډيوګاني چي مجموعي ارزښت يي ۴۱۰ ميليون ډالره کيږي، ترلاسه کړل. چي د افغان ملي اردو لخوا ترلاسه شويو زياتره تجهيزات د متحده ايالاتو څخه راخلي ، د افغانستان امنيتي ځواک تجهيزات له لاری تمويل شوي او د اف ام اس سوډو لخوا پلورل شوي دي. د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان (CSTC-A) په اساس، بعضي مخکني Warsaw ډوله اسلحي تراوسه په بلغاريا، اوکراين او بوسنيا کي جوړيږی، لاکن دي دغو اسلحو جوړيدل د متحده ايالاتو پوځ د قراردادونو د دفترونو لخوا ورکړي شوي قراردادونو له لاري ترسره کيږي. د افغان ملي اردو د تجهيزاولو نور ميکانيزمونو يا پروسي کي ، کارس ليولنګ ( د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو ترمنيځ) او د زياتو دفاعي مادو پروګرام او د نورو هيوادو لخوا اعانې شامل دي.[87]

د 3.2 جدول

**افغان ملي اردو ته ورکړي شوي وسلې، ټرانسپورټي وسايل، او مخابرې.**

| د دري مياشتو ختم ۲۰۱۰/۱۲/۳۱ | د دري مياشتو ختم ۲۰۱۰/۹/۳۰ | د تجهيزاتو ډول |
|---|---|---|
| | | وسلې |
| 2,857 | 4,844 | ايم ۱۶اِيِ۴ ډوله ټوپک |
| 978 | 1,763 | نوري وسلې |
| | | ټرانسپورټي وسايل |
| 340 | 1,041 | سپک او متوسط ډوله تکتيکي موټر |
| 52 | 154 | زيرِيداره ايچ ايم ايم ډبليو وی اِي |
| | | مخابرې |
| 1,168 | 2,254 | ډير لوړ فرکونسی لرونکي ډوله مخابري بي |
| 148 | 187 | لوړ فريکونسي ډوله مخابري سي |

الف. زيريداره ايچ ايم ايم ډبليو ويس کي ايم۱۱۵۱، ايم ۱۱۵۲ او ايم ۱۱۵۲ امبولانس ماډلونه شامل دي.

ب. ډير لوړ فرکونسی لرونکي (VHF) مخابرو کي د موټرولا او ای سي وو ايم مختلف ډوله مخابري سيستمونه شامل دي.

ج. لوړ فريکونسي(HF) مخابرو کي د کوډان مخابری مختلف سيستمونه شامل دي.

سرچيني: د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A)، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ډيټا کال په وړاندي ځوابونه، ۲۰۱۰/۴/۱۰ او ۲۰۱۱/۴/۱.

**سوډو د بهرنيو نظامي خرڅلاو:** د بهرنيو نظامي خرڅلاو(FMS) پروګرام سره توافق، د متحده ايالاتو د دفاع اداريِ(DoD) لخوا د دولت نه دولت ته د متحده ايالاتو دفاعي تجهيزاتو، خدماتو،او روزنو خرڅلاو ميتود. لکه د بهرنيو نظامي خرڅلاو(FMS) په قراردادي ډول کې، د سوډو بهرنيو نظامي خرڅلاو(FMS) تدارکات د دفاعي امنيت د انسجام اداريِ لخوا نظارت کيږي. د بهرنيو نظامي خرڅلاو(FMS) قراردادي ډول نه په توپير، د متحده ايالاتو د دفاع اداريِ(DoD) د افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) د روزنې او تجهيز لپاره د کانګرس لخوا د افغان امنيتې ځواک تجهيز ته تخصيص شوي مالی منابعو څخه وسله اخلي.

سرچينې: جې اِيِ اوو ۰۹ـ۲۶۷، " د افغانستان د وسلو ځوابدهي، " انلاين لاسرسئ ۲۰۱۰/۱۰/۱۴؛ ډي اس سي اِي، بهرنی نظامي خرڅلاو انلاين لاسرسئ ۲۰۱۰/۱۰/۱۶.

لکه چې د ۳.۲ جدول کې ښودل شوي دي، په تولو کټګوريو کې، په دې درې مياشتو که د تير په نسبت لږ تجهيزات افغان ملي اردو ته ورکړل شوي دي. د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) ګډې کومنډې(IJC) د افغان ملي اردو د رغوني څخه افغان ملي پوليسو روغوني ته د پام تغير په ګوته کوي.[88]

## افغان ملي پوليس

د متحده ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) په اساس، د افغان ملي پوليسو معاشونه، د خوراک مصرف، او نور مهم پروژې د افغانستان لپاره د امانتي پانګو سپارښته او قانون(LOTFA) په اساس د بياورکړی له لاری د مالي وزارت ته ورکول کيږي. د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A.90) په اساس،تيرو درې مياشتو کې، د افغانستان لپاره د امانتي پانګو سپارښته او قانون(LOTFA) د افغان ملي پوليسو ۱۱۳۵۷۲ سرتيرو ته معاشونه ورکړل.[89] د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر کې، د افغانستان لپاره د امانتي پانګو سپارښته او قانون(LOTFA) ته د متحده ايالاتو اعانه تقريبا ۵۴۵.۶ ميليون ډالره ده.[90] د افغانستان لپاره د امانتي پانګو سپارښته او قانون(LOTFA) په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره په دی راپور کښی د" مرستو د حالت"برخې ته ستانه شی.

د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د ګډې کومنډي(IJC) په اساس، د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۲۱ کې، د افغان ملي پوليسو ټول ټال ځواک شمير ۱۱۵۵۸۴ کسان وو.[91] ۴۶۰ څخه زيات د پوليسو واحدونه د ۳۶۰ څخه زياتو د پوليسو په مرکزونو کې خدمت کوي. د پوليسو دغه واحدونه د ائتلافي ځواکونو لخوا روزل شوي دي او د نبنه ويشتلو، جرمي پلټنواو ګرويګونو، د جرمي توکو د ازميني، او د ترافيک په برخه کې روزنه ترلاسه کړي ده.[92] افغان ملي پوليس کې افغان يونفارم پوليس(AUP) ،افغان سرحدي پوليس (ABP) او افغان ملي ملکي پوليس(ANCOP) شامل دي. د افغان ملي پوليسو د ځواک اجزاء د ۲۰۱۰ کال د نومبر د ۲۱ د ارزوني په اساس، لکه چې د ۳.۳ جدول کې ښودل شوي ده.

د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس، د افغان ملي پوليسو ګمارل شويو ځواکونو دشمير د تعينولو پخواني ميتود، چې د کورنيو چارو د وزارت لخوا ورکړل شويومعلومات په اساس وو، د مبالغې څخه ډکه پايله يې درلودله. د دغې پايله د لايلونو له جمله څخه، ، د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) وويل، چې د ۲۴ مياشتو د راپور ورکولو د دورې په جريان کې (د ترافيکو، اوروژني او نجات، طبابت، روزني / تعليمات، د استخبارتو سره مبارزې، د مخدره توکو سره مبارزه، استخبارات، او د تروريزم سره د مبارزې واحدونه پروسونل) مربوطه د ۱۰۰۰۰ څخه د زياتو افغان ملي پوليسو د دوځلې شميرل وو. سربيره پر دې، ، د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) بيان کړل چې د افغان ملي پوليسو نهائی ځواک تقريبا ۹۰۰۰ "د تشکيل څخه زيات "پرسونل( دغه شمير د افغان ملي پوليسو د منل شوي ځواک څخه ډير دي) ، نوي ګمارل شوي افراد

**کارس ليولنګ :** په صحنه کې د ستراتيژيک او عملياتي کچې، د مواد د تغيرولو پروسې د يو نظامي عنصر څخه وو بل ته ترڅو د هغې لوړ لمړيتوب سره سمون وخري، د کمندانانو د لوجستيکي اختيارتو کې. د کارس ليولنګ پلانونه بايد د مشخصو بياورکړې مشخص کړنلارې شامل کړي.

**د زيات دفاعي مواد:** a د دفاعي امنيت انسجام ادرې لخوا يو ادراه شوي پروګرام. د ۱۹۶۹ کال د بهرنيو مرستو قانون او د وسلو د صادرولو د کنترول قانون کې د تاسيس شوی واک په اساس، د دفاع واضح کړي دي چې د پوځ د لاسرسئ په څير بهرنيو دولتونو يا نړيوال سازمانونو ته هم وړاندي کيدي شي البته د متحده ايالاتو ملي امنيت او د بهرني پاليسي د اهدافو په حمايت کې.

سرچينې: د متحده ايالاتو د دفاع اداري(DoD)، د نظامې لغاتو دکشينري، انلاين راسرسئ /۱۲/۷۲۰۱۰؛ ډي اس سي اِې، زياتې دفاعي مواد، انلاين راسرسئ ۲۰۱۱/۱۳/۱.

د 3.3 جدول

**د اې اِن پي خواک قوت، د ۲۰۱۰ کال د نومبر ۲۱مه.**

| | منظور شوی (تشکيل) | د تشکيل پوستونو ته ګمارل شوي | د تشکيل پوستونو ته نه دي ګمارل شوي |
|---|---|---|---|
| د افغان ملي پوليس ( ټول ټال ځواک : (115,584 | 122,000 | 106,448 | 9,136 |
| د افغان ملی پوليس د اجزاءو تخصيص | | | |
| اِې يو پي | 71,018 | 61,777 | 4,418[b] |
| اِې بي پي | 20,689 | 18,994 | — |
| افغان ملي ملکي پوليس | 11,276 | 6,720 | — |
| نور واحدونه | 19,017[a] | 18,957[a] | 4,718[b] |

يادداښت: --- = موجود ندي.

الف. د کورنيو چارو وزارت قرارګاو، د جرم ضد، روزني، د مخدره توکو سره د مبارزې، لوجستيکې، طبي، اوروژني، او ګمروکاتو په واحدونو کې مقرر شوي پروسونل، شامل دي؛ شميرې د افغان ملي پوليسو منظور شوي او ګمارل شوي مجموعي ارقامو او د افغان ملي پوليسو د هر جز د منظور شويو او ګمارل شويو د مجموعي ترمينځ توپير په اساس ده.

ب. د تشکيل نه علاوه او روزني ته نوي شامل شوي زده کوونکي شامل دي، مګر ۷۶۰۵ تنه د تشکيل نه پرته پرسونل چې هغه واحدونو ته کوم چې د نورو منابعو څخه تمويلږي، ګمارل شوي دي يا افغان خلکو ساتني ځواک ته ۷۶۱ تنه ګمارل شوي شامل نه دي.

سرچينې: ايساف، پريسټاټ، ۲۰۱۰/۴/۱۰؛ د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د ګډې کومنډي(IJC)،د افغانستان بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ډيټا کال ته ځواب

او روزنكي، له شمير يستلي وو.[93] په يو روانه مالي پلټنه کې، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د افغان پوليسو لخوا د پرسونل د شميرني جوړ شوي صحيح سيستم ارزوي؛ د زياتو معلوماتو لپاره د لمړی برخي ۱۵ پاڼه، وګوري. د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د ګډي کومندي(IJC) په اساس، د افغان يونفارم لرونکو پوليسو ۳۳ سلنه پرسونل او د افغان سرحدي پوليسو ۲۳ سلنه کنډکونو د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر نه تر نومبر پوري خپل چمتووالي که زيات والی اوښود. برخيره پردي، د افغان ملي پوليسو څلور واحدونه په مستقل توګه عمليات ترسره کوي.[94] د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د ګډي کومندي(IJC) په ډاګه کړ چې د افغان ملي پوليسو د جوړوني او ساتني په وړاندي مشکلات عبارت دي، په دنده کې کم حاضريدلو ميزان، د ګمارلو متناقضه او متغيره پروسه، او د ناروزل شويو پرسونلو غټه کتله. د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) ګډي کومندي(IJC) وويل چې د حل ممکنه لاري کې د راپور ورکولو او د دندو ته د حاضريدو د کچه روږولو لپاره د پروسي بهترولي، د دي تضمينول چې د افغان ملي پوليسو ګمارل د شفافيت د معيارتو سره سمون لري، او د اصلاحاتو روزنيزو هڅو ته دوام ورکول، شامل دي.[95]

## د افغان ملي پوليسو روزنه

د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس، د افغان ملي پوليسو ۹۰۶۶ پرسونل د روزنيزو کورسونو څخه فارغ شوي دي؛ د هغوي د جملي څخه ۳۸۲۶ تنو د افغان يونفارم لرونکو پوليسو د ګرځنده پوليسو ابتدائی کورس بشپړکړ او ۱۹۵۳ د افغان ملي پوليسو د افسرانو دري کلن کورس څخه فارغ شول، لکه چې د دغي دري مياشتو د فارغينو په ۳.۲۱ شکل کې ښودل شوي دی.[96] امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په ډاګه کړ چې ۵۰۳۳ تنه افغان يونيفارم لرونکو پوليسو ته، ۱۵۰۶ تنه افغان سرحدي پوليسو ته او ۱۲۶۳ ته افغان ملي ملکي پوليسو ليکو ته وګمارل شول.[97]

د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس،د ۲۰۱ کال په اکتوبر کې، د افغان ملي پوليسو ۱۷۵۳۳ تنه پرسونل د ليک او لوست روزني لاندي وو. لکه څرنګه چې مخکي ذکر شول، دري قراردادیان افغان ملي اردو او پوليسو ته د ليک او لوست روزنه ورکوي؛ دوه يي د افغان لخوا دي او دريم يي بيا افغاني فرعي قراردادیان کاروي. دا قراردادونه دي پيل يو کال احتوا کوي (د ۲۰۱۱ کال تر سپتمبره) او د ۲۴۳ ميليونه ډالرو تخمين شوي بودجه سره ، يو کلن څلور انتخابه لري. د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) بيان کړل چې د افغان ملي پوليسو هدف دادي چې د ۲۰۱۰ کال تر دسمبره ،۲۰۰۰۰ پرسونل تر روزني لاندي ولري او د ۲۰۱۱ تر جولای پوري ۴۰۰۰۰ تنه تر روزني لاندي ولري.[98]

د 3.21 انځور

د افغان ملی پولیسو د فارغینو پروګرامونه




سرچینه: سیګار یا د افغانستان د بیا رغوني لپاره خانګری عموی پلټونکی د 4/1/2010 غوښتني ته د NTM-A/CSTC-A خواب

د ناټو د روزنو ماموریت ـافغانستان(NTM-A)/د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس، د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په اوله، د روزني په مرکزي مرکز کي د افغان ملي ملکي پولیسو ۳۹۵ تنو پرسونلو ۱۶ اونیزه درس بشپړ کړ. دا روزنه د د افغان ملي پولیسو د استادانو په مرسته د ایټالیایي کرابینیري لخوا په لاره چول شوي وه.[99]

## د افغان ملي پولیسو لیک او لوست (سواد)

د افغان ملي پولیسو د پرسونل په منیځ کي د لیک او لوست زده کول د یو مشکل په توګه پاتي دي. لکه څرنګه چي د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی په دري میاشتني راپور کي د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کي په ډاګه شوي وو، د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) د تصادفي ازموینو او نمونه اخستلو څخه تخمین کړ چي د افغان ملي پولیسو ۴.۵ سلنه باسواده دي.[100] د د ناټو د روزنو ماموریت ـافغانستان(NTM-A) په اساس، د ټولو ځواکونو د سواد ارقام موجود نه دي؛ سره له دي، د نومبر په میاشته کي د افغان ملي پولیسو نویو ګمارشویو پرسونل ته په لاره اچول شوي ازموینه وښودل چي د یواځي ۲.۲۴ سلنه باسواد دي.(۱۷۴ نویو ګمارل شویو پولیسو د برې نمري تر لاسه کړي). عمومي هدف دا دي چي د افغان ملي پولیسو ټول پرسونل ( د افغان پوهي د معیار په اساس) د دریم صنف د لوستلو وړتیا ولري؛سره له دي، چي تراوسه دغي هدف ته د رسیدو وخت نه دي تعین شوي.[101]

د افغان ملي ملکي پولیسو غړي، د افغان ملي پولیسو نخبه واحد باید باسواده وي. لکه څنګه چي د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی په دري میاشتي راپور کي د ۲۰۱۰ کال داکتوبر په میاشت کي په ډاګه شوي وه، د افغان ملي ملکي پولیسو ۲۴۲ تنو پروسونل نمونه دا ښیي چي د ټول یونټ ۵ سلنه باسواده ده. په نومبر کي د افغان ملي ملکي پولیسو ۱۴۵۶ نوي ګمارل شویو پولیسو څخه ازموینه واخستل شوه؛ ۴ نویو ګمارل شویو د کامیابی نمرې تر لاسه کړي ۰.۲۷ سلني کچه. د ناټو د روزنو ماموریت ـافغانستان(NTM-A)، د افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) د اکثرو روزنو مسول د ناټو ماموریت، په دي اخرو وختو کي افغان ملي ملکي پولیسو ته داخلیدل تګلاره اصلاح کړ. نمیه باسواده نومندان (هغه چي د لمړي ټولګي په کچه لوستلي شي) اوس کولاي شي چي افغان ملي ملکي پولیسو سره یوځای شي، مګرترڅو چي دځلور اوني تقویتي کورس بشپړ نکړي او د دوهم ټولګي د لوستلو وړتیا پیدا نکړي، نشي کولاي د عملیاتي ځواک ته داخل شي. برڅیره پردي، د افغان ملي ملکي پولیسو لپاره د سواد روزنه اوس ۱۴ اونیو روزنیز کورس ته تغیر مندلی، ترڅو تضمین کړي چي دوي کولای شي د دریم ټولګي په کچه لوست وکړي. [102]

د ناټو د روزنو ماموریت ـافغانستان(NTM-A) په اساس، د ۲۰۱ کال په نومبر کي د افغان ملي اردو ۱۷۵۵۳ پرسونل د د لیک او لوست زده کړي په روزنه بوخت وو،چي د ۲۰۱۰ کال په دسمبر کي د ۲۰۰۰۰ شمیر هدف ته نژدي کیدو په حال کي وو. اټکل کیری چي د ۲۰۱۱ کال تر جولاي پوري به د افغان ملي پولیسو ۴۰۰۰۰ پرسونل ته د سواد روزنه ورکړي شي.[103] د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کي، د لیک او لوست د روزني لپاره یو قرارداد په لاس کي ونیولي شو، ترڅو د افغان ملي پولیسو تقربیا ۷۰۰۰۰ پرسونل ته د روزني غوښتنو سره سمون ولري. د ۲۰۱۰ کال په نومبر کي، د ناټو د روزنو ماموریت ـافغانستان(NTM-A) د افغان ملي پولیسو ته د لیک او لوست د روزني لپاره د ۷۶۵۰۰۰ ډالرو ژمنه وکړه، چي د هغي څخه ۷۸۰۰۰ ډالره د افغان ملي ملکي پولیسو لپاره په خاص توګه بیله شوي وه. لکه څنګه چي د ناټو د روزنو ماموریت ـافغانستان(NTM-A) لخوا راپور ورکړ شوي دي، د ټولو افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) د روزنیزو پروګرامو لپاره اټکل شوي پنځه کلن بودجه تقربیا ۴۸۷ میلیونه یورو دي (تقربیا ۷۵۲.۸ میلیونه ډالره).[104]

## ښځي د افغان ملي پولیسو په لیکو کي

د ۲۰۱۰ کال د دسمبرپه ۳۱ کي ۱۲۴۱ ښځي په افغان ملي پولیسو کی خدمت کاوو ـــ۵۰ تنه زیات له هغه څه څخه چي په تیر دري میاشتو کي د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) راپور ورکړي وو:[105]

- ۱۸۵ افسران
- ۴۳۰ ان سي اوز
- نظامي خدمت ته ۳۶۲ دوا طلب ښځي
- ۲۶۴ ملکي خلک

د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په اساس، د داخله چارو وزارت د جندر د چارو ریاست یو کاري ګروپ جوړ کړ ترڅو ۱۰۰۰۰ ښځینه پوستونه په تشکیل کي ۲۰۱۱ کال (۱۳۸۹ هـ ش) د پسرلي پوري،زیات کړي. همدارنګه، کله چي د افغان ملي پولیسو د استخدام فرمان د ۲۰۱۰ کال( د ۱۳۸۹ هـ ش) په

پسرلي کي جوړ شو، نو د ښځو د استخدام ریاست هم په کي شامل کړي شو. کله چي د ښځينه بست لرونکي تشکيل پوستونه اعلان شي، نوي رياست به نوي اهدافو ته د رسيدو په خاطر د استخدام کمپاين به په مخ يوسي. د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په ډاګه کړه چي د کورنيو چارو وزارت هدف دا دي چي د ۲۰۱۴ کاله پوري ۵۰۰۰ ښځي په افغان ملي پوليسو کي ولري.[106] د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) او د کورنيو چارو وزارت د تشکيل د بياکتني په موخه يو پلان جوړ کړي دي، ترڅو په ملي توګه د استخدام حقيقي شرايط وڅيري. د دې کار لپاره به د ښځينه پوستونو لپاره د هر تشکيل واحد په دقيق توګه تحليل او تجزيه شي، ترڅو تعين شويو پوستونو شمير د استخدام شويو سره پرتله شي.[107]

## د افغان ملي پوليسو بنسټونه

په دې درې مياشتو کي، د متحده ايالاتو د دفاع اداري(DoD) د څلور نوي بنسټيزيو پروژو لپاره ۲۶.۱ میلیون ډالرو ورکړل. برڅيره پردې، د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A)/د ناټو د روزنو ماموريت ـافغانستان(NTM-A)په اساس، د ۱۷۳ پروژو کار روان دي (۶۸۸.۹ میلیونه ډالره)، ۱۴ پروژې تکميل شوي دي (۳۴.۶ ميليونه دالره)، او ۵ لغوه شوي دي (۲۸.۹ ميليونه ډالره). دغه پروژو کي د ولسوالی او ابتدائي نظامي واحدونو قرارګاوې، او د کومندې، لوجستيک، او روزني مرکزونه شامل دي. ترټول غټي پروژې ( چي دواړه د وردګو په ولايت کي دي) کي د ملي پوليسو د روزني مرکز، کوم چي ۹۵.۶ میلیونه ډالره ارزښت لري او د مهال ويش په اساس به د ۲۰۱۱ کال د اپريل په ۲۴ په بشپړ کيږي، او د لوچستيکو يو ملي مرکز، کوم چي ۴۰.۱ ميليونه ډالره ارزښت لري او ۲۰۱۱ کال د مي په ۲۸ کي بشپړ کيږی، شامل دي.[108]

د ۲۰۱۰ کال د نومبر په اوله، د اي ټي ټي شرکت په ۳۴ ولايتو کي د افغان ملي پوليسو د ۲۱۹ مرکزونو د تاسيساتو د کاروني او ساتني مسوليت په غاړه اخيستی دي. لکه څنګه چي په دې برخه کي وړاندې هم ذکر شو، دا قراردادونه د افغان ملي پوليسو تاسيسات هم په بر کي نيسي. د آی ټي ټي شرکت به دې نويو تاسيساتو د خلاصيدو سره د هغو د کاروني او ساتني مسوليت په غاړه واخلي.[109] د کاروني او ساتني د قراردادونو نظارت د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱ مالي کال د پلټني د پلان برخه ده، د لمړي برخي ۶ پانه، وګورئ.

## د افغان ملي پوليسو تجهيزات

د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د لمړي نيټي څخه تر ۳۱ د دسمبره پوري، افغان ملي پوليسو ۹۶۳۹ ميله اسلحه ترلاسه کړي ده، چي د تير درې مياشتي د ترلاسه شوې اسلحي په نسبت ۵۰ سلنه زياته ده. اکثره (۶۸ سلنه) بي اې کې ـ۴۷ ډوله نيمه اتومات ټوپک وو. برڅيره پر دې، افغان ملي پوليسو ۱۵۳۲ ټرانسپورټي وسايط او ۵۷۹ مخابرې ترلاسه کړي دي.د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) مطابق، د مجموعي تجهيزاتو ارزښت تقريبا ۳۰۳ ميليون ډالره ده.[110] د روانو اجرأتو مالي پلټنه کي، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی د متحده ايالاتو لخوا افغان ملي پوليسو ته ورکړ شويو ټرانسپورټي وسايطو په هکله د ځوابدهي بياکتنه کوي، د زياتو معلوماتو لپاره د ۱ برخي ۱۵ پانه وګورئ.

د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په ډاګه کړه چي افغان ملي پوليسو ته ورکړ شوی اکثر تجهيزات د افغان امنيتي ځواک د تجهيزاتو د مالي منابعو له لارې، د pseudo-FMS پلورلو سره ،د متحده ايالاتو نه راغلي دي. لکه څرنګه چي د افغان ملي پوليسو په اړه هم داسي وو، بعضي مخکني Warsaw ډوله اسلحي تراوسه په بلغاريا، اوکراين او بوسنيا کي جوړيږی، لاکن دې دغو اسلحو جوړيدل د متحده ايالاتو پوځ د قراردادي دفترونو لخوا د ورکړي شويو قراردادونو له لاري ترسره کيږي.

د افغان ملي پوليسو د تجهيزاولو نور ميکانيزمونو يا پروسي کي ، کارس ليولنګ ( د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو ترمنيځ) او د زياتو دفاعي مادو پروګرام او د نورو هيوادو لخوا اعاني شامل دي. د افغان ملي پوليسو د تجهيزولو معيارونه او اهداف د اوسني شرايطو او د دوی د ستراتيژيکو اهدافو په اساس تغير کوي.[111] په عمومي توګه دې تير درې مياشتو په نسبت دا ځلي افغان ملي پوليسو ته زيات تجهيزات ورکړ شو. لکه څرنګه چي د ۳.۴ جدول کي ښودل شوي دي.

د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) ګډي کومندي(IJC) په اساس، د افغان ملي پوليسو چټک رشد د افغان ملي اردو دجوړولو څخه د افغان ملي پوليسو جوړولو ته د توجه اړول په ساحه کي د تجهيزاتو په شتون باندي زور اچوی. د پرسونل زياتوال په قرارګاو کي د تجهيزاتي اکمالاتو په نسبت زياتوالئ مومي. د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) ګډي کومندي(IJC) بيان کړ چي د حل ممکنه لارو کي د تشکيل دنظامي ملاتړ خالي

د 3.4 جدول

| افغان ملي اردو ته ورکړې شوې وسلې، ټرانسپورټي وسايل، او مخابرې. | | |
|---|---|---|
| د تجهيزاتو ډول | د درې مياشتو ختم ۲۰۱۰/۹/۳۰ | د درې مياشتو ختم ۲۰۱۰/۱۲/۳۱ |
| وسلې | | |
| اې کې ۴۷ حملې ټوپک | 4,345 | 6,575 |
| نوري وسلې | 2,074 | 3,064 |
| ټرانسپورټي وسايل | | |
| سپک او متوسط ډوله تکتيکي موټر | 988 | 1,296 |
| زيرېداره ايچ ايم ايم ډبليو وی اِي | 192 | 216 |
| مخابرې | | |
| ډېر لوړ فرکونسي لرونکي ډوله مخابرې بي | 1,128 | 579 |
| لوړ فريکونسي ډوله مخابرې سي | 53 | 0 |

الف. زيرېداره ايچ ايم ايم ډبليو ويس کې ايم۱۱۵۱، ايم ۱۱۵۲ او ايم ۱۱۵۲ امبولانس ماډلونه شامل دي.
ب. ډېر لوړ فرکونسي لرونکي (VHF) مخابرو کې د موټرولا او ای سي وو ايم مختلف ډوله مخابرې سيستمونه شامل دي.
ج. لوړ فريکونسي(HF) مخابرو کې د کوډان مخابرې مختلف سيستمونه شامل دي.
سرچينه: د امنيت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A)، د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی ډيټا کال ته ځوابونه، ۲۰۱۰/۴/۱۰ او ۲۰۱۱/۴/۱.

پوستونو ډکول شامل دي؛ مجهزو واحدونوته پکار ده ترڅو د اوسني لوجستيکي سيستم سره ځان عادت کړي؛ او د ساحوی حمايتي قرارګاو، د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) ، او د کورنيو چارو وزارت سره د عملياتي تجهيزي مرستو په اولويت بندي کار وکړی.[112]

## د افغان ملي پوليسو ځاي نوښتونه

د متحده ايالاتو د دفاع اداري(DoD) په اساس، د افغان ځايي پوليسو پروګرام(ALP)افغاني او د متحده ايالاتو پرسونل په کليوالي ټولنو کې ځاي په ځاي کړل ترڅو دکلي په کچه پوليسي خدامات برابر کړي، امنيت تقويه کړي، کلي د ولسواليو او ولاياتي حکومتي ادارو سره ونښلوي، او پراختيائي مرستي وړاندي کړي. دغه واړه دفائي ځواکونه، کوم چه د ولسمشر حامد کرزي لخوا د ۲۰۱۰ کال په آګست که تاسيس شو، د ځايي شوراګانو لخوا حمايه کيږی، لاکن د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) لخوا کنټروليږی.[113]

لکه د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په ۳۱ کې، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) او نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د افغان ځايي پوليسو پروګرام(۱۴ (ALP سايټونه تاسيس کړ (د سپټمبر څخه په دې خوا د ۶ زياتوالی)، چې د نژادي، قومي او جغرافيايي متوازن تمثيل د تضمينولو لپاره ځای په ځای شوي دي. د افغان ځايي پوليسو پروګرام (ALP) د کليو د ثبات د تامين عمليات (VSO) سره په ګډه په هغه ټولنو باندي توجه کوي کوم چې د طالبانو او نورو ياغيانو سره يې مخالفت کړي وو، په ځانګړي توګه هغه سيمې چيرته چې د افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) او د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) شتون محدود وي.[114] د متحده ايالاتو د دفاع اداري(DoD) په اساس. د افغان ځايي پوليسو (ALP)يو تعداد مثبت پيالي او معيارونه ارئه کړل، د هغې باوجود امنيتي وضعه په ډيرو سيمو کې کمزوری ده.[115] د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په ۳۱، افغان ځايي پوليسو د ۱۲۵۰۰ کيلومتر مربع په اندازه ساحه کې امينت تامين کړ. د متحده ايالاتو د دفاع اداري(DoD) بيان کړ چې د افغان ځايي پوليسو په ټولنو کې د طالبانو نفوذ کمزوری کوي، او د ملا عمر په ګډون د طالبانو مشرانو انديښنه ښودلې چې افغان ځايي پوليسو سايټونو د دوي کليوال ملاتړ بنسټ ضعيف کړي دي. د ملاعمر په خپل ولايت ، ارزګان، کې د افغان ځايي پوليسو سايټونو امنيت ته د رسيدلو هڅو سره مرسته وکړه. هغوی همدارنګه د ګواندي ولايتونو لکه دايکندي، زابل او کندهار په برخو کې هم برياوي درلودي.[116]

د متحده ايالاتو د دفاع اداري(DoD) د دغو هڅو په وړاندې مشکلات په ګوته کړل. د مثال په توګه، طالبان

او نور مخالفینو د افغان ځايي پولیسو د سایټونو اوسیدونکي ډار کړي او د هغوي په وړاندي يي د تشدد څخه کار اخیستی دي. د دې په ګډون، په قبیلو کي او دي قبیلو تر مینځ روانو شخړو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) دي ته مجبور کړ ترڅو په دغو شخړو کي منځګړي توب وکړي. د متحده ایالاتو د دفاع اداري(DoD) په اساس، د دغوستنزوسربیره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) د متحده ایالاتو په مرسته د شوریشیانو د کړنو په وړاندي ځوابي اقداماتو ته دوام ورکوي او ځايي ستنزوته د اوږد مهاله حل په جوړولو بوخت دي.[117]

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) په پام کي لري ترڅو افغان ځايي پولیس د دوه نه تر څلور کلونو پوری فعالیت وکړي، چي ورسته له هغي به د افغان ځايي پولیسو غړي به له دندو ګوښه شي او یا به د افغان ملی امنیتي ځواکونو لیکوته ورګډ کړي شي. د متحده ایالاتو د دفاع اداري(DoD) په اساس، د هلمند په څير ولایتونو کي د افغان ځايي پولیس غړي به د افغان ملي پولیسو لیکو ته ورګډ کړي شي.[118]

## د کورنیو چارو وزارت څخه د متحده ایالاتو ملاتړ

د امنیت مرستندویه اداره افغانستان (SAO-A)، چي د ناټو د روزنو ماموریت ــافغانستان(NTM-A)/د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) یو برخه ده، د ۲۰۱۰ کال د جولای له ۲۴ نیټي نه را په دیخوا، د کورنیو چارو وزارت د تدارکات ریاست ته مالي پلټني ترسره کوي. د امنیت مرستندویه اداره افغانستان (SAO-A) د قراردادونه مربوط شپږ مالي پلټني بشپړ کړي دي، او د تدارکات پلانونه، د مزایدی او مناقصی ګډونوالو ورټیا، د تدارکاتو اقدامات، د قراردادونو د ورکړي پروسیجرونه، د قرارداد مدیریت، او د پیسو د ورکړي اجرأت تر پوښښ لاندي نیسي. په دي مالي پلټنو کي، د امنیت مرستندویه اداره افغانستان (SAO-A) ته معلوم شو چي د وسایلو او تجهیزاتو کمښت لکه د دفتر لپاره د ځاي، د دفتر فرینچر، د دوسیو د ساتني الماري، کمپیوټرونه، د فوتوکاپي ماشینونه، او یو مدرن تدارکاتي سیستم د کورنیو چارو وزات دی ته اړ کړي ترڅو د مزایدو د پشنهادولو، د قرار دادونو د ورکړي، او د قراردادونو د اداره کولو لپاره غیر متوازن او ډیري هڅي ترسر کړي. برسیره پر دی، د کاري ځای کمښت د رونتیا د کمښت باعث ګرځي: هره دفتر یواځي د مشخصو کړنو چي دوی یي ترسره کوي، د دوسیو ضروري اسناد ساتي.[119]

د تدارکاتو ریاست د خوراکي توکو، سوند لرګي، کالي، د دفتر وسایل، نقلیه وسایطو د سوند تیل، د ودانیو د اجاره نیولو، رغولو او د ترمیم قراردادونه طي مراحل کوي. د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) په پام کي لري ترڅو په ۱۳۹۰ (۲۰۱۰/۲۰۱۱) مالي کال کي د تدارکاتو ریاست ته د ۱۸۶ میلیون ډالرو په ارزښت د نویو اړتیاو د تدارکاتو مسئولیت ورکړي. چي تدارکاتو د ریاست د ۱۳۸۸ مالي کال د تدارکاتو په نسبت ۱۳۳ سلنه زیاتوالی دي.[120]

## د متحده ایالاتو ځواکونه

د متحده ایالاتو ځواک افغانستان (USFOR-A) په اساس، د ۲۰۱۰ کال د دسمبر تر ۳۱ ، په افغانستان کي د متحده ایالاتو ۱۰۱،۸۷۲ ځواکونه خدمت کاوو د تیرو دري میاشتو راپور ورکړ شوي شمیري څخه ۱۸۵۵ تنه کم. دا ځواکونه په لاندي ډول ګمارل شوي دي:[121]

- ۷۸،۳۲۲ تنه په نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) کي
- ۳۴۱۵ تنه د ناټو د روزنو ماموریت ــافغانستان(NTM-A)/ د امنیت د انتقال ګډ کومنده افغانستان(CSTC-A) کي
- ۱۰۳۱۶ تنه د متحده ایالاتو ځواک افغانستان (USFOR-A) کي
- ۹۸۱۹ تنه نورو(نامشخصو) دندو کي

## د چاودیدونکي توکو د منیځه وړل

د متحده ایالاتو د بودجي او مدیریت اداره په اساس، د ۲۰۰۲ کال نه را په دیخوا، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت (DoS) د تروریزم سره د مبارزي، ماین پاکي، او مربوطه نه تمدیدونکي پروګرامونو لپاره افغانستان ته د ۳۷۱.۶ میلیونو ډالرو په ارزښت مالي پانګه ورکړي ده. دا ۲۰۰۷ کال څخه را په دیخوا داغه مالي منابع ډیره زیاته شوي ده، څرنګه چي په ۳.۵ جدول کي ښودل شوي ده.[122]

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزرات په اساس، د غیر اتومي اسلحو د منیځه وړلو پروګرام (CWD) د تصفیوي عملیاتو د دوام، د پاتو شویو او خطری غیر اتومي اسلحو د منځه وړلو او کمولو (ترڅو د یاغیانو په وسیله

د 3.5 جدول

**د افغانستان لپاره د اِن اِيِ ډي ار مالي منابع: ۲۰۰۲ ــ ۲۰۱۰ (میلیونونه ډالره)**

| مالي کال | د اِن اِيِ ډي ار مالي منابع | ټول ټال مجموعه |
|---|---|---|
| 2007–2002 | $238.60 | $238.60 |
| 2008 | $26.60 | $265.20 |
| 2009 | $48.60 | $313.80 |
| 2010 | $57.80 | $371.60 |
| **ټول ټال** | | **$371.60** |

سرچینه: او ام بي، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی ډیټا کال په هکله ځواب، ۲۰۱۱/۲۰/۱

د هغو د کاروني څخه مخ نوي وشي)،او دافغانانو د تخنيکي او مديريتي ظرفيت د لوړولو په موخه پنځه افغاني غير دولتي موسسي، څلور نړيوال غير دولتي موسسي، او يو د متحده ايالاتو کمپنی ( ډين ګروپ انټرنشنل) ته په مستقيم توګه مالي منابع برابر وي. د بهرنيو چارو وزارت د سياسي نظامي چارو ديوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA)، چي په افغانستان کي دا پروګرام اداره کوي، راپور ورکړ چي دا مرسته کي د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) اضافي، نه ترميم کيدونکي، او په خطرلرونکي وسلو او مهماتو د منځه وړل شامل دي. همدرانګه دا پروګرام د افغان ملي امنيتي ځواکونو(ANSF) په لاس کي موجوده د ترميم وړ وسلو او مهماتو او د تاسيسات د امنيت او د زيرمو د مديريت لپاره تخنيکي مرستي برابروي.[123]

د بهرنيو چارو وزارت د سياسي نظامي چارو ديوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA) بيان کړه چي، د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د اول نيټی څخه تر ۳۰ د سپټمبر، ۲۰۱۰ کال پوری، د متحده ايالاتو بهرنيو چارو وزارت لخوا تمويل شويو تطبيق کوونکو شريکانو لخوا د ۳۹.۳ ميليون متر مربعي څخه زياته ځمکه پاکه شوی ده .دا ځمکه،د ۱۹۹۷ کال څخه را په ديخوا د ۱۹۹.۸ ميليون متر مربع پاکو شويو ځمکو، ۲۰ سلنه جوړه وي. سربيره پردي، دغو شريکانو ۱۲،۵۴۲ متريک ټنو څخه زيات زيرمه شوي، متروکه، خطرلورنکي، او نه ترميمودنکي مهمات له منځه وړلي.[124] د بهرنيو چارو وزارت د سياسي نظامي چارو ديوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA) لخوا برابر شوی د غير اتومي اسلحو د منيځه وړلو پروګرام (CWD) د اجرأتو متريک محاسبه په اساس، د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د ۳۱ څخه د ۲۰۱۰ کال د سپتمر تر ۳۰ پوری، په افغانستان کي د ناپاکو ساحو کچه په تقريبي ډول د ۶۷۰.۷ ميليون متر مربعي څخه ۶۵۰.۷ ميليون متر مربعي ته راټيته شوي ده.[125]

د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت په اساس، په افغانستان کي مينونو په وړاندي د متحدو ملتونو د ګډو هڅو مرکز(MACCA) خپل ستراتيژيکي موخي او لنډ مهاله اهداف اصلاح کړ ترڅو دتمويل کوونکو د مرستو کميدونکي کچه منعکسه کړي. په نتيجه کي، په افغانستان کي مينونو په وړاندي د متحدو ملتونو د ګډو هڅو مرکز(MACCA) د جنګ څخه د پاتي ماينونو او نا چاوديدونکو توکو لرونکو د ۹۰ سلني معلومه ټولو سيمو د پاکولو، اټکل شوي اړين وخت تعين اصلاح کړ. دي موخي ته د رسيدو نوی هدف ۲۰۱۵ کال دي. په افغانستان کي مينونو په وړاندي د متحدو ملتونو د ګډو هڅو مرکز(MACCA) طرحي دا ښي چي ۷۰ سلنه خطر به د ۲۰۱۳ کاله تر مارچ پوری کم شي.د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت په اساس، دا طرحه د متحده ايالاتو او نړيوالو تمويل کوونکو د دوامدارو مالي منابعو په اساس چي په کال کي د ۸۰ ميليون ډالرو څخه کمه نه وي، اټکل شوی ده.[126]

د 3.6 جدول

**د غير اتومي اسلحو د منيځه وړلو پروګرام (CWD) ميټريکونه: د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر ۱ تر- ۳۰ د سپټمبر، ۲۰۱۰ کال**

| د نيټي رينج | د منيځه وړل شوي د ټانک – ضد/ پرسونل ضد مهمات | د منيځه وړل شوي ناچاودونکي مهمات | د مينځه وړل شوي واړه وسلو مهمات | پاک شوي برخي | پاک شوي ميني ساحي ( متر مربع) | د اټکل شويو ناپاکو سيمو پاتي برخه ( متر مربع) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 12/31/2009–10/1 | 4,649 | 140,480 | 58,651 | 1,055,683 | 19,289,205 | 670,710,000 |
| 3/31/2010–1/1 | 2,455 | 1,943 | 129,557 | 603,957 | 6,475,318 | 664,235,000 |
| 6/30/2010–4/1 | 2,853 | 249,946 | 217,901 | 968,887 | 4,464,926 | 659,770,000 |
| 9/30/2010–7/1 | 3,922 | 270,793 | 1,196,158 | 1,710,708 | 9,108,108 | 650,662,000 |
| **ټول ټال** | **13,879** | **663,162** | **1,602,267** | **4,339,235** | **39,337,557** | **650,662,000** |

يادداښت: اِ ټي/اِپي = د ټانک –ضد / د پرسونل –ضد مهمات. يوو اِکس اوو = نا چاودونکي مهمات. اِس اِي اِيِ= د وړو وسلو مهمات.

سرچينه: د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت، د بهرنيو چارو وزارت د سياسي نظامي چارو ديوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA)، د سيګار پلټني ډيټا کال ته ځواب، ۲۰۱۱/۳/۱.

# دولتداري، د قانون رول، او بشري حقوق

د ۲۰۱۰ کال د دسیمبر تر ۳۱ پورې، د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د پراختیا او غوره حکومت کلولو سره تر ۱۶،۱۵ میلیارډ ډالره مرسته کړې ده.[127] دا برخه په هغو مرستو چې امریکا، نړیوالې ټولنې او د افغانستان دولت د حکمت د لا ښوالي او د قانون د پلې کلولو په ډګر کښې ترسره کوې تمرکز کوې، په دې هڅو کښې انتخابات او په انتخاباتو کښې اصلاحات، دولتي اداره، قضایي سیستم او د بشر حقوق شامل دي..

## د فعالیتونو بیا کتنه

په دې درو میاشتو کښې یو شمیر فعالیتونو د غوره حکمت په رامنځل ته کولو او د قانون د پلې کولو په هڅو باندې اغیزه درلوده. په وروستیو درو میاشتو کښې د ولسي جرګې نهایي پایلې چې د نیوکو او دعوو سره مل وې اعلان شولې: ډیرې د هغه انتخاباتو سره چې دوو ټاکنیزو کمیسیونو تر سره کړلې خوښ او راضي نه دي. په مطبوعاتو کښې اوږدو منازعو؛ د حکومتي کارکوونکو، سیاستوالو، رای ورکوونکو تر منځ واټن را منځ ته کړ.

همدا ډول پدې درو میاشتو کښې، د لیزبون په غونډه کښې چې د ناټو د غړو او د افغانستان د استازو تر منځ هوکړه وشوه پداسې لارو چارو کار وشي، ترڅو خپله افغانان په حکومتي او امنیتي ځانګو کښې ډیر مسولیت په غاړه واخلي. برسیره پردې، د صلح عالي شورای چې د بیاپخلاینې او بیا جلب او جذب هڅو د پراختیا په موخه د خپل رییس په ټاکلو او د هیواد په سطح د دې غونډو د معلوماتو له لارې په خپرولو خپلې هڅې پیل کړې. تر اوسه لا مخکې له وخته ده چې اټکل وشي چې دا هڅې به څومره بریالۍ وې، اما د امریکا د متحده ایالاتو لخوا د دې هڅو ملاتړ کیږي.

## ټاکنې

وروسته تر ډیر ځنډ نه د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۲۴مه د ټاکنو مستقل کمیسیون لخوا د ولسي جرګې د تیرو ربع پایلې اعلان شوې( د غزنی په استثنا، چې د دیسمبر په لومړی نیټه اعلان شوې).[128] تر یو په دریمه برخې ډیرې رای بې اعتباره اعلان شوې، او د ولسي جرګې د پخوانیو غړو نیمایي وتوانیدل چې بیا ولسي جرګې ته لاره ومومې.[129]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وایي چې که څه هم په ټاکنو کښې درغلي مل وې خو په ټولیزه توګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون خپله اړونده دنده په ښه توګه ترسره کړې ده.[130] برسیره پردې، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنیاد چې د افغانستان ټاکنې بې ځارلې ویلې، چې په ټاکنو کښې پراخې درغلي شوې دي او په ټاکنو کښې د اصلاحاتو راوستل اړین دي.[131]. یاد شوی بنیاد د ټاکنو دواړو کمیسیونو ته ۸۹۰ "جدی" د سرغړونو چې د رایو د صندوقونو ډکول، د رای اچوونکو ډارول، د جعلی کارتو کارول او د بل چا په ځای رای ورکونه شامله ده سپارلې دی.[132] د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنیاد په قول د ټاکنو په پروسه کښې باید ډیرې پرمختیاوې او اصلاحات را منځ ته شي:[133]

- د ټاکنو په ادارو کښي لا زيات شفافيت
- د هغه نوماندو په اړه جدی څېړنی او ګروېښنې وشی چی ګومان کېږی د مخالیفینو سره تړاو ولری
- د نوماندانو استازو او ناظرينو ته د ټاکنو څخه د کتنې او نظارت کولو  په موخه لا زيات فرصتونو او لاس رسی ورکړل شی
- د هغو لپاره چی په ټاکنو کښی تهدید شوی او بیرول شوی دی لا زیاد خونديتوب را منځ ته شی
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون د استقلالیت او ظرفیت لوړ شی

ټاکنو په ولسی جرګه کښي قومی انډول په څرنګده توګه تغیر کړ. پښتانه چی د افغانستان اکثريت جوړ وی- شل کرسی د لاسه ورکړی په جنوبی او ختيځ سيمو کښي چی پښتانه اکثريت دی، د ملکرو ملتونو په وينا  د امنيت او د سیاسی جوړښت او د نظم نه شتون هغه لاملونه دی چی په ټاکنو کښي يی ياد شوی تغير ته لاره هواره کړه.[134] په دی ترڅ کښی تر ټولو ښکاره مثال په غزنی کښي چی پښتانه اکثريت دی، ټولی ۱۱ کرسی د هزاره قوم استازو ته ځانګړی شوی دی.[135]

**ناندرۍ**

د دی درو میاشتو په ترڅ کښي، ټاکنو او په ټاکنو پوری اړوندو پریکړو ډیری ناندری راوټوکولی. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون لخوا اخیستل شوو پریکړو ډیر مظاهرې راوټوکولی  چی ډیری یی د ناکامو نوماندو لخوا په لاره اچول شوی وی.  د افغانستان لوی څارنوال، ښاغلی محمد اسحاق الکو د ټاکنو پایلي وغندلی او د ټاکنو د دواړو کمیسیونو د دنده د ارزولو په موخه یی د څېړنو امر ورکړی دی د ډیسمبر د میاشتی په اولو کښی، د افغانستان لوی څارنوالی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون غړی ونیول چی د امریکا د پرمختیای پروګرام (USAID) لخوا په دی اړه تشویش بیان شو.[136]

د ټاکنو د ستونزو ته د لارو چارو د مندونکو اداري یوه بله د ناندریو د رامنځ ته کوونکو موضوعاتو څخه وه: د افغانستان لوی څارنوالی ادعا کوی چی قانونی صلاحیت او حق لری چی د ټاکنو په اړه پریکړه وکړی، پداسی حال کښی چی د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون وایی چی د قانون په رڼا کښي یی خپلو اړوندې دندې په سمه توګه ترسره کړی دی. یونما د ټاکنو د خپلواک او د شکايتو د کميسيونو د هڅو ملاتړ کوی.[137]په دی ترڅ کښی ولسمشر حامد کرزی د ستری محکمې هغه غوښتنه چی د نوماندانو د شکايتونو د څېړولو په موخه دی یوه پنځه کسیزه ځانګړی محکمه جوړه شی ترڅو دی ستونزو ته د حل لاره پیدا کړی امر ورکړی دی.[138]

د ۲۰۱۱ کال د جنوری په ۱۹ مه ځانګړی محکمې د ولسمشر حامد کرزی څخه وغوښتل چی د جنوری په ۲۳ مه دی ولسی جرګه نه افتتاح کوی ترڅو دا محکمه وکولای شی شکایتونه وڅیری. د دی راپور د چاپ تر وخته،د ځانګړی محکمې لخوا د نیول شوو فیصولو تاثیر په ولسی جرګې باندی نه وو څرګنده شوی.[139]

## د ټاکنو د خپلواک او د شکایتو د کمیسیونونو څارنه

د رای ورکولو او د رای د شمیرنې په ترڅ کښی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا څېړنې د فساد د مخنیوی او اصلاحی تدابیر ترسره کړل. دی کمیسیون د ۶۸۱۳ رای ورکولو محلو چی د ( ټولو پرانیستو ۱۷۷۴۴ رای اچونې د محلو ۳۸،۴ په سلو کښي جوړوی) بیا شمیرنه تر سره کړه او د ۲۵۴۳ محلو رایي باطلي کړلي.[140]تقریبا ۱۶ په سلو کښي رای بی اعتباره شولي چی کولای شی په ۳.۲۲ شمیره انځور کښي ترسترګو شی انځور 3.22. د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۴۱۳ نوماندان چی په فساد کښي ښکیل او تورن وو د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته وروپیژندل؛ د دی ډلې څخه ۶۲ د ولسی جرګې غړی دی.. برسیره پردی د ټاکنو خپلواک کمیسیون نامعلوم شمیر

3.22 انځور

د ټاکنو د مستقل او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیونونو له لوری د خارج شوو او منل شوو رای ورکونو د مرکزونه (فیصدی)




یادښت: د غونډې څخه د اغیزمنو شوو شیمیره "په باطل یا ایستل شوو" له ډلې څخه ټول او یا هم یو تعداد رای ایستل شوی دی.

سرچینه: بین اللمل ، " د بین اللمل عمومی منشی ته راپور" 10/12/2010 دویمه پاڼه

خپل کارکوونکی په فساد تورن کړی دی.[141] د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعتراف وکړ چې ندی توانیدلی یو شمیر د رای ورکولو مرکزونه په سمه توګه کنترول کړی، همدا کار سبب شو چې یو شمیر نوماندان، محلی قومندانان، امنیتی کارکوونکی، دولتی مسولین او په یو شمیر حالاتو کښی د دی کمیسیون د کارکونکو په مرسته فساد او تقلب ته لاره هواره او د ځینو ځانګړو نوماندانو په ګټه کار وشی.[142]

د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون او ۳۴ ولایتی کمیسیونو ۵۸۶۰ شکایتونه ترلاسه کړی چې د هغي ډلی ۲۷۲۴ جدی او د ټاکنو په پایلو باندی اغیز درلودونکی ګڼل شوی وو. د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون د تحقیقاتو او څیړنو په ترڅ کښي ۱۱۸ نوماندان د خپلی نوماندی څخه محرم شوی دی. برسیره پر هغه شمیر محلونو چې رای یی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا باطلی شوی وی،د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون لخوا ۳۳۴ رای ورکولو محلونو رای باطلی شوی دی. په ټولیزه توګه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د شکایتونو د کمیسیون لخوا ۲۸۱۹ رای ورکولو محلونه وڅیړل او وپلټل شول. د دی فعالیتو په ترڅ کښی ۱،۳ میلیون رایی باطلی شوی؛ او ۴،۳ میلیون رای قانونی او مشروع و ګڼل شوی.[143] د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د ځینو نوماندانو د کمپاین د مالی سرغړونو په اړه هم څیړنی ترسره کړی دی. په دی ترڅ کښی، ۸۷۸ نوماندان د خپلو انتخاباتی مبارزی په وخت کښی د مالی سرغړنو له کبله جریمه شول، په دی سرغړونو کښی د ټاکل شوی کچي څخه ډیری مرستي تر لاسه کول او د ثبت شوو ملکیت څخه ډیر ملکیت درلودل شامل دی.[144]

**د ټاکنو د ادارو لپاره د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړی شوی مرستي**

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره د امریکا مرستي سبب شوی تر څو دا کمیسیون تقریبا ۱۰۵۰۰۰ د رایو د محلونو کارکوونی، ۳۱۰۰ د پروژو غړی او ۳۱۵۰ ساحوی ناظمین په دنده و ګوماری او هغوی ته روزنه ورکړی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د امریکا په مرستو وتوانید د دوو میاشتو په ترڅ کښي۳۷۷۰۰۰ رای ورکوونکی ثبت او راجستر کړی. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د امریکا د مرستو له کبله وتوانید ترڅو د ۵۰۰ کارکوونکی د تحقیق، قضایاو د اداری او د حقوقی رسیدني په موخه په دندو وګوماری. د ټاکنو په اړه د پوهاوی د لوړولی او د ګډون په اړه د معلوماتو او عامه پوهاوی په اړه امریکا د ۲۰۰۰ ملکی بنوونکی ورزل شول، تر څو یاد شوو موخو او د دولت او د وګړو د رول په اړه دندو ته په سمه توګه ورسیږی[145]

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د راپور په اساس تر مودی یعنی د ۲۰۱۰ کال د اوکتوبر او د دی ربع تر وخته د ټاکنو د فعالیتو لپاره ۱۴۹،۶ میلیون ډالر لګول شوی دی. د ټاکنو د عملیاتو یا فعالیتو لپاره پیسي د امریکا او د نړیوالی ټولني لخوا د ملګری ملتو د پرمختیایی پروګرام له لاري مرسته شوی او ورکړل شوی وی. د دی راپور تر وخته د ټول ټال لګښت کچه نه وه معلومه. د افغانستان لپاره د USAIDرییس او د ټاکنو د ولایتی څارني پروګرام چې ۱۵،۲ میلیون ډالر یی منلی وو، د دیسمبر د میاشتي تر ۳۱ پوری یی ۱۳ میلیون ډالر په څلورو سارنیزو موخو او اهدافو باندی مصرف کړی دی: نړیواله دیموکراسی، د ملی دیموکراتیک انستیتیوټ، نړیوال جمهوری انستیتوت او د ایشیا فاونډیشن د ازادو انتخاباتو شبکه. دی څلورو ماموریتو د نیمروز، ارزګان، دایکندی، لغمان او کنړ ولایتو څخه پرته په نورو ټولو ولایتو کښی ۳۰۱ لنډ مهالی او اوږد مهالی د نظارت او څارني پروګرامونه په لاره اچولی دی. USAID د قوله نا امنی د دی څارني او نظارت په لاره کښی تر ټولو لویه ننګونه وه.[146]

د USAID مرستي سبب شوی چې په ټاکنو کښي پراخ ګډون ته لاره هواره شي او د ټاکنو د پیښو د څارنی په موخه مرستي او د ملی ډیموکراتیک انستیټوډ د راتلونکو ټاکنو د لا ښوالی لپاره خپل وړاندیزونه اعلان کړی:[147]

د ۲۰۰۹ کال په سپتمبر کښي په خپاره شوی راپور په اساس سیګار ته معلومه شوه چې د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ځانګړی توګه د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په وخت د ډیرو ستونزو سره مخامخ شو، ځکه دا کمیسیون اړيني منابع نلری او د نړیوالو مرستو پرته نشی کولای خپلی دندي پر مخ یوسی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د سیګار ۶-۹ څیړنه" د افغانستان د ټاکنو وړتیا د ثبات لپاره اړینی ستراتیژی او منابع".په www. sigar.mil تر لاسه کولای شی.

- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون غړي باید د ولسي جرګې لخوا و ټاکل شي.
- ولسي جرګه باید د ټاکنو د خپلواک کمیسیون خپلواکي تضمین او یقیني کړي.
- ولسي جرګه باید د ټاکنو د پروسې په اړه بشپړه بیاکتنه ترسره کړي.
- د افغانستان جمهوري اسلامي دولت باید هر هغه مسول چې په ټاکنو کښې یې سرغړونو او غیر قانوني کړنو تورن وي څیړنې ترسره کړي.
- د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون باید تضمین او عملي کړي چې په ټولو ولایتي اړوندو کمیسیونو کښې یو ډول قانون او مقررات په سمه توګه پلي کیږي.
- په ټاکنو کښې د ښځو د ګډون د ښوالي او پراخوالي په موخه باید اړین ګامونه اوچت کړل شي.
- د ښځینه نوماندانو کلک امنیت ونیول شي.
- د ناقانونه مسلح ګروپو سره د نوماندانو د ارتباط او اړیکه په اړه باید تحقیقات د څانګړي او د ټاکل شوو معیاراتو په پام کښې نیولو سره ترسره شي.
- هرڅومره ژر چې ممکنه وي باید په ټول هیواد کښې نفوس شماري ترسره شي.
- د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون باید په یو دایمي کمیسیون بدل ګړل شي.
- د رای ورکوونکو یو منظم او دقیق د نوم لیکنې سیستم باید رامنځ ته شي.

## په لیزبون کښې د ناټو ناسته

۲۰۱۰کال د دیسمبر په ۱۹ او ۲۰ مه د امریکا، ناټو او د افغانستان د استازو او د یاد شوو دوو هیوادو د ولسمشرانو په ګډون په لیزبون کښې سره ولیدل. د دې غونډې اصلي موخه د افغانستان د راتلونکې لپاره د یو چوکاټ جوړول، د افغانستان سره د ناټو تعهدات او د امنیت په برخه کښې د افغانستان د اسلامي جمهوریت ته لا ډیر مسولیت سپارل په ګوته شوي دي.[148]

د غونډې په اړه په ګډه اعلامیه کښې راغلي چې" د افغانستان د هرې ورځ په تیرودو سره افغانان خپله کولای شي په حکومتي او امنیتي څانګو کښې لا زیات مسولیت په خپله غاړه واخلي." [149] ناټو یو ځل بیا هم " د یو قوي، خپلواک، دیموکراتیک، خوندي او باثباته افغانستان چې د افغانانو لپاره ښه راتلونکې او هیڅ وخت د تیروریستانو لپاره د خوندي ځای و نه ګرځي خپل اوږد مهاله تعهدات اعلان کړل."[150]

د افغانستان اسلامي جمهوریت په خپل وار سره تعهد وکړ "چې په فعاله توګه به د امنیت، حکومت کولو او پرمختیایي اړوندې دنده پر غاړه واخلي او وي ویل چې د لندن کښې د ۲۰۱۰ کال د جنوري او د کابل په کانفرانس کښې چې د ۲۰۱۰ کال د جولای په میاشت کښې هغه ژمنې چې هوکړه پرې شوي وه او ویلي وو چې د تروریزم سره به مبارزه کیږي، فساد به د منځه وړل کیږي، امنیت تامین او بشر حقوق په څانګړي توګه د ښځو حقوق به خوندي کیږي، به عملي کړي" [151] همدا ډول د افغانستان دولت ژمنه وکړه چې د خپلو ګاونډیانو سره به ښې اړیکې ساتي او د پریکړو په کولو کښې به سلا مشوري ورسره کوي. دا ټولنه به همدا ډول غونډې جوړې وي لکه د ۲۰۱۰ کال د جنوري په میاشت کښې د استمبول غونډه، چې په هغه کښې د افغانستان همسیګانو په رسمي توګه د طالبانو او نورو مخالیفیونو سره د خبرو او دهغوی ملکي ژوند ته د راګرځولو د هرې هڅې د ملاتړ اعلان وکړ.[152]

د امریکا د متحده ایالاتو مامورینو د غونډې د پایلو په اړه خوښي ښکاره کړه. په افغانستان کښې د امریکا سفیر کارل ایکن بیري وویل د ناټو هغه هڅې چې غواړي افغان دي په حکومتي، نظامي او اقصادي ډګرونو کښې لا ډیر مسولیت او رهبري په غاړه واخلي یو مثبت ګام دی. د هغه په اند دا غونډه افغانانو ته د قدرت د انتقال لپاره یو غوره پلان وو.[153]

## بیاپخلاینه او یوځای کیدنه

د بیاپخلاینې نوی هڅې په ۲۰۱۰ کال کښې د سره پیل شوی او په دی ربع یا درو میاشتو کښې یی هم دوام وکړ. د امریکا متحده ایالات د بیا پخلاینی او بیا یوځای کیدنی د هڅو ملاتړ کوی او باور لری چی د اوږد مهالی سیاسی حل او ټیکاو لپاره اړینې او ګټوری دی.[154]

د امریکا د ملی دفاع د پوهنتون له قوله د ۲۰۰۱ لومړی کال څخه را پدی خوا د طالبانو د بیا پخلاینی او یوځای کیدنې ډیری هڅی شوی دی.[155] او د دغو هڅو پایلې هم متفاوتي وی؛ د مخلیفینو په منځ کښي توپیر قایل کیدل او دا په کوته کول چی د کوم مخلیفین باید په خولا شی او د بیا پخلاینې د پروګرامو تر منځ د سمې هم غږیی نشتون دغه هڅې د لا زیاتو ستونزو سره مخامخ کړی. د امریکا د دفاع د وزارت د دارالنشاء د دفتر(OSD) لخولې اوسنې پروګرام تر ټولو لوی او ښه منظم ګڼل کیږی؛ او هغو تیرو زده کړل شوو تجربو او درسو ته چی د تیرو هڅو څخه زده کړل شوی وو اشاره کوی.[156]

د ایشیا فونډیش لخوا په کال ۲۰۱۰ د نومبر په میاشت کښی په ترسره شوی ټول پوښتنې په اساس افغان د بیا پخولاینې د هڅو ملاتړ کوی او د ښې پایلو په اړه یی خوش بینی ښایی. په سروې کښي ۸۳ په سلو کښي افغان د بیا پخلاینی د هڅو ملاتړ کوی چی دا فیصد په ۲۰۰۹ کال اوکتوبر په میاشت کښی د ترسره شوی سروې څخه ۱۲ فیصده زیاتوالی ښایی. اکثریت (۷۹ په سلو کښي) دا منی چی بیا پخلاینه د هیواد د سوکالي او ارامتیا سبب ګرځیدلی شی. میرمنې د نارینوو په وړاندی د بیاپخلاینی د هڅو کم ملاتړ کوی: د نارینو په پرتله چی ۸۸ په سلو کښی د پخلاینی طرفداره وو په میرمنو کښی دا فیصدی ۷۸ وه.[157]

## د سولې عالی شورای

په دی ربع کښي د سولې عالی شورای خپله لومړنی غونډه ترسره کړه. د ۲۰۱۰ کال د اوکتوبر په ۱۰ پخوانی



**د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر په ۶مه د صلح عالی شورای** غړو او د جنوبی ولایتو والیانو د بیا پخلانی او یوځایکیدنې په اړه خبری کانفرانس کښی د خبریالانو پوښتنو ته ځوابونه وویل.د صلح عالی شورای د عامه پوهاوی دری پروګرامونه په لاره اچولی تر څو د یادی شوی پروسې لپاره عامه ملاتړ تر لاسه کړی. (د امریکایی پوځ انځور، ایډوارډ ای ګاریبې، د عامه چارو متحرکه دسته)

ولسمشر برهان الدين رباني په قاطع اکثريت سره د شورای د رييس په توګه وګمارل شو.[158] د شورای ۷۰ غړی د هيواد د اکثرو مذهبی، منطقوی، قومی او سياسی ګروپو استازيتوب کوی. د دی ډلی ۱۲ غړی د طالبانو د واکمنی استازی دی [159]او په شورای کښې ۱۰ ميرمنې ګډون لری او په هره جرګګی کښی ښځينه استازی ګډون لری.[160]

د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا دی شورای د افغان د صلح او بيا پخلاينی د پلان او د ګډ سګرتريت او د ولايتی مسولينو سره يوځای په (ننګرهار، هرات او قندهار) کښی تر اوسه پوری دری لوی غونډی په لاره اچولی دی. د دی غونډو څخه د شوارى هدف د ملکی او حکومتی ملاتړ تر لاسه کول، د پروګرام او هڅو بيانول او د ولايتی سولی او بياپخلاينی د کميټو جوړل په ګوته شوی دی. د امريکا د نهرنيو چارو د وزارت لخولې د ۲۰۱۰ کال د ديسمبر تر ۳۱ پوری ، يادی شوی شورای په ۱۳ ولاياتو کښی خپل کار پيل دی، ۱۱ نورو ولاياتو کښی پيل ته نژدی. او دشورای دغو هڅو په عمومی توګه د بياپخلاينی هڅو ته نوی قوت او توان وروبابښه.[161]

د OSD په وينا د ۲۰۱۰ کال د جنوری د ۴ څخه بيا تر ۸ پوری د سولې عالی شوارى په اسلام اباد کښی غونډی درلودی چی په منطقوی کچه يی د عامه پوهاوی په ډګر کښی ډيرې اغيزمنی بلل کيږی. شوارى د پاکستان د حکومتی او مخالفو سياسی مسولينو سره وليدل او همدا ډول يی د ملکی او مذهبی مشرانو سره ليدنې کتنې ترسره کړی. OSD همدا ډول وويل چی دغو کتنو او غونډو د خبرو اترو هغه لارې پرانيستلی چی کولای شی په راتلونکی کښی د نور خبرو اترو ته لاره هواره او منطقوی اړيکې بهتره او د بيا پخلاينی په اړه د پاکستان تعهد تضمين او ټينګه کړی.[162]

د درو مياشتو په ترڅ کښی، د شورای او د مخاليفنو دمختلفو ګروپو او ډلو تر منځ د پرمختګ راپورنه را برسيره شول. که څه هم طالبانو په عامه ډول د شورای سره د خبرو هر ډول راپورنه رد کړی او دا ډول راپورنه يی پروپوګاندا بللی دی.[163] د ۲۰۱۰ کال کښی د ملګرو ملتو د سرمنشی لخوا په اعلاميه کښې راغلی چی که څه هم د بياپخلاينې پروسه ستونزمنه ده" خو مخ په زياتيدونکی احساس شته چی د بياپخلاينی د هڅو لپاره ليوالتيا شته او په ډير نژدی وخت کښی به د سياسی خبرو موقع برابره شی تر څو دايمی ارامی او پايښت رامنځ ته شی".
په راپور کښی همدا ډول راغلی چی ټولې ډلې بايد د سياسی حل په موخه بايد يو بل سره خبری اتری وکړی او کينی او همدا ډول قانون اساسی مراعات او په تيرو کالو کښې د بشر د حقوقو او د ديموکراسی په ډګر کښی تر لاسه شوی پرمختګونو ته احترام ولری.[164]

د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۳۱ مه يونما اعلان وکړ چی د کارپوهانو يو ډله ( د سلام مرستندويه ډله) يی جوړه کړی تر څو د سولې د عالی شورای سره په هره برخه کښی مرسته او کمک وکړی. يونما همدا ډول اعلان وکړ چی په ملی او محلی کچه به د سولی عالی شورای ته لوژستيکی مرستې وړاندی کوی.[165]

## د بياپخلاينی او يو ځايکيدنې ليد لوری

په دی ربع کښی، د ائيلافی قوواو استازی په پرله پسی ډول د بياپخلاينی هڅو او خبرو ته خوشبينه وو. په جنوب کښې ساحوی قومندای وړاند وينه کوی چی يوځل ISAF په ځانګړی توګه په ژمی کښې پر مخليفينو زور راوړی نو هغوی به خبرو اترو ته لا زياته ليوالتيا وښايی.[166] د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا د پخوانی ځانګړی استازی ريچارډ هولبورک په وينا د هغو طالبانو شمير په زياتيدو دی چی غواړی د بيا پخلاينی د هڅو سره يو ځای شی. د ريچارډ هولبورک په وين د دی کار اصلی لامل دا دی چی ا ډير ليږ شمير طالبان د مفکوری او ايديولوژکی نظر جنګيری او ډيری طالبان په وړو ډلو او ټپلو پوری اړه لری. د افراطيت سره لږ اړيکه درلودل سبب شوی چی ډيرې طالبان د خبرو او بيا پخلاينی ته زړه ښه کړی په ځانګړی توګه کله چی د ISAF لخوا نظامی لا زيات نظامی فشار ورباندی راوړل شی.[167]

## د بیایوځای کیدنې محلی هڅې

په دی درو میاشتو کښې مسلح ګروپو د هیواد په کچه مختلفو مسولینو سره د خپلو اړیکو په ترڅ کښې د افغانستان د اسلامی جمهوریت په مشری د بیا پخلاینی د هڅو سره د یوځای کیدو لیوالتیا ښودلې ده ، د دفاع د وزارت په وینا. د افغانستان د بیا پخلاینې او یوځای کیدنې پروګرام ۳ مرحلې لری:[168]

- عامه پوهاوی او خبری اتری
- د سلاحو په څمکه کیښودل
- ټولنې ته بیاراګرځونه

د ۲۰۱۱ کال د جنوری تر ۶ پوری د افغانستان دولت د بیاپخلاینې د پروګرامو او هڅو لپاره ۱۵۰ میلیون ډالره مرستو ژمنې ترلاسه کړی وی. اما تر اوسه د افغانستان دولت داسی مالی میکانیزم ندی وړاندی کړی چی وکولای شی په ولایتی کچه د بیاپخلاینې د هڅو لپاره دا پیسی ولیږدوی.[169] امریکای ځواکونه او ISAF، د افغانستان ملی امنیتی ځواکونه او محلی مشران د افغان مسولینو سره د مرستو له لاری د بیا پخلاینې د هڅو ملاتړ کوی. ۱۴ ولایاتو خپلې ولایتی کمیټې جوړې کړې او په ۱۳ نورو ولایاتو کښې د پروسه د بشپړیده په حال کښې وه. تر ۲۰ ډیری د ولسوالی په کچه کمټې جوړی شوی او ډیر شمیر د جوړیدو په حال کښې وی.[170]

د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری ۶۴۵ تنه مخالیفین د بیاپخلاینې د پروګرام سره یوځای شوی.[171] د ISAF، د کورنیو چارو د وزارت، د ملی دفاع د وزارت او د ملی امنیت استازی د دی هڅو سره د اړینو معلوماتو د ثبت او راجستر کولو او بې وسلو کولو له لاری مرسته او کمک کوی. د ملګرو ملتو په وینا د بیا پخلاینې د هڅو د لا هڅولو په موخه د دی پروسې سره یوځای کیدونکو ته د ۹۰ ورځو لپار خوراکی او غیر خوراکی بستې هم ورکول کیږی. د ملګری ملتونه وایی چې د بیا پخلاینې دا پروسه غوره او مناسب کار دی خو تر اوسه لا مخکی د وخته ده چې وویل شی دا کار به په یو لوی او مهم رواج باندی بدل شی. برسیره پردی ، په دی اړه هم سوالونه شته چې څومره د دغو خلکو څخه په ریښتیا هم مسلح مخالفین دی، او څومره نور ندی، خو د بیا پخلاینې د پروګرامو څخه ګټه اخلی.[172] لکه څرنګه چې په ۳.۲۳ شکل کښې ښکاری د بې وسلو کولو پروسه دوی مرحلې لری. د OSD په وینا د افغانستان د بیا پخلاینې د بیا جلب او جذب د پروسې په وړاندی لا ډیر خنډونه موجود دی ترڅو وکولای شی بریالی شی:[173]

- د افغانانو احتیاطی تدابیر: OSD ته معلومه شوه چې په د دوو مهمو لاملونو له کبله افغانان د بیا پخلاینې د پروګرام سره یو ځای کیدو ته زړه نه ښه کوی. د بریالی کیدو تر وخته د ډیرو شک او تردیدو شتون او د افغانستان د اسلامی جمهوریت لخوا د مرستی او په همکاری د باور نه شتون.
- د بیا پخلا شوو امنیت : OSD ته معلومه شوه چی د دولت سره بیا پخلا شوی تر ډیر حده د طالبانو لخوا په نښه شوی دی که څه هم OSD دقیقه شمیره نه دی ورکړی او د په نښه شوو تعداد یې نه دی ښودلی. د بیا پخلا شوو امنیت د افغانستان د اسلامی جمهوریت او د افغان ملی امنیت د ځواک دنده ده خو OSD په وینا ISAF باید دا هڅې وارزوی او هر کله چې اړینه وی د یادو شوو ادارو سره مرسته وکړی. برسیره پر دی OSD ته دا هم معلومه شوه چې د بیا پخلاینې د پروسی سره یوځای شوو څخه ټولی وسلې ندی اخیستل شوی او د لنډ وخت لپاره کولای شی د خپلو وسلو څخه کټه واخلی.
- د پوهاوی ټیټه کچه: که څه هم د محلی مطبوعاتو پوښښ د افغانستان د بیا پخلاینې هڅو او د افغانستان د سولی د عالی شورای په اړه عامه پوهاوی زیات کړی دی خو OSD ته معلومه شوه چې په ولایتی او د ولسوالی په کچه لا تر اوسه پوهاوی په ټیټه کچه دی او همدا ډول امنیتی مسولین هم په دی اړه کم پوهاوی لری. د OSD

انځور 3.23

**د وسلو اخیستلو او بیا پخلاني او جلب او جذب پروسه**

نوم لیکنه

د بیا یوځای کیدو سره هوډ او تکل (PPRC)

↓

انفراد سوری (PPRC)

↓

د شخصی، اجتماعی، کاری بوختیاوو، لیک لوست او کاری غوښتنو په اړه د معلوماتو ورکول

↓

د ناخوښی د لاملونو لیست

↓

د کورنیو چارو وزارت

↓

د وسلو ثبت او تنظیم (د کورنیو چارو وزارت، د ملی دفاع وزارت) (دایاګ)

↓

د پیژندګلوی د کارتونو ورکړه ( د کورنیو چارو وزارت) (DIAG/PTS)

مرحلي

د کمیټې لخوا څیړنه او پلټنه ( چی د PPRC لخوا همایه کیږی)

↓

د بیومیټرکو او استخباراتی معلوماتو شریکول د ISAF او متحده قواوو سره د معلوماتو شریکول

↓

د افغان ملی امنیت د ځواکونو، ISAF او د متحده قواوو لخوا د څیړنو تر سره کول

↓

د بیا جلب اوجذب اعلان (PPRC)

↓

د موخې د محدود لیسټ باندی ځای په ځای کونه ( د کورنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، د امنیت ملی ریاست، ایساف او متحده قواوې)

↓

د سیاسی خوندیتوب ورکړه د افغانستان اسلامی جمهوریت

یادښت: PPRC =د ولایتی سولې او بیا جلب او جذب کمیټه DIAG = د غیر مسولو نظامی ګروپونو منحل کولPTS = د سولې تحکیم پروګرام TF = عملیاتی قوه NDS= د ملی امنیت ریاست

“

سرچینه: د سیګارد 6/1/2011 غوښتنې ته د OSD ځواب

په وینا د دی پروګرام پلی کول، مرستی او کمک حرکت ورکول او خلکو ته رسیدنه به د عامه پوهاوی څخه پرته هیڅ پایلي ونلری او د ناکامی سره به مخامخ شی.

- د خبرو اترو موضوعګاني: OSD وایی چی مخالفین د مختلفو لارو د افغانستان داسلامی جمهوریت سره اړیکی نیسی او ISAF ترهغه نه وی خبر تر څو د افغانستان استخباراتی کړی په دی اړه معلومات ورنکړی. مخکی له دی چی د دولت یو مخالف د دولت سره یوځای شی په میاشتو وخت ته ضرورت دی تر څو اړونده خبری اتری ترسره شی او د اعتماد فضا را منځ ته شی او لازم ګامونه او ترتیبات ونیول شی. د OSD په وینا ISAF د دغو هڅو ملاتړ کوی پرته له دی چی خپله په مستقیم ډول ګډون ورګډ شی او یا هم مستقیم رول ولوبوی.
- د افغانانو ملکیت: د OSD له قوله په ولایتی کچه مسولین په پرله پسي ډول د بیا پخلاینی د انفرادی قضیو په اړه خپله علاقه د لاسه ورکړی، چی دا کار سبب شوی چی بیا پخلا شوی تنها پاتی شی او بیا جنګ ته مخه کړی. په همدی موخه، OSD ته معلومه شوه چی د دی هڅو د تقویی په موخه باید ولایتی بیا پخلاینی کمټې او په ولایتی کچه د بیا پخلاینی د حمایتی یا مرستندویه ډلی رامنځ ته شی.
- د محدودیتو د منځه وړل: د بیا پخلاینی خبری اتری د هغه مخالفینو سره ترسره کیږی چی د ISAF لخوا مخکی کښی د خبرو لپاره مناسب اهداف ګڼل شوی وی. د OSD په وینا د مخالفینو دا ډول په کوته کول باید ژر تر ژره ودرول شی، حتی مخکی تر دی چی تعهد وکړل شی او یا هویت تثبیت کړل شی که چیری غواړی چی د بیا پخلاینی پروسه بریالی وی. OSD ته معلومه شوه چی که چیری خبری اتری ناکامه شی نو دا په کوته کول شاید بیا د سره پیل شی.

## د بیا پخلاینی د هڅو سره د امریکا د متحده ایالاتو مرستی

د OSD په وینا امریکا د بیا پخلاینی او یو ځای کیدني د پروسي سره په ۲۰۱۰ مالی کال کښی ۱۰۰ میلیون ډالر او په ۲۰۱۱ مالی کال کښی ۵۰ میلیون ډالر مرسته کړی ده. د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری، د امریکا متحده ایالاتو د ملی پیوستون د پروګرام له لاری د افغانستان بیا پخلاینی او یوځایکیدنی د پروګرام سره ۵۰ میلیون ډالره مرسته کړی ده.[174] د افغانستان د بیا یوځایکیدنی پروګرام د امریکا د دفاع وزارت ابتکار دی چی غواړی د افغانستان د سولی او بیا یوځایکیدنی د پروګرام سره مرسته وکړی. په ۲۰۱۰ مالی کال کښی د بیا پخلاینی او یوځای کیدنی په فعالیتو باندی ۳۲۰۰۰۰ ډالر مصرف کړی دی. د یادو شوو پیسو ډیری برخه د شوراګانو په جوړولو او مخالفین بیرته خپلو ټولنو ته په را ماتولو او جلبولو باندی مصرف شوی دی. په دی درو میاشتو کښی د بیا پخلاینی د هدف په موخه ډیری لیږ مرستی ترسره شوی دی، د OSD په وینا د دی کار اصلی لامل دا دی چی د امریکا کانګرس په هغه پریکړه کښي چی د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۲۱ پوری د تطبیق وړ ده د بیا یوځای کیدنی لپاره مرستي نه دی ځانګړی شوی. د امریکا د دفاع وزیر اجازه ورکړی تر څو د عاجلو او د غیر عادی حالاتو د پیسو څخه د بیا پخلاینی د پروګرامو په پلی کولو کښی ګټه واخیستل شی تر څو د دی پروګرامو یوه برخه ترسره او عملی شی.[175]

د بیا پخلاینی او یو ځای کیدنی لپاره پلانونه او طرحي ذوب شوی دی. د OSD په وینا، د دی پروګرام انعطافوالی د ټولني په ابتکار پوری تړلی دی، او دا ابتکار باید دایمی سولی ته د ټولنی د اداری له لاری تر لاسه کړی او ټوله ټولنه ګټه واخلی نه یوازی پخوانی جنګیالان. OSD ته معلومه شوه چی د ټولنی بیا په پښو دریدلو او توانیدلو په موخه، ISAF یو لړ پرمختیایی پروګرامونه په نظر کښي لری. دا مرستي پداسی حال کښی چی اړین او مناسب وګڼل شی نو د ولایتی بیارغوني د ټیم د مرستو، د قومندان د عاجل عکس العمل د پروګرام، او د دفاع وزات د صلاحیت ورکوني د قانون په رڼا کښی د افغانستان د بیارغوني پروګرام سره مرستي ترسره کړی.[176]

## په ولایتي او د ولسوالی په کچه حکمت

د امریکا د دفاع او د بهرنیو چارو د لوړ رتبه مامورینو په وینا، پدی درو میاشتو کښی د امینت ښوالی په ځانګړی توګه په جنوب کښی سبب شوو چی په ولایتي او د ولسوالی په کچه د حکمت کولو په برخه کښی ښوالی او بهتروالی راشی.[177] همدا ډول لوی درستیز وویل چی دا لاس ته راوړني د منځه د تلو د خطار سره مخامخ دی.[178] د امریکا د دفاع وزارت په وینا هم د افغانستان دولت او هم ایتلافی قواوی باید په ګډه نور قوی ګامونه اوچت او لاس ته راوړنی ولری تر څو د ولایت او د ولسوالی په کچه په حکمت کولو کښی ښوالی رامنځ ته شی او ظرفیت لوړ شی.[179] په عمومی ډول د محلی حکمت کولو په اړه د افغانانو احساس او درک مثبت دی: د ایشیا فونډیشن د سروې په اساس ۷۸ په سلو کښی افغانان په ولایتي کچه د حکمت چاری او کار مثبت ګنی.[180]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا د ولایت او ولسوالی په کچه د ښه حکمت رامنځ ته کول یوه کراره او ستونزمنه پروسه ده. مهمی تشکیلاتی ستونزی لکه بیسوادی، زده کړی ته د لاس رسی نه شتون، د غیر دولتی اداره په پرتله د معاشاتو او مالی امتیازاتو کموالی او د فساد شتون د تکړه او پوهو مسولینو موندل او په کار ګمارل ستونزمن کړی دی.[181] د امریکا د دفاع وزارت لخوا په ۱۲۴ ولسوالیو کښی نوی ځیرني ښایی چی یوازی ۳۸ په سلو کښی افغانان په هغو سیمو کښی چی هلته " دولت بشپړ واک لری" او یا هم " مخ په قوی کیدو دی" کښی هستوګنه کوی. [182]

## د محلی حکمت کولو په موخه د اسانتیاو رامنځ ته کول

په دی درو میاشتو کښی، امریکا په محلی کچه باندی د حکمت په کولو تاکید او تمرکز کړی دی. د امریکا د دفاع د وزارت په وینا، یوه لاره او طریقه د هغو مشرانو په ګوته کول او پیدا کول دی چی کولای شی غوره رهبریت رامنځ ته او د ولسوالی په کچه او د ټولنو تر منځ غوره اړیکی ټنګي کړی. د ساحوی قومندانی د جنوبی سیمو د قومندان په وینا هغه اداره چی یاد شوی مشران ټاکی او په دندو ګماری اوس دومره تجربه او وړتیا لری چی کولای شی هغه خلک په دنده وګماری چی لازمه وړتیا او لیاقت ولری او د ولسوالیو په کچه په دندې ترسره کړی. د داسی مشرانو ګمارل چی وکولای شی د شورای له لاری د ټولنی مشری وکړی په افغانستان کښي د تل پاتی امنیت او ثبات لپاره یو مثبت ګام بلل کیږی. برسیره پردی، د رشوت او بډې په پرتله د ښایسته او توان لرونکی کسانو په ولایتي کچه د مامورینو ګمارل به په افغان دولت د خلکو باور زیات کړی.[183]

د USAID په وینا د ۲۰۱۰ کال د جنوری د لومړی څخه بیا د دیسمبر تر ۱۵ پوری د امریکا د مرستو په وسیله په ۱۲ نا امنه ولایتو کښی د ولسوالیو په کچه ۶۵ نوی شوراګاني جوړی شوی دی. تر هغه وخته چی د ولسوالیو ټاکني ترسره کیږی، دا شوراګاني به د ټولنو او حکمت ترمنځ اړیکی او ارتباط ټنګوی. موجودی شوراګانو د حکمت کولو ابتدایی اداری د ولسوالیو په کچه غزولی دی.[184]

د OSD په وینا  په هغه سیمو کښی چی امنیت مخ په ښه کیدو دی ملکی نهادونه او د افغانستان جمهوری اسلامی دولت په ګډه په محلی ګچه د حکمت د ظرفیت په لوړولو کښي رغنده رول لوبولی دی. د بهرنیو چارو وزارت خپلی ملکی هڅي او مرستي د قندهار او هلمند ولایت په ولسوالیو کښي متمرکزی کړی تر څو د ISAF د هغو هڅو چی غواړی په یادو شوو سیمو کښی امنیت ټینګ کړی سره مرسته وکړی.  دی کار په هغو سیمو کښی ملکی هڅو او د ظرفیت په لوړولو کښی رغنده رول لوبولی دی.[185]

### د افغانستان جنوب

په جنوبی سیمو کښی د اړوند قومندان له خولي د ۲۰۱۰ کال د اپریل را پدی خوا د قندهار ولایت د ښوالی لپاره د پیل شوو هڅو اوس د دی زمینه برابره کړی ده  چی پدی ولایت کښی د اوږد مهالی ټیکاو او محلی غوره

حکمت کولو ته لاره هواره شي. دی شرایطو اوس مشرانو ته دا زمینه برابره کړی ده چی خپلو کورونو ته بیرته را ستنه او په ارامه او ډاډه زړه سفر وکړائ شي، او د ISAF په مرسته د طالبانو د بیا واکمنیدو په اړه یی تشویش کم شوی دی.[186] د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا پدی ټولو برسیره طالبان اوس هم د حکومتی چارواکو په ضد د وژلو فعال کمپاین لری، او د دوی د کار په سیمه کښی د رغنده محلی حکومت په رامنځ ته کولو کښی خنډ رامنځ ته کړی دی.[187]

د افغانستان په جنوب کښی د انګلستان د لوړ رتبه استازی په وینا په هلمند ولایت کښی هم د حکمت کولو په ډګر کښی ظرفیت لوړ شوی دی.[188] د ۲۰۱۰ کال د نومبر تر ۸ نیټه پوری د هلمند د ۱۴ ولسوالیو څخه ۱۱ د حکمت لخوا ګمارل شوی ولسوالان درلودل چی په ښکاره د ۲۰۰۸ کال په پرتله ښوالی ښایی، هغه وخت یوائې ۵ ولسوالی د دولت په ولکه کښی وی.[189] د هلمند ولایت پنځه ولسوالی د ټولنې شوراګانی لری، دی کار دا موقع برابره کړی ده چی ISAF د ځایی شوراګانو په مرسته په سیمه کښی د غوره حکمتی خدمتونه چی د ځایی اوسیدونکو لخوا په کوته شوی وی وړاندی کړی.[190]

د امریکا د دفاع د وزارت په وینا د هلمند مارجه ولسوالی یوه ښه بیلګه ده چی معلومه کړی د نظامی قووی استفاده تر کومه حده د حکمت د کنترول لپاره اړینه او مهمه ده. په کال ۲۰۰۹ کښی، مارجه د مخالفینو د قومندې او د کنترول سیمه وه، د چاودیدونکی توکو د سمبالښت سیمه او ناقانونه مخدره توکو په یوه اډه بدل شوی وه. د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۲۳ د ISAF لخوا د لویو عملیاتو وروسته د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت مامورینو اعلان وکړ چی د افغانستان اسلامی جمهوریت د مارجه ولسوالی ونیوله. دا پرمختګونه د ۲۰۰۹ کال د ریاست جمهوری د ټاکنو په پرتله د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره په نوم لیکنه کښی د ۶۰۰ په زیاتوالی سره ښکاره او څرګند شول.[191] د چاودیدونکو توکو د جوړولو د مرکزو د منځ وړل سبب شول چی حکومتی کارکوونکی د ښار په ارامه او ازاده فضا کښی تګ او راتګ وکړی.[192]

## د سیمیز حکمت او ټولنې پرمختیا

د USAID د محلی حکمت او د ټولنیز پرمختیایی پروګرام په دی موخه جوړ شوی دی تر څو د منځنی او اوږد مهال سیاسی، اقتصادی او اجتماعی پرمختګ په رامنځ ته کولو کښی مرسته او کمک وکړی. د محلی حکمت او د ټولنیز پرمختیایی پروګرام لخوا د ۲۰۰۶کال د اکتوبر څخه بیا د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری ۳۱۶ میلیون ډالر منل شوی او ۲۳۸،۷ میلیون ډالر یی لګول شوی دی.[193] د پروګرام د بریالیتوب لپاره دری مهم معیارونه لری:[194]

- د افغانستان د اسلامی جمهوریت د مامورینو وړتیا لوړول تر څو وکولای شي وګړو ته غوره خدمات وړاندی کړی
- د ټولنو د ثبات او پرمختیایی فعالیتو زیاتول
- د بی ثباتی د اساسی لاملونو په ګوته کول او د عملیاتی پلانو له طریقه د حل لاری چاری مندل

د USAID له قوله په دی دړو میاشتو کښی د محلی حکمت او د ټولنیز پرمختیایی پروګرامو کښی ډیری ستونزی موجودی وی:[195]

- د ISAF د "د پاکولو او نیولو" په عملیاتو کښی ناکامی به دا لاس ته راوړنی او پرمختګ ډیر ستونزمن کړی.
- د افغانستان د دولت سره د اړیکو په دومدار توګو تقویت او تطبیق ته اړتیا لری.
- په نا امنه سیمو کښی د دویم لاس قراردادیانو لخوا د چارو پر مخ وړل د هغو ټولنو په پرتله چی هلته د

### د سیګار پلټنې

په دی درو میاشتو کښی، سیګار د هغو قراردادو په اړه چی د USAIDلخوا تمویل او د محلی حکمتداری او د ټولنو د پرمختیا په اړه ترسره کیږی د نویو څیړنو اعلان وکړ. د زیاتو معلومات لپاره د لمړي برخي 11 پاڼه وګورئ.

پیرودلو او نوری دندی په مستقیم ډول ترسره کیږی لږ مؤثریت لری.

- فعالیتونه د هغو اړتیاو سره چې د مخالفینو سره د مبارزی په ټولنو کښی ورته اړتیا لیدل کیږی تطابق نلری او هغه ټولی اړتیاوی نه شی پوره کولای.

د دی ټولو ستونزو برسیره د USAID په وینا د محلی حکمت او د ټولنیز پرمختیایی پروګرام توانیدلی دی چې په هیواد کښی د ثبات او ارامی په راوستلو کښی مثبت اغیزې ولری: د هرات ولایت په شینډنډ، ګزره او انجیل ولسوالیو کښی، د بادغیس اړوند بالا مرغاب، قادیس او مقر ولسوالی؛ د هلمند ولایت په لشکرګاه؛ د قندهار په میوند او مرکز کښي؛ او د خوست ګردیز لویه لاره په خوست کښی او د وردګو په نرخ او جرلیز ولسوالی او د لوګر، پکتیا او پروان اړوندی ولسوالی کښی مثبت بدلونونه را منځ ته شوی دی. په کنر، ننګرهار، غزنی، پکتیکا او د هلمند په اکثر سیمو کښی هڅي نه دی توانیدلی چې بشپړ امنیت ټینګ، د فساد سره مبارزه او د پروګرامو لپاره اړین او لازم پلانونه طرح او عملی شی د USAID په وینا په ۲۰۱۱ کال کښي به د محلی حکمت او د ټولنیز پرمختیایی پروګرام به په مهمو سیمو کښی د ثبات په پروګرام بدل شی، او هغه پروګرام به بیا پخپل وار په ۴ ساحوی پروګرامو وویشل شی.[196]

## د کلیو د ثبات په موخه فعالیتونه

د OSD په وینا د امریکا د دفاع وزارت د کلیو د ثبات فعالیتو پروګرام (VSO) د افغان محلی پولیسو د پروګرام (ALP) سره نژدی کار کوی ترڅو امریکایی او افغان پرسونل کلیوالی سیمو ته ولیږدوی تر څو د کلیو اړیکی د ولسوالیو او ولایتی حکومتی ادارو سره ټینګه کړی. (VSO) د شوراګانو سره مرستي او کمک کوی ترڅو کلی د ولسوالیو سره ونښلوی او همدا ډول د ولسوالیو په مرکز کښی د ظرفیت او ورتیا په لوړولو کښی مرستي او کمک کوی. VSO همدا ډول د کلیو د اوسیدونکو سره د مخالفینو په وړاندی او پراختیای ډګرو کښی مرسته کوی.[197] د VSO او ALP د امنیت د رامنځ ته کولو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د " امنیت" برخي ته ستانه شی.

د کلیو پرمختیایی پروګرام یا VSO په همدی نژدی وخت کښی یوه څلور ګامه ستراتیژی جوړه کړی ده:[198]

- ډول: د VSO لپاره هغه سیمي په ګوته کول چې ځایی اوسیدونکو د مخالفینو په وړاند ی د مبارزی په اړه د مرستي غوښتونکی دی؛ او د ثبات او ارامی له اړخه د افغانستان دولت، ISAF لپاره او د مخالفینو لپاره ډیر ارزښت لری او باید ارامه او با ثباته شی.
- بقا او پاتی کیدل: په کلیو کښی د مسولینو ځای په ځای کول تر څو د حکمت کولو، پرامختیا او د امنیت په اړه سلا مشوری او مرستي ترسره کړی.
- رغونه: د شوراګانو او پرمختیای پروژو له لاری د کلی او د ولسوالیو او ولایتی حکمتی ادارو سره د اړیکو ټینګول.
- د واک انتقال: افغانانو ته د لا زیاتو مشرتابه د انتقال په اړه اړین اقدامات ترسره کول.

د OSD په وینا VSO توانیدلی چې د خپل ماموریت په سیمو کښی په حکمتی او امنیتی برخو کښی لاس ته راوړني ولری. د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری ۳۱ VSO کاری سیمي درلودی. ارزګان ولایت چې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر ټاټوبی دی د VSO لپاره د کاری پلوه یو د بریالیو سیمو څخه ګڼل کیږی. VSO او ALP په ولایتونو کښی حکمتداری او امنیت ته توسعه ورکړی او د محلی او ځایی توان او ورتیا څخه د طالبانو د اغیزې د کم رنګه کولو په موخه ګټه اخیستی ده. همدا ډول پایلي په دایکندی، زابل او قندهار ولایت کښی هم تر لاسه شوی دی. د ملا عمر په ګډون د طالبانو لوړ رتبه مشرانو د VSO د لاس ته راوړنو په اړه خپله اندیښنه ښودلي او ویلی یی دی چې دا لاس ته راوړني د دوی واک او رول تر پوښتني لاندی راولی.[199]

د OSD په وینا په دی هر څه برسیره بیا هم د VSO په وړاندی ستونزی موجودی دی او بریالیتوبونه د منځ د تلو سره مخامخ دی. طالبانو او نورو مخالفو ډلو د VSO او ALP سره کارکوونکی د تهدید او ترور کمپاین شروع کړی دی. په دی کمپاین کښی هدف کړل شوی ترور او وژنه، مرسته کوونکو ته" شبنامې" او د کمک کوونکو تښتونه شامله ده. برسیره پردی، په ځینو سیمو کښی د ولسوالیو په کچه دولتداری ضعیفه ده، او دا کار کولی شی چی کلیو اړیکې د ولسوالیو او په ولایتو سره ضعیفه کړی. د قومونو تر منځ د تاوتریخوالی او ستونزو شتون هم د VSO د پراختیا مخه نیولی دی. د OSD په وینا د افغانستان دولت او د امریکا متحده ایالات په پرپلسی ډول مخالفینو سره د مبارزی او د محلی حکومتداری په وړاندی د شته ستونزو د حل په موخه د اوږد مهالو لارو په پیدا کولو کار کوی.[200]

## په عامه اداره کښې اصلاحات

د وړتیا لوړول د ملکی اداری د تقویې لپاره یو اړین او لازم ګام بلل کیږی. د ملګرو ملتو په وینا د افغانستان دولت په کابل کانفرانس کښی د هوکړه شوو پریکړو چی ویل شوی وو باید افغانانو ته بشپړ واک ولیږدول شی د عملی کولو په موخه خپل تعهد بیا اظهار کړی دی. د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۱۵ مه د څارنې او همکاری د ګډ هیئت په ۱۵ غونډه کښی، د افغانستان اسلامی جمهوریت اعلان وکړ چی د ۲۰۱۰ کال د اوکتوبر د میاشتی لپاره ټاکل شوی اهداف ۷۰ په سلو کښی پوره او تر لاسه شوی دی.. ملګری ملتونه دا ګام په دی معنی ګڼی چی د افغانستان اسلامی جمهویت په پرله پسی ډول " غواړی د خپلو کارکوونکو وړتیاوی لوړی او د چارو او پرمختیای دنده مشری او مسولیت په خپله واخلی".[201]

د ملګرو ملتو په وینا د افغانستان د وزیرانو شورای لخوا د افغانستان د بشر د حقونو د کمیسیون لپاره د مرستو ځانګړی کول د حکمتداری د تقویې په لاره کښی یو مثبت کار او اقدام ګڼل کیږی. ملګرو ملتو ته دا هم معلومه شوی چی د افغانستان اسلامی جمهوریت لنډ مهالی کاری چوګاټونه جوړ کړی دی تر څو د مالی کال په حساب د لګښتو د لومړیتوبونه ، د افغانستان د اداری د اصلاح په موخه د ستراتیژیو جوړنه، د ملګی خدمتونه د قانون بیا کتنه او د بست او پیسو د ورکړې پروګرامونه جوړ کړی.[202]

د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۱۹ مه ولسمشر حامد کرزی د یوه فرمان په ترڅ کښی د ملکی خدماتو د کمیسیونو لپاره د لوړ رتبه مامورینو او مسولینو ګمارل په مرکزی کچه ګرځولی دی. د دی فرمان څخه وروسته، وزیران نشی کولای د لوړ رتبه مامورین و ګماری، خو کولای شی د منظوری په موخه د خپلی د خوښې کسان پیشنهاد کړی. دا فرمان پدی موخه صادر شوی تر څو په دندو ګمارنه شفافه او غیر سیاسی کړل شی. ښاغلی کرزی همدا ډول څرګنده کړه چی خپله به هم مامورین په دنده منصوب نکړی.[203]

د ایشیا فاونډیش د پخوانیو ټول پوښتنو په اساس په عمومی ډول د افغانستان د اسلامی جمهوریت د کار او دندو په اړه خلک خوښ او خوشبینه دی: تر نیمایی لیږ ډیر (۵۷ په سلو کښی) په ملکی ادارو او (۵۴ په سلو کښي) په وزیرانو باندی خپل اعتماد ښکاره کړی ؤ. په عمومی ډول د حکمت کړنې او فعالیتونه مثبت او په زړه پوری ارزول شوی وو: ۷۳ په سلو کښی افغانانو ویلی چی د افغانستان دولت خپل مسؤلیتونه په سمه توګه ترسره کوی، چی د ۲۰۰۸ کال په پرتله ۶ فیصده زیاتوالی ښایی.[204] او په ټول پوښتنو کښی د ګډون کوونکو اکثریت یعنی (۵۴ په سلو) کښی ویلی وو چی دوی کولای شی د حکمت په پریکړو کښی رول او اغیزه ولری. دا معالومات په ۳.۲۴ شمیره شکل کښي بیان شوی دی.

د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۱۰ ، اروپایی اتحادیی وویل چی دوی به په مرکزی او محلی کچه د افغانستان د اسلامی جمهوریت د وړتیاو په لوړولو باندی د سره غور او تمرکز وکړی. د اروپایی اتحادیی په وینا د ملکی

3.24 انځور

سروې: تاسو د حکومت پر پریکړو باندی څومره اغیزه لرلی شی؟




یادښت: د اغیزمن شوو شمیره. د مکمله پوښتنه دا وه"ستاسو په اند تاسو د حکومت پر پریکړو باندی څومره اغیزه لری؟"

سرچینه: ایشیا فاونډیشن افغانستان په کال 2010 کښی: د افغانانو په اړه سروې، 9/11/2010 ، 200 پاڼه

خدماتو تشکیلاتی کمبودنیاوی، ګنګه حکمتداری او د مرکزی او محلی حکومتی ادارو تر منځ اړیکی، د غوره ملکی ادارو د اصلاحاتو په وړاندی تر ټولو لوی خنډونه دی. د ولسمشر او نورو لوړ رتبه مامورینو د غوښتني وروسته اروپایی اتحادیي د ممکنه ملکی خدماتو په برخه کښی د لا ښوالی او بهتروالی د لارو چارو ارزونه پیل کړي ده. دا مرستي کیدای شی چې په ساحوی کچه د روزني د مرکزونو د شبکي جوړل وی.[205]

## د عامه ادارو د اصلاحاتو څخه د متحده ایالاتو ملاتړ

د امریکا د دفاع وزارت په وینا د CERP لخوا د مرسته کیدونکو پروژو کښی د افغانستان دولت د پروژو په پلان او عملی کولو کښی په یو قوی او مؤثر شریک باندی تبدیل شوی دی. د افغانستان اسلامی جمهوریت- په ځانګړی توګه هغه محلی استازی چې د ولایتی بیارغوني د ټیمو سره کار کوی د CERP د پروژو په ګوته کولو، لومړیتوب ورکونه کښی تر ټولو ډیره مرسته کړی ده. برسیره پردی، د CERP ټولي هغه پروژی چې ۵۰۰۰۰ یا تر هغه ډیر لګښت لری یوی تفاهمنامي ته چې د افغانستان د اسلامی جمهوریت د یو لوړ رتبه مامور لخوا امضا شوی وی اړتیا لری. دا اړتیا پدی موخه رامنځ ته شوی ترڅو د افغانستان دولت د ثبات په اړه د پروژو او لګښتو په اړه لا زیات معلومات ولری. د امریکا د دفاع وزارت په وینا د دی پروژو په ټولو برخو کښی د افغانستان اسلامی جمهوریت ګډون به دی دولت ته د ملکیت او پروژو د منلو ډیره موقع برابره کړی.[206]

### د کړنو پر اساس د والیانو سره مرستي

د USAID لخوا د کړنو پر اساس د والیانو سره مرستي چې ۶،۸ میلیون ډالرو ته رسیږی په دی موخه تر سره کیږی چې والیان د خپلو اړوندو دفترونو مهمي دندي او د شوراګانو په ګډون د عامه پوهاوی پروګرامونه په مخ یوسی او دایر کړی. د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری د والیانو لخوا ۵،۳ میلیون ډالر لګول شوی دی، چې د دی ډلي ۱،۷ میلیون ډالر د ۲۰۱۰ کال د اګست تر ۲۰ پوری لګول شوی دی.[207] او دا مرستي سبب شوی چې والیان په خپلو اړوندو ادارو کښی د عامه پوهاوی په ګډون، د شوراګانو په لاره اچول ، د مخدره توکو د مبارزه په هکله د شوراګانو او د ستونزو د حل او د نورو موضوعګانو لپاره وکاروی.[208]

د مرستو په اړه نوی څیړني د پروګرام د کیفیت، د یو شان کټي اخیستني، اړیکو او مشورو، حساب ورکوني او شفافیت او بودجه د کاروني د عملی کولو په هکله ترسره شوی دی. او ۱۰ څخه د ۶،۴۲ نمبرو په اخیستلو سره " د قناعت وړ" پایلي ته ورسیدل او تیر کال د ۵،۸۳ نمبرو په پرتله ښوالی پکښی راغلی دی. پداسی حال کښی چې دا نمبری په دریو ولایتو کښی (تقریبا ۱۰ فیصده) چې یوه نومره کیږی کمه شوی ده. USAID په وینا د ځارني او ارزوني دا پروسه نوره هم تقویه کیدای شی. د مرستو لپاره د دفتر د امکاناتو نشتون او کم ټولنیز پوهاوی او د ولسوالیو په کچه د کمک او مرستو کموالی په ځینو ولایتو کښی د ورپیښو ستونزو څخه ګڼل کیږی. په عمومی ډول د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کښی بیلي شوی، او د ۲۰۱۱ کال تر جنوری پوری بی په لګښت د اضافه والی پرته مرستي وغزیدي؛ د مصارفو توسعه همدا اوس مهال تر بیا کتني لاندی ده.[209]

## قضایی اصلاحات او د قانون تطبیق

په دی درو میاشتو کښی قضایی اصلاحات او د قانون د تطبیق په اړه هڅي رواني وی. د دغه هڅو اصلی موخه دا ده چې د طالبانو د قضایی سیستم په وړاندی یو قوی بدیل پیدا کړل شی. د ولسوالیو په کچه مختلف پروګرامونه او زیربنایی پروژې پلی کړل شوی دی. د کاپیسا ولایت په نجراب کښی د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۱۳ د ولسوالی د محکمي تعمیراتی کار بشپړ شو.[210] ملګرو ملتونو د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۱۰ نیټه اعلان وکړ چې په خوست

### د سیګار پلټني

په دی درو میاشتو کښی، سیګار د هغو څلورو پروګرامو په اړه چې د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت او د امریکا د پرمختیایی پروګرام له لوری پلی کیږی د څیړنو اعلان کړی،په یوه ټاکل شوی ولایت کښي د والیانو ته کړنو په اساس د مرستو په ګډون.

د زیاتو معلومات لپاره د لمري برخي 13 پانه وګوری.

ولایت کښې د قضایي چارو د پوهاوی په اړه یو ۶ میاشتنی پروګرام پیل کوی. د دې پروګرام اصلي موخه داده چې د محلی او قبیلوی جرګو په ځای د حکومتي سیستم او د قانون د رول او د مقرارت باندی د پوهاوی له لاری د خلکو قضایی ستونزو ته د حل لارې چارې بیان شی.[211]

د ملګرو ملتو سر منشی د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر ماشتې په وینا کښې وویل چې په افغانستان کښې قضایی ادارو ته د لاس رسی په برخه کښې پرمختګ شوی دی. په قضایی چارو کښې مرسته کوونکی اداره په ډیرو ولایتو کښې پرانیستل شوی دی، او غیر دولتي ادارو خپلې حقوقي مرستې نویو سیمو ته غزولی دی.[212]خو د دې ټولو برسیره ایشیا فاونډیشن د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتی د سروی په اساس یوازی ۴۸ په سلو کښې افغانان د افغانستان په قضایی سیستم او کړنو باندی باور او اعتماد لری.[213]

## د متحده ایالاتو د عدلي څانګې د ملاتړ پروګرام

د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری د عدلی او قضایی څانګو د پرمختیایی پروګرام د خپلو اهدافو ته د رسیدلو په موخه ۴۷،۳ میلیون ډالر لګولی دی؛ او د امریکا د مخدره توکو او د قانون د پلی کولو د اداري(INL) لخوا ۸۳،۹ میلیون نور ډالر د دې پروګرام لپاره منل شوی دی.[214] د عدلی څانګی د ملاتړ پروګرام اصلی موخه او هدف د افغان جرمی قضایی او عدلی سیستم ارتقا ده، په دی ترڅ کښی به د افغان قضایی کارپوهانو او د څارنوالونو په ګډون سلا مشوری ترسره شی. دا پروګرام همدا ډول په جرمی قضیو کښې دفاعی سیستم د مدافع وکیلانو او د عدلی سیستم د نور کارپوهانو تر منځ د اړیکو د ټینګولو له طریقه مرسته او همکاری کوی.[215]

د INL په وینا د عدلی څانګی د ملاتړ د پروګرام ډیری اهداف د افغان دولت د لومړیتوبونو او د پلی کولو د پلان سره همغږی او مشابه دی. د عدلي څانګي د ملاتړ پروګرام د پلی کیدو موخي په لاندی ډول دی:[216]

- د فزیکی زیربناو پرمختیا ، اداره او د سازمان اصلاح: د افغان دولت د زیربنایی برخو اود وسایلو د پروژو او د نړیوال بانک د افغانستان د عدلی څانګي د اصلاحاتو د پروژې(AJSRP). سره مرسته. همدا ډول د عدلي څانګي د ملاتړ پروګرام د لوی څارنوالی د مرستو څانګه د معاشاتو د ورکولو او د دنده د بستو په اړه مرسته ترسره کوی.
- د ملکی او جزایی حقوقو د تفسیر نهایی کول د قوانینو بیا کتنه او د قانون د جوړوني په اړه خوش بینی: JSSP د جزایی قانون د اصلاحاتو د کاری ګروپ سره یوځای کار کوی.
- د حقوقي پوهاوی رامنځ ته کول: د JSSP عدلی وزارت د مرستو څانګه د افغانستان د عدلیی وزارت د حقوقو د څانګي او د AJSRP حقوقی پوهاوی د اجزاو سره مرسته کوی.
- د حقوقی مرستو ترویج او توشیق: JSSP د حقوقی مرستو د څانګي او د افغانستان د مدافع وکیلانو د بنسټ سره کار کوی.

**INL څارنوالانو، د پولیس افسرانو ته، قاضیانو او مدافع وکیلانو ته د منطق او د عادلانه محکمي اصولو په اساس روزنه ورکوی.**

سرچینه: INL، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/6/2011

د INL په وینا په دی درو میاشتو کښی JSSP د امریکای او افغان وکیلانو شمیره چې په سپتمبر میاشت کښی ۹۳ تنه وه د دیسمبر تر میاشتي ۱۰۷ تنه ته زیاته کړی ده. دا شمیره بیا هم د هغې پلان شوی شمیرې څخه چې د جولای په میاشت کښی INL په نظر کښی نیولی وه بیا هم ۵۱ تنه کم دی. INL وویل چې دوی هڅه کوی چې دا پاتی کارکوونکی د ۲۰۱۱ کال په لومړیو کښی تکمیل کړی او همدا اوس د هغه ۲۱ موقفو لپاره چې افغان حقوق پوهانو ته ځانګړې شوی دی د نوماند کسانو سره خپلو مرکو ته دوام ورکوی. ۱۳ امریکایی حقوق پوهان د جنوری او فبروری د میاشتی د روزنیز پروګرام لپاره چمتو او کارونه یې بشپړ او ۹ اضافی مشاورینو په روزنیز پروګرامونو کښی ګډون کړی دی او د راتګ لپاره د اړوندو اداری کارو د تکمیلدو په تمه دی.[217]

په هرو درو میاشتو کښی JSSP د افغانستان د قضایی سیستم د کارکوونکو لپاره په ولایتی کچه روزنیز

پروګرامونه په لاره اچوی. په تیرو درو میاشتو کښي JSSP په وردګ او لوګر ولایت کښی دوه روزنیز پروګرامونه په لاره اچولی دی. او په پام کښی نیول شوی دوه روزنیز کانفرانسونه ځنډول شوی، په بادغیس ولایت کښی په پام کښی نیول شوی کانفرانس د امنیتی ستونزو له کبله وځنډول شو. JSSP همدا ډول په پام کښی لری تر څو په راتلوونکی درو میاشتو کښی دوه روزنیز کانفرانسونه په لاره واچوی.[218]

## د جزايي اجراآتو قانون

د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ نیټي پوری د عدلیی وزارت د تقنین څانګي د جزایی اجراآتو په قانون کار او هغه یی نوی کړی وو، د دی کار اصلی موخه دا وه چی دا قانون د افغانستان د اسلامی جمهوریت د حقوقی معیاراتو سره سم کړل شی. په دی درو میاشتو کښی د JSSP مشاورینو په پرله پسی دول د تقنیق د څانګي لخوا د دی مسلي د تعقیب په موخه تاکید وکړ. برسیره پردی د جنوری د میاشتی په لومړیو کښی د تقنین څانګي وویل چی د جزایی قانون د بیا کتني لپاره یوه میاشت نور وخت ته اړتیا لری.

په نومبر کښی , ISAF د تقنین په څانګه کښی د افغانانو د خپل لاس د پروګرام له طریقه یو امریکایی حقوقی مشاور وروپیژانده، د دی کار اصلی موخه په ملکی او نظامی برخو کښی د عامه وګړو سره د اړیکو تقویه او د افغانستان دولت ته د مسولیت انتقال په ګوته شوی دی. د ۲۰۱۱ کال د جنوری تر ۶ پوری INL و نه توانید چی د بیا کتني په دی پروسه کښی د حقوقی مشاور موثریت او تاثیر وارزوی.[219]

## بنديان او زندانونه

د امریکا د دفاع وزارت په وینا په دی درو میاشتو کښی د بندیانو او د زندانونو د مسولیت چاری افغانانو ته سپارلو لړی دوام درلود. د ۲۰۱۱ کال د جنوری تر ۶ پوری د بندیانو او د زندانونو اړوند چاری په هغه دوو مهمو توقیف خانو کښی چی په پروان کښی دی خپله د افغانانو د دوو ټیمو لخوا پر مخ وړل کیدلی او د دریم یونټ د روزني چاری یی هم پر مخ بیولی. د ۲۰۱۱ کال په جنوری کښی لومړی توقیف خانه افغان مسولینو ته انتقال شوه، او د ګډ داخلی استازی د عملیاتو ځواک ۴۳۵-(CJIATF-435) په پام کښی لری چی د اپریل او مارچ تر میاشتو پوری د دوو نورو توقیف خانو مسولیت هم افغانانو ته وسپارل شی. OSD همدا ډول په ۲۰۱۱ مال کال کښی د (CJIATF-435) لخوا د افغان مسولینو لپاره د روزني، وسایلو او توکو د برابرولو په موخه مرسته کړی، ترڅو افغانان وکولای شی د زندانو چاری پر مخ یوسی او دا فرصت برابر کړی چی مسولیت افغانانو ته انتقال شی. CJIATF-435 د پروان ولایت اړوند بندی خانو کښی تر ۱۲ ډیر د حرفوی او لیک لوست پروګرمونه اداره کړی دی.[220]په دی کورسو پوری اړوند د حاضری لیستونه د زندانیانو د بیاکتني هیئت ته وړاندی شوی دی، د امریکا متحده ایالاتو د ځانګړی عملیاتو قومندانی په وینا دا معلومات کیدای شی د بندیانو لخوا د موجوده خطرو د پیژندلو لپاره وکارول شی.[221]همدا ډول CJIATF-435 د ازادو شوو بندیانو په اړه د افغان دولت لخوا د شوراګانو د جوړولو سره هم مرسته کوی، د دی شوراګانو اصلی موخه دا ده چی د بندیانو وارثینو ته د هغوی مسولیت او توکی وسپارل شی( د کار زمینه برابره شی) او همدا ډول نورو ته دا خبره واضیح او بیان شی چی ازاد شوی بندیان اوس کولای شی د ټولني د نورو سالمو غړو په څیر خپل ژوند ته دوام ورکړی.[222]

## د اصلاحی سیستم سره مرسته او کمک

INL د اصلاحی سیستم سره د مرستو پروګرام (CSSP) مویل کوی،تر څو د افغانستان اسلامی جمهوریت وکولای شی په بشری اصولو برابر، خوندی اصلاحی سیستم چی په نړیوالو اصولو او د افغان دود او کلتور سره

برابر وی رامنځ ته کړي. په دې درو میاشتو کښې CSSP خپلې مرستې د شپږو څخه اتو ولایاتو ته وغزولې او همدا ډول یې خپل فعالیتونه په بامیان او قندهار ولایت کښې پراخ کړي دي. INL همدا ډول د افغان کمپنیو لخوا په بغلان او وردگ ولایت کښې د بندي خانو وداني ورغولې او همدارنګه یې د پل چرخي په زندان کښې د اوبو یوه ټانګې او د مامورینو لپاره یو اطاق ورغول.[223] څرنګه چې په ۳.۷ شمیره جدول کښې ښکاري د افغانستان په زندانو کښې د ټاکلې حده ډیر بندیان ساتل کیږي.

په دې درو میاشتو کښې، د افغانستان د قانون او نظم مرستو(LOTFA) د رهبرۍ ګروپ د مرکزي زندان د مدیره هیئت سره مرستې زیاتې کړې تر څو د مخ په لوړیدونکې اصطکاک سره مرسته وکړئ شي. د امریکا، برتانیا، کاناډا او اروپایي اتحادیې لخوا د LOTFA سره د ترسره کیدونکې مرستو یوه برخه د دې معاشاتو په ورکول باندې لګول کیږي؛ همدا ډول د جاپان هیواد د یادي شوي پروسې سره په نږدې راتلونکې کښې د مرستو وعده ورکړې ده.[224]

## بشري حقوق

په دې درو میاشتو کښې، ډیر شمیر سازمانو د هغو ورپیښو ستونزو چې افغانان یې د خپل بشري حقوق په اړه لرې راپور اعلان کړي دي. په دې برخه کښې په افغانستان کښې د بشر د حقونو د بې ځایه شوو وګړو، مساوات او همدا ډول د ماشومانو د حقونو په ګډون تازه معلومات وړاندې کیږي.



**د مهاجرینو دا ډول کمپ زرګونه** بیا ستنیدونکو لپاره کور وو. د ملګرو ملتونه د مهاجرینو لپاره د کمیسیون په وینا د روانو سیاسي، امنیتي او اقتصادي ستونزو له امله د افغان دولت لخوا د مهاجرینو جلبول د ستونزو سره مخامخ شوي دي. ( د امریکا د هوای پوځ انځور، ستاسي هاګا)

د 3.7 جدول

**ولایتی زندانونه: تر خپل حد نه ډیر نفوس د فیصدی په اساس**

| | اعظمی اشغال | تول زندانیان | د اشغال کچه |
|---|---|---|---|
| **0–100%** | | | |
| پکتیا | 250 | 194 | 78% |
| نورستان | 16 | 2 | 13% |
| **101–300%** | | | |
| زابل | 29 | 84 | 290% |
| ننگرهار | 413 | 1,134 | 275% |
| لوگر | 26 | 65 | 250% |
| سمنگان | 60 | 146 | 243% |
| خوست | 71 | 151 | 213% |
| کندهار | 630 | 1,114 | 177% |
| لغمان | 119 | 208 | 175% |
| هلمند | 453 | 720 | 159% |
| بادغیس | 83 | 129 | 155% |
| جوزجان | 457 | 666 | 146% |
| پنجشیر | 24 | 33 | 138% |
| کابل | 4,978 | 5,103 | 103% |
| **301–600%** | | | |
| بغلان | 48 | 284 | 592% |
| هرات | 353 | 2,079 | 589% |
| سرپل | 32 | 156 | 488% |
| کاپیسا | 24 | 116 | 483% |
| دایکندی | 26 | 111 | 427% |
| غور | 26 | 111 | 427% |
| کنړ | 34 | 136 | 400% |
| پروان | 61 | 232 | 380% |
| بلخ | 106 | 400 | 377% |
| فراه | 99 | 364 | 368% |
| نیمروز | 73 | 260 | 356% |
| غزنی | 74 | 261 | 353% |
| کندوز | 116 | 405 | 349% |
| بامیان | 26 | 88 | 338% |
| بدخشان | 50 | 164 | 328% |
| وردگ | 40 | 122 | 305% |
| **601–1,000%** | | | |
| تخار | 46 | 436 | 948% |
| ارزگان | 34 | 260 | 765% |
| پکتیکا | 9 | 62 | 689% |
| فاریاب | 73 | 454 | 622% |

یادداښت: د نړیوال سره صلیب د معیاراتو پر اساس د هر زندانی لپاره ۳،۴ متر مربع ځای په نظر کښی نیول شوی دی.
دا معلومات د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۱۲ پوری د نارینه زندانیانو ښکارندوی کوی.

سرچینه: INL، د سیگار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/6/2011

## بې ځایه شوي وګړي

د ۲۰۰۰ کال څخه بیا د ۲۰۱۰ کال د نومبر تر دویمې نیټې پورې د امریکا متحده ایالاتو د ملګرو ملتونو د مهاجرینو د ستر کمیسیون(UNHCR)سره ۷۱۰ میلیون ډالره مرسته کړې ده. دا مرستې د مهاجرینو سره په افغانستان کښې او د نړۍ په نورو برخو کښې په مرستو باندې لګول کیږي. د UNHCR په وینا، د سیاسي، امنیتي او اقتصادي پرمختیا په وړاندې شته ستونزې سبب شوي چې دا ټولنه ونشي کولای افغانستان ته د بیرته راتلو لپاره مهاجرین قانع او خپل وطن ته را مات کړي. هغوی خپل ظرفیت او توان تر اخرې حده پراخ او غزولی، او همدا کار سبب شوی چې د بیا یوځای کیدنې او د تل پاتې بقا او پایښت په وړاندې ناوړه چاپیریال رامنځ ته شي.[225] په کور د ننه د بې ځایو شوو شمیره په هغو سیمو کښې لوړه ده چې خراب امنیت لري او همدا لامل دی چې UNHCR نشي کولای هغو سیمو ته لاس رسی پیدا کړي. د UNHCR په وینا اټکل کیږي چې په ۲۰۱۱ کال کښې د په کور د ننه بې ځایه شوو شمیره په جنوب، شرق او جنوب لویدیځ کښې د عملیاتو په زیاتیدو لا پسې زیاته شي.[226]

د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د ۱۴ څخه بیا د همدې کال د دیسمبر تر ۱۰ پورې ۱۱۰۰۰ مهاجرین افغانستان ته ستانه شوي دي.[227] او د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا ۵ میلیون افغانان خپل ټاټوبې ته ستانه شوي چې د افغانستان په عمومي نفوس کښې ٪۲۰ زیاتوالی ښایي. په هغه سیمو کښې چې د راستنیدونکو ډیرې جوړوي هغه سیمې د اوسیدونکو یو پر دریمه برخه جوړوي. راستنیدونکي اقتصادي ثبات، امنیت، د اوسیدو لپاره ځای او ځمکه ته اړتیا لري اما ځمکې او بیرته راستنیدونکو ته لاس رسی په قضایي ادارو کښې د لوړ فساد د شتون له کبله د ډیرو ستونزو سره مخاخ دي. د بیرته راستندونکو په وړاندې د شته ستونزو د منځه وړلو په موخه UNHCR بیرته راستندونکي ته په لومړۍ میاشت کښې د پیسو اندازه ډیره کړې ده.[228]

3.25 انځور

سروې: ایا ښځو ته د کور د باندې د کار ورکولو اجازه ورکړل شي ؟




یادښت: د غونډې څخه د اغیزمنو شمیره پوښتنه داسې وه" د ځینو په اند ښځو ته باید د کور څخه بهر د کار کولو اجازه ورکړل شي، ستاسو نظر څه دی؟"

سرچینه: ایشیا فاونډیشن افغانستان په کال 2010 کښې: د افغانانو په اړه سروې، 9/11/2010 ، 218 پاڼه

## د جنس (جنډر) له نظره مساوات

په دې ربع کښې، یونما ښځو ته د بشري حقوقو په برخه کښې د ورپیښو ستونزو او د لارو چارو په اړه یو تفصیلي راپور خپور کړ. دې ادارې ته معلومه شوه چې په کم عمر کښې ودونه، د ستونزو د حل په موخه د ښځو او انجونو ورکول، د کورنیو "تر منځ د انجونو تبادله" په بدو کښې ورکول او د ویاړ په نامه د ښځو وژل ټول هغه ستونزې دي چې د ښځو د حقوقو په برخه کښې د هیواد په کچه تر سترګو کیږي. برسیره پردې ټولو، د ښځو د حقوقو په برخه کښې د طالبانو د سقوط څخه وروسته د مختلفو لاملونو له کبله اټکل شوي اهداف نه دي تر لاسه شوي:[229]

- دود او کلتور، ستونزو ته د حل لپاره د هغو لاره چارو خپلول
- چې په افغاني کلتور کښې تر مذهبي اغیزې لاندې اختیار شوي دي
- د افغان دولت لخوا د ۲۰۰۹ کال د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منځ وړلو قانون بشپړ نه دی پلي شوی

د ۲۰۰۹ کال قانون تر ډیره حده د هغو دودنو، رواجونو او اقداماتو د منځ وړل دي چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته لاره هواره وي. همدا ډول یونما ته معلومه شوه چې د قانوني پلي کوونکو اداری یا خو د دې قانون څخه بې خبره وو او یا یې هم د پلي کولو لپاره لیوالتیا نه درلوده، همدا لامل سبب شوو چې تر اوسه د بشر د حقوقو په برخه کښې دا بې عدالتي موجوده وي. یونما د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت ته وړاندیز وکړ چې پولیسو او د قضایي چارو مسولینو ته لا زیاته روزنه، مرسته او د دوی د کارونو څخه لا زیاته څارنه وشي تر څو یقیني شي چې قانون په سمه او دوامداره توګه پلي او عملي کیږي. راپور همدا ډول تاکید کړی چې د افغان دولت لپاره باید د بیا پخلاینې او یوځایکیدنې په پروسه کښې د ښځو حقوق یو د لومړیتوبونو څخه وي.[230] څرنګه چې په

۳.۲۵ شمیره شکل کښي بیان شوی، د ایشیا فاونډیشن لخوا په تر سره شوی سروې کښي د افغانانو اکثریت (۶۴ په سلو کښی) وایی چی ښځو ته باید د کور څخه د باندی د کار کولو اجازه ورکړل شی.

## د ماشومانو حقوق

د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون(AIHRC) په وینا تر اوسه هم ډیری افغان ماشومان د خپلو حقوقو څخه محروم دی. په دی ستونزو کښی ډیر فکتورونه رول او شامل دی: د دی حقوقو په اړه په ټولنه کښی لړ عامه پوهاوی، د ماشومانو د خوندیتوب لپاره د اړینو میکانیزمونو نه شتون، سیاسی او اقتصادی بی ثباتی او یو شمیر دودونه او رواجونه. د یاد شوی کمیسیون په وینا د افغانستان دولت او نړیواله ټولنه باید حقوقی، اقتصادی او د عامه پوهاوی پروګرامونه زیات او قوی کړی تر څو د ماشومانو د حقوقو عملی کیدل یقینی شی.[231]

د ۲۰۱۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کښی د AIHRC سره د ثبت شوو پیښو ۱۰ فیصده هغه پیښي جوړ وی چی په هغو کښی د قانونی عمر د پوره کولو مخکښی واده شوی دی. دا ډول ډیری ودونه د ناوتریخوالی له پیښو سره یو ځای وو او په ۵ فیصدو پیښو کښي د واده شوو تر منځ تر ۳۰ کالو ډیر عمری تفاوت وو. د AIHRC سره د ماشومانو په وړاندی د ناوتریخوالی په ثبت شوو پیښو کښی تر ټولو ډیری پیښي یعنی (۲۷،۷ فیصد) هغه پیښی دی چی په هغوی کښی د ماشومانو څخه ناوړه جنسی ګټه اخیستل شوی ده.[232]

په دی ربع کښی، UNICEF د افغان دولت څخه وغوښتل چی د ماشومانو د حقوقو د دفاع او د پلی کولو په موخه اړوند قوانین پلی کړی . د هرو پنځو افغان ماشومانو څخه یو مخکی تر دی چی پنځه کلن شی مری، او یوازی ۶ په سلو کښي نوی پیدا شوی ماشومان راجستر کیږی – چی د قانونی پیژندګلوی په لاره کښی لوی خنډ او ستونزه ګڼل کیږی. د UNICEF په وینا د افغانستان دولت یو شمیر پالیسی او قوانین منظور کړی چی وکولای شی د ماشومانو دحقوقو څخه ساتنه وکړی خو یاد شوی قوانین باید هم په عملی او هم د موادو له اړخه غنی او لا قوی کړل شی.[233]

UNICEF همدا ډول دا وړاندیز هم کړی چی د افغانستان دولت باید یاد شوی قوانین پداسی توګه عملی کړی چی د هغه څخه څارنه وشی، ماشومانو ته د خپلو حقوقو په اړه پوهاوی ورکړل شی، او هغه ډلو لکه ښوونکی، روغتیایی کارکوونکی او پولیسو ته باید د ماشومانو د حقوقو په اړه اړین معلومات او پوهاوی ورکړل شی.[234]

> "دا د افغان دولت دنده ده تر څو یقینی کړی چی داسی حقوقی کاری چوکاټ لری چی کولای شی ټول ماشومان خوندی کړی. UNICEF به دا ډول مرستو ته ادامه ورکړی."
>
> –UNICEF استازی پیټر کراولی

سرچینه: UNICEF, "UNICEF په افغانستان کښي د ماشومانو په اړه د بشپړ قانون او مقرارتو غوښته وکړه," 11/23/2010.

# اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

تر ۳۱ دسمبر کال ۲۰۱۰ پورې متحده ایالاتو د افغانستان د پرمختګ او حکومتدارۍ د ملاتړ لپاره ۱۶.۱۵ میلیارد ډالر ورکړی وو.[235] په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ مهمه برخه بحرانی بنسټیزې بیا جوړوني او د اوږد مهاله پایه دار اقتصادی پرمختګ لپاره بنیادونه جوړول دی.[236] دغه برخه د مهمو اقتصادی څرګندوونکو او د متحده ایالاتو د حکومت او افغانستان د بحرانی بنسټیزې بیا جوړوني او د ضروری خدمتونو لپاره د نورو بسپنه ورکوونکو د کوښښونو په پام کې نیولو سره د دغه اقتصادی پرمختګ مقاصد ته د رسیدلو یوه کتنه وړاندې کوی.

## مخکښ څرګندوونکی

د اقتصادی پرمختګ د مرستې د اغیزمنتوب پرتله کولو یوه لار دا ده چې مخکښ څرګندوونکی چې مالی پیاوړتیا او وده اندازه کوی، د مثال په توګه کورنی نا خالص تولید (GDP)، انفلاسیون او د اسعارو بدلون. د متحده ایالاتو حکومت په افغانستان کې د مخکښ څرګندوونکو لپاره رسمی هدفونه نه ټاکی، مګر دغه سیستم د دې مالومولو لپاره مهم دی چې آیا دغه هیواد د اقتصادی ودې او مالی پیاوړتیا په لاره روان دی. نړیوال بانک، چې دغه څرګندوونکې یې له نږدې څخه څارلی، په دې نتیجه رسیدلی چې د افغانستان اقتصادی وده په کال ۲۰۰۹/۲۰۱۰کې مضبوطه مګربې ثباته پاتې شوې. دغه په کال ۲۰۱۰/۲۰۱۱ کې په محتاطه توګه د بشپړې ودې لپاره هیله مند دی.[237]

## کورنی ناخالص تولید

د نړیوال بانک د نوی اقتصادی رپوټ له مخې په کال ۲۰۱۰/۲۰۱۱ کې د افغانستان اصلی کورنی ناخالص تولید اوسط ٪۸.۵–۹.۰ ٪ پورې اټکل کیږی. د نړیوال بانک له مخې د دغه پیاوړې اقتصادی کړنې تر ټولو اساسی عامل د خدمات او وسایل لپاره اوچته غوښتنه ده، چې د امنیتی اقتصاد او د متحده ایالاتو او نورو بسپنه ورکوونکو د لګښت په نتیجه کې منځ ته راغلی. لګښتونه لاندیني څیزونه رانغاړی:[238]

- ٪۲۴ اټکل شوی زیاتوالی په بسپنه ورکوونکی مرستو کې چې د افغانستان اسلامی جمهوریت د حکومت مرکزی بودیجه سره ملاتړ وکړی.
- ۴ ملیارد اټکل شوی امریکایي ډالر د بسپنه ورکوونکی مرستې لپاره تر څو د بودیجې د باندې لګښتونو سره ملاتړ وکړی.

د غوره کرنیز تولید دوه پرله پسې کلونو په پیاوړی اقتصادی وده کې مرسته کړې. په واقعیت کې، نړیوال بانک نوټ کړې چې وچې میوې او زنې له غالیو څخه په وړاندې کیدو سره د افغانستان مخکښ صادرات شوې. له ۲۰۰۵/۲۰۰۶ څخه تر ۲۰۱۰/۲۰۱۱ کال پورې، وچه میوه او زنې د افغان صادراتو تر نیمه پورې وختل.[239]

د متحده ایالاتو دکرنیزې مرستې فوکس دا دی تر څو نور افغانان له غلو او ناقانونه کښتونو څخه تر با ارزښته میوو،مغزیاتو او زنو ته وهڅوی . لکه څنګه چې په کال ۲۰۱۰، د افغانستان بیا رغوني ځانګړې عمومي پلټونکی په مخکینی دری میاشتینی رپوټونو کې راغلی، چې د متحده ایالاتو د نړیوالي پراختیا اداري ۳۰ میلونه امریکایي ډالر افغان بزګرانو ته ورکړی.[240]

د نړیوال بانک له مخې ،افغان خدماتی سکتور — چې پکې ارتباطات، مالی او تراسپورت شامل دي، د کال ۲۰۰۹/۲۰۱۰ اقتصادی ودې مخکښ مرسته کوونکی دی. د بانک د رپوټ له مخې د یادوني وړ تګلارو څخه،په کال ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کې د ارتباطاتو سکتور د ۴۵٪ د پام وړ وده کړې.لکه څنګه چې د افغانستان بیا رغوني ځانګړې عمومی پلټونکی دمخکینی دری میاشتینی رپوټ له مخې، د متحده ایالاتو حکومت د افغانستان اسلامی جمهوریت حکومت د وړتیا جوړولو ته سرمایه ورکړی تر څو د مخابراتو سکتور او د مخابراتو خدمتونه تر کلیوالو سیمو پورې وغزوی. د پرتلې په ډول، په تولیداتو کې د کمی له کبله، د افغانستان صنعتی سکتور به په کال ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کې تر ۳٪ پورې کم شی.[241]

## انفلاسیون

د نړیوال بانک له مخې، د انفلاسیون اداره کولو دپاره، افغان مرکزی بانک ښه دنده ترسره کړې. د معقولې مالی پالیسی له کبله انفلاسیون په کال ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کې اوسط ۳٪ وو، چې د کال ۲۰۰۸/۲۰۰۹ له ۹٪، څخه کم وو. مګر بیا هم نړیوال بانک اټکل کړی وو چې انفلاسیون به په کال ۲۰۱۰/۲۰۱۱ کې ۵٪ وي، چې په زیاته اندازه د خوراکی توکو په بیعو سره تړلی دی. دغه بدلون په ګاونډی هیوادونو کې د خرابو د هوا حالتونو له کبله مینځ ته راغی، چې په نتیجه کې په افغانستان کې د ضروری توکو لکه غنم،د پسه غوښه، د غوایه غوښه، بوره او د اوړو بیعې پورته شوې. تر دې چې د خوراکی توکو په بیعو کې لږ زیاتولی هم د غربت کرښې ته نږدې افغانان ډېر اغیزمن کوی. نړیوال بانک اټکل کوی چې د غنمو په بیعه کې ۱۰٪ زیاتولی نیژدې ۳۷۷۰۰۰ افغانان نیستی ته ور پورې وهي. دا ځکه چې، ډوډی او غله، د غوښې او سبزی جاتو پر ځای د بیوزلو کورنیو لپاره په زیاته توګه د انرژی د وندې سبب ګرځی.[242]

## د اسعارو بدلون

په تجارت کې د اسعارو بدلون یو مهم عامل دی، ځکه چې د یوه هیواد لوړه پیسه د هغې د صادراتو ارزښت لوړوي. بر عکس، ټیټه پیسه د یوه هیواد صادرات کم ارزښته کوی.

د نړیوال بانک له مخې، په مالی کال ۲۰۱۰کې افغانی د نړی د نورو پول واحد په مقابل کې با ارزښته شوه. د مالی کال ۲۰۱۰ لپاره د ډالر په مقابل کې دغه لوړه شوه او په جولایی ۲۰۱۰ کې د یورو په مقابل کې هم لوړه شوه. د نورو تګلارو تر څنګ، بانک نوټ کړی چې په پاکستان کې د روانو ناکراری له کبله پاکستانی روپی دې حد ته رسیدلې چې زیات شمیر تجاران غواړی چې په افغانیو کې د پیسو ادا کول غواړي.[243]

د نړیوال بانک له مخې، افغانی صادرات په کورنی نا خالص تولید کې د ونډې په توګه په کال ۲۰۰۵/۲۰۰۶ کې له ۲۴٪ څخه په کال ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کې تر ۱۵٪ پورې ټیټ شوی. سره له دې، د پیسو نړیوال صندوق په دې نتیجه رسیدلی چې په اصلی توګه افغانی نده لوړه شوې.[244]

## کارموندنه

په افغانستان او پاکستان کې د متحده ایالاتو د سیمیزې استحکام د ستراتیژی له مخې، په افغانستان کې د اوږد مهاله

ودي او د توند لارو د کمزورى کولو لپاره د دندو پيدا کول اړين دى.[245] له څنګه چي د افغانستان د بيا رغوني ځانګړى عمومي پلټوونکى په ځانګړى مخکينى درى مياشتينى ربوټ کي ياد شوى، چي په افغانستان کي د کارى قوه او بي کارى دقيقه اندازه د اوسنى ملى سرشمارى د مالوماتو د نشتوالى له کبله نشى اټکل کيداى. دا ممکنه نده چي ،په کرنيز يا کوم بل سکتور کي د متحده ايالاتو د کار موندني د هدف د زياتولو پرمختګ په دقيق ډول اندازه کړاى شى، مګر بيا هم د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري ډيرى د کار مواقع د کار لپاره پيسي او لومړى افغان د پروګرامونو له لارې پيدا کړي دي.

د متحده ايالاتو د نړيوالي پراختيا اداري له مخي، په مالي کال ۲۰۱۰ کي، ۷۸۰د کار لپاره د پيسي پروژې بشپړې کړې، چي ۱۰۳۰۰۰ کارکوونکى او تقريبا ۲۷ ميلونه ډالر عايدات يي افغان اقتصاد ته ورکړى وو چي د ۲۲۵۰۰ دايمي کارونو برابر وو.[246] د متحده ايالاتو د نړيوالي پراختيا اداري دا هم څرګند کړى چي له کال ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۰ پورې دوى په پياوړتيا سره د لومړى افغان تر پروګرام لاندې خپل کوښښونه ګړندى کړى او لاندينى پايلي يي تر لاسه کړي:[247]

- ۸۵۶۵۰ افغان پرسونل په کار ګمارل شوي
- ۴۲۲۷ خاپي شرکتونه تر قرارداد لاندې
- ۱۴۷۸ افغان فارغين او برحال په کار ګومارل شوي
- ۱.۱۲ مليارد امريکايي ډالر په لاندينى قراردادونو او خدمات او وسايل په ځايي توګه تر لاسه شول

## مالى اداره

په افغانستان کي د اقتصادى ورتيا جوړولو مهمه برخه د يو نوى مالى سيستم بنسټونه جوړول دي.د افغانستان له مرکزى بانک سره د متحده ايالاتود کار دغه درى مياشتينى کوښښونه د کابل بانک لخوا پيدا شوى بحران کمول، اليکترونيکي بانکى خدمتونو ته د لاسرسى غزول اود ماليي وزارت سره د نوي عامه سيکتور مالى ادارى تر قانون لاندې د لومړى پلټنو په تنظيمولو کي مرسته.

## بانکداري

لکه څنګه چي د افغانستان د بيا رغوني د خانګړى عمومي پلټوونکى د مخکيني درى مياشتيني ربوټ له مخي، د متحده ايالاتو لخوا د شخصى بانکونو پرمختګ او د کريډت (بانکي درلودني) ټولنو د روايتى پيسو د سيستم په مقابل کي د يو متبادل سيستم په توګه وهڅول. د متحده ايالاتو د نړيوالي پراختيا اداري له مخي، د متحده ايالاتو حکومت مرستي د بانکى ادارو شمير په مالي کال ۲۰۰۹ کي ۱۲ څخه په مالى کال ۲۰۱۰ کي تر ۱۷ پورې زيات کړ او د تجارتى بانکونو ځانګي له ۲۸۰ څخه تر ۳۲۹ پورې په همدغه موده کي زياتي شوې. له دې سره د متحده ايالاتو د نړيوالي پراختيا اداري دا څرګنده کړه چي د متحده ايالاتو حکومت مرستو په مالى کال ۲۰۱۰ کي د افغان پورکوونکو ټوله شميره ډېر زياته کړه، ځکه چي د وړو قرضو اداري ۷۷۷ مليونه ډالر د پور په توګه برابر کړل، او تجاراتى بانکونو تر ۷۱ ميلونه ډالرو پورې د پور په توګه برابر کړل.[248]

د متحده ايالاتو د مرستي يوه مثال د ۱۰۰ميلونه ډالرو سرمايه ده چي د متحده ايالاتو د نړيوالي پراختيا اداري ورکړى وو د دي لپاره چي د افغان بزګرانو لاسرسى تر کرنيز منابعو پورې ورسوى.[249] په دغه کال کي، د متحده ايالاتو د نړيوالي پراختيا اداري له مخه، د متحده ايالاتو حکومت په افغانستان کي په مالى مرسته جوړې شوې ادارو ته له ۱۹۰۰۰ څخه زيات پوروونه چي ۱۵.۳ ميلونه ډالرو ته رسيږى په ۱۴ ولايتونو کي ورکړل.[250]

### د سيګار پلټني

په يوه روانه پلټنه کي، سيګار ۶۰ ميليونه ډالر د يو اې ايس آى ډى او نړيوالي پاملرني په ګډ ټرون د کابل لپاره د ټولني د پراختيا پروګرام له مخي وټاکل. دغه د کار لپاره د پيسو له ځلورو پروګرامونو څخه يو دى، چي په کليوالو سيمو کي به د خوراکي بي اطميناني مخنيوى کوى. د زياتو معلومات لپاره د لمړي برخي 14 پاڼه وګورئ.

### د سيګار پلټني

په يوه روانه پلټنه کي، سيګار خپل کوښښونه په کار اچوى تر څو افغان بانکى سکتور او د پيسو د کنترول سيستمونه پر مخ بوځى. د زياتو معلومات لپاره د لمړي برخي 16 پاڼه وګورئ.

## د کابل بانک بحران

په شخصی بانکونو د عامه وګړيو اعتماد هغه وخت زيانمن شو کله چې د افغانستان ترټولو لوی بانک، کابل بانک پر ضد په اګست او سپټمبر، کال ۲۰۱۰ کې د امانتداری ناوړه ادعاوې تر عامه وګړيو ورسيدې. کابل بانک د مالی سيستم يوه مهمه برخه وه، چې دهيواد ۱/۳ ذخيرو مسوله وه چې په کال ۲۰۰۹ کې د ټولو پورونو ٪۵۷ جوړيدل. دغه بانک د نړيوال بانک له مخې ،دغه بانک په يوه اوونی کې دننه خپلې ټولې پيسې له لاسه ورکړې. نړيوال بانک دا څرګنده کړه چې د دغه زيانونو په اړه د باوري مالوماتو د کمی له کبله دا مشکله شوه چې د مسالې اندازه او يا د هيواد په مالی پياوړتيا د دې اغيز مالوم کړی.[251]

د متحده ايالاتو د زيرمتون له مخې، په کال ۲۰۱۰ د فبروری په مياشت کې د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت د متحده ايالاتو له حکومت څخه د کابل بانک او عزيزی بانک د عادلانه پلټنې په اړه د سرمايې او مرستې غوښتنه وکړه. د دغه پلټنو لپاره اټکل شوی مالی ارزښت ۱۰ ميلونه ډالر وو. زيرمتون د دغه غوښتنې په ځواب کې د پلټنې نړيوال شرکت او سرمايه ور وپيژندل.[252]

د کابل بانک د معاملې وروسته، د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت د وړاندې شوی عادلانه پلټنو په اړه خپل موقف ته تغير ورکړ. د زيرمتون له مخې، د افغانستان اسلامی جمهوريت د پلټنو په کنترولولو او د پايلو د يواځينې ترلاسه کوونکی توب په اړه ټينګار کولو. دغه شرايط زيرمتون ته د منلو وړ نه وو. [253]

د خزانې له مخې، د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت د داسې امکان په لټه کې دی چې د عادلانه پلټنو سرمايه د پيسو د نړيوال صندوق د نوی پروګرام له مخې له نورو بسپنه ورکوونکو له لارې پيدا کړي. د متحده ايالاتو حکومت په دغه خبرو اترو کې مستقيم برخه اخستونکی نه دی. د خزانې له مخې، د کال ۲۰۱۱ تر ۴ جنوری پورې د افغانستان مرکزی بانک د هيڅ يو بانک پلټنه نه ده پروګرام کړې، او د هيڅ خپلواک بانک د پلټنو قرارداد يې نه دی لاسليک کړی.[254]

د ۲۲۰۰۰۰ افغان امنيتی قواوو او د ملکی مامورينو معاشونه د کابل بانک له لارې ويشل کيږی.[255]خزانه څرګندوی چې، د کابل بانک له بحران وروسته د افغانستان مرکزی بانک دا پريکړه کړې چې د تجارتی بانکونو خدمتونه دې له نورو مالی ادارو څخه د متبادل په توګه وکارول شی.[256]خزانې د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت ته تخنيکی مرستې ورکړې ترڅو تحقيق او پيشنهادونه د کوم بل بانک د نيولو لپاره وړاندې کړی چې د حکومت معاشونه وويشي. د نړيوال بانک له مخې کابل بانک تر ځانګړی شرايطو لاندې خپلو چارو ته دوام ورکړ او د کال ۲۰۱۰ تر اکتوبر مياشت پورې، د ملکی مامورينو په معاشونو کې هيڅ ځنډ ندی راغلی.[257]

## د متبادل لګښتونو ميکانيزم

د دغه دری مياشتينی د يو بل مالی سکتور پرمختګ کې، سيټی بانک(ښاری بانک) دا اعلان کړی چې د نړيوالې راکړې ورکړې خدمتونو پيوستون په کابل کې د يوه شخصی افغانستان نړيوال بانک سره په دې نتيجه رسيدلې چې د افغانستان نړيوال بانک د راکړې ورکړې وړتياوې پياوړې کړی. دغه قرارداد د متحده ايالاتو د دفاع وزارت په مرستې وړاندی شوی وو چې له دندو څخه يې يوه دا وه چې څنګه د دوامداره بانکی خدمتونه پيدا کول، د شخصی سکتور سره مرسته او بهرنی پانګه اچونه را جذب کړی.[258]

لکه څنګه چې د افغانستان بيا رغوني ځانګړی عمومي پلټوونکی په دری مياشتينی رپوټ کې راغلی، چې د اداری فساد سره د مبارزې او د بوديجو د خوندی توب مسوليت ساتلو لپاره د متحده ايالاتو حکومت په کلکه توګه د الکترونيکی پراختيا ميکانيزم د روايتی راکړې ورکړې په ځای د متبادل ميکانيزم په توګه ستايلی. د سيټی بانک(ښاری بانک) له مخې، د افغانستان نړيوال بانک په خدمتونو کې د اې ټي ايم او د اليکترونيکي

---

**عدلی پلټنه:** د سوداګری مالوماتو ژوره بيا کتنه، تر څو د مالی موادو غلطې څرګندونې، ټګی، بده اداره، ريښتوني ازموينې يا د هغو شواهدو راټولول چې د مديريت په مختلفو مرحلو د ممکنه بې ايمانی پيښيدل، د کورنی تګلارو ترپښو لاندې کول، د اسنادو غلط ښودنه او چل ول مالوم کړی.

سرچينه: AICPA د عدلی خدمتی پلټنو او تجارتی اداره ـــ فاصلې راولاړوی: وروستنی رپوټ په ۱/۵/۲۰۱۱ کې آنلاين لاسرسی ورته وشو.

بوديجو ليږدول شامل دی.[259] د نړيوال بانک له مخې،له نيمو څخه زيات ټول افغان ملکی مامورين خپل معاشونه د اليکترونيک بوديجې د ليږدوني له لارې ترلاسه کوی.[260]

## د عايداتو راټولول

لکه څنګه چې د افغانستان د بيا رغوني ځانګړی عمومی پلټوونکي د جولای په دری مياشتينی رپوټ کې څرګند کړی چې په افغانستان کې د کورنی عايداتو راټولول په تدريج سره مخ په ښه کيدو دي. د نړيوال بانک له مخې، بيا هم، راټولول په څرګند ډول له هغې مقدار څخه ډير وروسته پاتې دي کوم چې د حکومت لګښتونو ته اساسي بوديجه برابروي.[261]

د پيسو نړيوال صندوق تمه لری چې په افغانستان کې د کورنيو عايداتو راټولول به په مالی کال ۲۰۱۰ کې د کورنی نا خالص توليد د ۹.۶٪ څخه د مالی کال ۲۰۱۱ د کورنی نا خالص توليد تر ۱۰.۳٪ پورې ورسيږی.[262]د ډی او ډی له مخې، د اوسنی افغان مالی کال لپاره، کورنی عايدات تر ۱.۷ مليارد ډالرو پورې ختلی شي ـــ ۳۰٪ زياتوالی د تير کال په نسبت.[263]د ډی او ډی(دفاع وزارت) له مخې، دغه په بنيادی توګه، د غوره شوی ماليې او د ګمرک د ادارې او په وارداتو د نوې ماليې په ور پيژندلو سره ترلاسه شول.[264] پر دغه ښه کار سربيره،ډی او ډی(دفاع وزارت) نوټ کړی چې د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت بيا هم د دې وړتيا لرله چې د کورنی عايداتو څخه تقريبا ۵۴٪ مرکزی کاري لګښتونو ته بوديجه ورکړی.[265]

د افغانستان اسلامی جمهوريت د حکومت مالی مديريت د وړتياوو د پياوړی کولو لپاره د متحده ايالاتو د پراختيا نړيوالې اداری د ۸۴ ميليونه ډالرو ژمنه د افغان ملکی خدمتونو اداری سره کړې وه. د اداری موخه دا ده چې د ټولو ملی او ولايتی ملکی مامورينو ته يو شان نصابی ترينګ ورکړی.[266]د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت له مخې، متحده ايالات هر کال د کاری مرستو لپاره، افغان ملی ګمرک اکاډمی ته ۲.۵ ميلونه ډالر ورکوی. دغه له هغې ۲ ميلونه ډالرو سربيره دي چې متحده ايالاتو د ګمرک اکاډمی د بيا جوړوني او نوی کولو لپاره ورکړی دی. خزانې د ماليې وزارت سره تخنيکی مرستې هم کړی دی تر څو د افغان وزارتونو د کورنی پلټنو وړتيا پياوړې کړی.[267]

د هغې کوښښونو په نتيجه کې چې د افغان عايداتو د راټولولو وړتيا پياوړې کړی، په نژدې وخت کې،نړيوال بانک د کورنی عايداتو په جوړښت کې د پام وړ بدلون رپوټ ورکړی. د هغې عايداتو ونډه چې ماليې ته د منسوب وړ وو(ملکيت،معاش،خرڅلاو او کورنی ماليه) په کال ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کې ۳۸٪ څخه په کال ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کې تر ۴۸٪ پورې ورسيدل. همدارنګ، د ګمرکاتو ماليه په کال ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کې له ۳۲٪ څخه په کال ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کې تر ۳۵٪ پورې ورسيده. پر همدې مهال، له ماليې څخه په خلاصو عايداتو لکه اداری محصول، د ملکيت ماليه،جريمې او د ځمکو او د ودانيو تر نيمايي پورې راټيټ شول.[268]

> د افغان مالی عامه او د لګښت د مديريت د قانون ۶۱ مه ماده داسې وايي، (( د ماليې وزارت بايد کورنی د پلټنو مديريت جوړ کړی او پلټوونکی د وټاکی تر څو د ټولو دولتی ادارو د مالی او د حساب ساتلو پلټنې ترسره کړی)). پلټوونکی اړوندو مديريتونو ته اړتيا لرلی شی، تر څو د مالی چارو د پلټنو لپاره ټول مالومات ورکړی.
>
> سرچينه: د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت د مالی عامه او د لګښت د مديريت قانون.

## د شخصی سکتور مالی مديريت

په کال ۲۰۱۰، د نومبر په مياشت کې د خزانې مشاورينو د ماليې وزارت له پلټوونکو سره په کار پيل وکړ ترڅو د کليو د پراختيا او بيا ستنيدنې وزارت بيا کتنه وکړی. د خزانې له مخې، دغه لومړنی افغان وزارت دی چې د بوديجې له اختيار سره د افغان مالی عامه او د لګښت د مديريت د قانون له ۶۱ مادې سره سم پلټنې تر سره کړې. په کال ۲۰۱۰ کې،د متحده ايالاتو او د افغان حکومت پلټوونکو په درې نورو وزارتونو کې يو ځای پلټنې پيل کړې: د ټرانسپورټ او د ملکی هوانوردی وزارت، د عامه روغتيا وزارت او د اوبو او نرژی وزارت. د خزانې له مخې، دغه پلټنې به په مارچ، ۲۰۱۱ کې بشپړې شی. خزانې دا هم څرګنده کړې چې د متحده ايالاتو او د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت پلټوونکی پر يوه هر اړخيزه کلنی تړون رسيدلی چې د ۶۱ مادې له

مخي پلټني به د پاتي ١٧ وزارتونو او ٩ دولتي ادارو په شمول د ډی اې بي او د سيميز حکومت خپلواک رياست تر سره کيږی.[269]

## اړين خدمتونه

د وزرات خارجه له مخي، په افغانستان کي د متحده ايالاتو د اقتصادی پرمختګ ستراتيژی له څلورو مهمو هدفونو څخه يو د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت د عامه خدمتونو د وړتيا پياوړی کول دی.[270]د ملګری ملتونو د پراختيايي پروګرام د خپور شوی رپوټ له مخي، له هغي اعتراضونو څخه چي افغانستان ورسره مخ دی يو دي بشری پرمختګ اوسنی لست دی. د ١٦٩ بيوزله هيوادونو په لست کي افغانستان په ١٥٥ شميره باندي وو.[271]

د ملګری ملتونو د پراختيايي پروګرام د رپوټ له مخي، په کال ٢٠١٠ کي، د افغانستان د سړی سر ملی عايد د ټيټو ١٥ هيوادونو په قطار کي تر ټولو زيات وو. مګر همدغه رپوټ دا هم څرګندوی چي ٪٤٢ افغانان په بيوزلی کي ژوند تيروی. د زيږيدني پر مهال د ژوند تمه ٤٤.٦ کلونه ده، چي دي نړی په ټيټو ١٥ هيوادونو کي ترټولو کمه شميره ده.  په هر  ١٠٠٠ زيږيدنو کي له پنځو کلونو څخه د کمو تناسب ٢٥٧ دی، او د ميندو د مړينی تناسب په هر  ١٠٠٠٠٠ زيږيدنو کي ١٨٠٠٠ دی چي په نړی کي ترټولو زيات دی. زياتره افغانان د اوبو څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی نه لری، او ٪٦٣ افغانان د روغتيا مناسب اړتياوو ته لاسرسی نه لری.[272]

دغه برخه د متحده ايالاتو  هغه مهم پرمختګونه په نښه کوی چي د افغانستان اسلامی جمهوريت د حکومت وړتيا  بنه کړی ترڅو وکولی شی د دغه اعتراضونو په لری کولو سره اړين خدمتونه وړاندي کړی.

## انرژي

که څنګه چي مخکي د افغانستان د بيا رغوني ځانګړی عمومي پلټوونکی په رپوټ کي راغلی چي، افغانستان انرژی وارد کوی ځکه چي له توليد څخه زيات يې لګوی. د متحده ايالاتو مرکزی قواه د بريښنا کموالی د سرکشی سره په جنګ کي د  دوامداره لاسته راوړونو په لار کي لوی خنډ ور پيژنی، په ځانګړی توګه په هغه سيمو کي چيرته چي مخالفت زيات دی د مثال په توګه کندهار.[273]لکه څنګه چي په کال ٢٠١٠ د اکتوبر په مياشت کي، د افغانستان د بيا رغوني ځانګړی عمومي پلټوونکی په دری مياشتيني رپوټ کي راغلی چي، د متحده ايالاتو مرکزی قواه پيشنهاد وړاندی کړی چي کندهار ته به د لنډ مهالي موډي پر  اساس جنريټرونه او تيل ورکوی د کجکی بند وړتيا تر زياتيدو پوري.   د مرکزی قواه له مخي،د کندهار لپاره د انرژی اوسنی حل په لاندي برخو مشتمل دی:[274]

- د شورندام صنعتي پارک موقعيت، ( مخکينی نوم يې د کندهار صنعتي پارک وو): په ١ دسمبر، ٢٠١٠ کال، د ډيزلو جنريټر چي ١٠ ميګا وات وو(اصلی وړتيا يې ٨ ميګا واټ) د بريښنا ليږدول پيل کړل. اوسط د بريښنا توليد٤.٣ ميګا وات روزانه دی، او د اسانتياوو د جوړولو او لګولو کا دوام لری.
- د باغ پل موقعيت (مخکينی نوم يې روسی سيلو): د ډيزل جنريټرونو چي ١٠ ميګا واټ دی (اصلی وړتيا ٨ ميګا واټ) تسليم شول. د پروګرام سره سم، هغوی به موقعيت ته په ٢٠ جنوری، ٢٠١١ باندي وليږدول شی او د بريښنا توليد به په ١ د مارچ ٢٠١١ پيل کړی.
- د جنوب مشرقی بريښنا د توليد د سيستم پيل کوونکی اله:  دغه اله د افغان عامه ګټي شرکت ته له نورو سامانونو سره ورکړل   شوی وه  تر څو وکولی شی د کندهار ښار د بريښنا ويشلو سيستم زر تر زره پياوړی کړی.  مرکزی قواه دا تمه لری چي د افغان عامه ګټي شرکت به دغه آله په راتلونکی ٢٤ مياشتو کي چمتو کړی، تر څو د ټيټو او منځنی ولټيج ويشل په کندهار ښار کي پياوړی کړی.

د مرکزی قواه له مخي، جنريټرونه او د لنډمهالي موډي لپاره د دوو بريښنايي ماشينونو لپاره تيل د  مشر بيرنی

### د سيګار پلټني

د انرژی سکتور کي د پلټنو پر مهال، سيګار دا درک کړل چي که څه هم پرمختګ شوی،د افغانستان اسلامی جمهوريت د کافی عايداتو د راټولولو وړتيا نه لری او په نتيجه کي د برق په توليدولو او ساتلو او يا د باکفايته کارکوونکو په دندو ګمارلو کي پاتي راغلی. د نورو مالوماتو لپاره د سيګار د پلټني رپوټ وګوری،٤-١٠  ((د افغانستان د انرژی برابرول زيات شوی مګر د يوه نوی ماستر پلان ته ضرورت دی او د خنډ او د دوامداری مسالی همغسي پاتي دی)) www.sigar.mil.

غبرګون پروګرام له بوديجې څخه اخيستل شوی وو. تر جنوری ۲۰۱۱ پورې، نژدې ۱۰۰ ميليونه ډالر د دغه کوښښونو د ملاتړ لپاره تر قرارداد لاندې وو.[275]

په ۷ جنوری ۲۰۱۱، ولسمشر د سکلتن ملی دفاعی واک قانونی لايحه د افغانستان د زير بنا پروګرام د ۲۰۱۱ مالی کال لپاره لاسليک کړه. دغه قانون د دفاع وزارت ته دا اختيار ورکوی چې د لويو زير بنا پروژو لپاره ۴۰۰ ميلونه ډالر په لګولو کې مصرف کړی. مرکزی قواه دا تمه لری چې، د مشر بيرنی غبرګون پروګرام پر ځای د افغانستان زير بنا پروګرام، به اټکل شوی ۴۰-۸۹ ميلونه دالرو پورې د تيلو او نورو لګښتونو لپاره د کندهار ښار جنريټرونولپاره د مالی کال ۲۰۱۱ لپاره بوديجه برابره کړی.[276] د دغې پروژې لپاره د بوديجې په سرچينو کې بدلون د کانګرس له خوا په (NDAA) کې دا موقف څرګندوی چې (CERP) د لويو پروژو د ترسره کولو توان نه درلودو. د CERP د پروژو په اړه د سيګار پلټونکی رپوټ همدغه رنګ مسالې په لغمان ولايت کې هم څرګندې کړې.[277] د لا زياتو معلوماتو لپاره د سيګار څيرنې د لومړی برخې نهمې پاڼه ته ستانه شی.

### د TAPI نل ليکه

په دې دريو مياشتو کې د انرژی مربوط پرمختګ کې، د ترکمنستان ولسمشر د افغانستان او پاکستان له ولسمشرانو او د هند د تيلو او طبيعی غازو وزير سره يو تړون لاسليک کړ چې د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند د طبيعی غازو پر نل ليکې باندې کار پيل کړی. له دغې پيښې وروسته په کال ۲۰۱۰ کې همدغه رنګ د انرژی د وزيرانو يو تړون لاسليک شو.چې که چيرې جوړ شی، نو د دغې څلورو هيوادونو د طبيعی غازو نل ليکه به له ترکمنستان څخه طبيعی غاز د افغانستان او پاکستان له لارې هند ته د افغانستان اسلامی جمهوريت د حکومت لپاره د وړيا ترانزيتی بيعو په وړاندې کولو سره صادروی.[278]

لکه څنګه چې د سيګار په مخکينی رپوټ کې يادونه شوې، له کال ۱۹۹۵ څخه د دغه څلورو هيوادونو د نل ليکې پروژه تر خبرو اترو لاندې ده او ډيری خنډونه د دې په پلې کولو کې را مينځ ته شوی.[279] په دې دريو مياشتو کې،يوه دولتی روسي شرکت ګازپروم خپله مينه د دغې څلورو هيوادونو له ډلې سره په يو ځای کيدو سره اعلان کړه.[280]

## ښوونه او روزنه

د متحده ايالاتو د پراختيا نړيوالې ادارې له مخې، په کال ۲۰۱۰ کې د متحده ايالاتو حکومت د زده کړې په لړ کې ډيری لاسته راوړنې راوړې:[281]

- ۴۰۸۵۰ افغان ښوونکې يې وروزل
- ۶۰۰۰۰ ماشومان د ټولنې پر اساس ښوونځيو کې شامل کړای شول.
- ۲۱.۵ ميلونه نصابی کتابونه ورکړل شول

## روغتيايي خدمتونه

د امريکا متحده ايالاتو حکومت ۴ ميليونه ډالر د عامې روغتيا وزارت ته ورکړل ترڅو د ملی نفوس شميرنې او روغتيا سروې تر سره کړی چې د افغانستان د ميندو د مړينی لوړه کچه څرګنده کړی.[282] د يو ايس اې آی ډی له مخې،تر ۳۰ نومبر ۲۰۱۰ پورې په دغه سروې ۲۸۴۸۲۶۶ ډالر لګول شوی ، او ۳۵۰۰۰۰ نور ډالر اټکل کيږی چې تر دسمبر ۲۰۱۰ پورې به پرې مصرف شې. په دغه لګښتونو کې د وړتيا جوړونې کوښښونه شامل دی ترڅو د عامې روغتيا له وزارت سره د طريقې، نمونه ګيری او مديريت کې ورسره مرسته وکړی.[283] يو ايس اې آی ډی لاندينی ټکی په نښه کړی:[284]

- د ټولو ۲۴۰۰۰ افغان کورنيو څخه ۷۵۱ د نفوس له ټولی څخه د نمنه ګيری لپاره ور پيژندل شوې وې.
- له ۱۵۰ څخه تر ۱۸۸۰ پورې ساحوی کارکوونکی، چې پکې سروې کوونکی، نظارت کوونکی، چلوونکی، او اداره کوونکی په کار ګومارل شوی وو له دې سره ۵ دايمی چلوونکی او ۱۵ د مالوماتو داخلولو کارکوونکی په کار ګومارل شوی وو.
- تر ۲۴ دسمبر ۲۰۱۰ کال پورې، له ۷۵۱ سروې ګانو څخه، ۶۸۱(۹۱٪) بشپړې شوې او د مالوماتو داخلولو لپاره ترلاسه شوی وو.

د يو ايس اې آی ډی له مخې، لومړنی نتايج تر فبروری يا مارچ ۲۰۱۱ پورې تمه کيدل. د عامې روغتيا وزارت پلان لری چې د سروې پايلې په ملی سيمينار کې په جون ۲۰۱۱ کې خپرې کړی.[285]

## اوبه

د افغانستان د اوبو سکتور د تيرو کلونو د اخ و ډب او پرله پسې وچکالی له کبله څخه ډير زيات زيانمن شوی. د حکومت د حساب ورکووني اداري له مخې، د افغانستان د اوبو د سرچينو د پرمختګ لپاره، د متحده ايالاتو حکومت تقريبا ۲۵۰ ميليونه ډالر له کال ۲۰۰۲ څخه د ۲۰۱۰ کال تر نيمايي پورې د بوديجې ورکولو، قراردادونو او همکاری تړونونو په شکل کې ورکړی. د حکومت د حساب ورکووني اداري په دې دريو مياشتو کې د پلټنې يو رپوټ خپور کړی، چې د متحده ايالاتو حکومت دا پلان لری چې د افغانستان د اوبو د سکتور په بيا جوړولو کې خپل کوښښونه ګړندی کړی او د مالی کال ۲۰۱۰ څخه تر مالی کال ۲۰۱۴ پورې د پروژو د پوره پلان کولو لپاره به ۲.۱ ميليارد نور ډالرهم پکاريږی.[286]

د افغانستان لپاره د ملی خطر او د ضرر ارزيابی هغه اعتراضونه په خپل نوی رپوټ کې د دغه سکتور په اړه په نبنه کړی، چې ښايي يواځې ۲۷٪ افغانان د اوبو څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی لری او ۵٪ غوره پاکوالی ته لاسرسی لری.[287] د نړيوال بانک د ۲۰۱۰ کال رپوټ له مخې د افغان نفوس هغه فيصدی چې د نل اوبو ته يې لاسرسی درلود په نړی کې ترټولو زياته ده ــ۱۸٪. [288] اوبونه هم په افغانستان کې ضعيفه پاتې وه. د حکومت د حساب ورکووني اداري له مخې، د کرنيز ځمکې يواځې ۳۰٪ کافی اوبو ته لاسرسی لری.[289]

د سيګار د پلټنو په شان د حکومت د حساب ورکووني اداري د اوبو د سکتور په اړه له پلټنو څخه په دې نتيجه رسيدلی چې پوره دوامدار توب او ګډه همکاری نا شوني پاتې ده. د حکومت د حساب ورکووني اداري پلټنې په دې نتيجه رسيدلی چې د اوبو سکتور په برخه کې د متحده ايالاتو کوښښونه د پروژو د بيا جوړوني لپاره د مرکزی مالوماتو د نشتوالی سره مخ دی. د ګډې همکاری پلان کموالی هم يوه مساله وه.[290]

## ترانسپورټيشن

په افغانستان کې د حرکت آزادی او د تجارتی لارو غزول د متحده ايالاتو د ستراتيژی يوه برخه ده، متحده ايالات د ترانسپورټيشن زير بنا جوړوی چې پکې سرکونه، د اورګاړی پټلی او هوايي ميدانونه شامل دی. په دې دريو مياشتو کې، پرمختګ د ولايتی سرکونو د پروژې پر ستراتيژی دوام درلود چې ښارګوټی يې په ختيځ او جنوب کې له ولايتی مرکزونو سره تړل. خو بيا هم ملکی هوانوردی د افغانستان ماتې د نړيوالې پياوړی قواهی اداری په برابرولو کې ومنله چې د خونديتوب منل شوی معيارونه يې چمتو نشوای کړای.

## سرکونه

يو ايس اې آی ډی په دې اړ شو چې په ختيځ او جنوبی افغانستان کې ۲۷۰ ميليونه ډالر د ولايتی سرکونو پروژې

### د سيګار پلټنې

د ۲۰۰۷ مالی کال څخه تر ۲۰۰۹ مالی کال پورې د بيا جوړوني د قراردادونو لپاره د بسپنې په بيا کتلو کې، سيګار دا وموندل چې د پروژو د اغيزمن نظارت لپاره د مرکزی مالوماتو د ثبت نشتوالی تر ټولو لوی خنډ وو. د نورومالوماتو لپاره د سيګار پلټنې ۴-۱۱ وګوری، ((د فاع وزارت او يو ايس اې آی ډی تر ۱۷.۷ميليونو څخه زيات ډالر له کال ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۹ مالی کلونو پورې د افغانستان د بيا جوړوني لپاره تقريبا ۷۰۰۰ قراردادیانو او نورو اړوند ادارو ته ورکړل)). www.sigar.mil.

ته ورکړی ترڅو سرکونه جوړ کړي. دغه پروژه په لومړی سر کې داسې پروګرام شوې وه چې د زرو کلومیترو څخه زیات د انجنیری په اساس سرکونه او پلونه تر دسمبر ۲۰۱۱ پورې جوړ کړي. د جوړوني د ځنډیدو له کبله، بیا هم، د دغې پروژې وسعت تر ۴۵۰ کلومیترو پورې کم کړای شو. د یو ایس اې آی ډی له مخې، په کال ۲۰۱۰ کې تر ۱۸۰۰ کلومیترو څخه زیات سیمه ییز لوی سرکونه، ملی لوی سرکونه او ولایتی او د کلیو سرکونه بشپړ شول.[291]

یو ایس اې آی ډی دا هم نوټ کړه چې د ۸۰۰ کلومیترو سرکونو ودانولو او ترمیمولو لپاره په لاندینی بودیجې مشتمل دی:[292]

- ۱۷۸ میلیونه ډالر د ګردیز او خوست په مینځ کې د ۱۰۱ کلومیتر ملی لوی سرک د برخې لپاره
- ۹۵ میلیونه دالر د ګردیز او غزنی په مینځ کې د ۹۲ کلومیتر ملی لوی سرک د برخې لپاره
- ۱۲۶ میلیونه دالر د بدخشان ۱۰۳ کلومیتر د ملی لوی سرک د برخې لپاره، چې ۹۷٪ کار یې تر دسمبر ۲۰۱۰ کال پورې بشپړ شوی وو.

د سرکونو د خوندی ساتلو په لړ کې د افغانستان اسلامی جمهوریت د حکومت د وړتیا د کمزورتیا له کبله، ناټو د ایساف او افغان ملی امنیتی قواوو په مینځ کې یو نوی پروګرام پیل کړ تر څو په کاپیسا ولایت کې سرکونه خوندی وساتی. د دغې ترون له مخې، ناټو به د افغان ملی امنیت سیمه ییزې قواوې روزی تر څو سرکونه وساتی، له ماینونو څخه پاک او خوندی یې وساتی.[293]

د افغان فواید عامې د وزارت په همکاری سره، یو ایس یې آی ډی د یوې پروژې په کار اچولو کې به مرسته کوی او له ۱۵۰۰ کلومیتره څخه زیات ترمیم شوی سرکونه به خوندی ساتی. د یو ایس ایې آی ډی له مخې، د دغې پروګرام په برخه کې د تخنیکی او اداری وړتیاوو ارزیابی کول او د افغانستان اسلامی جمهوریت حکومت او د شخصی سکتور افغان شرکتونو اړتیاوې په سرک جوړوني کې شامل دی.[294]

**د سیګار پلټنې**

په لغمان ولایت کې د مشر بیرنی غبرګون پروګرام په مالی مرسته د پروژو په پلټنو کې، سیګار دا وموندل چې تقریبا ۴۴.۶ میلیونه ډالر د اسفالټ د سرک جوړوني د پروژو د څارنې د پلان د نشتوالی له کبله له خطر سره مخ وې. پلټنو دا وموندل چې د سرک د پروژو کار بغیر د کافی ډاډه چې د افغانستان اسلامی جمهوریت حکومت سره سرچینې شته تر څو خوندی یې وساتی تصویب شو. د زیاتو معلومات لپاره د لمړي برخې 9 پاڼه وګورئ.

### د اورګاډي پټلی

د ۲۰۱۰ کال ترآخر پورې د اور ګاډی دری لویې لیکی د پلان، پرمختګ یا جوړوني تر مرحلو تیري شوې. که چیرې بشپړې شی، دوی کولی شی د اقتصادی پرمختګ په لور خوځیدلو سره د افغانستان لاسرسی د هند د بحر او د اروپا، آسیا او مرکزی آسیا بازارونو ته ومومی. له دریو څخه به د دوو غوښتنو مالی ملاتړ د آسیایی پراختیایی بانک له لوری وکړای شی. د امریکا متحده ایالات او جاپان د آسیایی پراختیایی بانک دوه لوی بسپنه ورکوونکی دی چې هر یو یې تقریبا ۱۵٪ بانکی ونډې لری.[295]

د اورګاډې تر ټولو اوږده لیکه به له شمال څخه جنوب ته تاکل شوی ۷۱۸ کلومیتره لاره، له مزار شریف څخه به تر تورخم پورې وي، چې مرکزی افغانستان به له پاکستان او ازبکستان سره نښلوی. لکه څنګه چې د سیګار د اکتوبر میاشت د ۲۰۱۰ کال په دری میاشتینی ریپوټ کې راغلی چې دولتی چینایي کمپنی چې هغه ټول حقوق یې خپل کړی وو تر څو د عینک مسو د کان کار پر مخ بوځی، د افغانستان له اسلامی جمهوریت حکومت سره د اور ګاډې د پټلی جوړول لاسلیک کړی. د ناټو له خپروني له مخې،دغه کمپنی په پاکستان کې د اورګاډې د پټلی په لیکو کې د پام وړ پانګونه لری، او پلان لری چې دغه د اورګاډې پټلی د پاکستان له دولتی اورګاډې پټلی له جال سره ونښلوی. د افغان خوا لیکه باید داسې پلان شی چې، درانده بارونه چې د کان کیندلو په صنعت کې کاریږی یوړل شی، او که چیرې بشپړ شی، نو دغه به د عینکو د کان څخه راویستل شوی کانی مواد صادروی.[296]

د اورګاډې د پټلی دویمه لار چې تر خبرو اترو لاندې ده،له ختیځ څخه تر لویدیځ، له هرات څخه تر شیر خان

بندر پورې ده. دغه لیکه به د آسیایي پراختیایي بانک او د افغانستان اسلامی جمهوریت د حکومت په ګډ مالي ملاتړ سره ترسره کیږی. تر نومبر ۲۰۱۰ پورې،د ۱۱۰۵ کلومیتر د اورګاډي پټلی لپاره، ممکنه څیړنه تر خبرو اترو لاندې وه، د اورګاډې د پټلی لیکه به له پنځو څخه تر نهو کلونو پورې په اټکل شوی وخت کې بشپړه شی. د ناټو د څیړونې له مخې، له دې سره، ایران ۱.۲ میلیونه ډالر د دغه ممکنه د اورګاډي پټلی د لیکې څیړلو لپاره ورکوی چې ایران او هرات به سره نښلوی.[297]

دریم، د حیرتان څخه تر مزار شریف پورې د ۷۵ کلومیتر د اورګاډی لنډه پټلی د بشپړیدو په حال کې ده. د اورګاډې له دغه پټلی لیکې سره د آسیاې پراختیایي بانک او د افغانستان اسلامی جمهوریت ګډ مالی ملاتړ تړلاسه وو. لکه څنګه چې د اپریل میاشت، ۲۰۱۰ کال د سیګار په دری میاشتیی رپوټ کې راغلی چې یو ایس اې آی ډی د دغه اورګاډې د پټلی لیکي په بشپړیدو کې ۵ میلیونه امریکایي ډالر مرسته وکړه. د دغه پروژې د بشپړ کیدو لپاره اټکل شوي نیټه جون ۲۰۱۱ کال دی. [298]

شکل ۳.۲۶ د اورګاډې د پټلی لیکې څرګندوی، چې په پراخه توګه د وریښم لارې لرغونی سرکونوته ورته وو. د ناټو د څیړونې له مخې، چارواکی تمه لری چې د اورګاډې دغه نوی پټلی لیکه به د ازبکستان له پولې سره نږدې د حیرتان پر ښار فشار لیرې کړی. له نیمو څخه زیات تجارتی واردات له دغه ښار څخه تیریږی او ښار د زیاتیدونکي تجارتی بار وړلو زغم نه لری.[299]

3.26 انځور

وړاندیز شوی ریل وې ( د ریل پټلی)




سرچینه : ناټو، ملکی او نظامی ګډ مرکز، " د افغانستان د زیربنا په اړه ځانګړی راپور،" 18/11/2010 ، دویمه پاڼه

## هوایي کرښې

لکه څنګه چې د سیګار د اپریل او اکتوبر میاشتو ۲۰۱۰ کال په دری میاشتینی رپوټ کې راغلی، چې د متحده ایالاتو حکومت د زیر بنا او روزنیز پروګرامونو سره مالی ملاتړ کوی تر څو په افغانستان کې د ملکی هوانوردی وړتیا پیاوړې کړی. له دې څخه لوی هدف په مارچ ۲۰۱۰ کال کې لاس ته راوړل شوو کله چې ایساف د کابل هوایي ډګر مهمه برخه د افغانستان اسلامی جمهوریت حکومت کنټرول ته ورکړه.

په دې دریو میاشتو کې، هغه اعتراض چې دغه سیکتور باید له نړیوال معیارونو سره برابر شی، د اروپایي کمیسیون له هغې پریکړې څخه اغیزمن شو چې وبلی یې وو چې د حفاظتی ویرې له امله د اروپایي اتحادیي په هیوادونو کې د افغان شخصی هوایي الوتکو کوزیدل د بند کړای شی. په دې کې د آریانا هوایي شرکت، کوم چې مخکې هم په تور لست کې راغلی وو، او شخصی کام ایر هوایي شرکتو پامیر او صافی هوایی شرکتونه شامل دی. د دغه بندیز د اعلانولو پر مهال، د اروپایي کمیسیون دا څرګنده کړه چې د افغانستان اسلامی جمهوریت حکومت د یوه سموونکی اداري په جوړولو کې پاتې راغلی چې د نړیوال ملکی هوانوردی سازمان له معیارونو سره سم برابر کړی.[300]

بندیز لګیدونکی هوایی شرکتونه کولی شی د اروپا په هوایي فضا کې کوزیدو ته دوام ورکړی، مګر له شرکتونو څخه د الوتکو په اجاره کولو سره، چې نړیوال حفاظتی معیارونه پوره کړی.[301] له دغې اعلان وروسته، صافی هوایي شرکت دا اعلان وکړ چې دوی به اروپایي راجستر شوې الوتکه د فراکفورټ د مسافرو لیږو لپاره راونیسی تر څو د کابل فرانکفورټ الوتنو ته دوام ورکړی.[302]

## مخابرات

د مخابراتو پیاوړی پرمختګ د افغانستان د لویو بریاوو له کیسو څخه یو دی. د اقتصاد د نورو برخو څخه په توپیر سره، شخصی سکتور د مخابراتی سکتور وده ته لارو مونډلي ده. د نړیوال بانک له مخې، شخصی شرکتونو

تر ۲۰۱۰ کال پورې ۹۹.۲٪ د ټولو مخابراتو د ګډون د ونډې حساب په افغانستان کې ترسره کړ. له نيمې څخه زياتې افغان کورنۍ لږ تر لږ يو موبايل ټيلی فون لری، او نړيوال بانک وړاندوينه کړی چې د موبايل ټيلی فونونو د ګډون ونډه به د ۲۰۱۱ کال تر آخره ۱۹ ميليونه ته ورسيږی.[303]

په دې دريو مياشتو کې افغان وايرليس، چې د افغانستان له پنځو لايسنس لروونک موبايل شبکې څخه دی دا اعلان وکړ چې نوکيا سيمنز يې په ځانګړی توګه په کليوالو سيمو کې د خپلې شبکې د پراخولو لپاره غوره کړی. د قرارداد د شرايطو له مخې، سويدنی کمپنی به د افغلن موبايل لروونکې شبکه د پراخولو لپاره له سره نوې کړی او د مالوماتو مديريت،بيلونه،د لګښت تګلاره او نور خدمتونه به وړاندې کړی.[304]

د نوکيا قرارداد د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت هغه کوښښونه څرګندوی ترڅو بسپنه ورکوونکی وهڅوی چې د موبايل ټيليفونونو خدمتونه په ملی کچه له تيزو مغيارونو سره برابر کړی او تر کليوالو لرې پرتو سيمو پورې يې وغزوي. د مالوماتو او مخابراتی ټيکنالوجی وزارت له مخې تر جون ۲۰۱۰ کال پورې په افغانستان کې له ۱۴ ميليونو څخه زيات د موبايل ټيليفونونو ګډون کوونکی وو. د اقتصاد لپاره د خدمتونو لوړول ډير مهم وی،ځکه له نورو وجوهاتو سره، په کال ۲۰۱۰ کې دغه سکتور د افغانستان اسلامی جمهوريت حکومت لپاره د ماليې د عايداتو يواځينی لويه سرچينه وه.[305]

په دې دريو مياشتو کې، په نورو مخابراتی پرمختګونو کې، د آزادی راډيو په افغانستان کې د اتصالات موبايل شبکې لپاره د بيړنی پام لروونکی پيغامونو او اغيزکوونکو خبرونو د پيل کولو اعلان وکړ. دغه نوی سرويس د اتصالات او د اروپا آزادی راډيو/آزادی راډيو، چې د امريکا متحده ايالاتو مالی ملاتړ ورسره وو، په ګډه همکاری شونی شو.[306] آزادی راډيو په کال ۱۹۸۵کې د اروپا آزادی راډيو له خوا جوړه شوه. نن دغه په افغانستان کې د رسنيو تر ټولو مخکښ وسيله ده چې د هيواد تر ٪۵۰ نفوسه رسيږی. آزادی راډيو د خپلو جلا جلا او په زړه پوری پروګرامونو او د جمهوری رياست په ټاکنو کې د حامد کرزی او دوه نورو مخکښ کانديدانو په مينځ کې د مناظرې د برابرولو له کبله په پراخه توګه پيژندل کيده.[307]

3.27 انځور

په زيربيناوو باندی حملې،
اوکتوبر – ديسمبر 2010
د ولاياتو په اساس




سرچينه:CENTCOM د افغانستان د بيا رغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی په ځواب کښي، 4/1/2011

## په زير بنا د امنيت اغيز

د بوديجې او وړتياوو پر محدوديتونو سربيره، امنيت په پرله پسې توګه د افغانی زيربنا پروژو په پياوړتيا اغيزه کوی. له ۱ اکتوبر څخه تر ۲۵ دسمبر ۲۰۱۰ پورې د سينټکام له مخې، په زيربنا باندې ۱۱۱ بريدونه ترسره شوی وو. په دغه بريدونو کې، زياتره د چاوديدوونکی موادو آلې، مستقيم اور اچونه او غير مستقيم اور اچونه شامل دی. سينټکام دا نوټ کړه د دغې دری مياشتو بريدونو له موسمی بدلونونو سره سم وو، چې موسمی حالات به کم مساعده وو نو بريدونه به کم شول.[308] دغه بريدونه په ۱۶ ولايتونو کې ترسره شول، لکه څنګه چې په دغه شکل کې ښکاری. ۳.۲۷

د مهمو زيربنا خوندی ساتل د ايساف د مخاليفينو سره د جګړې د ستراتيژی يوه برخه ده. د مثال په توګه، سيګار د خپل جنوری ۲۰۱۰ کال په دری مياشتينی ريپوټ کې نوټ کړی چې ۴۰۰۰ د ايساف او افغان ملی امنيتی لښکرو د نظامی ګاډو لښکرونه خوندی وساتل چې د کجکی بند ته يې دريم ټرباين ليږدولو په کوم کې چې متحده ايالاتو له ۱۰۰ ميليونو ډالرو څخه زياته پانګه اچونه کړې وه.[309]

## پر شخصی امنيتی قراردادیانو بنديز

په وروستيو دريو مياشتو کې، جمهور رييس کرزی اجرايه فرمان خپور کړ چې په شخصی امنيتی قراردادیانو يې

بنديز ولګولو، کومو چې به د بيا جوړوني پروژو په پلې کولو کې د پرمختيايي وړتياوو په ګډون کوونکو لوی اغيز درلوداى. د بنديز له مخې بايد ټولې شخصي امنيتي قراردادیان بايد خپل کاروونه وتړي او تر ١٧ دسمبر ٢٠١٠ پورې بايد هيواد پريږدي.[310] ډيری پراختيايي اداري پر شخصي امنيتي قراردادونو سره مربوط دي.

له نړيوالې ټولنې سره تر اوږدو خبرو اترو وروسته، په ۶ دسمبر کال ٢٠١٠ د افغان کورنيو چارو وزارت ويلاند اعلان وکړ چې، لايسنس لرونکی شخصي امنيتي قراردادیان کولی شي د قرار داد د وخت تر ختميدو پورې په افغانستان کې خپل کار ته دوام ورکړي. لانديني محدوديتونه تطبيقيږي:[311]

- شخصي امنيتي قراردادیان بايد په کابل کې له ديپلوماتيک ځای څخه بهر ووځي او پرسونل يې بايد يونيفورم واغوندي.
- شخصي امنيتي قراردادیان چې د ناټو د قطارونو ساتنه کوي بايد د افغان ملي امنيت له قواوو سره ملګري ووسي.
- شخصي امنيتي قراردادیان دا اجازه نه لري چې موټر ودروي، کورونه تلاشي کړي سرکونه بند کړي.
- د شخصي امنيتي قراردادیانو د امنيت مسوليت به په تدريج سره افغان ملي امنيتي قواوو ته انتقاليږي.

سينټکام رپوټ ورکړ چې د ٢٠١٠ کال تر نيمايي پورې ١۶٧٣٣ شخصي امنيتي قراردادیان په افغانستان کې د دفاع وزارت په مالی لګښت وو. له دوی څخه ١۴٠ د متحده ايالاتو تبعه وو او ٩٨٠ د دريم هيواد تبعه وو او ١۵۶١٣ افغانان يا د کوربه هيواد تبعه وو.

سرچينه: DOD/ADUSD (د ملاتړ پروګرام) (( د متحده ايالاتو د کړنو د قراردادونو د ملاتړ پروګرام، په افغانستان او عراق کې د متحده ايالاتو د سينټکام مسوليتونه)) ۵/٢٠١٠

## د صنعتی او طبيعی منابعو پراختيا

په دې دريو مياشتو کې، د مهمو پرمختګونو څخه يو د کرنې، اوبونې او مالداری په افغان وزارت کې د مالی مديريت د پياوړيتوب پروژه ده چې د متحده ايالاتو په مالی مرسته ترسره شوه او همدا رنګ د نړيوال بانک د رپوټ خپريدل چې د افغانستان د خصوصی سکتور د پرمختګ په لار کې اعتراضونو څرګند کړل.

### نه او خوراکی مرسته

لکه څنګه چې د اکتوبر مياشت ٢٠١٠ کال د سيګار په دری مياشتينی رپوټ کې يادونه شوې، چې غنم د افغانستان اساسی فصل دی، چې د هيواد نيم د انرژی کلوری تياروی. په دې دريو مياشتو کې، د متحده ايالاتو د کرنې اداري يو نوی پروګرام اعلان کړی تر څو په افغانستان کې د خوراکی توکو خوندی ساتل پياوړی کړی چې له کبله به يې داسې د غنمو نوی تخم ور وپيژنی چې د مرضونو پر ضد به مقاومت ولري. دغه نوی تخم په داسې ډول جوړ شوی چې د غنمو د يو ډول ناروغی مخنيوی به کوي، کوم چې د افغانستان د فصل حاصل ته ضرر جوړيدای شوای. کله چې د دغه تخمونو کافی اندازه توليد شي، نو د کرنې، اوبونې او مالداری وزارت په پلان کې لري چې دغه تخمونه په کال ٢٠١١ کې تر ۶٠٠٠٠ افغان بزګرانو ورسوی. د متحده ايالاتو د کرنې اداري د څيړونکو له مخې،دغه بسپنه به د کال ٢٠١١ لپاره ۶۵٪ افغانستان ته د ۶۵٪ د مرضونو ضد تخمونو برابر کړی.[312]

د فصلونو د توليد له زياتوالی سره، د متحده ايالاتو حکومت په پام کې لري چې بې وزله افغانانو ته د مستقيم خوراکو مرستې برابرې کړي. لکه څنګه چې د سيګار په مخکينی دری مياشتينی رپوټونو کې يادونه شوې چې، افغانستان خوراک واردوی ځکه چې خوراکی توليدات يې د کورنی مصرف اړتياوې نشی پوره کولی. په ٩ دسمبر ٢٠١٠ کال، يو ايس اې آی ډي، رپوټ ورکړ چې، دوی ټول ۴۵.٩٨ مليونه ډالر نړيوال خوراکی پروګرام او د کاتوليک مرستندوی خدمتونو ته ورکړل تر څو د افغانستان په هغو سيمو کې خوراکی توکی وويشي چې د خوراکی بحران سره مخ دی.[313]

په تيرو دريو مياشتو کې، د متحده ايالاتو د کرنې اداري ٣۶ مليونه ډالر د ګډ تړون له مخې، د داوطلب اقتصادی ودې اتحاديې ته ورکړل تر څو د کرنې، اوبونې او مالداری وزارت د مالی مديريت وړتياوې پياوړې



**يوه افغان** ماشوم د قوی خوراکی توکو يو بکس وړی چې په هغې کې غذايي اجزا شامل دی، چې د پنځو کلونو څخه د کم عمر ناوړه غذا خوړوونکو ماشومانو باندې ويشل شوی وو. د قوی غذا پروګرام د متحده ايالاتو په ملاتړ د ولايتی بيا جوړونې ټيم تيار کړی وو. نن، اجناس په سيمه ييزه توګه ترلاسه کيږی، او پراګرام د افغانانو له لوری اداره کيږی چې دندې او غذايي ملاتړ تر خلکو رسوی. (د يو ايس اې ايف تصوير، سر اې، آشلې اين ايويسلا)

کړی. د متحده ايالاتو د کرني اداري له مخې، موخه يې دا وه چې دغه وزارت دې ته چمتو کړی چې د متحده ايالاتو حکومت څخه زيات مستقيمي مالی مرستي ترلاسه کړی. د داوطلب اقتصادی ودې اتحاديه به د کرني، اوبونې او مالداری وزارت په عصری کولو او د خپلو کړنو په ښه توګه ترسره کولو کې سپارښتونه جوړوی. دغه به له وزارت سره د بسپنې د مديريت د برخې په جوړولو کې هم مرسته وکړی چې له نړيوال بسپنه ورکوونکو څخه مالی مرسته تر لاسه او تنظيم يې کړی.[314]

## د خصوصي سکټور پرمختګ

د متحده ايالاتو حکومت داسي پرمختګونه ورپيژندلی دی چې په افغانستان کې د خصوصی سکټور د پرمختګ لپاره بايد ترسره شی. لکه څنګه چې په اکتوبر مياشت، ۲۰۱۰ کال کې د سيګار په دری مياشتينی رپوټ کې راغلی چې، يو ايس اې آی ډی، له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۹ پوری ۵۶.۳ ميليونه ډالر ورکړل تر څو د ځمکو د ملکيت او نسبت د خنډونو د ليري کولو په لړ کې مرسته وکړی. په دغه برخو کې د اصلاحاتو نشتوالی، د خصوصی اقتصادی سکټور په وده کې د يوه لوی خنډ په توګه ور پيژندل شوی.[315]

په تيرو دريو مياشتو کې،نړيوال بانک خپل کلنی د تجارت کولو ۲۰۱۱ سروې چې د نړی ۱۸۳ هيوادونو لپاره وه خپره کړه، چې په دغه برخه کې يې دوامداره اعتراضونه څرګند کړل. افغانستان په درجه بندی کې دوه ګامه شاته لاړو، په کال ۲۰۱۰ کې له ۱۶۵ څخه په کال ۲۰۱۱ کې ۱۶۷ ته راټيټ شو. دغه بدلون په اساسی توګه د تجارت د پيلولو پر مهال د مشکلاتو له وجې ووو چې پکې د ودانی جوړولو جواز، د ملکيت راجستر کول، کريډيت يا د بانکی درلودنو ترلاسه کول، او د قراردادونو پلی کول شامل دی. د مثال په توګه، د سروی له مخې افغانستان په نړی کې تر ټولو بد هيواد ورښودل شوی،(۱۸۳) د بسپنه ورکوونکو د خونديتوب، د پولې هغې خوا تجارت او د تجارت د بندولو له نظره.[316]

سروې ښودلې چې په افغانستان کې د ملکيت راجستر کول ۲۵۰ ورځې غواړی، چې په پرتله توګه ۵۰ ورځې په پاکستان، ۳۷ تاجکستان،۵۱ عراق او ۳۶ ورځې په ايران کې پرې لګيږی.[317]پر دې سربيره، سروې دا هم ښودله چې افغانستان د پولې هغې خوا تجارت کې له ډيرو مشکلاتو سره مخ وو، چې وجه يې نا موثره د ګمرک کړنلاری او د صادراتو او وارداتو لپاره ډير زيات کاغذی غوښتنې وی چې د خنډ لامل به ګرځيدل..[318]

### د سيګار پلټنې

په روانو پلټنو کې، سيګار د هغو پروګرامونو څارنه کوی چيرته چې د متحده ايالاتو اجنسی د کرنيز سکټور پراختيا او د مخالفينو سره د جګړې کولو په کوښښونو کې ښکيل وو. د زياتو معلومات لپاره د لمړي برخې 16 پاڼه وګورئ.

**د تجارت لوی تړون ترسره شو:**
**په ۱۱ جنوری، کال ۲۰۱۱ افغانستان او پاکستان په رسمی توګه د افغانستان او پاکستان د ميکانيزم په تبادلې سره د تجارتی ترانزټ تړون لاسليک کيدل تصويب کړل. دغه تړون، چې په ۳۰ ورځو کې دننه به عملی کيږی، د افغان لاريو لپاره کار آسانه کړی، چې افغانی توليدات هند ته وليږدوی.**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب، ۲۰۱۰|۹|۴.

# د مخدره موادو پرضد مبارزه

۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۰ پورې، د امریکامتحده ایالاتو په افغانستان کې د مخدره موادو پرضد عمل کړلو لپاره د ۴،۴۹ بیلیون څخه زیات ډالره وټاکل،[319] په ۲۰۱۰، فغانستان د کوکنارو د حاصلاتو په ډګر کښې د پام وړ کموالۍ سره مخ شو. سره له دې، افغانستان د نړی تر ټولو د کوکنارولوی تولیدکونکی هیواد پاتې شو.

په دې دریو میاشتو کښې، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ګن شمیر بریالي کمپاینونه د کوکنارو د مخ نیوي پخاطر په لاره واچول. خو بیاهم، د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت سره سم، د افغان د کوکنارو صد موادو ځواکونه د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک ته په پراخه کچه اړ دی

## د کوکنارو کرل او د تریاکو پیداوار

پدې دریو میاشتو کې،په جرم او مخدره موادو باندې د ملګریو ملتونو دفتر راپور ورکړ چې د افغان تریاکو د پیداوارود په ۲۰۰۹کال کښېد ه ۶،۹۰۰ متریکو ټنونه د [320].۲۰۱۰کال کښي ۳،۶۰۰ مټریکو ټنو پورې د پام وړ کموالۍ راغلی دی، د حاصلاتو دا کموالی د کوکنارو د بوټو دناروغیو له امله مینځ ته راغلی کوم چې په کښې حصلات زیانمن شول. د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت داسي څرګنده کړه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت کړني د کمپاینونو په ګډون د پلان شوي مودې او د یو متبادل پراختیایی کرندلارې یا پروګرام څخه پر مخ یوړل شول – همدارنګه د کوکنارو په کرکیله کښې کموالي پخاطر مرسته وکړه.[321]

د حصلاتو په کموالي سره سره، په جرم او مخدره موادو باندې د ملګریو ملتونو دفتر راپور وکړ چې افغانستان به ټوله نړی کښې د کوکنارو په کرنه کښې ترټولو یو لو هیواد پاتې دی، ځنګه چې په ۲۰۱۰ کال په [322] راتلونکي پاني په ۳.۲۸ شکل کښې ښودل شوی دی، میانمر، په کرکیله کښې دوهم لوړتر هیواد، په هر هکتاره ځمکه کښې ۱۵.۱ کیلو ګرامه د کوکنارتولید کړل کوم چې په هغه وخت کښې افغانستان په هر[323] هکتار ځمکه کښې۲۹.۲ کیلوګرامه تولید کړل،

جرم او مخدره موادو باندې د ملګریو ملتونو دفتر سره سم،کوم ډول ځمکه چې په افغانستان کښې ده هغه د کوکنارو د کرنې لپاره ډېره ښه چمتو ده/ په میانمر کښې بزګرانو کوکنار په یوه سینه کښه غونډی باندې کرې پرته د کوم د اوبو لګولو د سیستم څخه،کوم چې افغان بزګران په یوه هموارې ځمکې په اړولو او د اوبو په خړوبولوسره یې کرې. [324]

د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه په ۲۰ ولایتو کښې دکوکنارو څخه خلاص ؤ، د ۲۰۱۰کال د سپتمبر پورې، د امریکا متحده ایالات نړیوال د مخدره موادو د ادارې او(INL) سره سم — په ۲۰۰۹ کال سپتمبرپه میاشت کښې د UNODCپه واسط یو شان شمیره وښودل شوه. او په ۲۰۱۰ کال کښې بل کوم لایت د کوکنارو څخه خلاص نه شو؛ او پ[325].۲۰۰۹ کال کښي یواځې دوه ولایتونه ترې خلاص شول او هغه ولایتونه چې کوکنار پکې نه کرل کیدل په یو میلیونو ډالرو باندې په کالني احساس ورکونکي انعامو باندې د دوی د ښو کړنو د سرته رسولو پخاطر

3.28 انځور

د کوکنارو تولونه په هغه هیوادو کښی چی تر ټولو ډیر کوکنار تولیدوی، -1998 2010 (هیکتار)




سرچینه:UNODC، جنوب ختیځ اسیا: د تریاکو سروی 2010، "12/2010، نهمه پاڼه

ستایل کیږي، د(INL) او د افغان د مخدره موادو۔ صد وزارت په ګډه هڅي سره.[326]

## د مخدره موادو سوداګري

په ۲۰۱۰ کال کښې د کوکنارو د ټیټو حصلاتو له کبله، په ۲۰۱۰ کال کښې د افغان کرونده ګرو لپاره په یو هکتار ځمکه کښې حاصل شویو کوکنار اندازه ۴،۹۰۰ ډالره د یوې کورنی پرسر یوه ډېره لویه لاسته راوړنه[327]ده د UNODC سره سم، هغه ګټه چې د دغو مخدره مو د خرڅلاو ځخه لاسته راځي کولای شوای د ۶۶۰ میلیونوډالرو ځخه ریات د افغان جرایمو د اتحادیو اود کتو ځخه نور په بیلیون ډالرو د نړیواله جرمي اورګانونو لپاره مالي لګښت پوره کړي.[328]

## د نشه یي توکو د قاچاق سره مبارزه

نشه یي توکو سوداګري د افغانستان سیاسي ټیکاو، اقتصادي وده، د قانون رول، او توان بې سیکه کوي ترځو چې د امنیت د ننه ستونزې په ګوته کړي ،د (INL) سره سم. سربیره پردې، د نشه یي توکو سوداګري د یاغیانو په صد جګړې په وړاندې خنډ ګرځي. (INL) زیاتوي په افغانستان کښې دغه دریو میاشتود نشه یي توکودسوداګرۍ په وړاندې جګړه د دولت ټولو د نیرډې کیدو لارو، د یاغیانوپه صد یوالی، نشه یي توکوپه صد، پرمختګ، او حکمراني باندې اصرار کوي..[329]

فساد او رشوت دنشه یي توکو پر صد د هڅو په وړاندو یو ځانګړئ ننګونه ده. د امریکا متحده ایلاتو د دفاع وزارت د وینا سره سم، د فساد خپریدل د نشه یي توکو۔ د سوداګرو لپاره یو ښه مساعده فصاء، رامینځه کوي.[330]

پدې دریو میاشتو کښې، د امریکا متحده ایالاتو دنشه یي توکو پرصد پروګرامونه د فغانستان اسلامي جمهوری دولت سره دممانعت او د پرمختیایي بدیل پروګرامونو په مرستو باندې تمرکز وکړ.

## د عملونو ممانعت

دا دری میاشتي، ترټلو ډېر د کوکنارو دمخنیوي عملیاتونه د سهیلي او سهیل لویدیځ، په کوم ځای کښي چي ډېر کوکنار کرل شویدي مینځته راغلی دي. د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت د وینا سره سرم، دافغان ملي امنیتي ځواکونه هم خپل د عملیاتو شمیره په ختیځ او شمال کي ډېره کړه. دا عملیاتونه د باغیانو ـ دنشه یي توکو ـ پرفساد باندي تمرکز وکړ.[331]

د ۲۰۱۰ د اکتوبر د ۱ څخه د دسیمبرتر۲۷مي پورې،د فغان ملي امنیتي ځواک، د ISAF په ګډون سره، ۷۸ د مخنیوي هڅې په لاره واچولي چي په لړ کښي یې ۱۲۷ مشکوک کسان ونیول شول. پدې ګډه عملیاتو کښي دا لاندي مواد ونیول شول:[332]

- ۲۱،۰۷۲ کیلو ګرامه اوپیوم
- ۱۶۱ کیلوګرامه مورفین
- ۳،۱۰۹ کیلو ګرامه هیروین
- ۱۵،۱۷۰ کیلو ګرامه کیمیاوي مواد

۲۰۱۱ کال د جنوري ۶ پورې، په افغانستان د مخنیوي لپاره د کمپاین کوم پلان نه ؤ. د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت وایي، دا ډول د پلان نه شتون د پوځي پلان جوړه ونکو لپاره ستونزي راولاړې کړېدي او د نشه یي تو کو د مبارزې په وړاندې بریالیتوبونه محدودکړي دي.[333]

افغانستان یو څو د نشه یي توکو ـ پر صد ځواکونه لري،د افغانستان دنشه یي توکو پرضد پولیس په ګډون (CNPA) یا د افغان د نشه یي توکو ځانګړي ځواکونه هم لري. خو بیاهم، د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت وویل پدې درېو میاشتو کښي به دا ځواکونه د ISAF د ځواکونو د مرستو په شتون کښي په هغه سیمو کښي چي د طالبانو شتون باوري دی عملیات وکړي، په ځاګړې ډول په سهیلي ـ سیمه ییز اداره کولوکښي، په هغه ځای کښي چي نشه یي توکود سوداګری او د باغي توپ اړیکي ترټولو ټینګې دي. د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت په وینا، د فغانستان اسلامي جمهوری دولت دISAF سره څنګ پر څنګ کار مخ په وړاندې بیایي تر څو چي د CNPA وړتیاوې نورې هم بشپړې شي.[334]




د تریاکو د کر کیلي د کچي را ټیټول د امریکا او د افغان دولت د مخدره توکو په وړاندی دپروګرام یوه مهمه او اړینه برخه جوړوی. (د USMC انځور، ریچارډ پی .P سنکلاپ- هیرامیس)

## پرمختیایي بدیل پروګرامونه

پرمختیایي بدیل پروګرامونو اهداف دا دي تر څو چي بزګران د ناروا حصلاتو پر ځای قانوني بدیل سره په اقتصاد توګه د ژوند پاتیکیدو ته چمتو شي.[335]خورا د ډېرو افغانانو لپاره بزګري د عایداتو یو د ډېرو لویو دسرچینوڅخه عبارت ده.[336]د افغانستان او پاکستان د ۲۰۱۰ کال د سیمیزه استحکام پروژه تشخیص شوه څنګه چي بزګري یو د روا دندو له جملو څخه ده. د بزګر په اختیار کښي سره له ډېرو قانوني لارو، د یوه سترتیژۍ موخي دا دي چي په لړ تعداد سره بزګران کوکنارو کرکیله وکړي،په دي وسیله د نشه یي توکو په سوداګری کښي کموالی راځي کوم چي کوکنار باغیان تمویل کوي.[337]

(USAID) د درېو میاشتو پر بنا د بدیل د پرمختګ ودې یې نه ده انداز کړې. په دې خاطر چي کروندګر د مرکیدو په وخت کښي هم خپلي کرکیلي کوي، دا ډېره ستونزمنه ده چي په فبروري او جنوري کښي هغه جریب څمکه کرل شوې او تر څو چي حاصلات یې ورسیږي پرتله کړو: [338]

- زیاتو زراعتي محصولاتو لپاره د افغانستان د مدرك پلس پروګرام (AVIPA)
- دافغانستان د اوبو، زراعت او ټکنالوژي بدلیدل (AWATT)
- د سولي جرګې

### AVIPA Plus یا د زیاتو زراعتي محصولاتو لپاره د افغانستان د مدرك پلس پروګرام

د زیاتو زراعتي محصولاتو لپاره د افغانستان د مدرك پلس پروګرام، AVIPA د پرژۍ۲۰۰۸ د کال ۶۰میلیونه نپښتي برخه، په۲۰۰۹ د جون به میاشت کښي پیل شوه او پایله به یي ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت کښي اټکل شوېده. د ۳۰۰ میلیونو ډالرو دا پروژه دوې موخي لري: د کرني دموادو یا اجناسو د پیرودل تر څو چي په تضمین سره بزګر چمتو شي، د قبالي او سرې(کود) په ګډون، او تر څو چي په سهیلي افغانستان کښي دايمي پروګرامونه بشپړ کړو( په ځانګړې ډول سره په کندهار او هیلمند کښي) څنګه به د اوږدې مودې بدیل پرمختګ جوړېدل شونۍ کړي د AVIPA پروژې دایمي پروګرامونو باندې په بشپړ ډول او په ترقی سره تمرکز وکړ، کوم چې دا لاندي پکي ګډون لري:[339]

- د کوکنارو لپاره تبدیلۍ( د وني او تاک لرونکو ونو په څیر بوټي)
- د پیسي ـ د کار پروګرامونه لپاره
- د کمې مودې د مرستي د ضامنت په غاړه اخستل پر ځای سازمانونو او ټولنوته خواخوږي منل او ورکول پکار دي

د ۲۰۱۰ د دسمبر د میاشتي پورې، USAID د AVIPA ضمانت لیکونه یا سندونه په ۳۱ ولایتونو کښي ۱۷۳،۷۵۵ بزګرانوته ویشل شوي ؤ. د دې ضمانتونو څخه، ۱۶۵،۳۸۰ بزګران له ګروی څخه د تضمین کړل شویو غنمود دانو او سرو (کود) لپاره خلاص شوي ؤ په یوه جلا اټکار کښي، AVIPA د کندهار او هلمند بزګرانو ته تضمین کونکي مرستي وویشلي؛ ۳۲،۲۶۶ تضمیني مرستي د خټکي، سبزي، بینډی، لوبیا، جوارداني ، سرې(کود) لپاره بیارا ونیول شوی.[340]

همدارنګه AVIPA د ولایت ځانګړې کرني ترسره کړی. د مثال په ډول، د IDEA-NEWد پروګرام تر اثرلاندي په ننګرهار، لغمان، کونړ، او نورستان کښي ۱۵،۰۰۰ بزګرانو تضمیني مرستي تر لاسه کړ تر څو د سبزیو تخم او سره(کود) د څمکي په نیم جریب کښي وکري . په هلمند کښي، ۲۰۱۰ کال کښي لږ تر لږه ۵۰ سلنه ټول کوکنار کرل شوي ؤ، پروژو بزګران لپاره د کرني د مصرفي څواک(داني، کود، اسباب،او ماشینان په ګډون) همدارنګه د کرني عصري تخنیکونه چمتو کړل. د USAID د وینا سره سرم، اضافي عاید د دې پروګرام په مرسته پرمخ بیول شو دا داسي دی تر څو بزګر د کوکنارو دکرلو څخه منع کړل شي؛ خوبیاهم، پروګرام معلومه نه کړه چي آیا دغو بزګرانود کوکنارو د کرکیله پر ځای د کوم بل څه کرلو ته بدلون ورکړ.[341]

**جریب:** د څمکي د یوه هکتار یو پر پنځمه.

سرچینه: USAID،RANP" د ننګرهارد بیرني پیښي د غنمو د کځوړې راپور،" ۲۰۰۶/۶،p.1.

### AWATT

2010 اکتوبر SIGAR په راپور کښي څنګه چي ښودل شویدي ده ، دکوکنارو د کرنی په مخنیوی به هغه وخت به د تحمل وړ وي چي د کوکنارود کرني پر ځای د نور څیزونود اوبو په موجودیت کښي وکرل شي. د (INL) یا د چاړو دسرته رسولو قانون داسي ښودلي ده چي کوکنار ترنورو څیزونو د کرلو څخه لږ اوبو ته اړتیا لري ـ د وچکالی او د لږ اوبو کولو په واسطه آفت یا طاعون وهلو له امله د څمکو ارزښت.[342]

د ۲۴میلیونو ډالو په ارزښت AWATT پروګرام موخي د موثره پرمختګ په واسطه سره د روا کرهنیزو پیداورو ته وده ورکول، په ټولني پورې تړلي اوبول د اوبو د سرچینو ویش او اداري سیستمونه.[343] ، AWATT / USAID دنوی مکسیکو د ایالت پوهنتون پروژې،په ډېرو ولایتونو کښي فعالي پروژې لري، څنګه چي په۳.۲۹ شکل کښي ښودل شوی دی.[344]

په دي دریو میاشتوکښي، AWATT د کاریزونو په بیا رغاونه توجو کړیده. د اوبو لپاره د غوښتلو تقصا ډېره شویې ده، د اوبود جدول راټیټول. په پایله کښي، زوړ د اوبو د لګولو سیستمونه لږ اوبه مینځته راوړي. د USAID د وینا سره سم، کاریزونه له مینځه ځي، او کلیوال د داسي څه سره مخامخ کیږي چېډ پاکو اوبو د سیستم د پیدا او بیا رغاوي- د خطر څخه ډکه موده ، د دندو دلاسه ورکول.[345]

**کاریزونه:** په افغانستان کښي په عنعنوي ډول د څمکو لاندي د اوبو سیستمونه، کیدای شي چي زرګونه کلونه پخواني وي. په دي سیستمونو کښي اوبه د ټل لپاره ټول کال بهیږي؛ کرونګر لږ څه په اختیار کښي لري چي د اوبو د خلاصیدو پیمانه د موسم څخه تربل مو سم پوري ، یا د ورځي څخه تر ماښامه پوری.

سرچینه: د سیګار د ۲۰۱۱/۳/۱ نیټي غوښتني ته د USAID خواب.

د هرات د شینډنډ ولسوالی د کاریزونو په اړه ډېرو سختو ستونزو سره مخا مخ کیږي. پدې دریومیاشتو کښې، AWATT داسې لاره جوړه کړه تر څو چې د ولسوالیو کاریزونه بیاوراغاوي ، او د کاریزونه جوړول د تیږو په فرشولو باندې او د کانکریټو ځای پر ځای کول تر څو چې سمڅې له مینځه لاړې شي او په همدې ډول هر کال داسیسنم پاکولو ته اړتیا لري. همدارنګه روغوني ته ، په یوه نویې لیکه کاریزونو باندې د دروازو اینودل نو په همدې ډول بزګران دسیستم څخه د اوبو بهېد کنټرول کړي.[346]

## د سولې جرړې

د ۲۰۱۰ کال د د سمبر پورې، لږ تر لږه ۳.۵ میلیونه ډالره د سولې د جرړو د منلو او جوړولو تر اثر لاندې خرڅ شول، د USAID د وینا سره سم. د سولې جرړې پدې موخه دی تر څو د کلیوالي بزګرانو لپاره عایدات د دوی د محصولاتو د پرمختک اود دوی تمرکز دنورو ځیزونو کرکیلو ته اړول په واسطه د بازار دلوړ ارزښت سره سره ډېر کړي. دا پروګرام په ۱۶ سهیلي و ختیځو،او مرکزي ولایتوکښې عملیات کړي. د USAID د وینا سره سم ، دا پروګرام لاندې پرمختګونه تر سره کړیدي:[347]

- د بازارد لوړ ارزښت میوه لرونکي ونې: د ۴۰۰۰، بزګرانو په واسط سره یو څو د انګورو او د میوو۶۴۵ هکتاره ځمکه په پلان کښې ونیول شوه.
- صادرات او د تازه میوو بازار: تور انګور،انار، توت، زردالو او منې دوبی ته صادر شوي،تاجکستان، پاکستان، هندوستان ،نیدرلند ، او کاناډا. د سولې جرړې مرستې د میوو د زیرمو وړ بزګرانو سره او سوداګر تر څو چې پس له موسم او فصل څخه د میوو خرڅلاو ډېر کړي. په پایله کښې، په څلورو او بنځو میاشتو کښې د دوه څخه تر دریو پورې بیې جګې شوې دي.
- د جنس (ښځینه او نارینه او منځنڅ) کړنې: په ۱۲۵ کورنیوکښې ښځې د په لږ پیمانه د کرنیو مرغانو په سوداګریو تاسیس کول پیل کوي.

## د مینځه وړل

اګر چه د متحده ایالات د کوکنارو پرصد کړنې نه دې تر سره کړې، GIRoA د والي په مشرې د مینځه وړلو پروګرام یو څو د مینځه وړنې لارښودنې. پدې دریو میاشتو کښې د کوکنارو د سیمې د کوکنارو څخه پاکې نه شوې پدې څکه چې د مینځه وړنه د موسمي کرنو څخه ده، چې د فبروري څخه تر مې پورې. [348]

پدې دریو میاشتو کښې، په ۲۰۱۰ کښې UNODC راپور ورکړچې د مینځه وړنو کړنې زیانمنې شوی وې او یوائې ۲ سلنه د ساحه د کرنې لاندې ده . په میانمرکښې، په ۲۰۱۰ کال کې کرنې ۲۲ سلنه له مینځه ولاړې.[349]

3.29 انځور

په ولایاتو کښی د اوواټ پروژه




سرچینه: د مکسیکو دولتی پوهنتون، " د افغانستان اوبو، کرهنې اوتیکنالوژی انتقال," په 1/9/2011 لاس رسی ورته شوی دی.

# د فساد پرضد مبارزه

د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پورې، د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د حکومتدارۍ او پراختیا لپاره ۱۶،۱۵ میلیارډ ډالره منظورکړې دي؛ په حکومتدارۍ کښې د فساد په وړاندې مبارزه هم شامله ده.[350]

د خېرنو په تیر درې میاشتنې راپور کښې، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی ته معلومه شوه چې د بیارغوني لپاره مرستې په داسې حال کښې ورکول کیږي چې د فساد په وړاندې دمبارزې په اړه لا هم روښانه ستراتیژی موجوده نه ده. په دې ربع کښې، سیګار ته راپورنه رارسیدلي چې په دې اړه ستراتیژی امضا شوی خو د دې راپور د چاپ تر وخته داسې اسناد تر لاسه نشول چې یاده شوې ستراتیژي تایید کړي.

د نړیوالې شفافیت اداري افغانستان دریم تر ټولو په فساد اخته هیواد نوموړی دی.[351] که څه هم د ایشیا فونډیشن لخوا په تر سره شوي سروې په اساس د افغانانو ډیرې یعنی ۷۸ فیصده د افغان دولت د مسولینو د کړنو په اړه مثبت نظر لري، پداسې حال کښې چې د نړیوال شفافیت د ادارې په وینا د افغانانو نظرونو د افغان دولت د فساد ضد مبارزې په اړه مختلف نظرونه لري.[352]، د یاده شوی سروې چې ۸۶ مختلفو هیوادو کښې ترسره شوی په اساس ۳۹ په سلو کښې افغانان په دې باور دي چې د افغانستان د اسلامی جمهوریت د فساد په ضد د مبارزې هڅې موثرې نه دي، همدا معلومات په ۳.۳۰ شمیره انځور کښې بیان شوی دی.[353] په عامه پوښتنل شوو کښې ډیرې افغانان پدې باور دي چې قضایي ارګان تر ټولو ډیر په فساد کښې غرق دي- یعنی د سیاسی حذبو،د پولیسو، مقننه قووي او خصوصی سیکتور په پرتله قضایي ارګان ډیر په فساد کښې غرق دی.[354] په سروې کښې همدا ډول راغلي چې د بډې او رشوت ورکول په افغانستان کښې په یوه لویه ستونزه بدل شوی دی: په سلو کښې ۶۱ افغانانو ویلي چې په تیرو ۱۲ میاشتو کښې یې لیږ تر لیږه یو ځل بډې ورکړې دي.[355]

## د افغانستان د اسلامی جمهوریت هڅې

د یونما په وینا د فساد په وړاندې د افغان دولت هڅې ګړندۍ شوی دی.[356] د مثال په توګه، د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر په ۵مه د هرات ولایتی شورای یوه دوه ورځنۍ غونډې په ترڅ کښې په یاد شوی ولایت کښې هغه هڅې وارزولی چې د فساد په وړاندې اخیستل شوی او عملي شوی دی. په غونډه کښې، د فساد په وړاندې د لوړي اداري (HOOAC چې پخوا د HOO نامه یادیده) مشر وویل چې ملکی وګړی، ولایتی شوراګاني او دولتی سیکتور په ګډه کولای شی د فساد په وړاندې په مبارزه کښې اړین او مهم رول ولوبوی. یادې شوې غونډه د یونما او د ملګرو ملتو نورو ادارو ملاتړ تر لاسه کړ.[357]

د افغان دولت د فساد په وړاندې مبارزه د څو ادارو او بنسټو لخوا چې د امریکا او نورو نړیوالو ادارو له لوري تمویلیږي پر مخ وړل کیږي. په ۳.۸ شمیره جدول کښې چې په دا بله پاڼه کښې دی د یادو شوو سازمانو، د هغوی د مسولیت او کاری سیمو،د مشرانو او د هغه امریکایی اجینسیانو په اړه چې د دې سازمانو سره مرستې کوی معلومات بښودل شوی دی.

## د سیګار پلټنې

د څیړنې په هغه راپور کښې چې د ۲۰۱۰ کال په اګست کښې خپور شوی، سیګار ته معلومه شوه چې دامریکا د هغو مرستو څخه چې په افغانستان کښې د بیارغوني په موخو لګول کیږی د څارنکو ادارو سره لیږ مالی مرستې ترسره شوی دی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د سیګار، ۱۵-۱۰ څیړنې،" د افغانستان د بیارغوني په اړه د امریکا هڅې او د امریکا د فساد په وړاندې ستراتیژی څخه د نړی ته د کتو برخې ته چې، " www.sigar.mil تر لاسه کیدای شي مراجعه وکړی.

3.30 انځور

د افغان اسلامی دولت لخوا د فساد په وړاندې د مبارزې په اړه د عام افغانانو لید لوری او نظریات (فیصدی)




سرچینه: نړیوال شفافیت، "د نړیوال فساد د کچې سنجونه 2010،" 12/9/2010، 47 پاڼه.

## د څارنې او د فساد ضد لوی ریاست

HOOAC د ۲۰۰۸ کال په جولای میاشت کښې د ولسمشر حامد کرزی لخوا په دی موخه جوړ او تاسیس شوه چې د افغانستان د اسلامی جمهوریت د فساد په وړاندی هڅې او ګامونه وڅاری او همغږی کړی. HOOAC همدا ډول د افغانستان د اداری اصلاحاتو د تګ لارو د عملی کولو دنده هم پر غاړه لری.[358]

په دیسمبر ۲۰۱۰ کال کښی د HOOAC عمومی مشر وویل چې افغان دولت د فساد په ضد قوانینو باندی کار کوی تر څو دا قوانین د ملګر ملتو د فساد په وړاندی د مبارزې د کانوینسینو سره سم عیار او برابر کړی.[359]

د ۲۰۱۰ کال په نومبر کښی د امریکا دفاع وزارت ته معلومه شوه چې HOOAC د افغان لوړ رتبه مامورینو د ملکیتو د ثبتولو اعلان کړی دی. دا پداسی حال کښی ده چې د افغان دولت یو شمیر لوړ رتبه مامورینو برسیره پردی چې د HOOAC او ولسمشر حامد کرزی لخوا د خپلو ملکیتو او شتمنیو د ثبتو غوښتنه شوی خو بیا یی هم دا کار ندی ترسره کړی. د امریکا دفاع وزارت ته همدا ډول معلومه شوه چې HOOAC د هغه معلوماتو چې د دی اداري سره ثبت شوی او ورکړی شوی، دا اداره د هغو په اعلان کښی ځنډ را منځ ته کوی – دا کار د دی ښکارندوی کوی چې HOOAC په هغو پیښو کښی چې د سیاسی اړخه حساسی دی علاقه نه ښایی.[360]

## د فساد د قضیو په اړه پرمختګونه

په دی ربع کښی، د امریکا د قانون د پلی کولو او د مخدره توکو په وړاند د مبارزې نړیواله اداري (INL) راپور ورکړی چې دا اداره د فساد په وړاندی د مبارزې د ځانګې (ACU) څخه د قضیو د پر مخ وړلو لپاره ګټه اخلی. په ځانګړی توګه INL د فساد په وړاند د قضیو شمیره، د هغوی د برابرونې په اړه معلومات او د هغه سرعت په اړه معلومات چې دا قضیې پر مخ وړل کیږی معلومات تر لاسه کړی دی. دا ټول پداسی حال کښی دی، چې لوی څارنوال چې د ACU مشری هم پر غاړه لری INL ته د نو معلوماتو د ورکولو څخه ډډه کړی ده. INL په دی باور دی چې تر هغه وخته چې لوی څارنوال د نړیوالې ټولنې سره معلومات شریک نکړی دا اداره به ونشی کولای چې د قضیو په اړه پرمختګ تعقیب کړی.[361]

د 3.8 جدول

**د افغانستان د اسلامی جمهوریت د فساد په وړاندی د مبارزې اداري او سازمانونه**

| هڅونه او تمرکز | سازمان | راپور ورکونه | د امریکا مرستې د کومه طریقه ورکړل شوی دی | موخه او هدف |
|---|---|---|---|---|
| مخ نیوونکی تدابیر | د نظارت یا څارنې او د فساد په وړاندی د مبارزی لوی ریاست (HOOAC) په کال ۲۰۰۸ کښی تاسیس شوی دی. | ولسمشر | یا د امریکا د مرستو پرمختیایی اداره USAID | د هغو وقایوی تدابیرو د عملی کیدو په اړه چې د فساد په وړاندی ستراتیژی یی هم یوه برخه ده په اړه د همغږی رامنځ ته کول او څارنه، تر څو د افغان دولت سره د فساد د کچې په را ټیټولو کښی مرسته وشی. |
| د حکومت څارنه | د کنترول او څارنې دفتر (CAO) په کال ۱۹۸۱ کښی رامنځ ته شوی دی | ولسمشر | USAID یا د امریکا پرمختیای پروګرام او خزانه | د افغان دولت د ننه د مالی ستونزو څیړنه |
| تحقیق | د فساد پر ضد اداره(ACU) چې په کال ۲۰۰۹ کښی تاسیس شوی ده. | لوی څارنوال | DoJ, INL | د فساد د قضیو څیړنه |
| څیړنه | د لویو جرمونو په وړاندی عملیاتي ځواک په کال ۲۰۰۹ کښی تاسیس شوی دی | د امنیت مرستیال (د کورنیو چارو وزارت)، د امنیت ریئس ( د ملی امنیت ریاست) | INL, DoJ, FBI | د هغو لوړ رتبه قضیو څیړنه چې د فساد په اړه دی |
| د مخدر توکو اړوند د قانون پلی کول | د جرمونو په وړاندی د قضایی عملیاتی ځواک (CJTF)، په کال ۲۰۰۵ کښی تاسیس شوی دی. | د کورنیو چارو وزارت( د مخدره توکو په ضد د مبارزې پولیس)، د عدلیی وزارت (څارنوالان)، ستره محکمه (د مخدره موادو په وړاندی د مبارزې محکمه) | INL | د مخدر توکو اړوند د فساد او جرمونو تحقیق او څیړنه |

سرچینې: HOOAC، " مونږ څوک یو؟" چې 1/16/2011 نیټه باندی انلین لیدل یا لاس رسی ورته شوی دی؛ په کابل کښی د امریکا سفارت، " افغانستان د فساد په ضد نړیواله ورځ ونمانځله" ۱۲/۱۵/۲۰۱۰؛ سیګار، ۸-۱۰ څیړنه، " د افغانستان د کنترول او څیړنې دفتر لا زیات استقلالیت او عملیاتی بودجه ته اړتیا لری، د صلاحیت اسانیتا، او نړیوال کمک تر څو فساد په سمه توګه په ګوته او د هغه مخنیوی وکړی،" ۴/۹/۲۰۱۰ ؛ DoS کلینټون: افغانان د حامد کرزی په دویمه دوره کښی د حساس لحظاتو سره مخامخ دی، " ۱۱/۱۹/۲۰۱۰؛ د سیګار د ۱/۶/۲۰۱۱ نیټې غوښتنې ته د INL ځواب، " د افغانستان د پروګرام بیا کتنه "، چې د ۲۰۱۱ کال د جنوری په ۱۴ انلین لاس رسی ورته شوی دی؛ DoJ، " لوی څارنوال د افغان او امریکایی مسولینو سره د کتنې په موخه افغانستان ته سفر وکړ، " ۶/۳۰/۲۰۱۰؛ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، " د ازادی او دیموکراسی د پرمختګ په اړه راپور، "CJTF؛۵/۲۰۰۹"، " د CJTF ویب پاڼې ته ښه راغلاست، " چې د ۲۰۱۱ کال د جنوری په ۱۶ په انلین ډول لیدل او یا هم لاس رسی ورته شوی دی.

د افغانستان د اسلامی جمهوریت په چوکاټ کښی داسی ډیری اداري شته چی د فساد په وړاندی د قضیو پر مخ وړلو کښی تخصص لری. د لویو جرمونو په وړاندی عملیاتي ځواک(MCTF) د فساد د پوتنشیل جرمی پیښو په اړه ځیرنی تر سره کوی. کله چی MCTF تورن ونیسی ، ACU هغوی د فساد په وړاندی د مبارزې په محکمه کښی محاکمه کوی.[362] د مخدره توکو اړونده قضیې د جرمی قضایی عملیاتی قووې له لوری پر مخ وړل کیږی، دا ډله د افغان پولیسو او څارنوالانو ګډه ډله ده چی د مخدره توکو اړونده مهمو قضیو په اړه او د فساد او د پیسو پریمنځلو په اړه تحقیق کوی . د دی جرمونه په اړه محاکمه د مخدره توکو په مرکزی محکمه کښی ترسره کیږی.[363]

### د لویو جرایمو عملیاتي ځواک

د ۲۰۱۰ کال تر دیسمبره پوری، د کورنیو چارو اړوند ۱۰۰ او د ملی امنیت لخوا ۶۳ محقیقین درلودل. د INL په وینا ACU د څیل ۷۰ په سلو ظرفیت په درلودلو څیلي دندې تر سره کوی.[364]

MCTF د تروریزم سره د مبارزې او استخباراتی مرستي د امریکا د تحقیقاتو د فدارل اداري او د امریکا د عدلی وزارت څخه د څارني او تعقیب په برخه کښی مرستي تر لاسه کوی.[365] د INL په وینا MCTF په دی درو میاشتو کښی د فساد د قضیو په اړه څیلو تحقیقاتو ته دوام ورکړی او د هغو مسولینو چی باور کیږی په فساد کښی ښکیل دی ګرفتاریو ته دوام ورکړی. مګر، یواځی یو شمیر قضیو په اړه محکمه دایره شوی ده.[366]

د ۲۰۱۰ کال په لومړیو کښی، MCTF د یو حکومتی کارکوونکی محمد ضیا صالحی چی د هغه په ګرفتاری تمامه شوه تحقیق پیل کړ په نوموړی باندی ادعا ده چی د یو بندی د خلاصولو په بدل کښی یی بډې او رشوت تر لاسه کړی دی.[367] د نومړی د ګرفتاری وروسته، ولسمشر حامد کرزی د هغه د ازادولو امر ورکړ او د MCTF د دی کار په وړاندی یی د دوو جلا تحقیقاتو هدایت ورکړ[368] چی د هغه ډلي یو د غیر قانونی کړنو او بل د ښاغلي صالحی د بشری حقوقو د په دیسمبر کښی، د INL په وینا لوی څارنوال د صالحی قضیه یو ولایتی دفتر ته د راجع کولو په اړه د دوو څارنوالو د انتقال په باره کښی خبراتری کړی وی.[369]

### د اداري فساد پرضد مبارزې څانګه

ACU دافغانستان د لوی څارنوالی د اداري په چوکاټ کښی دنده ترسره کوی. په تیر وخت کښی څارنوالان او محقیقین (ټول افغانان) سره د امریکا د عدلیي وزات لخوا د مربیانو او کارپوهانو لخوا د څارني په برخه کښی سلا مشوری ورکول کیدلی.[370] مګر، په ۲۰۱۰ کال د جولای په میاشت کښی لوی څارنوالی ACU سره او د لوی څارنوالی سره ټولي د څارني په برخه کښی مرستي لغوه کړی. د DoJ مربیان په دیسمبر میاشت کښی بیرته څپلو دندو ته پریښودل شول خو لا هم په ځینو څانګړو قضیو کښی څارنوالانو ته د سلا مشورو ورکولو اجازه ور نه کړل شوه. INL ته معلومه شوه چی ډیری قضیې د ACU او د فساد په وړاندی د مبارزې د محکمي څخه نورو محکمو او څارنوالانو ته لیږدول کیدلی.[371]

همدا ډول د INL په وینا د جولای په میاشت کښی لوی څارنوالی یو امر صادر کړ چی دیولی ګراف یا د ثبت او یادښتونو څخه چی د فساد د منځ وړلو په موخه یوه پروسه وه منع کړله. د جولای را پدیخوا لوی څارنوالی ۵۰ څارنوالان د ACU لپاره په دندو ګمارلی چی د هیڅ یوه په اړه دا پروسه یعنی پولی ګرافی نه ده ترسره شوی. ستړې محکمي هم همدا ډول یو فرمان صادر کړ چی همدا کار لامل شوو چی د فساد په وړاندی د مبارزې د محکمي د ۱۱ قاضیانو د ډلي څخه یوازی ۵ یی د پولی ګراف پروسه بشپړه کړی ده.[372]

په دی ربع یا درو میاشتو کښی د افغانستان اسلامی جمهوریت د فساد ۸ قضیې چی په منځنۍ رتبه لرونکو دولتی کارکوونکو په اړوندی دی تر لاسه کړی خو د دی ډلي یوه یی هم د فساد په وړاندی د مبارزې لخوا نه ده، همدا ډول INL ته معلومه شوه چی دا قضیې د استیناف د غوښتني په مرحله کښی ده. INL ته همدا ډول معلومه شوه چی هیڅ لوړ رتبه دولتی کارکوونکی نه دی محاکمه شوی. د افغانستان اسلامی جمهوریت ډیر قضیې مندلی او په لاره اچولی، خو INL ته په دی اړه معلومات نه دی ورکړل شویږ.[373]

### د سیګار پلټني

په یوه روانه څیړنه کښی، سیګار د هغو امریکایی مرستو د اغیزمنتوب او موثریت ارزوی چی د د لویو جرمونو د عملیاتی ځواک سره ترسره کیږی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لومړی برخه ، ۱۶ پاڼه ته ستانه شی.

### د سیګار پلټني

د هغه څیړنیز راپور په اساس چی د ۲۰۰۹ کال په دیسمبر کښی خپور شو، سیګار ته معلومه شوه چی HOO د ټیټ کاری ظرفیت او رتیا څخه برخمن دی. د څیړنو په ترڅ کښی دا هم معلومه شوه چی دي سازمان د هغو نړیوال معیارونو په پرتله چی د یو ازاد سازمان لپاره پکار دی، استقلالیت او څپلواکی نه درلوده او د امریکا متحده ایالاتو د هغو مرستو لپاره چی د HOO سره ترسره کیږی د څارني او نظارت په موخه کومه اداره نه ده تاسیس کړی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د سیګار ۲-۱۰ څیړنی، " د افغانستان د څارنی لویه اداره ډیرو ازادیو او څپلواکی او د لا اغزمن کیدو په موخه نوری همکاری ته اړتیا لری چی په www.sigar.mil تر لاسه کیدای شی ستانه شی.

**د لارو یا سرک ساتنه**

د ۲۰۱۰ کال د نومبر میاشت، د سرک ساتنې د ټیم (RMT) یو غړی د تګاب درې د تلاشۍ په یوه پوسته کښی د څارنې او ساتنې دنده تر سره کوی تر څو د مخالیفینو د کړونو مخ نیوی وکړی. د تلاشۍ دا پوسته د (RMT)، ځای وګړو او د نړیوال امنیت ساتوونکو قواو او د افغان ملی پولیسو لخوا رغول شوی وه. د سیګار لخوا په ترسره شوو څیړنو کښی جوته شوه چی د سرک ډیری پروژې د پایښت او ثبات د پلانونو د نشتون له کبله له جدی کواښ سره مخامخ دی. (ISAF انځور، د امریکایی پوځ جوزف سافورډ)

# 4 د نورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

په هرو درو میاشتو کښې سیګار د نورو اجنسیو څخه د بشپړ شوو او روانو څارنیزو فعالیتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوی. دا اجنسیاني په افغانستان کښې د څارني فعالیتونه تر سره کوی او پایلي د سیګار سره شریکوی:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoD OIG)
- د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoS OIG)
- د امریکا حکومت د حساب ورکوني دفتر(GAO)
- د متحده ایالاتو د پوځ د پلټني اداره (USAAA)
- د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر (USAID OIG)

د معلومات توضیح په همغه شان چې تر لاسه شوی ترسترګو کیږی، د دی راپور د نور برخو سره د ورتوالی په موخه دغه تغیرات پکښی راوړل شوی دی: مخففات او لنډوني د بشپړو نومونو په ځای کارول شوی دی؛ معیاري لیکدود او املا او انشا کارول شوي؛ او د لومړی شخص پر ځای دریم شخص بیارغوني کارول شوي دي.

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

۴.۱ شمیره جدول د بیارغونو او امنیت په اړه د هغو ۵ څارنو راپور دی چی یاد شوو اجنسیانو لخوا په دی درو میاشتو کښی بشپړ شوی دی.

د 4.1 جدول

| د ۲۰۱۰ کال د دسمبر تر ۳۱ پوری د نورو امریکایی ادارو د فعالیتو ترسره شوی څیرني | | | |
|---|---|---|---|
| **د پروژې عنوان** | **د خپریدلو نیټه** | **د راپور شمیر** | **اداره** |
| د بهرنیو چارو د وزارت او د PAEتر منځ د هغه قرارداد څیرنه چی په کابل کښی د امریکا سفارت ته د عملیاتو او ساتني او یا پایښت په اړه خدمتونه وړاندی کوی | 12/30/2010 | 10-MERO3002- | DoS OIG-MERO |
| د افغانستان پرمختیا: د افغانستان د اوبو د سکتور سره د امریکا مرستي ډیری شوی خو د پروژو د پلان جوړوني ، همغږۍ او اداره په برخه کښی لا ښوالی ته اړتیا شته ده. | 11/15/2010 | GAO11-138- | GAO |
| عراق او افغانستان: دفاع وزارت، دولت او د امریکا پرمختایی اداره یا USAID په پرله پسی ډول د قراردادیانو، مرسته رسونکو او اړوندو او مرسته کوونکو کارکوونکو په اړه د ستونزو سره مخامخ دی | 10/1/2010 | GAO11-1- | GAO |
| د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام (CERP), امریکایی پوځ- افغانستان (FOUO) (USFOR-A) | 11/16/2010 | A-2011-0020-ALL | USAAA |
| د USAID بیا کتنه/ د افغانستان د وزارتخانو سره د مرستي او همکاری پروسه | 11/6/2010 | F-306-11-001-S | USAID OIG |

یادونه: MERO = د منځنی ختیځ منطقوي دفتر.

سرچیني: د سیګار د ۱/۳/۲۰۱۱ نیټي غوښتني ته د DoD OIG ځواب؛ د سیګار د 1/4/2011 نیټي غوښتني ته د DoS OIG ځواب؛ د سیګار د 1/4/2011 نیټي غوښتني ته د DoS OIG-MERO ځواب؛ د سیګار د 1/4/2011 نیټي غوښتني ته د GAO ځواب؛ د سیګار د 1/5/2011 نیټي غوښتني ته د USAAA ځواب؛ د سیګار د 12/21/2010 نیټي غوښتني ته د USAID OIG ځواب؛

## د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر- د منځنی ختیځ ساحوی دفتر

د PAE سره د بهرنیو چارو د وزارت قرارداد چې په کابل کښې د امریکا سفارت ته عملیاتی او د پاینت خدمتونه وړندی کوی
( د راپور شمیره10-MERO-3002، چې د ۲۰۱۰ کال په دیسمبر کښې خپور شوی دی).

د ارزونې د دی فعالیتونو اصلی موخه نه ده څرګنده شوی: (1) د قرارداد ضروریات او مقررات او عملیاتی احکام, (2)د هغو پیسو کچه چې وزارت د یاد شوی سفارت د پاینت او عملیاتو لپاره د ۲۰۰۵ څخه بیا تر ۲۰۰۹ مالی کال پوری منظور او مصرف کړی دی، (3), د PAE سره د تر سره شوی قرارداد بریالیتوب او موثریت، (4)، د PAE لخوا د توکو د شتون، ثبت کنترول او په افغانستان کښی د امریکا د حکومت د توکو- بیا سمبالول، ایا توکی او لوازم په سمه توګه توضیح ، حساب شوی او د توکو په اړه د ځواب ورکولو په لړی کښی شته ستونزې(5)، څرنګه به وزارت قرارداد اداره کوی او د PAE لخوا به افغانستان کښی د وړاندی کیدونکو خدمتونه څخه څارنه څه ډول تر سره کیږی(6) ،ایا په قرارداد کښی اوړد شرط52.222.50 شامل دی او که څنګه چې د قراردادی او یا دویم لاس قراردادی لخوا د ډیر انتقال په وخت کښی اصلاحی اداری مرستې ترسره کوی (7) وزارت څرنګه تضمین کولای شی چې پیسې په سمه توګه مصرف او لګول شوی دی.

## د حکومت د احتساب دفتر

په تیرو درو میاشتو کښې، GAO دوه راپورنه خپاره کړل – یو د امریکا هغو مرسته په اړه چې د افغانستان د اوبو د سیګتور سره یی ترسره کوی او د امریکایی اجنسیانو لخوا د همزمانه مخکې څایکونه او په عراق او افغانستان کښی د عملیاتی مندونکی په اړه دی.

- د GAO د هغو امریکایی هڅو چې افغانستان د اوبو د څانګې سره ترسره کیږی چې د امریکا حکومت لخوا د ۲۰۱۰ کال په د اجنسیانو تر منځ د اوبو په ستراتیژی کښی په ګوته شوی اهداف د هغو اهدافو او موخو سره سمون لری کوم چې د افغانستان دولت د اوبو په سیګتور کښی په پام کښی نیولی دی. په ستراتیژی کښی لنډ-، منځنی-، او اوږد مهاله اهداف تعین شوی دی چې د ۲۰۱۰ کال څخه بیا تر ۲۰۱۴ کال پوری باید تر لاسه شی. برسیره پر دی د امریکا حکومت په افغانستان کښی د اوبو په برخه کښی ډیری پروژې عملی کړی تر څو صحی اوبو ته لاس رسی، حفظ الصحی ته پاملرنه او اوبو لګونې په اړه مثبتې لاس ته راوړنې ولری. دا پروژې په عمومی ډول د افغانستان د دولت د اوبو په برخه کښی د اهدافو سره سمون او همغږی دی.

د امریکا متحده ایالات هیله لری چې د اوبو د سکتور په برخه کښی لا زیات پرمختګونه تر لاسه شی او اټکل کوی چې د ۲۰۱۰ مالی کال څخه بیا تر ۲۰۱۴ مالی کال پوری به د یاد شوی سیکتور لپاره ۲،۱ میلیارډ ډالرو ته اړتیا وی. د حکومت د کړنو او پایلو قانون او د امریکا ډیری ستراتیژیک اسناد په همدی باور دی چې د اجنسیانو په منځ کښی باید لا زیات همغږی رامنځ ته شی. GAO پداسی حال کښی د اجنسیانو تر منځ د همغږی او همکاری په اړتیا ټینګار کوی چې ډیری امریکایی اجنسیانې د تروریزم په وړاندی په مبارزه کښی بوختې او کار کوی.

د GAO بیا کتنې وښودله چې د امریکا متحده ایالاتو د اوبو په سیکتور کښی د همغږی او همکاری په اړه ګامونه اوچت کړی دی خو دا اړینه ده چې په یاد شوی ډګر کښی لا زیات کار او همکاری رامنځ ته شی. د مثال په توګه ، د امریکا حکومت د زیربناوو کاری ګروپ ، د اوبو په سکتور پوری اړوند اجنسیانو

لپاره ستراتيژی چی په منظم ډول غوندې تر سره کوی. مگر، د اجنسيانو د تطبيق په اړه ستراتيژی کښی يو پلان له نه دی بشپړ شوی . همدا ډول USAID او DoD يو داسی ډيټابيس ندی جوړ کړی چی د همغږئ په رامنځ ته کولو کښی ورڅخه گټه واخيستل شی که څه هم د دی کار وړنديزونه له پخوا شوی وو. برسيره پردی، امريکايی اجنسياني په منظم ډول يو د بل سره او د اړوند وزارتخانو سره ليدني کتني نه ترسره کوی او د معلوماتو يو داسی ډيټابيس ته لاس رسی نلری چی وکولای شی د امريکا د مرستو څخه د اعظمی گټو په اخيستلو کښي ورڅخه گټه واخستل شي.

د USAID د خودکار امريه سيستم د USAIDد کړونو د اداري او تگ لارو ښکارندوی کوی. GAO ته معلومه شوه چی د افغانستان د اوبو د سکتور د پروژه په اړه د USAID د څارني او اداري په برخه کښی خنډ او ځنډ شته دی. د مثال په توگه، د شپږو څخه په څلورو د پلی کيدونکو پروژو چی د GAO بيا کتل شوی وی، په خينو کښی د اهدافو لپاره د ښکارندوی کوونکو هغسی چی پکار وه نه دی ترسره کړی. برسيره پردی، که څه هم USAID د شپږو څخه د پنځو هغو پروژو په اړه چی د اوبو په برخه کښی پلی او د GAO لخوا څارل شوی راپورنه تر لاسه کړی، خو هغه دامعلومات څرنگه چی په کار وه نه دی ارزولی او تفسير کړی. بالاخره، که څه هم USAID داسی تگ لاری په گوته کړی دی چی کار کوونکی کولی شی چی د خطر څخه په ډک چاپيريال کښي د څارني په مخ کښی د شته ستونزو د هوارولو لپاره ورڅخه گټه واخيستل شی، USAID نه دی توانيدلی چی يادی شوی تگ لاری په افغانستان کښی د خپلو کارکوونکو سره شريک کړی.

د امريکا متحده ايالاتو دولت د اوبو په برخه کښی د مرستو د پايښت لپاره يوه د نظارت ډله جوړه کړی ده. د امريکا متحده ايالاتو اوسنی ستراتيژی تر ډيره حده پوری د پروژه د ثبات او پايښت په اړه تاکيد کوی. GAO د اوبو په برخه کښی د پروژو د ثبات او پايښت لپاره دوه مهم لاملونه اړين گڼلی دی. د تخنيکی او اداری ظرفيت اسانتيا تر څو وکولای شی د اوبو په برخه کښی د کارکوونکو ادارو په اړه ثبات او د پروژو د پايښت سره مرسته وکړی. او يقنی کړی چی د پروژو د بشپړتيا وروسته د همدغه پروژو د کار د ادامه لپاره مرستي دوام ومومی. د اوبو په سکتور کښی د USAID لخوا په روانو پروژو کښی د پايښت او ثبات اصل په نظر کښی نيول شوی دی. د امريکا دفاع وزارت لارښوني هم په پروژو کښی د پايښت په اصل باندی تاکيد کوی. دا پداسی حال کښي ده چی ، د امريکا دفاع وزارت په افغانستان کښي د اوبو په سکتور پوری اړوندو پروژو کښی د تل پاتی ثبات په لاره کښي شته ستونزی منلی دی.

GAO د امريکا پراختيايی پروگرام يا USAID او دفاع وزارت او نورو اړوندو اجنسيانو ته د اوبو په سکتور پوری اړوندو هغه پروژی چی د امريکا د مرستو لخوا تمويلږی په اړه د لا ښه پلان جوړوني، همغږئ او اداري د رامنځ ته کولو په موخه وړانديزونه کوی په دی وړانديزونو کښی د اجنسيانو تر منځ د يو ښه پلان او د يو مرکزی ديتابيس را منځ ته کول شامل دی. او همدا ډول د GAO په وړانديزونو کښی د USAID اداري او نظم د ښوالی په اړه وړانديزونه شامل دی. USAID او DoD دواړو د GAO د وړانديزو سره هوکړه او موافقت کړی دی. (GAO-11-138).

- GAO په هغه راپور کښي چی امريکايی اجنسيانو لخوا د موازی مخکی گمارني او عملياتی په گوته کونه(SPOT) ته معلومه شو چی د ۲۰۰۸ کال دجولای مياشت څخه راپديخوا چی DoD, DoS او USAID د معلوماتو د تر لاسه کولو په موخه SPOT رامنځ ته کړی، ياده شوی اداره (SPOT) را هم نه ده توانيدلی چی د قراردادو، مرستو او توکو په اړه د کره معلوماتو په گوته کولو کښی کمک وکړی، او

په افغانستان او عراق کښیې یې د پرسونل څخه معاونیت تر لاسه کړی دی. همدا لامل شو، چې د GAO پوښتنو ته اجنسیانو معلومات د SPOT څخه نه بلکه د نورو موسساتو څخه ترلاسه کول. د اجنسیانو لخوا د SPOT د پلی کولو په مخه کښې یو شمیر عملی او تخنیکی ستونزی موجودی وی، همدا ډول دا هڅې د دندو په مخ وړلو کښې د اداری نیمګړتیاوې هم رول درلود، په ځانګړی توګه د قراردادیانو او د مرسته کوونکو ادارو سره د محلی کارکوونکو په اړه د معلوماتو راټول ول. د توافق دا کموالی په ځینو وختو کښې د اجنسیانو لخوا د ضروری معلومات نه غوښتنه او همدا ډول د دی امر نه مشخص کول چې SPOT څرنګه کولای شی د اجنسیانو ته د دی معلوماتو په ورکولو کښې مرسته وکړی او د هغوی قانونی غوښتنې پوره کړی.

په د ۲۰۰۹ کال کښې،GAO د ډیرو یادو شوو ستونزو په اړه راپور خپور کړ او وړاندیز یې وکړ چې اجنسیاني باید په ګډه د SPOT د دندو د لا ښه کار او فعالیت په موخه یو پلان وړاندی کړی. GAO ته د دریو اجنسیانو لخوا په ورکړل شوو معلوماتو په اساس چې په کښې راغلی چې د ۲۰۱۰ کال د مارچ تر میاشتي په افغانستان او عراق کښې ټول ټال ۲۶۲۶۸۱ قراردادیان او مرسته رسونکی کارکوونکی موجود دی چې د دی ډلي څخه ۱۸ په سلو کښې په امنیتی فعالیتو کښې بوخت دی. د اجنسیانو لخوا په ورکړل شوو معلوماتو کښې د محدودیت ته په پام کښې په دواړو پورتیو هیوادو کښې د کارکوونکو د شمیرو په اړه باید د نهایی پریکړو او قضاوت پر وخت د احتیاط څخه کار واخیستل شی. د معلوماتو د محدودیت اصلی لاملونه کیدای شی، اجنسیانو ته ځای ملکی کارکوونکو د شمیرې په اړه د ستونزی، د اجنسیانو لخوا د معلوماتو غوښتنو ته د ځواب ویلو لیږ لیوالتیا، او همدا ډول د ورکړل شوو معلوماتو د تایید په برخه کښې د وړتیا کموالی کیدای شی. د مثال په توګه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته معلومه شوه چې هیڅ افغان مرسته تر لاس کوونکي اداری د خپلو کارکوونکو په اړه کره او بشپړ معلومات نه دی ورکړی.

که څه هم اجنسیانو منلی ده چې خپل ټول کارکوونکی یی نه دی شمیرلی خو بیا یی هم ټینګار کاوه چې د SPOT په نسبت د دوی معلومات کره او د اعتماد وړ دی. یوازی د بهرنیو چارو وزارت او USAID د قراردادیانوا و مرسته کوونکو د وژل او زخمی شوو کارکوونکو په اړه د بیا کتنې په موده کښی معلومات راټول کړی دی. د بهرنیو چارو د وزارت په وینا ۹ قراردادیان وژل شوی او ۶۸ نور ټپي شوی دی، په داسی حال کښی چې USAID په وینا ۱۶ وژل او ۱۲۱ نور ټپیان شوی دی. دواړو ادارو راپور ورکړی چې یو شمیر د ژوبلوني پیښي د غیر دوشمنی لاملونه په نتیجه کښي رامنځ ته شوی دی. دفاع وزارت لا تر اوسه ورته کوم سیستم نلری او GAO او وژل شوو او ټپی شوو قراردادیانو د دفاع د قانون مطابق یی د کاګرانو ځانګه ته راجع کړ تر څو د ټپي شوو او وژل شوو قراردادیانو په اړه معلومات تر لاسه کړی. لکه څرنګه چې د GAO په پخواني راپور کښي راغلی وو د کارګرانو معلومات یو تصویر وړاندی کولای شی خو د ژوبلو شوو قراردادیانو د شمیره لپاره یو ښه بدیل نه شی کیدلای .

په ۲۰۰۹ او د ۲۰۱۰ د نیمایی مالی کال لپاره DoD, DoS او USAID ټول ټال ۳۷،۵ میلیون ډالره د ۱۳۳۹۵۱ قراردادیانو او مرسته شوو توکو د افغانستان او عراق لپاره منلی وو. د قراردادو تر ټولو ډیری د دفاع وزارت منلی وي. ډیری قراردادنو د بیاکتني په وخت کښی ورکړل شوی وو او د رقابتی تګ لارو څخه کار اخیستل شوی وو. DoS او USAID په ټینګه په مرسته شوو او په همغږی هوکړو باندی اعتقاد درلود او راپور یی ورکړی چې ډیری قراردادنو د یوې رقابتي پروسه په ترڅ کښي قراردادیانو ته ورکړل شوی دی.

که څه هم د امریکا دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت په طرح شوی راپور باندی خپل نظر ندی، ورکړی خو USAID د SPOT د پلی کیدو په وړاندی د شته ستونزو په اړه خپل نظر ورکړی او د پرسونل

لخوا کتل شوی معلومات یی ورکړی چی یاد شوی معلومات GAO مرور کړی او هغه یی په راپور کښی شامل کړی دی.  د GAO د ۲۰۰۹ راپور ته په ځواب کښی، DoD, DoS او USAID د هغه وړاندیز چی په کښی راغلی وو باید د SPOT د پلی کولو په موخه باید یو ګډ پلان جوړ شی هوکړه و نه کړه، او په ځواب کښي یی ویل چی د همغږۍ د رامنځ ته کولو په موخه رواني هڅي کافی او د قناعت وړ دی. GAO اوس هم په همدی باور ده چی د SPOT د کمی او نواقصو د منځ وړلو لپاره یوه پلان ته اړتیا شته او نوی وړاندیز نه کوی(GAO-11-1)

برسیره پر دی، GAO د امریکا په هغو هڅو چی غواړی د افغان دولت سره مرستي وکړی چی د بودجي او مالی چارو په اړه د ظرفیت په لوړولو کښی رغنده رول ادا کړی خپل پام اړولی دی.

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټني اداره

د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام (CERP), امریکایی پوځ- افغانستان (FOUO) (USFOR-A)
(د راپور شمیره -A-2011-0020بشپړ, د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۱۶ خپور شوی)

دا راپور یواځی د رسمی کاروني لپاره ځانګړی شوی دی. د قومندانۍ مرستیال جنرال , USFOR-A د څیړنو غوښتنه کړی ده. USFOR-A د راپور د وړاندیزونو او پایلو سره خپل موافقت اعلان کړی  او وړاندیزونو یی عملی او پلی کړی او یا هم د پلی کولو لپاره د اړینو ګامونو د اوچتولو په مرحله کښی وو. د پوځ مرستیال منشی ( د مالی چارو سمبالونکی ) د پوځ رسمی دریز وړاندی کړی او د راپور د پایلو سره یی خپل موافقت اعلان کړ.

## د عمومی پلټونکی د نړیوال پرمختیایی دفتر لپاره د امریکا اداره

د USAID بیا کتنه/ د افغانستان د وزارتخانو سره د مرستي او همکارۍ پروسه
(د راپورشمیره. F-306-11-001-S, د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۶ خپور شوی دی.)

بشپړ یا نهایی راپور د ۲۰۱۰ کال د نومبر په شپږمه خپور شو..  USAID OIG دا بیا کتنه په لاره اچولی تر څو وګوری چی د افغانستان د وزارتخانو سره د USAID ترسره کیدونکی مرستي کولای شی هغه برخي او حالاتونو په ګوته کړی چی د امریکا د حکومتی منابع څخه ناوړه ګټه اخستل کیږی.

دا تحلیلات تر ډیره حده پوری د هغو تحریری تګ لارو او استعلامو په اساس چی د وزارت د مامورینو لخوا او د انتقال د پروسه د محدود تفیش په اساس بشپړ شوی دی. د کنترول لا ډیر ازمويني به دا فرصت رامنځ ته کړای وای چی د امریکا د حکومت لخوا د ترسره شوو مرستو د ناوړه ګټي اخیستني او کاروني امکانات او موقع په ګوته کړی.

د طرحه شوی هدف او تګ لاره د لا تقویی لپاره کیدای شی چی د بیا کتني ډلي ته وویل شی چی وزاتخانو څخه غوښتنه وشی چی ګوم پروګرامونه اداره کړی، د چاپیریال د کنترول سره مرسته وکړی، په بشری منابعو او شتمنیو کنترول ته پراختیا ورکول، او بیا کتنکو ته لا زیات توضیحی معلومات ورکول تر څو وکولای شی د اړوندو مقرراتو او قوانینو په رڼا کښی خپلي کړني تر سره کړی.

په راپور کښی وړاندیز شوی چی په افغانستان کښی/USAID باید

- تل پاتی پالیسی جوړې او عملی، داسی طرزالعملونه او تګ لاری چی وکولای شی د وزارتخانو ارزوني هغه حالاتونو په ګوته کړی چی کیدای شی د امریکا د حکومت مرستي په ناوړه توګه وکارول شی.

- په تګ لاره او موخو کښې مناسب او اړین تغیرات او تعدیلات راوړل شي ترڅو په راتلونکی کښې د وزات خانو د ارزني سره هغه ډول چې په دی راپور کښې راغلی مرسته وکړای شي.
- د ګوربه حکومت د وزارتخانو په اړه پر ګډو ارزونو او تحلیلاتو باندی تر هغه اعتماد او تکیه وکړی چې د USAID د اړتیاو سره سمون ولری. که چیری د USAID د ضروریاتو د پوره کولو لپاره نورو ارزونو ته اړتیا وی نو هغه دی ترسره شي، خو تر خپل وس او توانه باید د تکراری کار مخنیوی وشی.

## څارنې رواني چارې

د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ پوری، ګډون کوونکو ادارو راپور ورکړی چې په افغانستان کښی د بیارغوني او یا امنیت په اړه ۳۸ د څارني چارې رواني دی. دغه څارنيز فعالیتونه په ۴.۲ جدول کي په لاندې ډول یادولای شو:

د 4.2 جدول

**د ۲۰۱۰ کال د دسمبر تر ۳۱ پوری د نورو امریکایی ادارو د فعالیتو ترسره شوی څیړنې**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D2011-D000FR-0089.000 | 11/30/2010 | د افغان ملی اردو د معاشاتو په موخه د مرسته شوو د تقسیم او بیا تطبیقېه اړه داخلی کنترول |
| DoD OIG | D2011-D000JB-0068.000 | 11/17/2010 | د افغانستان د نظامی رغوني لپاره اړین پرمختیایی پروسې |
| DoD OIG | D2011-D000JA-0075.000 | 11/2/2010 | دDoD د شمالی ویشونکی ډلې څارنه |
| DoD OIG | D2011-D000AS-0030.000 | 10/1/2010 | د دفاع وزارت د غیر معیاری څرخی هلیکوپټر په اړه د مرستو او لګښتو په اړه څارنه او اداره |
| DoD OIG and DoS OIG | D2011-D000JA-0009.000<br>11AUD3001 | 9/30/2010<br>11/2010 | د افغان ملی پولیسو د روزنې (ګډه) ارزونه |
| DoD OIG | D2010-D000FL-0276.000 | 9/2/2010 | په افغانستان کښی د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام ته د ورکړل شوو پیسو کنټرول او راپور ورکونه |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0165.001 | 6/21/2010 | د امریکا د پوځ د استخباراتی او امنیتی مقرره د ژبنی مرستې د قرارداد تطبیق |
| DoD OIG | D2010-D000JO-0229.000 | 6/14/2010 | د افغانستان په پروان ولایت کښې د بندیخانې رغونه |
| DoD OIG | D2010-D000SPO-0198.000 | 4/19/2010 | د افغان ملی پولیسو د روزنې، سمبالښت او بنوني ارزونه |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0165.000 | 2/18/2010 | په افغانستان کې معلوماتي عملیات |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0091.000 | 12/9/2009 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د ساتنې پروګرامونه |
| DoD OIG | D2008-D000CD-0256.000 | 8/7/2008 | د دفاع وزارت د بدني زغرو قرارداد |
| DoS OIG/SIGAR یا د دفاع وزارت د څانګری عمومی پلټونکی دفتر | 11AUD3003 | 10/2010 | د افغانستان د ملکی وګړو سطح پورته کونه (ګډ) |
| DoS OIG-MERO | 11-MERO3007- | 12/2010 | په افغانستان کښی د رامنځ ته شوی نوی د بهرنیو چارو وزارت د پرمختیایی څانګې لپاره د اړینو حالاتو او مرستو یوه لنډه بیا کتنه. |
| DoS OIG-MERO | 11-MERO3003- | 10/2010 | د نړیوال مخدره توکو په وړاندی د مبارزې د قانون د پلی کیدو د اداري د عملیاتی امکاناتو او په افغانستان کښې د لویو جرمونو د عملیاتو د ځواک سره د قراردادو د پاینت او تلی پاتی ثبات په موخه بیا کتنه ترسره کول (ګډه ارزونه) |
| DoS OIG-MERO | 11-MERO3004- | 9/2010 | د وګړو، کډوالو او مهاجرینو د بیرو د پروګرام د اغیزمنتیا ارزونه چې کډوال بیرته ټولنې ته جذب او بیرته هستوګن کوي |
| DoS OIG-MERO | 11-MERO-3001 | 9/2010 | د نړیوال مخدره توکو په ضد د اداري او په افغانستان کښی د قانون د تطبیق د چارو د سمون د سیستم سره د مرستو پروګرام(CSSP) |

چوکاټ ۴.۲ (دوام لري)

**د ۲۰۱۰ کال د دسمبر تر ۳۱ پورې د نورو امریکایی ادارو د فعالیتو ترسره شوی څیړنې**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3001 | 2/2010 | د بهرنیو چارو د وزارت د هغه قرارداد بیا کتنه چې د PAE سره یې په دې موخه ترسره کړی چې د افغانستان د مخدره توکو په وړاندی ادارو ته به د عملیاتو او د تلې پاتې ثبات په اړه مرستې ترسره کوی |
| GAO | 351552 | 12/9/2010 | د بحری قطعې په توکو د ځای په ځای کولو لپاره د سمبالښت ستراتیژی |
| GAO | 320815 | 11/5/2010 | د افغانانو د وړتیاو او ظرفیت لوړول |
| GAO | 351525 | 8/13/2010 | د سوداګری او د عملیاتو د ثبات او بقا په موخه د دفاع وزارت عملیاتی ځواک(TFBSO) |
| GAO | 320794 | 7/21/2010 | افغانستان ته د امریکا د مستقیمو مرستو په اړه حساب ورکونه |
| GAO | 351514 | 6/14/2010 | د اردو مشورتی او مرستندوی دسته یا تشکیلات |
| GAO | 351492 | 4/30/2010 | په افغانستان کښی د عملیاتو په موخه د پرسونل، توکو او د مرستو وړاندی کول |
| GAO | 351489 | 4/26/2010 | په افغانستان کښی د دفاع وزارت څیړنې |
| GAO | 320766 | 4/1/2010 | په افغانستان کښی د امریکایی ملکی وګړو ځپه |
| GAO | 351463 | 3/12/2010 | د افغانستان استخباراتی، نظارتی او اکتشافی وړتیاوې |
| GAO | 320712 | 9/2/2009 | د مسلکي افغان ملي اردو په جوړولو کې د امریکا هڅې |
| GAO | 351393 | 8/21/2009 | د عملیاتو پر مهال د دفاع وزارت د روغتیایي اړتیاوو مقررات |
| USAAA | A-2011-ALL-0098.000 | 10/9/2010 | په افغانستان کښی د تیلو ستر او مهم عملیات |
| USAAA | A-2011-ALL-0135.000 | 10/9/2010 | د کمې کچې د تیلو د پیرودلو مامورین- افغانستان |
| USAAA | A-2010-ALL-0480.000 | 5/21/2010 | د USFOR-A LOGCAP د افغانستان د کورس لپاره هوکره شوی د شهادت یا ګواهی ورکولو تګ لارې |
| USAAA | A-2010-ALL-0421.000 | 4/4/2010 | LOGCAP IV د قراردادو د تعین او خپلولو لپاره اړتیاوې |
| USAAA | A-2010-ALL-0103.000 | 2010//3/3 | د پلورونکو په ادراینو یا تادیاتو باندې کنټرول دویمه برخه-افغانستان |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID یا امریکا د پرمختیای اداری او د افغانستان لخوا د قراردادیانو او تضمین کوونکو لخوا ګمارل شوو کسانو ته د نقدو پیسو د ورکړې بیا کتنه |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID/ د افغانستان د ټاکنو سره د مرستو د پروګرام څیړنه |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID/ افغانستان د اوبو، کرهنې او د تیکنالوژی د انتقال د پروګرام(AWATT) څیړنه |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID/ افغانستان د روغتیا او تحصیلی امکاناتو د رغونو څیړنه |

سرچینې: د سیګار د ۱/۳/۲۰۱۱ نیټې غوښتنې ته د DoD OIG ځواب؛ د سیګار د 1/4/2011 نیټې غوښتنې ته د DoS OIG ځواب؛ د سیګار د 1/4/2011 نیټې غوښتنې ته د DoS OIG-MERO ځواب؛ د سیګار د 1/4/2011 نیټې غوښتنې ته د GAO ځواب؛ د سیګار د 1/5/2011 نیټې غوښتنې ته د USAAA ځواب؛ د سیګار د 12/21/2010 نیټې غوښتنې ته د USAID OIG ځواب؛

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د امریکا دفاع وزارت په پرله پسې ډول په بهرکښی د احتمالی عملیات(OCO) ، چې رسماً د"تررو په وړاندی نړیواله جګړه" په نامه یادیږی د ډیرو ستونزو او چیلنجونو سره مخامخ ده. DoD OIG لومړیتوبونه د هغو چیلنجونو په اساس په ګوته کړی او په جنوب لویدځه اسیا کښی د OCO د عملیاتو پوښښ ته په پراختیا ورکولو سره ځواب ویلی دی. پداسی حال کښی چې DoD خپل OCO ته دوام ورکوی تر څو د ازادئ پوری تړلی عملیات یا(OEF) شامل کړی، په عین وخت کښی به په هغو موضوعګانو چې د هدف ته د رسیدلو لپاره اړینې دی تمرکز ته دوام ورکړی او دا به یقینی کړی چې وزارت د خپلو منابعو څخه د جنګ جنګیالان په تمویل او مرسته کښی سمه او اړینه ګټه اخیستل کیږی.

DoD OIG-د جنوب لویدیځې اسیا د ګډ پلان جوړونې د ګروپ مشرې پداسی حال کښی کوی چې په فدرال

او DoD OCO پورې تړلو ځارنیزو فعالیتو په منځ کښې همغږۍ رامنځ ته او ستونزې هوارې کړې. دی ډلې خپله پنځلسمه غونډه د ۲۰۱۰ کال په نومبر میاشت کښې ترسره کړه.

DoD OIG لخوا د د ازادۍ پورې تړلې عملیات یا (OEF) د ځارنې چارې د بیارغونې د هڅو سره اړوند د کارکوونکو خوندیتوب، د امریکایی پرسونل د خوندیتوب لپاره د پوځ د ستانې پروګرامونه،د شتمنیو په اړه د حساب ورکونه،د افغان ملی اردو د معاشاتو لپاره د مرستو تقسیمات؛ د افغان ملی پولیسو د روزنې ځارنه؛ په افغانستان کښې د لوژیستکی تقسیمات؛ د عملیاتو په اړه معلومات؛ د زره پوش وسایطو په اړه ظرفیت، او د افغان ملی امنیتی پوځ ته د ځاګړو شوو مرستو لپاره د پلان او کنترول ځارنې ته اشاره کوی.

### د نظارت فعالیتونه

د ۲۰۱۱ مالی کال د لومړی دریو میاشتو لپاره، ۴۳ DoD OIG د رواني ځارنیز فعالیتونو درلودل او د OEF سره د مرستي په موخه درې راپورونه خپاره کړی دی. د دغو 43 روانو پروژو له جملې 12 چې په افغانستان کې د امنیت او بیا رغونې سره تړاو لرې په دغه راپور کې ځای پر ځای شوې دې. د خپارو شوو درو راپوروڼو څخه، یو هم هغه ډول چې سیګار مشخص کړی دی په افغانستان کښې د امنیت او بیارغونې د فعالیتونو په اړه نه دی او همدا علت دی چی د ربع په دی راپور کښی نه دی شامل شوی . دا درې راپورونه د قراردادو د اداري موضوعاتو او د دفاع وزارت لخوا په افغانستان کښی د فعالیتو سره د مرستو د ارزونې په اړه دی.

د افغان ملی اردو د معاشاتو په موخه د مرسته شوو د تقسیم او بیا تطبیقیپه اړه داخلی کنترول
(د پروژې شمیره D2011-D000FR-0089.000, د ۲۰۱۰ کال په نومبر میاشت کښی پیل شوی)

DoD OIG مشخص کوی چی د ناټو د روزنې د موخو – افغانستان / ګډ امنیتی قومندې انتقال – افغانستان (NTM-A/CSTC-A) د هغو مرستو لپاره چی د امریکا د دفاع وزارت لخوا د افغانستان د وزارتخانو له لاره د ملی اردو د معاشتو په موخه ورکول کیږی د کنترول په موخه لازم ګامونه او تګ لارې شته دی. همدا ډول، DoD OIG دا هم معلوم وی چی ایا د افغان دولت سره د مرستې په موخه داسی د ځارنې تګ لاره جوړه کړی ده چی وکولای شی د ملی اردو د معاشاتو د ورکولو په وخت کښی ورځخه ګټه واخیستل شی.

د افغانستان د نظامی رغونې لپاره اړین پرمختیایی پروسې
(د پروژې شمیره. D2011-D000JB-0068.000, د ۲۰۱۰ کال د نومبر په اولسمه پیل شوی ده)

DoD OIG هغه اړتیاوی ارزوی چی د افغانستان د نظامی رغونې لپاره اړین پرمختیایی پروسې لپاره پکار دی. په ځانګړی توګه DoD OIG په دی لټه کښی دی تر څو معلومه کړی چی اړینې پرمختیایی پروسی د منتظره پایلو په تر لاسه کولو، د اندازی وړ، او د DoD د اړتیاو سره سمون لری.

دDoD د شمالی ویشونکی ډلی ځارنه
(د پروژې شمیره. D2011-D000JA-0075.000, د ۲۰۱۰ کال د نومبر په دویمه پیل شوی)

DoD OIG د دفاع وزارت د شمالی ویشونکی ډلی د ځارنې سره مرسته کوی او د DoD هغه وړتیاوی چی غواړی د شمالی ویشونکی ډلی له لوری چاری پلان، همغږی او د عملیاتو د تل پاتی کیدو په اړه ارزونې ترسره کوی.

د دفاع وزارت د غیر معیاری څرخی هلیکوپټر په اړه د مرستو او لګښتو په اړه څارنه او اداره
( د پروژې شمیره. D2011-D000AS-0030.000, د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په لومړی نیټه پیل شوی)

DoD OIG هڅه کوی تر څو معلومه کړی چی د DoD مسولین په سمه او موثره توګه د غیر معیاری څرخی هلیکوپټر په اړه د مرستی او لګښته د روسی Mi-17 په شان په اړه چاری په سمه توګه ارزوی او اداره کوی، تر څو د افغانستان د امنیتی پوځ د مرستو او یا هم د دفاع وزارت د نورو اړوند مرستو څخه تر لاسه شوی مرستې شاملی کړی. د دی موخې د تر لاسه کولو په هدف شاید چی ډیرې پروژې پیل او ابتکار شوی وی.

د افغانستان د ملی پولیسو د روزنې پروګرام
(د پروژې شمیره D-S 11AUD3001] (D2011-D000JA-0009.000], د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په ۳۰ پیل شوی )

DoD OIG او د بهرنیو چارو د وزارت ځانګړی عمومی پلټونکی(DoS OIG) په ګډه دا څیړنه تر سره کوی تر څو وکولای شی د ۲۰۱۱ مالی کال د ملی دفاع د صلاحیت د قانون سره سم چی د DoD OIG او DoS OIG سره په سلا مشوره د افغانستان د ملی پولیسو د روزنې د پروګرام په اړه یو راپور چمتو او خپور کړی. DoD OIG/DOS IG د دفاع وزارت او د بهرنیو چارو د وزارت هغه هڅې ارزوی چی غواړی د افغانستان د پولیسو د پروګرام د قرادادو اداره انتقال کړی. په ځانګړی توګه، DoD OIG/DoS OIG به د انتقال د لګښت، د کړنو کچه او د انتقال اړوند د پلان جوړونې هڅې تر څو د قرارداد څارنه، اړینه مرسته او کمک، د پروګرام اغزمنه اداره یقینی او عملی شی. دا ټیم همدا ډول هوډ لری تر څو د DoD OIG د پروژې D-2010-042 او DoS OIG د MERO-A-I O-6 پروژې ګډ راپور، "د افغان ملی پولیسو د روزنې په موخه د دفاع وزارت د منل شوو او مصرف شوو مرستو څخه د امریکا د کورنیو چارو وزارت ته ورکړل شوی مرستې، " چی د ۲۰۱۰ کال د فبروری په نهمه ترسره شوی تعقیب کړی.

په افغانستان کښی د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام ته د ورکړل شوو پیسو کنترول او راپور ورکونه
( د پروژې شمیره D2010-D000FL-0276.000, د ۲۰۱۰ کال د سپتمر په دویمه پیل شوی )

DoD OIG غواړی چی معلومه کړی چی د CERP سره په افغانستان کښی د فعالیتو سره د مرستې په موخه جوړکړل شوی داخلی کنترولی سیستمونه سم او مناسب دی. په ځاګړی توګه، DoD OIG به کنترول وپلټی تر څو یقینی کړی چی پیسې په سمه توګه ورکړل شوی دی، او دا چی د بشپړ،سم او دقیق معلومات هغو پریکړه کوونکو ته چی د CERP د اداره مسولین دی ورکړل شوی دی. دا څیړنه د هغو څیړنو دویمه ده چی CERP لخوا په افغانستان کښی د فعالیتو سره د مرستې په موخه د پیسو ورکونې لپاره داخلی جوړ شوی کنترولی سیستمونه وارزوی.

د امریکا د پوځ د استخباراتی او امنیتی مقرره د ژبنی مرستې د قرارداد تطبیق
(د پروژې شیمره. D2010-D000JA-0165.001, د ۲۰۱۰ کال د جون په یوویشتمه پیل شوی )

DoD OIG غواړی تر څو معلومه کړی چی د امریکا د پوځ د استخباراتی او امنیتی مقرره د ژبنی مرستې قرارداد (W911W4-07-D-0010) په سمه توګه تطبیق او عملی شوی دی. د افغانستان سره د ژبې په څانګه کښی د مرستې دا پروژه د بیا کتنې او ارزونې د پروسې د لړی یوه برخه ده. پروژه D2010-D000JA-0165.000 معلومه وی چی په افغانستان کښی د ژبی د څانګه سره مرسته شوی (W911W4-07-D-0010) لازم امنیتی مقررات په پام کښی نیول شوی دی.

د افغانستان په پروان ولايت کښي د بنديخاني رغونه
(د پروژې شميره. D2010-D000JO-0229.000, چی د ۲۰۱۰ کال د جون په ۱۴ پيل شوی)

DoD OIG غواړی چی معلومه کړی چی د امريکايي پوځ د انجينرانو ډلي او USFOR-A په پروان ولايت کښی بنديخانه د امريکا د فدرال کاروني د مقرراتو او نور اړوندو قوانينو سره سم رغولی او قرارداد پلی کړی دی. په ځانگړی توگه DoD OIG به معلومه کړی چی د امريکا پوځ د انجينرانو ډلي د بنديخاني د رغوني په وخت کښی کار څارلی او ارزولی او دا چی د امريکا پوځ د انجينرانو ډلي په کار او قرارداد کښی د موجوده کميو، سرغړونو او فساد په وړاندی کوم اقدام کړی او يا هم په راتلونکی کښی غواړی چی د سرغړوونکو په وړاندی کوم اقدام وکړی.

د افغان ملی پوليسو د روزني، سمبالښت او ښوني ارزونه
(د پروژې شميره D2010-D000SPO-0198.000, د ۲۰۱۰ کال د اپريل په ۱۹ پيل شوی)

DoD OIG غواړی تر څو معلومه کړی چی د امريکا د حکومت، ناټو، ايساف، ايتلاف او د افغانستان د اسلامی جمهوريت لخوا د افغان ملی پوليسو د روزني، سمبالني او ښوني چاري چمتو، خپري، عملی او دقيقی دی. DoD OIG به د هغو وړانديزونو د پلی او عملی کولو په اړه هم حالات وارزوی چی د يادی شوی اداري له لوری په راپور کښي وړانديز شوی وو. SPO-2009-006 او SPO-2009-007, لکه څرنگه چی په ملی پوليسو پوری اړوند دی.

په افغانستان کي معلوماتي عمليات
(د پروژې شميره D2010-D000JA-0138.000 چي د ۲۰۱۰ کال په ۱۸ فبروري پيل شويده)

DoD OIG په افغانستان کښي د امريکا د مرکزی قومندانی او د USFOR-A د عملياتو په اړه د معلوماتو د ورکوني او وړتيا په اړه ارزوني تر سره کوی. برسيره پر دي د دفاع وزارت د تفتيش عمومي دفتر به د دفاع وزارت هغه موسسات هم د ارزوني لاندي ونيسي چي مرکزي قوماندانی ته د معلوماتي عملياتو په سرته رسولو کي مرسته کوي.

په افغانستان کي د متحده ايالاتو د ځواکونو د ساتني پروگرامونه
(د پروژې شميره D2010-D000JA-0091.000 چي د ۲۰۰۹ کال په ۹ دسمبر پيل شوي وه)

